# د کندهار او کابل تاریخي مسجدونه



مسجد شاه دو شمشیره کابل

مؤلف: محمد ولي ځلمی،

۱۳۷۶ ه،

۱۹۹۷ ع

# د کندهار او کابل

## تاریخي مسجدونه

دکندهار دهرات دروازې دطالبانو شهیدانو څلی



مؤلف
محمد ولي خلمي

۱۳۷۶
۱۹۹۷ع

Farhad Anwari Book Agency
Malik Nawaroz Market
Arbab Road - Peshawar

PROPERTY OF
ACKU
7270

بسم الله الرحمن الرحيم

---


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د کندهار او کابل تاريخي مسجدونه |
| مؤلف | : | محمد ولي (حلمي) |
| مهتمم | : | انجنير عبداللطيف (اميري) |
| خط د | : | سيد سراج الدين افغان |
| ناشر | : | مولوي شير محمد عمرزی |
| چاپونکی | : | د صحاف نشراتي موسسه |
| شمير | : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| د چاپ ځای | : | کوټه پښتونخوا |
| نيټه | : | ۱۳۷۵ هش ۱۹۹۶ م |

# فهرست



| شماره | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | تقريظ ........ | پوليسم |
| ۲ | | |
| ۳ | مقدمه ........ | ۱ |
| | **لومړی فصل** | |
| ۴ | داسلام راتلګ افغانستان ته ........ | ۵ |
| ۵ | داسلام راتلګ کندهار ته ........ | ۱۰ |
| ۶ | د سليمان دغره اوسيدونکو افغانانو لپاره داسلام دعوت ........ | ۱۲ |
| ۷ | د سليمان غره افغانان ........ | ۱۴ |
| ۸ | دلمانځه فلسفه اوضرورت ........ | ۱۷ |
| ۹ | په جماعت سره دلمانځه اداکولو ښيګڼې | ۲۳ |
| ۱۰ | د مسجد ونوجوړولو اهميت اوضرورت | ۲۹ |
| ۱۱ | داسلام دلمړنيو مسجدونو جوړولو طرز ........ | ۳۵ |
| ۱۲ | د مسلمانانو تاريخي مسجدونه ........ | ۳۶ |
| ۱۳ | نبوی مسجد ........ | ۳۶ |
| ۱۴ | مسجد الحرام ........ | ۳۹ |
| ۱۵ | دبصری مسجد جامع ........ | ۴۰ |
| ۱۶ | دکوفی مسجد ........ | ۴۰ |
| ۱۷ | دفسطاط مسجد ........ | ۴۱ |
| ۱۸ | مسجد الاقصی ........ | ۴۱ |

| مخ | عنوان | شماره |
|---|---|---|
| ۴۲ | د دمشق اموی مسجد | ۱۹ |
| ۴۳ | د تیونس زیتونیه مسجد | ۲۰ |
| ۴۳ | د قیروان مسجد | ۲۱ |
| ۴۴ | د بغداد د منصور مسجد جامع | ۲۲ |
| ۴۴ | د قرطبې لویه مسجد جامع | ۲۳ |
| ۴۴ | د قرویین مسجد جامع | ۲۴ |
| ۴۶ | مدرسې | ۲۵ |
| ۴۷ | په اسلام کی د مدرسې تکاملی سیر | ۲۶ |
| ۴۹ | شهادتنامې او علمی لقبونه | ۲۷ |
| ۵۱ | جامعه، دارالعلوم، پوهنتون | ۲۸ |
| ۵۲ | اسلامی لومړنی پوهنتون | ۲۹ |
| ۵۲ | عمومی پوهنتون | ۳۰ |
| ۵۲ | اکادمی | ۳۱ |
| | **دوهم فصل** | |
| ۵۴ | د فقې ځینې مهم اصطلاحات | ۳۲ |
| ۵۴ | اسلام | ۳۳ |
| ۵۵ | حنیف او مسلم | ۳۴ |
| ۵۵ | مسلم | ۳۵ |
| ۵۵ | قرآن | ۳۶ |
| ۵۸ | دعا | ۳۷ |
| ۶۰ | ملت | ۳۸ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۳۹ | حزب | ٦١ |
| ۴۰ | امت | ٦١ |
| ۴۱ | جماعت | ٦٢ |
| ۴۲ | شریعت | ٦٢ |
| ۴۳ | حلال، حرام، مکروه | ٦٢ |
| ۴۴ | په اسلام کی د حلال، حرام اصول او قوانین | ٦٢ |
| ۴۵ | خدای تعالی دغه شیان حرام کړي دي | ٦٣ |
| ۴۶ | د شرابو او قمار و حرمت | ٦۴ |
| ۴۷ | د ږیري پریښودل | ٦۵ |
| ۴۸ | فرض، واجب، سنت، مستحب، مکروه | ٦٦ |
| ۴۹ | سود (ربا) | ٦٦ |
| ۵۰ | خرافات، اوهام، سحر، جادو | ٦٨ |
| ۵۱ | قتل، زنا | ٦٨ |
| ۵۲ | لواطت | ٦٩ |
| ۵۳ | څلور یاران (راشده خلفا) | ٧٠ |
| ۵۴ | ابوبکر صدیق رض | ٧٠ |
| ۵۵ | د حضرت صدیق ناروغی | ٧٦ |
| ۵٦ | حضرت عمر فاروق | ٧٩ |
| ۵٧ | د حضرت عمر شهادت | ٨۵ |
| ۵٨ | حضرت عثمان ذی النورین | ٨٧ |
| ۵٩ | حضرت علی بن ابی طالب | ٩۴ |

| مخ | عنوان | شماره |
|---|---|---|
| ۹۶ | دحضرت علی رض خلافت | ٦٠ |
| ۹۸ | اهل سنت وجماعت | ٦١ |
| ۹۹ | داهل سنت وجماعت لوی امامان | ٦٢ |
| ۹۹ | امام اعظم، نعمان بن ثابت | ٦٣ |
| ۱۰۰ | امام مالك | ٦٤ |
| ۱۰۰ | امام شافعی | ٦٥ |
| ۱۰۱ | امام حنبل | ٦٦ |
| | دریم فصل | |
| ۱۰۲ | دکندهار مشهور مسجدونه او جامع گانی | ٦٧ |
| ۱۰۵ | زوړ جامع | ٦٨ |
| ۱۰٦ | دشاه مسجد جامع | ٦٩ |
| ۱۰۷ | د میر هزار مسجد جامع | ۷۰ |
| ۱۰۸ | دمد دخان مسجد جامع | ۷۱ |
| ۱۱۰ | دکهندل خان مسجد جامع | ۷۲ |
| ۱۱۲ | دملا فرح الدین اخند مسجد | ۷۳ |
| ۱۱۲ | دخرقې شریفې مسجد | ۷۴ |
| ۱۱۴ | دعیدگاه مسجد جامع | ۷۵ |
| ۱۱۵ | دعثمان آباد مسجد جامع | ۷٦ |
| ۱۱۵ | د دینار خیلو دکوڅې مسجد جامع | ۷۷ |
| ۱۱۷ | دصوفي صاحب مسجد | ۷۸ |
| ۱۱۹ | دکابل دروازې دچینو مسجد | ۷۹ |

| شمار | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۸۰ | د خیرو اخند زاده مسجد جامع . . . . . . . . . . | ۱۱۹ |
| ۸۱ | د مولوی احمد صاحب مسجد جامع . . . . . . . . | ۱۲۰ |
| ۸۲ | د سپین کوڅی بابا مسجد . . . . . . . . . . . | ۱۲۰ |
| ۸۳ | د ملا کته اخند مسجد . . . . . . . . . . . . | ۱۲۱ |
| ۸۴ | د ملا سلطان محمد اخند مسجد . . . . . . . . | ۱۲۲ |
| ۸۵ | د ملا عبد الحق اخند مسجد . . . . . . . . . | ۱۲۲ |
| ۸۶ | د سید انود کوڅی مسجد . . . . . . . . . . . | ۱۲۳ |
| ۸۷ | د ملا عبد الغفور خروتی مسجد . . . . . . . | ۱۲۸ |
| ۸۸ | د ملا شرف الدین اخند مسجد . . . . . . . . | ۱۲۸ |
| ۸۹ | د خطیب اخند زاده مسجد . . . . . . . . . . | ۱۲۸ |
| ۹۰ | د خدای مسجد جامع . . . . . . . . . . . . | ۱۲۸ |
| ۹۱ | د قاضی غلام محمد مسجد . . . . . . . . . . | ۱۳۱ |
| ۹۲ | د دریمی ناحیی د سه دکان مسجد . . . . . . . | ۱۳۳ |
| ۹۳ | د یحیی خان د کوڅی مسجد . . . . . . . . . . | ۱۳۳ |
| ۹۴ | د عمرجان صاحب زاده مسجد . . . . . . . . . | ۱۳۴ |
| ۹۵ | د میر غلام علی شاه مسجد . . . . . . . . . . | ۱۳۶ |
| ۹۶ | د سید میر احمد موسوی خانقاه . . . . . . . . | ۱۳۶ |
| ۹۷ | د حاجی اختر محمد مسجد . . . . . . . . . . | ۱۳۷ |
| ۹۸ | د شیخ محمد طاهر د امام باری مسجد . . . . . | ۱۳۸ |
| ۹۹ | د حاجی عطاجان مسجد . . . . . . . . . . . | ۱۳۹ |
| ۱۰۰ | سره جامع . . . . . . . . . . . . . . . . | ۱۴۲ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۰۱ | دبابر ودکوټي مسجد جامع . . . . . . . . | ۱۴۳ |
| ۱۰۲ | د برکیانو مسجد . . . . . . . . . . | ۱۴۳ |
| ۱۰۳ | د طالبانو مسجد . . . . . . . . . . . | ۱۴۵ |
| ۱۰۴ | د موسی خان مسجد جامع . . . . . . . . | ۱۴۹ |
| ۱۰۵ | د مولوي ناصر صاحب مسجد جامع . . . . . | ۱۵۶ |
| ۱۰۶ | د کاروان مسجد . . . . . . . . . . . | ۱۶۰ |
| ۱۰۷ | دکاکړانو مسجد . . . . . . . . . . | ۱۶۳ |
| ۱۰۸ | عمری مسجد جامع او مدرسه . . . . . | ۱۶۶ |
| ۱۰۹ | محمدیه مدرسه، محمدیه مدرسه . . . . . | ۱۷۲ |
| ۱۱۰ | د طالبانو دوري د مدرسو تکثر | ۱۷۳ |
| ۱۱۱ | د اسلام راتلګ کابل ته . . . . . . . . | ۱۷۴ |
| ۱۱۲ | دکابل تاریخي او زاړه مسجدونه . . . . . . | ۱۷۶ |
| ۱۱۳ | د پل خشتي مسجد . . . . . . . . . | ۱۷۶ |
| ۱۱۴ | د شاه دوشمشیره مسجد . . . . . . . . | ۱۷۹ |
| ۱۱۵ | د بابرشاه برین مسجد . . . . . . . . . | ۱۸۰ |
| ۱۱۶ | دچوب فروشی مسجد . . . . . . . . . | ۱۸۱ |
| ۱۱۷ | د شاه بوجانی مسجد . . . . . . . . . | ۱۸۱ |
| ۱۱۸ | مسجد مبارک علیا . . . . . . . . . . | ۱۸۲ |
| ۱۱۹ | د باغ علی مردان مسجد . . . . . . . . | ۱۸۳ |
| ۱۲۰ | د دیوان بیګی مسجد . . . . . . . . . | ۱۸۴ |
| ۱۲۱ | په شوربازار کی د ملا محمود مسجد . . . . . | ۱۸۴ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۲ | دعاشقانو او عارفانو مسجد | ۱۸۵ |
| ۱۲۳ | دشاه شهید رح مسجد | ۱۸۵ |
| ۱۲۴ | دمجنون شاه رح مسجد | ۱۸۶ |
| ۱۲۵ | دعلیا رتبه مسجد | ۱۸۸ |
| ۱۲۶ | دعیدگاه مسجد جامع | ۱۸۸ |
| ۱۲۷ | دقاضی فیض الله دولت شاهی مسجد | ۱۸۹ |
| ۱۲۸ | دعلی رضا خان مسجد | ۱۸۹ |
| ۱۲۹ | دتمیم انصار مسجد | ۱۸۹ |
| ۱۳۰ | دوزیر دکوټی مسجد | ۱۹۱ |
| ۱۳۱ | دغازیانو مسجد | ۱۹۱ |
| ۱۳۲ | دپای منار دحاجی صاحب مسجد جامع | ۱۹۲ |
| ۱۳۳ | دحضرت عمر فاروق مسجد | ۱۹۳ |
| ۱۳۴ | دشور بازار دحضرتانو مسجد | ۱۹۴ |
| ۱۳۵ | دشاه لقا مسجد | ۱۹۴ |
| ۱۳۶ | دقصاب دکوټی مسجد | ۱۹۵ |
| ۱۳۷ | دسید مهدی اتش نفس مسجد | ۱۹۵ |
| ۱۳۸ | دازبکانو مسجد | ۱۹۷ |
| ۱۳۹ | دصوفی مسجد | ۱۹۸ |
| ۱۴۰ | دخواجه صفا مسجد | ۱۹۹ |
| ۱۴۱ | دامیر عبدالرحمن دمقبری مسجد | ۲۰۰ |
| ۱۴۲ | دحاجی یعقوب مسجد | ۲۰۰ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۴۳ | د حضرت علی کرم الله وجهه مسجد جامع . . . . . . . . . | ۲۰۰ |
| ۱۴۴ | د عمرجان صاحبزاده مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۱ |
| ۱۴۵ | د اریانا مینی مسجد جامع . . . . . . . . . | ۲۰۱ |
| ۱۴۶ | دقاضي شهاب مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۱ |
| ۱۴۷ | د درخت شنک مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۲ |
| ۱۴۸ | د دهمزنگ کلالی مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۲ |
| ۱۴۹ | د خواجه اسحق مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۲ |
| ۱۵۰ | د باغبان باشي مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۲ |
| ۱۵۱ | د مکوریانو مسجد . . . . . . . . . | ۲۰۳ |
| | **شلورم فصل** | |
| ۱۵۲ | د تصوف او عرفان ځینې مهمې طریقې او اصطلاحات . . . . | ۲۰۴ |
| ۱۵۳ | تصوف . . . . . . . . . | ۲۰۴ |
| ۱۵۴ | طریقه . . . . . . . . . | ۲۰۵ |
| ۱۵۵ | نقشبندیه طریقه . . . . . . . . . | ۲۰۶ |
| ۱۵۶ | حضرت صبغت الله مجددی . . . . . . . . . | ۲۰۷ |
| ۱۵۷ | قادریه طریقه . . . . . . . . . | ۲۱۱ |
| ۱۵۸ | پیر سید احمد گیلاني . . . . . . . . . | ۲۱۲ |
| ۱۵۹ | خلیفه غلام فاروق قادري . . . . . . . . . | ۲۱۳ |
| ۱۶۰ | د سهروردیه طریقه . . . . . . . . . | ۲۱۵ |
| ۱۶۱ | د چشتیه طریقه . . . . . . . . . | ۲۱۶ |
| ۱۶۲ | خانقاه . . . . . . . . . | ۲۱۸ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۶۳ | د دوست محمد حاجي کندهاري خانقاه . . . . . . . | ۲۲۰ |
| ۱۶۴ | خلوت . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۲۶ |
| ۱۶۵ | څلویښتې (چهله کشي) . . . . . . . . . . . . | ۲۲۶ |
| ۱۶۶ | حال، حق . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۲۷ |
| ۱۶۷ | حلقه، وجد . . . . . . . . . . . . . . | ۲۲۸ |
| ۱۶۸ | تجرد او تاهل . . . . . . . . . . . . | ۲۲۹ |
| ۱۶۹ | ابلیس . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۲۹ |
| ۱۷۰ | شیطان . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۳۰ |
| ۱۷۱ | پیشوا، تقدیر، ازل و ابد . . . . . . . . . | ۲۳۱ |
| ۱۷۲ | معجزه، کرامت، استدراج . . . . . . . . . | ۲۳۱ |
| ۱۷۳ | اسم اعظم، الحاد، پیر مغان . . . . . . . . | ۲۳۲ |
| ۱۷۴ | تفکر، تقوی، توبه . . . . . . . . . . . | ۲۳۳ |
| ۱۷۵ | حضور، خطوه، خلیفه . . . . . . . . . . | ۲۴۴ |
| ۱۷۶ | لیونی (دیوانه) . . . . . . . . . . . . | ۲۳۴ |
| ۱۷۷ | ذکر، رضا . . . . . . . . . . . . . . | ۲۳۵ |
| ۱۷۸ | رمز، صفا، عارف، عاشق . . . . . . . . . | ۲۳۵ |
| ۱۷۹ | فنا، فیض، قوالي، کامل . . . . . . . . . | ۲۳۶ |
| ۱۸۰ | نفس، وفا، هاتف . . . . . . . . . . . | ۲۳۷ |
| ۱۸۱ | اوه مړونه، ولي . . . . . . . . . . . | ۲۳۸ |
| ۱۸۲ | دنیا، پیر، پیغمبر . . . . . . . . . . | ۲۳۹ |
| ۱۸۳ | پیر خرابات، کوي خرابات، کمال، کشف . . . . | ۲۴۰ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۸۴ | خواجه . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۴۱ |
| ۱۸۵ | سید . . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۴۲ |
| ۱۸۶ | میر . . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۴۲ |
| ۱۸۷ | امیرالمؤمنین . . . . . . . . . . . . . . | ۲۴۳ |
| ۱۸۸ | ملا . . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۴۴ |
| ۱۸۹ | پروفیسور برهان الدین ربانی . . . . . . . . | ۲۴۹ |
| ۱۹۰ | انجنیر گلبدین حکمتیار . . . . . . . . . . | ۲۵۱ |
| ۱۹۱ | ملا محمد عمر مجاهد، امیرالمؤمنین . . . . . . | ۲۵۴ |
| ۱۹۲ | میا . . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۵۶ |
| ۱۹۳ | شیخ . . . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۵۷ |
| ۱۹۴ | میرا، مولوی، اخند . . . . . . . . . . . | ۲۵۸ |
| ۱۹۵ | صاحبزاده . . . . . . . . . . . . . . . . | ۲۵۹ |
| ۱۹۶ | استخاره، استغفار، فقیر . . . . . . . . . . | ۲۶۰ |


کتبهٔ : سید سراج الدین ۱۳۷۵/۱۰/۲۳ هـ ش کوئټه

يولسو

# التقريظ

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد سيد الأولين والاخرين وسيد خلق اجمعين وعلى آله وصحبه والتابعين من تبعهم باحسان الى يوم.

امابعد :- هذا أثر (داسلام كندهار او كابل د تاريخي مسجد ونولنو تاريخچه او ځيني فقهي او تصوفي اصطلاحات) قد قرأته ووجدت فيها معلومات وتحقيقات كافيه عن وطني ووطن آبائي افغانستان، ولا سيما من جانب ثقافتها الاسلامية، وعن شعايرها الاسلامية، وعن علمائها وخدماتهم الدينية وجهودهم الثقافيه، وعن تعاميرها التاريخيه مثل المساجد المشهورة ومقابر العلماء والصلحاء والمراكز التعليمية كمدارس اسلامية والجامعات، فها أنا افرح بجهد المصنف مؤرخ الفاضل محمد ولي (حلمي) وبصدق معلوماته في هذا الجانب لأنني لاحظت بنفسي في افغانستان ووجدت فيها حقايق التاريخيه الصحيحه ولأجله سافر من هنا الى هناك وصرف وقته وماله في هذا المجال.

ولهذا أردت أن أترجم هذا الكتاب النافع من اللغة البشتو الى العربيه كي يعم النفع وأيضاً اشاركه في هذا العمل النافع الطيب.

وأخيراً ادعو علماء ومحققي افغانستان أن يفكروا في هذا الجانب لأنها خدمة دينيه وطنيه وانا ارى فراغ واسع في هذا الجانب

دولسم

وقـدمت إلـمصنف شئ من هـذا لفراغ لـلجامـة .
ولله الحـمد والمنـه وجزه الله خيراً كثيرا .

الشيخ الحديث محـمد عبد الرحمٰن الكندهاي
رييس المدرسة الاسـلامـية فى
بلدة لايپور .
جمادى الثانى ١٤١٦ھ ق ، سپتمبر ١٩٩٦ م

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# مقدمه

له دې سره چې د ثقافتي، فرهنګي، کلتوري په زیاتره بیا د مذهبي او عرفاني کتابونو او رسالو تهیه کول او نشرول نن زما د واکه پوره وظیفه او بنه مې د مطالعې ساحه جوړ وي، خو دا چې یو شمیر متدینو او پر ملي ثقافت مینو علمیانو د وطنوالو د اذهانو روښانولو او ملي ثقافت د یوې مهمې ګوښې د روښانولو او پیاوړي کولو په هیله زما څخه په ټینګه وغوښتنه چې په دې حساسه او تاریخي مرحله کې چې د (۱۳۵۷ هـ ش) کال څخه شروع او تر (۱۳۷۵) کال پورې دوام موي او زموږ د ټولنې ټولې ثقافتي، اجتماعي او سیاسي چارې یې تر خپلې اغیزې لاندې نیولې د دې څه ولیکم. ما د دوی دا ناز په محکم ولو چاوه او دا دې په دې وسیله د (په اسلام کې د مسجدونو د لنډې تاریخچې او د کندهار او کابل د تاریخي مسجدونو او د فقې، تصوف او عرفان د ځینو مهمو اصطلاحاتو) په نامه اثر چې څه محتویات یې زموږ د ژوندانه او تفکر د طرز او عقیدې یو ثقافتي او کلتوري مهم برخه جوړ وي د ښاغلو لوستونکو په حضور کې وړاندې کوم او د ضرورت له مخې تر هر څه د مخه د ثقافت، فرهنګ او کلتور د کلمو په تفسیر ولولګیا کیږم.

**ثقافت** :- یوه عربي کلمه ده چې د لازمي مصدر اسم صیغه ګڼل کیږي او د زیرک، سپک روح، چست او چالاک کیدلو، او همدا استاد کیدلو سخت او محکم کیدلو، نوي او تمدن په معنی اخستل کیږي همدا شانې د مهارت، روښنفکري، فرهنګ، د نیوونې او روزنې، د ټولو فکري قواؤ د روزنې او تر آخري مرحلې پورې د انساني شخصیت د روزنې په معنی هم اخستل کیږي.

**فرهنګ** :- د (فر) د مخې لا ختمه ده او (هنګ) د تنګ د اوستایي ژبې د ریښې څخه ده چې د لوی او پوه معنی ورکوي. دغه دواړه توري بیا ده (Educa, Education, Edure) ادوکا، ایجوکیشن او ایدیوره لاتینې ژبې

څخه اخستل سوی دی چې د نومیالی، ښوونې او روزنې په معنی دی لکه چې وايي:-

نو جاه و ګنج، ز فرهنګ و از قناعت جوی *
چه جاه و ګنج فزون از قناعت فرهنګ * (عنصري)

د دغې کلمې څخه په فارسي د غه اشتقاقونه سوي دي :- فرهنګ آموز، فرهنګ جو
فرهنګجوی، فرهنګ دار، فرهنګ دان، فرهنګ دوست، فرهنګ سا، فرهنګ ساز
فرهنګستان، فرهنګ نامه، فرهنګور، فرهنګي فرهنګ یاب او نور.

<u>کلتور</u> Culture :- یوه فرانسوي کلمه ده چې اسمي حیثیت لري د
کرهنې، کښتګرۍ په لابراتوار کې د مکروب کرلو، فرهنګ، روزنې، تمدن
تهذیب، د ښوونې او روزنې په واسطه د جسم او فکر روزل او داسې نورو
ثقافتي او خصوصي معنیٰ ؤ استعمالیږي.

په عام مفهوم سره د کلتور کلمه ډېره پراخه او ډول ډول تعبیرونه لري
چه د بشري ژوند او فعالیت د رانه، راز خواوو او اړخونو د څرګندولو لـه
پاره استعمالیږي همدا وجه ده چې کله کله ځینې کسان د مادي کلتور، روحي او
معنوي کلتور، د کار کلتور، د ژوند کلتور اصطلاحات هم استعمالوي
د کلتور کلمه د مادي تولید او د ذهني د سطحې له پاره هم راوړل کیږي چې بشر
د طبیعت څخه لاس ته راوړي وي، همدا رنګه دا کلمه په ټولنه او کورنۍ کې د
انسانانو په کړو وړو او د دوی د ژوند اړنو شرایطو او د دوی پر علمي
پانګې، هنري استعدادونو او مهارتونو باندې هم اطلاقیږي. نو دا کلمه
د هر هغه څه له پاره راوړله کیږي چه بشر خلق کړي وي او یا یې خلقوي هر
برټ سپنسر په خپل کتاب ټولنپوهنه کې کلتور او ثقافت ترجسم د لوړ
ماحول په عنوان تعریفوي او وایي چې ترجسم لوړ ماحول یوازې انساني
ماحول دی حال دا چه په دوو نورو ماحولونو کې له حیواناتو او نباتاتو سره شریک دی

---

1, Oxford Advanced, learner's dictionary encyclopedic Edition P. 220

2, English persian collegiat dictionary. By Abbas Aryanpor

برتانوي بشر پېژندونکي ئي - بي تايلر (E.B.Tyler) کلتور او ثقافت له هغو معلوماتو، عقايدو مستظرفه صنايعو، اخلاقو، قوانينو، دود او دستور، رسمو او نورو قابليتونو څخه ګڼي چه انسان يې د اجتماع د يوه غړي په توګه کسبوي. کلتور او ثقافت د ټولنې د راتلک او بدايت سره يوځای پيدا سوی او عام شکل لري او د ټولنې د افرادو په منځ کې شريک، کلتور زياتره د ژبې په واسطه انتقاليږي، کلتور نسبي خصوصيت لري د هرې ټولنې کلتور د هغې ټولنې يا ملت د ژوندانه د شرايطو، ايجاباتو او نورو محصول دی او په عمومي توګه نسبه کلتور او بد کلتور د پېژندلو له پاره معيار نسته، هر کلتور د هماغه خلکو لپاره چې ورسره سروکار لري ښه دی د ملتونو او ټولنو په افرادو کې کلتوري مشابهتونه سته د مثال په توګه هغه خلک چه د ژوندانه په وروسته پاته شرايطو کې ژوند کوي، غير مصئون ژوند لري د دوی ټولنيز نظام ډېر کمزوری وي چې د کورنۍ څخه تجاوز نکوي او اجتماعي تماميت په داسې کلتورونو کې لږ ليدل کيږي، هغه وخت چه موږ د ملي کلتور بحث کوو زموږ مطلب د يو لړ هغو زړه کره شوو لارو چارو، عقايدو، ارزښتنو، ژبې، عاداتو دود او دستور څخه دی چې د يوې ټولنې افراد يې په ګډه سره مني. څرنګه چه د عصري ټولنې د حال او اينده زماني اجتماعي روابطو اساس د هغې ټولنې د تيرې زمانې د مادي او معنوي ژوندانه د شرايطو د بنسټونو څخه سرچينه اخلي نو د دې لپاره که څوک وغواړي د خپلې ټولنې د هويت او اصالت په هکله مستند او معتبر معلومات په لاس راوړي بايد په تيره زمانه کې يې د خوږو او ترخو مرحلو راتللو عوامل او علل ځان ته معلوم کړي وي او هغه چې په اوسني ژوندانه کې په کار وړځي په هغو د تائيد مهر ولګوي او کوم چې د وخت څخه تير او په کار نه وي په ډېر احتياط او مآل انديشۍ څرنګه چې يې علمي موازين او مقررات تقاضا کوي د پرېښودلو د صورتونو وړ يې په مخ وپرانيزي کلتوري او ثقافتي اصالتونه يوازې په مترقي او رسيدلو ټولنو کې د اعتبار وړ نه دي بلکه په بسيطو ټولنو او حتی کورنۍ مناسباتو کې هم د اهميت وړ دي د مثال په توګه لکه چې وايي فلانې

کورنی دلوړ کلتوړ او تهذیب خاوند ده پلرونو او نیکه گانو یې په ښه نامه او لوړ حیثیت ژوند تېر کړی دی. نو اوس دا د پوهو او پر ملي ثقافت مینو اشخاصو ملي او بشري وظیفه ده چې دخپلو ملي او مثبتو اصالتونو د ښوولو او دسپېڅلو په لار کې زیار وباسي او هغه چې د بشري عالي او مترقي تولنې جوړولو په لار کې گټور ثابتیږي هغه په زغرده او عمومي بشر دوستي په احساس معرفي کړي څو په دې توګه ملي او ایماني وظیفه پر ځای کړو لکه چې فرمائی:

ترجمه :- (نو زیری وکړه زما پر بندگانو هغوی چې خبری اروی او د هغو څخه چې د ښو پیروی کوی، دا هغه خلک دی چې خدای تعالی هغوته هدایت کړی دی (۱)

ایت شریف یې په لاندې ډول دی:

فبشر عباد الذین یستمعون القول فیتبعون احسنة ط اولئِك الذین هداهم الله و اولئِك هم اولو الالباب

---

(۱) الزمر آیت ۱۸

# لومړی فصل

## داسلام راتلګ افغانستان ته

حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم په پنځه سوه اویا (۵۷۰) میلادی کال کې په مکه مکرمه کې زیږیدلی او په شپږ سوه لس (۶۱۰) کې یې داسلام مبارک دین او خپل رسالت په تبلیغولو او خپرولو شروع وکړه. تر شپږ سوه دوه دیرش (۶۳۲) میلادی پورې چې شل کاله کیږي د بیلو تبلیغونو جهادونو او غزاګانو په واسطه چې د هغو څخه د بدر، احد، خیبر، ذومته، الجندول غزاګانې او د حدیبیه او د تبوک صلحې زیاتې مشهورې دي، د عربستان یو مهمه برخه ونیوله او د شام په خوا یې لښکر سم کړ.

حضرت محمد (ص) د شرقي روم، ایران، حبشي، یمامه، بحرین او غسانی پاچاهانو او حکمرانانو ته د اسلام په مشرفیدلو دعوت ورکړ.

حضرت پیغمبر (ص) د حیه بن خلیفه کلبي د خپل بولیک سره د روم دربار ته ولیږی چه د لیک متن یې دا دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

د محمد عبدالله د زوی د خدای د رسول له خوا.

د روم لوی هرقل ته:

سلام دی په هغه چاوی چی د هدایت پیروی وکړي، وروسته زه تا د دعوت په نامه اسلام ته رابولم، اسلام راوړه چی په امان سی او خدای تاته دوه ځله عوض درکړي، او که دې شا وګرځوله د ایسیین ګناه به پر تاوي، ای اهل کتابو، د هغې مشترکی عقیدی چی زموږ او ستاسو په منځ کی موجوده ده راسی

چې بیله خدایه د بل چا عبادت و نکړو او هیڅ شی د هغه سره شریك نکړو او یو د بل ، بل پر ځای د خدای په مقابل کې پو نه نیسو او که یې شا وګرځوله و وایه چې تاسو شاهدان او سی چه موږ مسلمانان یو . (۱)
حضرت پیغمبر (ص) ، شجاع بن وهب د خپل یو لیك سره د فارس (کسرا) ته ولیږی چې متن یې دا دی .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
د محمد عبدالله د زوی د خدای د رسول له خوا .
د فارس لوی کسرا ته :
سلام دی پر هغه چا وی چې د هدایت پیروی وکړی ، پر خدای او د هغه پر رسول ایمان راوړی او شاهدی ادا کړی چې بیله الله څخه بل خدای نسته ، او هغه واحد ، بې سیاله او بې نیازه دی ، او محمد هم د هغه بنده او رسول دی ، زه تا د خدای دعوت ته رابولم ، چې زه د خدای رسول او د هغه له خوا د ټولو خلکو له پاره رالیږل سوی یم ، هر څوك چې ژوندی وی هغه و پوهوم ، څو د خدای امر د کافرانو په هکله محقق سی که اسلام راوړی په امان کې به یې ، او که له هغه څخه منکر سی د مجوسی ګناه به پر تا وی . (۲)
حضرت پیغمبر د حبشی پاچا (اصحمه) ته لیك ولیږی چې متن یې دا دی .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
د خدای د رسول محمد له خوا .
و نجاشی د حبشی پاچا ته :
ستا په مقابل کې د خدای ستاینه کوم ، هغه خدای چې بیله هغه بل نسته ، او

(۱) آل عمران ۶۴ - البدایه والنهایة څلورم ټوك صفحه ۲۶۵
(۲) آل عمران ۶۴ - البدایه والنهایة څلورم ټوك صفحه ۲۶۵ ؟

هغه پاك، سلام، مؤمن او مهیمن دی او شاهدی ادا کوم چه عیسی بن مریم الهی روح او د هغه کلمه ده چې هغه یې پاك لمنی مریمې ته القاء کړې دی او هغه په عیسی حمله داره سوی او خدای هغه د خپل روح او الهی نفخې څخه پیدا کړ په هغه ډول چې ادم یې په خپل قدرت پیدا کړی و زه تا واحد خدای چې شریك نه لري، او د هغه په طاعت باندې دښمنگار او هم دی ته رابولم چې زما پیروي وکړي او په هغه چې پر ما وحی رسیدلی ایمان راوړي چې زه د خدای رسول یم، زه تا او ستا لښکر د خدای تعالی لوري ته رابولم په دی واسطه ابلاغ در ته کوم او په هوم دی نو زما د غه نصیحت ومنئ، درود دی پر هغه چاوي چې د هدایت پیروي وکړي ۱۱

حضرت پیغمبر یو لیك د حاطب بن ابی بلتعه د قبطیانو لوی مقوقش ته چې د روم تر سلطی لاندی و او پر هغه باندی د رومیانو له خوا څخه دینی او اجتماعی مظالم کیدل پدی متن واستوی.

---

بسم الله الرحمن الرحیم

د خدای د رسول محمد له خوا.

د قبط لوی مقوقش ته:

سلام دی وی پر هر چا چې د هدایت پیروي وکړي، له دی وروسته تا ته په اسلام دعوت در کوم، اسلام راوړه چې په امان سی او اسلام راوړه چې خدای تا ته دوه واره عوضونه درکړي که یې ونه منې، د قبط د خلکو گناه به ستا په غاړه وي، ای دکتاب خاوندانو هغی گډی عقیدی ته چې زموږ په ماېین کې موجود ده راسئ چې بیله الله د چا عبادت ونکړو او هیڅوك د هغه شریك ونه گڼو، یو بل له د خدای په مقابل کې خدای ونه نیسو او که یې شا وکړ زو له وو وایه شاهدان واوسئ چې موږ مسلمانان یو

---

صحن های تکان دهنده در تاریخ اسلام - تالیف محمد عبدالله عنان - ترجمه علی درانی صفحه ۳۴۸

د حضرت پیغمبر یو لیک منذر بن ساوی ته د علاء حضرمي په لاس لېږل سوی ؤ چي واقدي په خپل اثر المغازي کي د عبدالله بن عباس د مريي عکرمه له خولي څخه روایت کړی دی چي د حضرت عباس د وفات وروسته د هغه په کتابونو کي د یوه مکتوب ځواب د منذر بن ساوه له خوا څخه د حضرت رسول حضور ته په دی متن رارسيدلی ؤ .

د خدای د رسول (ص) حضور ته :

ای د خدای رسوله یو ځل می ستا لیک د بحرینو خلکو ته ولوست په ځواب کي یې ځينو اسلام ومنی، او ځينو خوښ نکړ، زموږ په وطن کي یهودیان او مجوسیان هم سته خپل هدایت په دی باره کي راته وکړي .

د خدای رسول د دی لیک په ځواب کي داسي ورته ولیکل :

د محمد د خدای د رسول له خوا .

و منذر بن ساوی ته :

سلام دی پر تاوی، زه ستا په مقابل کي د هغه خدای ستاینه کوم چي بیله هغه بل خدای نسته او شاهدی ادا کوم چي د الله پرته بل خدای نسته او محمد د هغه بنده او پیغمبر دی. یو ځل بیا تا ته خدای یاد وم که هرڅوک د خدای په یاد خیر وغواړي د خپل ځان له پاره یې خیر غوښتی دی او هرڅوک چي زما د قاصدانو فرمان وړي او د هغوی د لارښوونو پیروي وکړي، داسی دی لکه چي زما فرمان یې وړی وی، او هرڅوک که د دوی خیر غوښتونکی وی، زما خیر یې هم غوښتی وی .

زما قاصد ستا ستاینه او صفت کړیدی، نو ځکه تا د خپل قوم شفیع ګرځوم د هغه چاسره چي مسلمانانو صلح کړي وي هغه پر خپل حال پریږده، او ګناهونو څخه یې تیر شه او په دې پوه سه تر څو ته صالح او رشتیا ویونکی یې له کاره برطرف نسی او هغه څوک چي ستا په هیواد کي پر یهودیتوب او مجوسیتوب دوام وغواړي باید جزیه ځني واخلي .

دحضرت پیغمبر لیک عمان ته او د هغه ځای د دوو امیرانو جیفر او عبد د جلندی زامنو ته د عمرو بن عباس په لاس په دی متن استول سوی دی؛

بسم الله الرحمن الرحیم

دخدای د رسول محمد له خوا.

و جیفر او عبد د جلندی زامنو ته؛

سلام دی پر هر چا وی چی د هدایت پیروی وکړی. په دی واسطه تاسی اسلام ته رادعوتوم اسلام راوړه چی پر امان سی. زه دخدای رســــــول ټولو خلکو ته چی ژوندی دی اطلاع ورکوم او په هوږي څو دخدای فرمان پر کافرانو محقق سی، که اسلام راوړی تاسی ته به فرمان فرمایی درکړم او که د اسلام د منلو څخه سر وغړوی ستا سلطنت به ړنګ سی او زما اسپکری به ستاسو پر وطن بری ومومی او زما نبوت به ستاسی پر پاچاهی غلبه ومومی (دغه لیک ابی ابن کعب ولیکی او مهر یی باندی ولګاوه)

دحضرت محمد لیک د یمامه حاکم هوذة بن علی په نامه چی سلیط بن عمرو عامری په لاس ورول سوی و متن یی دا دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

دخدای د رسول محمد له خوا

و هوذه بن علی ته؛

سلام پر هر چا چی د هدایت پیروی وکړي. پوه سه چی زما دین به تر هغو سیمو چی هلته اسان او اوښان پو ول کیږی ورسیږی ولاړسی اسلام راوړه چی پر امان سی، او هغه څه چی ستر خپلی سلطی لاندی لری درپری به یی ږدم. دخدای رسول حضرت محمد د حدیبیه د صلح وروسته اسلام ته د دعوت په هکله بیل بیل لیکونه واستول چی په دغه لړکی یی د غسانی امیرانو هم یو لیک ولیږی چی البته د سیرة په کتابو کی نه دی راغلی چی د غسان حکمران

پہ هغه عمل وکړي او کـه یا .

د حضرت محمد (ص) د دغه دعوت لیکنو له اثره څخه څرګندېږي چې د دوی څخه ځینو مثبت او ځینو رد او ځینو دکفر او سرکښی څوابونه ورکړل او د حضرت رسول په مقابل کې یې ازار رسول پیل وکړ .

د ٥ مبارك په شپږ سوه یو دیرش (٦٣١م) کې مکه ونیوله او خپل اسلامی مرکز یې وګرځاوه او په شپږ سوه دوه دیرش (٦٣٢) میلادي کال کې وفات سو.

دده خلفاؤ او په ځای ناست ملګرو یعنی راشدینو خلفاؤ لکه حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت عمر فاروق (رض) حضرت عثمان ذی النورین حضرت علی بن ابی طالب دخلافت په دوروکې یعنی دوه دیرش کالو په موده کې د بیزانس د امپراتورۍ اسیایی برخې تر دمشق شام، مصر، شمالی افریقې د قرطبې تر دروازې، عراق، ایران، افغانستان تر شاوخوا پورې فتح او لویه اسلامی دنیا یې جوړه کړه .

# داسلام راتګ کندهار ته

کندهار چې د رتبیل شاهانو تر سلطې لاندې وُ اسلامی مجاهدینو د خپل مشهور قوماندان احنف بن قیس په قیادت د جنوبي پلوه د سیستان د لارې پر کندهار او کابل باندې دیرغل کولو په اثنا کې په (۴۴) هـ کې ونیوی معجم البلدان د مسلمانو عربو له خوا څخه د کندهار د نیولو په هکله داسې لیکي:

قندهار :- بضم القاف، وسکون النون وضم الدال ایضاً مدنیة فی الإقلیم الثالث، طولها مائة درجة وعشر درج ، وعرضها ثلاثون درجة وهی من بلاد السند او الهند مشهور فی الفتوح قیل غزاعباد ابن زیاد ثغر السند وسجستان فأتی سنار ود ثم أخذ علی جوی کهن إلی الدوذبار من ارض سجستان الی الهند سند ونزل کس وقطع المغازه حتی اتی قندهار فقاتل اهلها فهزمهم وقتلهم وفتحها بعد ان اصیب رجال من المسلمین، فرای ولانس اهلها طولا فعمل علیها فسمیت العبادیه .

قال یزید بن مفرغ :

کم بالجروم و ارض الهند من قدم
ومن اسرابیل قتلی لیتهم قبروا
بقندهار یرجم دونه الخبر (۱)

لسترنج په خپل مشهور اثر (د شرقی خلافت د ځمکو تاریخی جغرافیه) د کندهار په هکله لیکی :

د قندهار د ښار نوم (القندهار) د مسلمانانو د لومړنیو فتوحاتو په وخت کی د پیر د هند د ورځ رمه او نژدی ځایونو په لړکی یاد سوی. بلاذری وایی :
مسلمانان د سیستان د دښتو څخه د تیریدو وروسته قندهار ته ورسیدل او په کنبستیانوکی سپاره او د سیند دلاری پر هغه ځای حمله وکړه او ویی نیوی. د هغه ځای لوی بت یی چی بیله شکره هغه د بودا مجسمه وه مات کړ، د دغه وروسته بیا د قندهار نوم چاندی (اخستی خو کله کله د مقدسی په کتابونو، ابن رسته او یعقوبی کی یی هم نوم راغلی دی چه وایی :
د غه ښار په هند او یا د هند په شاوخوا کی واقع دی، متأسفانه مؤرخین او د مسالکو کتابونه د قندهار په باره کی پوره معلومات نه ورکوی، همدا شانی اصطخری ابن حوقل د دغه زاړه تاریخی ښار پته سمه نه راکوی، د اهم امکان لری چی د پنځمی پیړی په لومړنیو وختونو کی دی د پنجوایی نوم د قندهار پر ځای اخستل کیدی، دا لحکه چی یاقوت د هغه ستاینه نده کړی خو وروسته بیا د اوی پیړی په نیمایی کی د امیر تیمور کورگانی په امر بیا خراب سو (۲)

---

(۱) معجم البلدان ـ المجلد الرابع صفحه ۴۰۲ چاپ ۱۹۵۷ میلادیة
دایرة المعارف القرون العشرون ـ محمد فرید وجدی صفحه ۶۱۵ بیروت
اراکوزیا ـ میر غلام محمد غبار ـ چاپ ۱۳۱۰ هـ ش کابل
(۲) جغرافیای تاریخی سرزمین های خلافت شرقی تالیف لسترنج
ترجمه محمود عرفان صفحه ۳۷۱ چاپ سوم ۱۳۶۷ هـ ش

# د سلیمان غره داو سید و نکو افغانانو له پاره د اسلام دعوت

د سلیمان د غرو لړی چی د افغانستان په جنوب لویدیځ کی پروت دی لوی او کوچنی ځانګی لری. د غه غر د پیوار د کوتل د جنوبی برخی څخه چی د کورم سیند د هنی څخه تیریږی، د سپین غره څخه بیلیږی لومړی د جنوب لویدیځ په خوا د ځمکینو، ځدرانو او ارګون د محکی لوړی برخی د لویدیځ له خوا نیسی او په دغه سیمه کی د لویدیځ سلیمان داغ په نامه یادیږی. بلسه برخه یی د افغانستان او منځنی پښتونستان سرحدی لیکه تعقیبوی، لومړی ځل جنوبی خواته او وروسته د جنوب لویدیځ خواته اوږدیږی، په دغه سیمه کی دغه غر د ختیځ سلیمان داغ په نامه یادیږی، د دغو د وو سلسله غرو اوسط لوړوالی تر (۳۲۰۰) متره زیات دی.

ختیځ سلیمان داغ د جنوب لویدیځ په پای کی د توچی سیند په واسطه قطع کیږی او د کورم د سیند په شانی سپین غر د دغو دوو غرونو د سلسلو څخه بیلوی بیا دغه غر د افغانستان او پښتونستان د سرحد ختیځی سیمی نیسی او د وزیرستان د غرونو لړی جوړوی، په دغه برخه کی د دغه غره لوړوالی تقریباً (۳۵۰۰) متره ته رسیږی، دغه غر د ګومل د سیند په واسطه د شینکی د غرونو او هغو نورو غرونو څخه چی ختیځی خواته پراته دی بیلیږی.

د سلیمان د غره لوړ او پراخه برخه د ګومل د سیند د جنوب څخه شروع کیږی، د ژوب سیند چی د ګومل د سیند د لویو مرستیالانو څخه ګڼل کیږی دغه غر په دوو لویو ښاخونو ویشی، یو ښاخ یی د دغه سیند لویدیځه سیمه تعقیبوی د پښین شمال ته رسیږی، په دغه برخه کی دغه غر د کاکړو د توبی په نامه یادیږی، د دغه غره لوړ څوکه د ساکر، ساغر په نامه مشهوره ده چی ۳۱۰۰ متره هسکه ده.

دسلیمان دغره بل سباخ د ږوب د سیند ختیځه برخه نققیبوی تر کوټتی رسیږی د سلیمان دغره لوړ ځوکه پر دغه برخه کی موجوده ده چی د تخت سلیمان یا کیسی ځوکی په نامه یادیږی، کیسی په پښتو ژبه کی د ستر ګوتیك یا ر وبینایی ته وایی ددغه غره لوړ ځوکه (۳۳۸۳) متروته رسیږی. دکوټتی اوپښین په برخه کی دغه غرخپل پسوړکموی او دغونډی په شکل ځرګندیږی، د دغه وروسته دغه غرجنوبی اوجنوب لویدیځ سیمو ته غځیږی اوخپل پسوړ زیاتوی ځو دعربو په بحیره کی پای ته رسیږی، ددغه غره عمومی اوږدوا لی تقریبًا (۶۰۰) کیلومتروته رسیږی.

دسلیمان غر دافغانستان اوپښتونستان دنورو غرونو په نسبت مرطوبه او بارانی آب وهوا لری، دائتکال عمل په دغه سیمه کی ونوی او ابادی، داری او شادابی ناوی جوړه کړی او په زیاتو سیمو کی ګڼ شمیر ځنګلونه او دمال ځر له پاره وړځکی لری.

دسلیمان غره دلمنی اوسیدونکی په عمومی توګه د افغانانو دغه قبیلی دی:
وزیر، مسود، غلجی کوچیان، شیرانی، کاکړ، ترینان اونور.
دسلیمان غره په لمنه کی داوسیدلو له کبله دی چی کله، کله عربان افغانانو ته سلیمانیان هم وایی. (۱)

## ددغو قبیلو نسبی او اتلونیجیکی حالات :-

د افغانی روایاتو، تاریخو اجتماعی او اقتصادی خصوصیاتو له مخی دا ځرګندیږی چی د افغانانو یوه سلاله دسلیمان غره په لمنی کی دیو اتنیکی واحد په څیر، د ډیرو سرو او تودو حالاتو او فشارونو لیدلو وروسته د ښینتوب او مال ځر د ښری ژوندانه په مرحله کی دغی سیمی ته په اوسیدلو او ژوند تیرولو رسیدلی او د ضرورت له مخی یی کله دګاونډیو قومونو سره د نسبی، کلتوری، اقتصادی علایقو پاللو له مخی د صلح او ارامی ګډ ژوند ته دوام ورکړی دی.

دغه واقعیت نه یوازی د افغانانو د نسب، تاریخ، ثقافت، اقتصاد او ژوندانه د

---

(۱) حیات افغانی ۱۷۰ مخ

بیلو مرحلو د څیړلو په مجرا کی تحقق مومی بلکه د نړی د یو شمیر انسان
پیژندونکو او اتنولوجستانو هم دا په زغرده ویلی چی په نړی کی داسی
ځانته بیل نژاد او یا ملت لښته چی فسه یا خالصه وجه ولری او ژوندانه
په تکاملی سیر کی دی د نورو اقوامو او ملتونو سره د ګډ ژوند د ضروریاتو
د رفع کولو لپاره د اتنیکی او یا کلتوری اختلاط د جبر څخه په امان او بی نیاز
پاته شوی وی. یو مستشرق افغان پیژندونکی په دی هکله داسی وایی: افغانان
ده یری پخوا زمانو څخه د خپل تاریخی ژوندانه د پړاونو وهلو وروسته د
خپلو ګاونډیانو هندی، ایرانی، ترکی او نورو قومونو سره د ګډون
په جریان کی د یو اتنیکی واحد په څیر خپل موجودیت په اثبات رسولی دی.
چینی سیاح (هیوان تسانګ) په اوومه میلادی پیړی کی په خپل سفرنامه کی
د سلیمان د غره افغانان د (اپوکین) په نامه یاد وی چی د غزنی په جنوب ختیځ
او د بنو په شمال لویدیځ کی په شپنی او مالداری لګیادی، حدود العالم او نور
تاریخی اثار هم د غه سیمه د افغانانو تاریخی ټاټوبی بولی.

## د سلیمان غره افغانانو ته د اسلام دعوت

ترکومه ځایه چی د افغانانو د روایاتو او قومی تعاملاتو څخه څرګندیږی
د افغانانو یوی لویی پښتنی ډیر پخوا یعنی هغه وخت چی دوی د سلیمان غره
د کیسی په لمنه کی د مالداری او کوچیتوب په تاریخی مرحله کی ژوندکاوه، د
اسلام د مقدس دین حقانیت یی منلی او د دوی یو زیات شمیر اوس هم
دی متیقین دی چی دوی د بابا ادم نه تر دی دمه خدای تعالی موحدین ګرزولی
او د تاریخی او اجتماعی سیر په مجرا کی پردی ثقافتونه او تهذیبونه نه دی ورسره
ګډ شوی په ملی ژوندانه کی یی اسلام اصلی او مهم عنصر ګڼل کیږی او
د هم دغه کبله د نورو په نسبت دوی ځانته په نسبی اشرافیت او قومی علو
قایل دی.
د دغو روایاتو او ملی اصالتونو په بنا ملا نعمت الله هروی په خپل اثر

مخزن افغاني کې (۱۰۲۰ هـ ق) کال په دې هکله ليکي قيس يا کيس نيکه د حضرت خالد بن وليد په دعوت له خپلو څو تنو خپلوانو او عزيزانو سره په مکې شريفې کې د حضرت محمد (ص) په حضور مشرف سو او اسلام يې راوړ. هلته دغه وخت تير ولو وروسته حضرت محمد بيرته رخصت کړ او په وطن کې يې د اسلام په تبليغو لو مامور کړ.

دغه روايت په بيلو عبارتونو د سيمې په يو شمير تاريخونو کې هم راغلی او ځينو لا تر تنقيح او تبصرې لاندې نيولی دی چې ضعيف دی او د احاديثو په معتبرو کتابونو کې نه دی راغلی. يو شمير محققين استدلال کوي حتمي نه دی چې د رسول الله (ص) فرمايشات دې دغو مره محدودوي چې په دغو کتابونو کې دې راټول سوي وي.

پوهاند عبدالشکور رشاد د حيات افغاني په حواله ليکي: قيس نيکه له مهاجرينو او انصارو څخه نه ؤ چې نوم يې د مهاجرو يا انصارو په ډلو کې راغلی وای، بلکه د لیرې قومونو د جرگې غړی ؤ، بل د سيرو مولفينو د صحابه وو شمير يو لك و پنځه ويشت زره ښودلی دی د اټول په صحاحو او سيرو کې نه دی راغلي، که د صحابيتوب له پاره په صحاحو او سيرو کې د نامه ثبت شرط و منل سي نو هغه صحابه چې نومونه يې په دغو کتابونو کې نه دی راغلي خدای دې نه کوي د صحابيتوب د شرفه به محروم وي. (۱)

که څوك د اسلامي تصوف او عرفان د اسرارو، اثارو ته مراجعه وکړي ځيني لوی صوفيان او خدای د وستان د حضرت رسول الله د اسي احاديثو ته مراجعه کوي چې د احاديثو په معتبرو کتابونو کې يې ذکر نه دی راغلی او په افغاني جامعه کې عمل په کيږي، لکه د حضرت رسول الله د خرقې سپارل ويس قرني (رحمة الله عليه) ته.

د دې له پاره چې دا روايت ضعيف و نه گڼل سي او په اعتبار کې يې شك را نه سي

---

(۱) حيات افغاني - شير محمد ابراهيم خيل گنداپور - صفحه ۶۲

مرحوم استاد محمد گل کامل مومند د تاریخ مرصع د تعلیقاتو پر (١١٩) مخ کې دوه داسې حدیثونه ذکر کړي دي چې د حضرت محمد (ص) په حضور کې د قیس یا کیس نیکه مسلمانیدل په ښه وجه ځنې ثابتیدلای سې چه دغه روایت زمانه تر مخه زن افغاني خلو پر سوه کاله د مخه بیایي .

قیس بن یزید :- ذکره ابو السحاق المستملي في طبقات اهل بلخ واورد من طریق العباس ابن زنباع ، عن ابیه عن الضحاك عن ابیه عن جده فاتك بن قیس عن ابیه قیس بن یزید قال : وفدت علی النبي (ص) في وادی السبع فاسلمت وبایعت وکتب لي کتاباً واعطاني غصاً فجاء الی قومه فدعاهم الی الاسلام فاجتمعو الیه علی جبل یقال له سلیمان (الاصابه في تمیز الصحابه ٥/٢٦٨ مخ).

ترجمه : قیس بن یزید : د ده ذکر ابو اسحاق مستملي د بلخ د تبو په خلکو کې کړی دی ، په ذریعه د عباس ابن زنباع او هغه له خپله پلاره ، هغه له خپل نیکه فاتك او هغه له خپل پلار قیس بن یزید چې ویلي ئې : زه د نبي (ص) په خدمت کې په وادي سبع کې حاضر او مسلمان سوم ، او بیعت مې وکړ ، ماته یې فرمان ولیکه او یوه لکړه (امسا) یې را وبخښله . او نو خپل قوم ته را وجاروت او د اسلام بلنېي ورکړله ، قوم یې پر یوه غره باندې چې سلیمان بلل کیږي را ټول سو . (١)

که د مرحوم استاد کامل مومند د ابو اسحاق مستملي روایت تر نظر تیر سوی وای ممکن د قیس د مسلمانیدو روایت به یې تر دریمې هجري پیړۍ پورې مخې ته بیولی وای .

---

(١) د امیر کروړ یاد ٢٣٠ صفحه

# د لمانځه فلسفه او ضرورت

لمونځ د هغو هسکو روحاني وختونو او حالاتو څخه دی چه په هغه کښې انسان د دنيايي مشغلو، سرگرميو او مصروفياتو څخه فراغت موږي او بنده د خپل متعال خدای په حضور په پاکۍ او ادب دريږي او هغه ثنا او صفت چې د الله تعالی د شان سره ښايي په ژبه راوړي. په عذر او زارۍ په عشق او علاقمندۍ ځان پاك خدای ته سپاري او د خدای تعالی سره په دغه پيوند خپل روح او ايمان قوي ساتي او د انسان په وجود کې د ارادې قدرت او عزم پياوړی کوي او د هغه روح ته اطمينان بخښي، د همدغه کبله دی چې لمونځ د ژوند انه په مجادله او سختيو کې د تيز سپر په شان حيثيت لري چې د ربړونو، دردونو او محروميتونو په مقابل کې دفاع کوي لکه چې الله پاك فرمايي:

(يا ايها الذين آمنوا استعينوا بالصبر والصلاة ان الله مع الصابرين)

ترجمه: ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی د صبر او لمانځه څخه مرسته وغواړی خدای تعالی د صابرانو ملگری دی (۱)

مسلمان ته د لمانځه او استغفار او د الله تعالی په حضور د عجز او نياز ښکاره کولو او عبادت کولو په واسطه روحي اطمينان حاصليږي د بديو او گمراهيو راگرزي او د خدای پاك د قرب او موهبت هسك مقام ته رسيږي لکه چې حضرت محمد (صلی الله عليه واله وسلم) فرمايي:

(الصلاة معراج المؤمن) . ترجمه:- لمونځ د مؤمن معراج دی د خدای (جل وعلی شانه) د باره ته دعا او زاری کول د انسان د فطري خويونو څخه دی او هغه کسان چه د دغه شريف عبادت، ثنا او صفت سره عادت ونلري، د رنځ او مشقت په وخت کې چې د بدبختۍ په جال کښې لويږي، بيله ارادې بې روح ويوي مبدی ته متوجه کيږي لکه چې فرمايي:

---

سوره بقره ايت ۱۵۳

(واذا مس الانسان ضر دعا ربه منیبا الیه)

ترجمه : هغه وخت چې انسان ته بد مرغي ورسيږي خپل خدای ته رجوع کوي او هغه ته پناه وړي، زاري او چغې ورته کوي او خدای تعالی هم په هغه رحم او شفقت کوي. لکه چې فرمايي :

(واذا سئلك عبادی فانی قریب اجیب دعوة الداع اذا دعان فلیستجیبوالی والیؤمنوابی لعلهم یرشدون) . ترجمه :- کله چې وپوښتي ستا څخه زما بندگان زما د معاملې څخه د دعا په وخت کې، نو و وايه و هغوته نژدې يم او قبلومه د هر محتاج خواست کله چې ما و غواړي، نو هر سته وغواړي زما څخه او د قبلولو هيله وکړي، بايد ماته پر خپل ايمان ثابت وي شايد رهبري سي. اسلام د لوی خدای څخه پرته د بل چا عبادت کول منع کړي دی، د ا ځکه چې هغه وخت سړی بيچاره سي، د قواؤ د تمرکز او حواسو د توليد وپه وخت کې کله يا حتی عقل د نفس له خوا څخه د انسان په مقابل کې د يو خيالي محبوب په صورت ځرگنديږي او هغه ته لارښوونه کوي او انسان گمان کوي هغه باطني محبوب د د ه حاجت ترسره کړی دی، خو دی څخه غافل دی چې قاضي الحاجات، حاجت ورکوونکی دی، نو ځکه د اسلام پيغمبر د خدای تعالی پرته بل چاته سجده او عبادت کول منع کړي دی.

لمونځ او دعا د پيرو پخوانيو زمانو راهيسې سابقه لري، هر دين د خپلو قوانينو له مخې د هغه ارشاد او سپارښتنه کوي .

د حضرت عيسی (عليه السلام) د دين انجيل د کتاب په اتم فصل کې راغلی دی .

( هر څوك کولای سي د مسيح پواسطه په ډير عجز او نياز خپل خدای ته نژدې سي، د نجيل ز نه شرعي اړتيا وي ور و راندی کړي ...)

ځکه چې د يوحنا د انجيل په (۱٦) باب (۲۴) آيت کې راغلی دي .

( هر شئ چې زما د پلار څخه وغواړي تاسې ته به يې ورکړي ...)

وايي چې دعا کوونکی بايد د خپلې دعا قبوليد ل يوازې د عيسی مسيح په نامه وغواړي

چې هغه لیري والي چې دخدای او انسان په منځ کې د ادم د ګناه له کبله پیدا سوی ده د مسیح د دین په واسطه اصلاح او رفع سي. د ا ځکه چې یوازې په دغه وسیله سره کیدای سي چې بنده د خدای تعالی حضور ته ورسیږي د دوی مشهوره دعا د رباني دعا په نامه د ا ده. (متی انجیل شپږم باب)
( ای زمانږ پلاره، چې په اسمان کې یې، ستا نوم دې مقدس وي ستا ملکوت دې راسي، ستا اراده لکه چې په اسمان کې ده پر ځمکه دې هم وسي زموږ کفاف او ډوډۍ راکړه، قرضونه مو وبخښې د اشانې لکه چې موږ خپل پوروړي بخښو موږ مه ازموېه د شریر څخه مو په امان لره د اځکه چې ملکوت قدرت او جلال تر ابده یوازې ستا دی)۰

اسلام برعکس خدای تعالی د بندګانو څخه لیري نه ګڼي واسطه او شفیع د خدای او بنده په منځ کې نه مني او وايي:
هر څوک کولای سي په خپله د خدای تعالی سره راز او نیاز وکړي او حاجت غوښتنه وکړي...

هر څوک کولای سي په خپله د خدای تعالی سره راز او نیاز وکړي او حاجت غوښتنې وغواړي، همدا شاني په عباداتو کې ریا او ځان ښکاره کول ښه نه ګڼي او د ریا کار نه خوښوي. د متی انجیل په (۲) باب (۲٦) آیت کې راغلي دي:
هر څه چې په ایمان سره په دعا او زارۍ طلب کړئ و به یې مومئ۰
حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي:
ترجمه: (خدای تعالی د زارۍ کوونکي په دعا خوشحالیږي)۰ نو هغه کسان چې په راحت کې وي او کولای سي د خپل وخت څه ګړۍ د خدای په عبادت تیر کړي نیکمرغه دي. لمونځ وحق ته د باطن توجه، او حضور ته د ملازمت، و حق ته مخ ګرځول او د نورو شیانو څخه تیریدل، د حق سره د مکاشفې دوام، او د راز او نیاز مقام دی. د واجب او مستحب لمونځونو څخه علاوه مخصوص د شپې لمونځ چې ډیر فضیلت لري او د پخوانیو امتونو د رهبانیت ځای نیسي، د هغه مقررات او تعقیبات دي هم پر ځای کړي او د غه عمل په سجده کې ډیر ښه ایسي چې د خدای تعالی سره د خپلو رښتینو بندګانو اړیکې مضبوطوي، او ډیر عالي مطالب لري بنده په هغه کې د خپلو ګناهونو د عفو غوښتنه

کوی او توبه کاږی ، او په ډیر ادب او احترام خپل د عبودیت مراتب وړاندې کوی لکه چې الله پاك فرمایی :

(ادعوا ربکم تضرعا وخفیة) . ترجمه : خپل خدای په عجز او ویری وغواړی . همداشانی الله پاك فرمایی :

(واستعینوا بالصبر والصلاة وانها لکبیرة الا علی الخاشعین الذین یظنون انهم ملاقوا ربهم وانهم الیه راجعون) . ترجمه : په صبر او لمانځه مرسته وغواړی او هغه سخت دی خو د خاشعانو له پاره چې پوهیږی د خپل خدای سره وینی او هغه ته بیرته ورګرځی . په بل ځای کی فرمایی :

(لیس البر ان تولوا وجوهکم قبل المشرق والمغرب ولکن البر من آمن بالله والیوم الاخر والملئکة والکتاب والنبیین وآتی المال علی حبه ذوی القربی والیتمی والمساکین وابن السبیل وفی الرقاب واقام الصلاة وآتی الزکوة والموفون بعهدهم اذا عاهدوا والصابرون فی الباساء والضراء وحین الباس اولئک الذین صدقوا واولئک هم المتقون) . ترجمه :- نیکی هغه نده چې خپل مخ د ختیځ او لویدیځ لوری ته وګرځوی خو نیکی د هغه چا له پاره ده چې پر خدای د قیامت پر ورځ ، ملائکو ، اسمانی کتابونو او پیغمبرانو باندی ایمان ولری ، او د دی سره چې خپل مال دوست ولری خو هغه خپلوانو ، مسکینانو ، مسافرانو ، محتاجانو او د مریانو په ازادولو کی مصرف کړی ، لمونځ وکړی ، ذکوت ورکړی او هغه څه چې عهد وکړی پر خپل عهد او قول ودریږی ، او هغه چې د بیچارګی رنځ او سختی په وخت کی صبوره وی ، هغه کسان دی چې رښتیا وایی او پرهیزکوونکی دی .) .

څرنګه چې د هیواد او وطن ابادی او ترقی په ثروت او سیاسی چارو په سمبالولو علم او کمال په زده کولو اړه لری ، نو اسلام څکه وسط او معتدل لاره د دنیا او اخرت پر چارو کی غوره کړی او داچې د یوی مټی څخه د ژوندانه د کار و نو څخه لاس نیول او د خدای په عبادت لګیا کیدل ناروا او د طبیعت د ناموس څخه ماسیوا کار دی او رهبانیت په اسلام کی نسته نو اسلام څکه د عبادت او لمانځه

زیات تاکید کوي او هغه کسان چې د خپل عیال او فامیل د رزق او روزي د
موندلو له پاره فعالیت کوي او حلاله روزي پیدا کوي د غه عمل یې هم په
عبادت کې ورمجرا کوي . دلمانځه ادا کول د ومره وخت نه نیسي او کوم مشکل کار
نه دی ، ځکه هر لمونځ تر درو څلورو د قیقو نه اوږد یږي او هر څوک
کولای سي چه هغه ادا کړي ، دا به زیاتربې همتي وي چې په یوه شپه او ورځ
کې د ساعت په یوه څلورمه کې سړي دخدای تعالی عبادت ونکړي اسلام د
مسیحیت مخالف چې د نفس په پایمالولو کې افراط کوي د تن او نفس په هکله
مدارا او مسامحه او سهولت کوي او هغه څوک چې د مشروع لذتونو څخه
مستفید کیږي خدای ته ډیر ښه ښکاري لکه چې محمد (ص) فرمایي :
( روحوا انفسکم ) . روایت دی چې عثمان بن مظعون او ځینو نورو صحابه ؤ
په عبادت او پرهیزګارۍ کې غلو (ډیروالی) کاوه . او غلو یې تر دی حده ورسیده
چې حضرت محمد (ص) پر منبر وختی او مغوی یې د خپل نفس د غلو او فشار را
ورلو څخه منع کړل ، د دنیا خیرات یې د الهي محبت نو ښنانه وګڼل خوا متیانو ته یې ویل
ترجمه : پرتاسو باندې د هیڅ شئ څخه د ژوندانه د خیرات څخه چې چیتك
تیریږي ، نه ویریږم . (وما عند الله خیر و ابقی) . ترجمه :- هغه څه
چې د خدای په نزد دي ډیر ښه او باقي دي . همدا شان یې وفرمایل :
(دعالم خیرات که د حلالې لارې څخه ونه رسیږي او د خیر په لار کې خرڅ
نه سي خیرات نه دی ، بلکه د شر وسیله ده . په دې جهان کې ستاسې ډیر
بې نیازه په اخرت کې ستاسو ډیر و نیازمندانو څخه دی او که خپله شتمنی
یې د خدای په لار کې نوي مصرف کړ ستاسو د ډیر و نیازمنو څخه به وي
حضرت رسول الله فرمائلي دي : ترجمه :- که سهار د علم د زده
کړې له پاره و لاړ سې تر دې ښه دي چې سل رکعته لمونځ وکړي )
په اسلام کې په حقه سره د خدای تعالی عبادت کول هغه دی چې د عقل او پوهې
په رڼا کې وي ، لمونځ کوونکي په ورځ کې څو ځله خپل مخ و خدای تعالی ته
ګرځوي او پدې پوهیږي چې خدای یې وینا او کړه وړه ویني که شهوت

هوا اوهوس پر ده غلبه وکړي او نفس یې سرکښي وکړي، دی خپل ځان اداره کوي، او په لمانځه ځان تصفیه کوي، ځکه حضرت پیغمبر فرمایي:
ترجمه: که څوک په یوه شپه او ورځ کې پنځه ځله اودس وکړي او لمونځ د خپلو شرطونو سره ادا کړي، په نفس کې یې هیڅ ګناه نه پاتې کیږي او دا داسې دی لکه چې سړی په یوه ورځ پنځه ځله خپل ځان و مینځي نو ځکه هیڅ چټلي یې په بدن کې نه پاتې کیږي همدا رنګه رسول الله (ص) فرمایي:
پنځه وخته لمونځ کوچنې ګناهونه رفع کوي. نو ځکه ویلای سو څوک چې په کامل او پوره شرطونو خپل لمونځ ادا کړي هیڅکله د ګناهونو پر ارتکاب قدرت نه موږي. په ورځ کې پنځه ځله د سهار څخه بیا تر ماښامه د دین او لمانځه تر تاثیر لاندې راتلل انسان د شرا و بدی څخه ژغوري، لمونځ کونکي چې کله خدای تعالی ته پر لمانځه ودریږي د خپلو بدو اعمالو د ارتکاب څخه پښیمانه کیږي او توبه کاږي، نو ځکه توبه خدای قبلوي.
د پورتنی لیکنې څخه د اخرګندیږي چه د لمانځه د اداکولو مقصد د عقل د قوی بشپړیدل او د نفس تزکیه ده، دا خو معلومه ده چې نفس نه تصفیه کیږي مګر په الهي علم، او په الهي علم څوک نه سي پوهیدلای پرته د عبادت د لاری لکه چې الله پاک فرمایي:
(وماخلقت الجن و الانس الا لیعبدون). ترجمه:- نه مې دي پیدا کړي انسانان او پیریانان مګر د عبادت لپاره.
ځینو مفسرینو لیعبدون په لیعرفون تفسیر کړي دی یعنی مګر هغه چې زما د ذات او صفات سره اشنایي موندلې ده.
د قران کریم په زیاتو تفاسیرو کې ویل سوي دي:- د بنده ګانو د پیدایښت څخه اصلي غرض معنوي ته ثواب رسول دی. نه عبادت او پیژندنه نو څرنګه چې لجزا و ثواب د عبادت د لاري پرته نسي راتلای نو عبادت د خلقت غایه ده، خدای تعالی عقل ته د انسان په بدن کې د هغه د بندګی او معرفت لپاره ځای ورکړی دی.

په هرحال دا واجبه ده، چې دخدای تعالی عبادت وکړو چې دهغه پواسطه دخدای محبت ترې د ښو لـذتونو څخه شمېرل کېږی و رسېږو. دانسان روح تل په تلاش کی وی چې خپل وړتې سوی شی چې نیکمرغی ده وموی او او زیاتره هغه دپیسو په موندلو کی وینی. خوکله چې یې پیدا کړی، په هغه یی زړه نه ډاډه کېږی، اضطراب او روحی ناروغی یې ترېخوا زیاتېږی څوورتې سوی شیٔ د زړه په اطمینان او دخدای په ذکر او عبادت کی وموی لکه چې فرمایی:

(الا بذکر الله تطمئن القلوب). ترجمه:- دخدای تعالی په ذکر دبندګانو زړونه ارامی موی.

دلمانځه داداکولو مقصد یوازی دحروفو په تلفظ نه دی، بلکه په نیت دغیر څخه دعلاقی قطع کول او دهرچا عمل دهغه په نیت پوری اړه لری څوک چې نه غواړی دد رواغو او بدو اعمالو څخه ځان وژغوری او خپل روح پاک نکړی، خدای تعالی دهغه دلمانځه او روژی ته اړه نه دی.

لکه چې الله پاک فرمایی:

(ان الصلاة تنهی عن الفحشاء والمنکر). ترجمه:- لمونځ انسان دبدو کارونو (فحشاء او منکر) څخه راګرځوی.

PROPERTY OF ACKU 7270

## په جماعت سره دلمانځه اداکولو ښیګنې

حضرت ابی دردا د رسول الله (ص) څخه روایت کوی:

قال سمعت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یقول مامن ثلثة فی قریة ولا بدو لا تقام فیهم الصلاة الا استحوذ علیهم الشیطن فعلیکم بالجماعة فانما یاکل الذئب من الغنم القاصیة).

ترجمه:- په کومه صحرا کی چې دری تنه وی او هلته دجمع لمونځ نه کېږی نو په هغو شیطان مسلط کېږی، ځکه جمع ضروری وګڼی شرمبن یا لیوه غیلی او څاروی خوری او دانسان شرمبن شیطان دی.(۱)

داسلام تاریخ د جماعت د لمانځه د اداکولو په هکله لیکي: (۲)
په لومړي سرکې مسلمانان بیله هغه ځخه چې څوك یې خبرکړي د لمانځه د ادا کولولپاره به مسجد ته حاضریدل. یوه ورځ یې په دې هکله په خپلومنځو کې خبرې اترې وکړې د دوې ځخه یوه وویل د لمانځه داعلامولوله پاره باید یو ترومه دمسیحیانو دتروم په شان جوړکړو. حضرت عمر فاروق وویل چې دا به ښه وې چې یو څوك وټاکو چې د لمانځه پروخت خلك پرلوړ اواز خبرکړي. نو حضرت رسول الله (ص) و حضرت بلال ته وفرمایل چې ولاړ سه او خلك د لمانځه له پاره راوبوله. د دغه وخته وروسته کله چې به د لمانځه وخت راورسیدی بلال به په لوړ اواز بږغ کاوه چې د جماعت د لمانځه وخت دی.
عبد الله بن زید بن متعلبه انصاري یوه شپه خوب ولید چې یو مسلمان ورته داذان ښوونه کوي، هغه وخت چې ده دغه خوب د حضرت پیغمبر په حضور کې عرض کړ نو پیغمبر (ص) ورته و فرمایل چې دا رشتیا خوب دی، اذان بلال ته ور ښیه ځکه د هغه اواز خوږ او اثرناك دی. هغه وخت چې بلال اذان وکړ حضرت عمر فاروق په ډیره چټکی راغی او وې ویل چې ما هم دا شانې خوب ولیدی او د خوب په حال کې ما ته اذان تلقین سو.
هغه وخت چې پیغمبر (ص) د مسجد جوړولو ځخه فارغه سو، داسلام د مبادیو په خپرولو یې شروع وکړه، خپل دوستان او پیروان یې د خدای

---

(۱) رواه احمد و ابوداؤد والنسایی و ابن خزیمه وابن حبان فی صحیحیهما والحاکم وزاد ازبن فی جامعه، وابن ذئب الانسان الشیطن اذ اخلا به اکله، کذا فی الترغیب ورقم فی الجامع الصغیر بالصحة وصحیحه الحاکم داقره علیه الذهبی.

(۲) جهان مذهبی ادیان در جوامع امروز - نوشته هفت عالم بزرگ غرب صفحه ۸۲۷

تعالی د عبادت او اطاعت او الهی ارادی ته د تسلیمولو له پاره راویلل د محمد (ص) دین اسلام بلل کیږی ځکه د دغه دین اساس د خدای ارادی ته پر تسلیمیدلو بنا دی، پیروان یې مسلم بلل کیږی ځکه دوی د خدای او رسول فرمان ته تسلیم سوی دی.

پیغمبر خپلو پیروانو ته لارښوونه کړی ده چې خدای واحد دی په ورځ کی پنځه وخت لمونځ وکړی، په کال کی یوه میاشت روژه ونیسی زکوة ورکړی او حج ادا کړی پر دی مالونه مه خوری او تجاوز مه باندی کوی (۱)

په صحیحینو کی راغلی دی: حضرت محمد (ص) د خپل وفات په سخته ناروغی کی چی د هغه په سبب به کله، کله بی هوښه کیدی خو کله چی به پرسد راتلی د اوداسه او به بری غوښتی، اخیر یو واری اودس تازه کړ، د حضرت عباس او یو بل صحابی په تکیه چی لاسونه یی د هغو پر اوږ واچولی وو، جماعت ته تشریف یووړ، په دغه وخت کی هغه مبارک د داسی ضعف په حالت اخته وچی پښی یی لا پر ځمکه سمی لګولای نه سوی. حضرت صدیق د ده په توصیه د لمانځه امامت وکړ او حضرت رسول الله په هغه لمانځه کی ورسره شریک سو (۱)

د ابن عمر څخه روایت دی: قال صلاة الجماعة افضل من صلاة الغذة بسبع وعشرین درجه. رواه المالك والبخاری ومسلم والترمذی والنسایی کذا فی الترغیب. (۲)

---

(۱) رواه المسلم و ابوداؤد وابن ماجة والترمذی کذا فی الترغیب.
اصطلاحات چهارگانه در قرآن. استعمال کلمه عبادت در قرآن صفحه ۸۸ ۱۳۶۹

(۲) بخاری:- محمد بن اسماعیل البخاری لوی محدث دی چی د بخارا په ښار کی په کال (۱۹۴ هـ) کی زیږیدلی او په (۲۵۶ هـ) کال کی سمرقند ته نژدی د خرسنګ په کلی کی وفات سوی دی. د ده شپږ لکه احادیث په یاد وه چی د هغو راویان یی په نسب، اجتماعی موقف، قبیلی، تولد او وفات پیژندل مشهور آثار یی

ترجمه : دجمعې لمونځ دیوازې لمونځ څخه اوه ویشت درجې بنه دی.

٢٦

نود جماعت لمونځ سنت موکد دی لکه چې فرمایي :- عن ابی هریره رض قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لقد هممت ان امر فیتی فیجمعوا لی خدما من حطب ثم اتی قوما یصلوة فی بیوتهم لیست بهم علة واحرقها علیهم

ترجمه :- زما زړه غواړي چې یوڅو ځوانانو ته ووایم چې دیر بوټی راټول کړي، راته یې وړي، بیا زه هغو ته ولاړ سم چې بې عذره په کور ونوکې لمونځ کوي او دهغوی کورونه په وسوزم

علامه اقبال لاهوري په خپل اثر (رموز بیخودی) کې دجماعت دلمانځه په هکله څه ښه وایي :

فرد را ربط جماعت رحمت است

جوهر او را کمال از ملت است

تا توانی با جماعت یار باش

رونق هنگامه ی احرار باش

حرز جان کن گفته ی خیر البشر

هست شیطان از جماعت دورتر

---

یې : الجامع الصحیح ، الادب المفرد ، اسماء الصحابه ، کتاب افعال العباد ، کتاب بدا ء المخلوقات ، کتاب برالوالدین ، کتاب الثقاة و الضعفا ، تاریخ بخارا ، کتاب الثلاثیات ، التاریخ الکبیر ، کتاب خلق افعال العباد ، کتاب القراة خلف الامام ، کتاب الهبه او نور .

ترمذی :- محمد بن عیسی بن سوره بن موسی بن ضحاك سلمی ضریر بدبوغی ترمذی مشهور حافظ او سنی محدث دی چې دجامع صحیح مؤلف دی ، دی دبخاری شاگرد دی بل کتاب یې عمل النبوه والخصال المنطوبر دی ، دی په (٢٧٩) کې په ترمذکی وفات سوی دی .

فرد و قوم آئینهٔ یک دیگرند
سلک و گوهر کهکشان و اخترند

فرد میگیرد ز ملت احترام
ملت از افراد می یابد نظام

فرد تا اندر جماعت گم شود
قطرهٔ وسعت طلب قلزم شود

پایه دار سیرت دیرینهٔ او
رفته و اینده را ائینهٔ او

وصل استقبال و ماضی ذات او
چون ابد لا انتها اوقات او

در دلش ذوق نمو از ملت است
احتساب کار او از ملت است

پیکرش از قوم و هم جانش ز قوم
ظاهرش از قوم و پنهانش ز قوم

در زبان قوم گویا میشود
بر ره اسلاف پویا میشود

پخته تر از گرمی صحبت شود
تا به معنی فرد هم ملت شود

وحدت او مستقیم از کثرت است
کثرت اندر وحدت او وحدت است

لفظ چون از بیت خود بیرون نشست
گوهر مضمون به جیب خود شکست

برگ سبزی کز نهال خویش ریخت
از بهاران تار امیدش گسیخت

هرکه آب از زمزم ملت نه خورد
شعله های نغمه در عودش فسرد
فرد تنها از مقاصد غافل است
قوتش اشتفتگی را مایل است
قوم باضبط آشنا گرداندش
نرم رو مثل صبا گرداندش
پابه گل مانند شمشادش کند
دست وپا بندد که آزادش کند

چون اسیر حلقه ی ائین شود
آهوی رم خوی او مشگین شود
(علامه اقبال) (۱)

---

(۱) علامه اقبال د سیالکوټ په ښار کښې د فبروري په (۲۲) کال ۱۸۷۳ میلادي
۱۲۸۹ هـ ق کی زیږیدلی دی.
او د اپریل په (۲۱) کال ۱۹۳۸ میلادی کی وفات سوی دی.

# د مسجدونو جوړولو اهمیت او ضرورت

مسجدونه چې الله تعالی ته د سجدې، تسبیح او عبادت کولو خاص متبرک ځایونه دي مسلمانانو ته زیات اهمیت لري مسلمانان په یوه شپه او ورځ کې پنځه ځله په دسته جمعي او ټولنیز توگه بیله کوم رتبوي، نژادي، لساني امتیاز او طبقاتي تبعیضه یو شانې په یوه صف کې اوږخ په اوږخ په یوه اتحاد خپل خدای ته په مسجدونو کې سر په سجده ږدي، همغه ذات ستايي او د خپل اخلاص او بندگی مراتب وړته په ثبوت رسوي.

د مسجدونو د اهمیت په باره کې د اسلام زیاتو معتبرو کتابونو څیړنې کړي دي او نسايي چې د احادیثو شریفو یو معتبر کتاب دی یو مستقل باب د کتاب المساجد په نامه لري (۱)

د دغو مسجدونو څخه یوازې د ذکر او لمونځ کولو کار نه اخستل کیدی بلکه د ورځنی مشکلاتو د حل او فصل کولو، ملی اتحاد، د عمومي افکارو د تبادلې او ورگلوۍ او همکارۍ قايمولو د مهمو مرکز ونو څخه گڼل کیدل.

تاریخ سیاسی اسلام د سرتوماس ارنولد مشهور محقق له خوا د مسجدونو د سیاسي او اجتماعي اهمیت په هکله لیکي:

مسجد یوازې د عبادت ځای نه و، حضرت پیغمبر (ص) سفیران او د ده د لید

---

(۱) نسايي: - امام نسايي د اوسني ترکمنستان مرکز عشق اباد ته نژدې د نسا په ښار کې چې اوس په ویرانې او ښتې دی زیږیدلی دی. دی لوی محدث او فقی دی. اثار یې د السنن الکبری - السنن الصغرا، الخصایص او نور په نامه زیات مشهور دي

همداشانې د مرو مشهور محدث ابو یعقوب اسحاق بن ابراهیم التیمي راویه نومیږي چې بو لك احادیث یې زده وه او د هغو څخه یې او یا زره په یاد زده وه او مشهور صوفیان سفیان الثوري، عبدالله بن مبارك هم د دغې سیمې او سیدونکي و.

لښو هوا د اړان په مسجد کې منل ، او په هغه ځای کې یې د مسلمانانو چار و وارسي کوله ، مسلمانانو ته به یې د سیاست او د ین په هکله لارښوونې کولې حضرت عمر فاروق د مدینې د مسجد د منبر څخه مسلمانانو ته وویل : چې د دوی لښکرې په عراق کې تر شار اغلي ، هغوی ته یې په ثبات او قیام لارښوونه وکړه او عراق ته یې په حرکت ترغیب کړل ، حضرت عثمان بن عفان (رض) هغه وخت چې د ده پر اجرا آتو خلکو اعتراض وکړ د مسجد د منبر څخه یې د ځان دفاع وکړه . کله چې به خلیفه تاکل کیدی هغه به خپله لومړنی خطبه چې د کار پر طرز او سیاسي کړنلارې باندې به مشتمله وه د منبر څخه ویله . نو په اسلام کې د مسجد منبر دیو تر ییبون او غرنې په شانې ؤ چې له هغو ځای څخه به د مسلمانانو لویانو او مسئول کسانو خپلې خطبې ویلې او د مشروط حکومتونو د وړ و په څیر به د دولت مشرانو خپل اجرا آت او سیاسي کړنلاره بیانوله .

دا هم باید علاوه سي چې د اسلام د شروع څخه د مسلمانانو لویان به په مسجد کې سره راغونډیدل ، د حدیث او تفسیر عالمانو به په هغه ځای کې د عربې ژبې او د اسلامي دین اصول بیانول ، قاضیانو به هم خپلې مهمې تولنې په مسجد کې کولې ، لنډه دا چې سیاست له دین څخه جلا نه ؤ او مهم خبرونه به چې په هغو کې عمومي مصلحت او سنیگنه موجوده وه له مسجد څخه خپریدل تر دې وروسته کرار کرار مسجد خپل لومړنی حیثیت د لاسه ورکړ خلیفه او قاضیانو بیل ، بیل ځایونه ځان ته جوړ کړل او مسجد یوازې د لمانځه په وخت کې د دینې خطابې کولو ځای وګرځید چې په هغه کې به د خدای ثنا پر پیغمبر درود او د خلیفه او نورو مسلمانانو له پاره به د بریالیتوب او نیکمرغی دعا کیده . (۱)

---

(۱) تاریخ سیاسي اسلام - ترجمه داکتر حسن ابراهیم حسن .
صفحه (۴۵۰) - چاپ ۱۳۵۶ هش

خرنگه چی اسلام ورځ په ورځ پراختیا موندە او نفوس یی زیاتید ل نوی کورونه او کلی جوړیدل، نو په تولنیځ صورت سره د خدای تعالی د عبادت کولو لپاره د مسجد ونو د جوړ ولو ضرورت هر وخت حس کیدی نو ځکه د حضرت رسول الله دلارښوونی او ارشاد له مخی په خپله مدینی منوری او دهغی په شاوخوا او د حضرت محمد (ص) د سفر په وخت کی په هغو سیمو کی چی هغه مبارک په جماعت لمونځ ادا کړی ؤ د تبرک په توګه د مسجدونو جوړ ولو نهضت شروع سو.

ابو داؤد په خپل کتاب المراسیل کی په سند سره لیکلی دی چی د حضرت محمد (ص) په زمانه کی په مدینه منوره کی د نه نهه (۹) مسجدونه وو چی پر یوه مسجد کی بیل بیل د جماعت لمونځونه کیدل، چی نوموړی دادی:

۱ د بنی عمرو مسجد ۲ د بنی ساعده مسجد ۳ د بنی عبید مسجد ۴ د بنی سلم مسجد ۵ د بنی رایح مسجد ۶ د بنی زریق مسجد ۷ د غفار مسجد ۸ د اسلم مسجد ۹ د جهینه مسجد ۱۰ د بنی حذره مسجد ۱۱ د بنی امیه مسجد ۱۲ د بنی بیاضه مسجد ۱۳ د بنی حبلی مسجد ۱۴ د بنی حطمه مسجد ۱۵ د بنی عصیه مسجد ۱۶ د ابی فیصلی مسجد ۱۶ د بنی دینار مسجد ۱۷ د ابی بن کعب مسجد ۱۸ د النابغه مسجد ۱۹ د ابن عدی مسجد ۲۰ د بلحارث بن خزرج مسجد ۲۱ د الفضیح مسجد ۲۲ د بنی حارثه مسجد ۲۳ د بنی ظفر مسجد ۲۴ د بنی عبد الاشهل مسجد ۲۵ د راقم مسجد ۲۶ د بنی معاویه مسجد ۲۷ د عاتکه مسجد ۲۸ د بنی قریظه مسجد ۲۹ د بنی وایل مسجد ۳۰ د الشجره مسجد او نور:

د دغو مسجدونو د مشهورو موذنانو څخه په مدینه منوره کی د نبوی مسجد موذن حضرت بلال بن رباح حبشی، حضرت عمرو بن ام مکتوم او په مکه معظمه کی د مسجد الحرام مؤذن ابو مخدوره الجمحی زیات مشهور دی.

همدا شانی د مدینی منوری د مساجدو د غه امامان لکه حضرت مصعب بن عمیر، حضرت سالم مولی ابی حذیفه، حضرت ام مکتوم، حضرت

ابوبکر صدیق، حضرت عتبان بن مالك، حضرت معاذ بن جبل همداشانی
په بنوسالم کی حضرت عتبان بن مالك په بنوحرم کی حضرت عمرو
بن سلمه، حضرت اسید بن حضیر، حضرت انس بن مالك په بنونجار کی.
حضرت مالك بن حویدث په مکه معظمه کی حضرت عتاب بن اسید
په طایف کی حضرت عثمان بن ابی العاص، په عمان کی ابو یزید انصاری
او نور زیات مشهور دی (۱)

د حضرت عبدالله ابن عباس څخه روایت دی :- عن ابن عباس انه قال
ان اول جمعه بعد جمعه فی مسجد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مسجد
عبد القیس بجواثی من البحرین.

ترجمه :- د مسجد نبوی څخه وروسته د جمعی لمړی لمونځ د عبد القیس
په مسجد کی (د اکره سودا مسجد د بحرین په جواثی نومی کلی کی و.

حافظ ابن حجر لیکی :- په مدینه او دهغی په شاوخوا کی چی کوم مسجد ونه د
منکلو د بروڅخه جوړ شوی وو. او په هغو تهلو کی حضرت محمد (ص)
لمونځونه کړی و. هغه وخت چی د خلیفه عمر ابن عبد العزیز د خلافت
په دوره کی د مسجد ونو د جوړولو او ترمیم کولو کار شروع شو، د غو مسجد
ونه د پوره تحقیق وروسته بیرته ودان سول (۲)

په دغو مسجد ونو کی به هغو کسانو ته د امامت حق ورکول کیدی چی د قرآن
شریف به ښه حافظان و. د امامت د وظیفی له پاره حضرت محمد (ص) څو
اصله ټاکلی وه. چی ابو مسعود انصاری د رسول الله (ص) څخه داسی روایت
کوی :- عن ابی مسعود الانصاری، قال، قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم)
یوم القوم اقراهم الکتاب الله فان کانو فی القراة سواء فاعلمهم با
السنة فان کانوا فی السنة سواء، فاقدمهم هجرة فان کانو فی الهجرة سواء
فاقدمهم سنا. مسلم

(۱) شبلی نعمانی د بخاری شرح عینی دوهم توك (۴۶۸) مخ د صحیح مسلم د لمړی
توك کتاب الاذان د ابوداؤد د کتاب الجهاد فی دعاء المشرکین څخه اخستی دی

ترجمه :- حضرت محمد (ص) وفرمایل چی دیوی ټولنی امامت دی هغه څوك کوي چی د ټولو څخه یی بنه قران کریم یاد وی ، اوکه په دی کی ټول سر برابر وی ، نو څوك چی پر دینی مسائلو کی ډیر پوه وی ، اوکه په دی کی هم سره برابر وی ، چاچی لمړی هجرت کړی وی اوکه په دی کی هم سره برابر وی نو د چاچی عمر ډیر یعنی مشر وی . (۲)

الفاروق د مسجد ونو جوړولو او اباد ولو په هکله لیکی :

از انجاکه خود حضرت فاروق اعظم (رض) در عهد خلافت خود ، ده بار حج کرد ، بنابر آن خود میر حجاج بود وخد متگیری حجاج راهم خود بنفس انجام میداد ، در تمام ممالك مفتوحه مساجد به کثرت تعمیر نمود . ابو موسی اشعری ، نائب الحکومه کوفه را بذریعه فرمان والتاکید فرمود که در بصره یك مسجد جامع بسازد وازبرای هر قبیله مساجد جداگانه تعمیر کند ، از برای سعد وقاص وعمرو ابن العاص نیز به همین مضمون فرامین فرستاد وبه جمیع عمال شام فرمان داد که در هر شهر وبلاد مسجدی تعمیر شود ومساجد مذکور تاحال به جوامع عمری شهرت دارد .

ازجمال الدین محدث در روضة الاحباب منقول است که در عهد حضرت عمر فاروق چهار هزار مسجد تعمیر شد وهرچند که این عدد خاص قطعی نه باشد لاکن شك نیست که عدد ه مساجد فاروقی از هزار کم نه بوده .

حضرت فاروق اعظم عمارت حرم محترم راهم وسعت داد وبه زیب وزینت وی توجه فرمود ، بنابر آن در سنه (۱۷ هـ) جایهای دور وپیش راخریده ومسمار نمود وزمینها رابه صحن حرم شامل نمود ، تا این عصر دیواری گرد حرم نه بود بنابر آن حدودش را از منازل عامه تمایز نمود ، حضرت فاروق اعظم دیوار احاطه بنانهاد وفرمان داد که به وقت

---

(۲) فتح الباری لومړی ټوك ۴۷ مخ

شب چراغها بر سر دیوار بیفروزند، کعبه را مدام جامه می پوشاندند چناچه در ایام جاهلیت جامه اش از نطع بود، حضرت فاروق اعظم فرمان داد که جامه کعبه از قباطی تیار شود وقباطی یک قسم رخت اعلی بود، که درمصر می بافتند.

حضرت فاروق اعظم مسجد نبوی را هم ترمیم نمود و وسعت ورونق بیشتر داد، عمارت مسجد که در عهد مبارک جناب رسول الله (ص) بنا یافته بود و از برای همان عصر کفایت میکرد، چون در ابادی مدینه منوره یوماً فیوماً ترقی شد ونماز خوانان زیاده ترگشت در سنه (۱۷) حضرت فاروق اعظم عزم بالجزم فرمود، که عمارت مسجد وسعت یابد، وتمام مکانها دور وپیش را به قیمت نقد خرید، حضرت عباس خانه خود را نمی فروخت وحضرت عمر قیمت کافی میداد، حضرت عباس قبول نمی کرد، اخر به پیش ابی ابن کعب مرافعه بردند، واو فیصله کرد، که خلیفه ابداً اختیار ندارد که به جبر خریدکند، بعد از صدور این فیصله حضرت عباس گفت که من بدون قیمت برای فائدهٔ عامه مسلمین میدهم، الغرض بدون از حرم سرایهای ازواج مطهرات جمیع مکانات مسمار شد وعمارت مسجد وسعت یافت، نخستین طول مسجد صد ذرعه بود، وبعد یکصد وچهل ذرع گردید وعرض انهم به قدر بیست ذرعه وسعت گرفت، ولی طرز عمارت به هیچگونه تکلف نمیکرد. مثلاً درعهد مبارک جناب رسول الله ستونها وغیره ازچوب بود، حال هم ازچوب ساختند، حضرت فاروق اعظم به هنگام تجدید وترمیم مسجد چیزی نو نیز نمود، یعنی دریک گوشه اش صفه بنا کرد وفرمود که اگر شخصی بخواهد شعر خواند یا سخن دنیوی بزند بر این بنشیند، وقبل از عهد فاروق اعظم در مسجد نبوی (ص) هیچگونه سامان تنویر نه بود، واین سرشته هم در عهد جناب ممدوح انجام گرفت

---

بلـ الاحکام السلطانیه للماوردی صفحه ۱۵۴

و به اجازه او تمیم داری در مسجد چراغها افروخت بر علاوه حضرت فاروق اعظم انتظام خوشبویی و بخور هم در مسجد نبوی (ص) فرمود اغاز اینطور شد که در جمع مال غنیمت یک بار عود به وجود امد حضرت فاروق اعظم خواست که بر اهل اسلام تقسیم نماید و کافی نه بود ، بنا بر آن فرمان داد که در مسجد صرف شود تا همه مسلمانان از ان مستمتع شوند ، چنانچه انرا به موذن سپرد امر فرمود که بروز جمعه در منقل بیندازد و پیش روی نماز خوانان دور داده جامها و دماغها را معطر کند فرش مجد د را هم نخستین حضرت فاروق سرشته فرمود ، ولی تکلفی نداشت قالین یا سطرنجی نه بود ، بلکه به تقاضای ساده مسلمانان از بوریا تهیه گردید ومقصود ش محض صیانت جامه ازخاك بود . (۱)

## داسلام دلمړنیو مسجدونو جوړولو طرز

داسلام د لمړنیو مسجدونو طرز ساده او بسیط و او پر یوه داسی توکر ځمکه جوړیدی چی پرشاوخوا باندی به یی ځلور دیوالونه راګرځیدلی وو کله به د مسجدونو ارخونو خندق هم احاطه کړی و لکه چی دکوفی د ښار لومړنی مسجد (۱۰٦) هم داشانی جوړ سوی و ، د مسجدونو سقفونه (چتونه) به د خرما د ښاخونو او یا د هغو د برو د توکرانو څخه چی د عربی مسلمانانو د فتوحاتو په اثنا کی د زړو عبادت ځایونو او کلیسا ګانو څخه په لاس راتلل جوړیدل د دغه وروسته د مسجدونو د جوړولو په طرز کی تغیر راغی او پخوانی سبك یی پاته سو خو رنګه چی پر مسلمانانو باندی د حضرت پیغمبر سنت او سلیقه زیاته ګرانه وه نو دوی هر کله زیار یوست چی په خپل ژوندانه کی هغه تطبیق کړی ، نو ځکه د سادګی او پاکی دودی د لاسه نه ورکاوه .

---

(۱) الفاروق (۱۷۵)

دمسجد ونو زیاتره برخه به دهغه غولی سیولی وه چې په اصطلاح صحن به ورته ویل کید، اوهغه به سرپوښنه نه ؤ او پر څلورو برخو باندی به یې رواقونه راګرځیدلی ؤ پراخ او لوی رواق به یې څلورمه رواق ؤ چې دسطحی په سقفونو به پوښل شوی ؤ، بندونه او ضربی به یې دمرمرینو ډبرو څخه چې دتعمیر پر بنا ولاړی وی جوړ سوی وو.

## دمسلمانانو تاریخی مسجدونه

### نبوی مسجد :

دغه مسجد دخدای تعالی د ذکر او عبادت علاوه ، داسلامی علومو مخصوص دحدیثو د تدریس لوی مرکز ګڼل کیدی، چې حضرت پیغمبر (ص) مدینی منوری ته دهجرت په لومړی کال کی جوړ کړی دی .

په دغه مسجد کی د زمانی په تیریدو ډیر تحولات او اصلاحات راغلی دی چې اوسنی شکل یې غوره کړی دی .

لکه چې محقق العلما استاد کل ملا عبدالحق صاحب خروټی د خپل یاقوت السیر په (٢٢٨) مخ کی په دی هکله فرمایی :

هم په دی کال مصطفا     دمسجد وکړه بنا
تر مسجد پخوا سردار     دلمانځه کاوه اختیار
دغه ځای ؤ محوطه     چې پری چوکه سوه ناقه
پر هر ځای چې به داخل سو     وخت دلمونځ به دی فاعل سو
دلته وه دوه یتیمان     درافع و پسران
سهل نوم ؤ د یوه     بل سهیل نومیده
دغه مځکه و د دوی     نو حضرت سو بیا له دوی
د دی مځکی خریدار     له دبها دوی وکړ انکار
دوی ویل چې بی بها     مونږ درکړی ده وتا

حضرت نه‌کره داقبول — په قیمت یی کره مقبول
لس مثقاله د سره زر — دوی ته وه‌رکره پاك سور
پر صدیق باندی بها — حواله کره مصطفا
دلته وه گورستانونه — دمشرکو وه قبرونه
هم نیوخود رختی دخرما — دلته شنی وی لا د پخوا
نو حضرت و فرمایل — داقبرونه یی وکښل
دغه درختی و وهلی — خرابی یی سمی کړلی
چی هواره سوه دامځکه — دمسجد طرحه یی وکړه
په ساختن یی سوه مشغول — هم یاران هم پاك رسول
خښتی یی تولو چلولی — اوبدلی یی وبلی
بخاری کړی روایت — چی عمار کاوه خدمت
بیوه خښته هر چا وړه — دی د دوو ببرنده
پاکولی نو سرور — خاوری هم دده له سر
اودبل نو سیا حضرت — وعمار ته داساعت
ده له دی افسوس اندوه — مربه دی کړی یاغی گروه
دی به کړی د دوی دعوت — و طرف ته دجنت
دوی به بولی دی و نارته — د دوزخ و سخت انگارته
نو عمار به کړ گفتن — پناغوارم له رفتن
نو مسجد لره دیوار سو — له اوهم خښتو تیار سو
له بناخلو خخه دخرما — بام د ده سو همهیا
دخرماو وله تنی — وی مسجد لره تهنبی
دی مسجد لی (لری) دروازی — پر لینو وی په حساب دری
دایوه د عام عالم وه — خاص حضرت لره دویم وه
دغه بله مسمیٰ وه — هم په باب الرحمت داوه
ومسجد پر دا هیئت — دعمر ترخلافت

دلته به یې سو نور عالم    خلك به یې ورځای ورکړ
ده مسجد کړ کشاده    وو الاتې یې هم هغه
بیا عثمان ترده ازاد کړ    هم یې جوړ پر خپل مراد کړ
ستنې هم وې له ډبرو    دوی له بنو نقشی حجرو
او د بام لرګي یې تاج وُ    چې بهتره د وی تر عاج وو
چې د ملك سو بیا مالك    ولید بن عبد الملك
نو ر عمر با تمیز    پلار یې دی عبد العزیز
ده مسجد کشاده تر کړ    چې په سنه شان یې برابر کړ
د حضرت د عیالو    ټول حجری د ماذ ونو

بیا تعمیر وکړ مهدی    خلیفه وُ عباسی
بیا تجدید وکړ مامون    چې دی زوی وُ د هارون
تر اول یې زیاده کړ    استحکام یې علاوه کړ
د ابنای ماموني    وه تر دی زمان باقي
مګر اوس یې کړ تجدید    لوی سلطان عبد الحمید
هسې ساز کړ چې زه توان    نه لرم د دې بیان

هم په دې کال چې حضرت
مدینې ته کړ هجرت

د حضرت محمد (ص) د وفات وروسته صحابه کرامو او بیا تابعینو په دغه مسجد کې تدریس او تعلیم کاوه، د مالکي فقې اساس د امام مالك څخه د دغه مسجد څخه راشروع سوی دی، د حضرت پیغمبر په حیات کې د مدینې منورې په نورو کوچنیو مسجدونو کې چې شمیر یې نهه (٩) مسجدونو ته رسیدی او د بلال په اذان یې اقامت کیدی هم د حدیثو تدریس کیدی، بکیر بن عبد الله بن الاشجیع چې ابوداوُد او دارقطني په ترتیب سره په خپلو مراسلو

اوسنئو کی روایت کوی دغه مسجدونو یادوی :- درایج مسجد، دبنی عبد الاشعل مسجد، دبنی عمرو بن بندول مسجد، دجهینه مسجد د رسلم مسجد. (۱)

حجة الاسلام ابوحامد غزالی (۵۵۵ هـ ق) په خپل کتاب فاتحه العلوم کی په دی هکله داسی لیکی :- مکحول ویلی دی چی د خدای رسول څخه د ووتنو روایت کړی دی چی موږ د قبا په مسجد کی د علم په زده کړه لګیا وچی ناڅاپه پیغمبر (ص) تشریف راوړی او وی فرمایل : څه چی غواړی هغه زده کړی او خدای دی تاسو ته عوض نه درکوی خو چه هغه شیان چی زده کوی پی عمل په ونه کړی او بل وروتیږی وروونه بنیاست. (۲)

نو څکه نبوی مسجد د مسلمانانو د پوهنی لومړنی مرکز ګڼل کیږی.

## د مکی مکرمی مَسجِدُ الحَرام :

دغه د مدینی منوری تر مسجد زوړ دی، خود مکی معظمی تر فتحی وروسته په اتو هجری کال کی د اسلامی هدفونو او تبلیغونو د بنه بریالیتوب له پاره استفاده څنی وسوه.

د دغه مسجد څخه د عبادت علاوه د امویانو او عباسیانو د خلافت د اولی نیمایی پیری څخه د اسلامی تعلیماتو د بنوونی روښانه مرکز ګڼل کیدی.

رازی د حمیدی د خولی څخه لیکی :- مشهور علمی مجلسونه او مذهبی فتواګانی به په ترتیب سره سپه عبد الله بن عباس (۶۸ هـ ق) او وده وروسته به په عطا بن ابی رباح، او ده وروسته به په ابن جریج (ابوخالد) پر (۱۵۱ هـ ق) او ده وروسته به په مسلم بن خالد زنجی، او ده وروسته به په سعید بن سالم قداح، او ده وروسته به په محمد بن ادریس شافعی (۲۰۴ هـ ق)

---

(۱) ابن فضل الله العمری، مالك الابصار پنځم ټوک ۱۳۱ مخ

(۲) فاتحه العلوم، حجة الاسلام غزالی دوهم ټوک ۱۹ مخ

اړه درلوده امام شافعي صاحب د بيو ليشت کلن سن څخه په دغه مسجد کې فتواګانې ورکولې (۱)

## د بصرې مسجد جامع :

دغه مسجد په څوارلسو (۱۴) هـ ق کال کې زياد بن ابيه چې د معاويه بن ابي سفيان له خوا پر بصرې حاکم وُ په خښتو او ګچو سره د نوي سره لباد کړ پندې پايې يې ور واچولې او پر چت باندې يې د ساج د ونې لرګي وو هـ ل د عباسي خلافت په لومړي کې د معتزله استادانو فکري او سياسي رشد د دغه مسجد څخه راشروع سو . معتزلوو په لغت او عربي نحو کې مخصوص روش درلود ، د عربي مشهور اديب حافظ (۲۵۵ هـ ق) په دغه مسجد کې اوسيد .

## د کوفې مسجد :

دغه مسجد په کال اولس (۱۷ هـ ق) کې جوړ سوی وو ، خو زياد بن ابيه په کال پنځوس (۵۰ هـ ق) کې د لومړي سره اباد کړ ، د حضرت علي بن ابي طالب (کرم الله وجهه) راتګ کوفې ته او دغه ښار د اسلامي حکومت د مرکز کولو له کبله د کوفې مسجد د علمي مرکز په ګرځولو کې زيات اهميت وموند دغه مسجد کرار کرار علمي رشد او تبليغاتي حيثيت پيدا کړ ، څو چې د عباسي دولت په شروع کې د اسلامي علومو د يوه لوی مرکز په شانې و پېژندل سو او د بصرې د مسجد سره يې په رقابت شروع وکړه ، د دوی

---

(۱) ابو عبد الله بن عمر ، مناقب امام شافعي .

*History of Muslim Education. By Ahmad Shah.*

*Page 890*

په اسلامي دنبووني تاريخ - داکتر احمد شلبي د قاهرې په پوهنتون کې د اسلامي تمدن د تاريخ استاد .

د علمي او ادبي مباحثو له برکته وچې د اسلامي معارفو د څراغ روښانه
وړانګې هسکو مدارجو ته ورسیدې او اوس د انګلستان د کمبرج او اکسفورډ
د پوهنتونو سره سیالي کولای سي .

## د فسطاط مسجد (د عمرو مسجد جامع):

دغه مسجد په کال (۲۰ هـ ق) کې عمرو بن العاص جوړ کړ د دغه مسجد
یوازې مطلب د اسلامي تعلیمي چارو پرمخ بیول ؤ ، دغه مسجد د طولوني
اخشدي او فاطمي پاچاهانو په وخت کې د زیات توجه وړ وګرزید او د شافعي
فقې لوی مرکز سو . د دغه مسجد په صحن کې د تدریس بیلې زاویې موجودې
وې ، چې د هغو څخه دغه مشهورې وې ، د امام شافعي صاحب زاویه مجدالدین
ابوالامثال حارث بن مهذب الدین شافعي زاویه ، د فخرالدین صاحبیه زاویه
د تاج الدین سطنحي زاویه ، د معینیه زاویه ، د زینبیه زاویه او نور او هم سوه
نه څلویښت (۷۴۹ هـ ق) کال پوري څلویښت نورې زاویې پر اضافه سوې چې
اسلامي معارف یې هسکو علمي او دیني مدارجو ته ورساوه

## مسجد الاقصی او قبة الصخرة:

اسلامي تاریخونه وایي چې دغه مسجد حضرت سلیمان (علیه سلام) د خپل
عبادت له پاره جوړ کړی ؤ ، د حضرت عمرو بن خطاب د خلافت په دور
(۱۳- ۲۳ هـ ق) کې هغه وخت چې بیت المقدس مسلمانانو فتح کړ څرنګه چې
دغه ځای د اسلامي دین په فرمایشاتو کې مقدس مقام در لود نو دغه
مسجد د یوازني عبادتګاه په څېر د زیات احترام وړ وګرزید او د ریم مقدس
مسجد وګڼل سو .

د عبدالملک بن مروان د خلافت (٦٥- ٨٦ هـ ق) په وخت کې د فیة الفخر
څلې چې د اسلامي هنرونو ښکلې اثر دی ، په دغه مسجد کې جوړ سو ، د
عباسیانو د خلافت په دوره کې څو ځله ترمیم او ښکلی سو ، د ایوبیانو

او مملوکیانو په دوره کې په دغه مسجد کې څو مدرسې جوړې سوې چې ملي او علمي شهرت یې ور زیات کړ ، د دغو ههو مدرسو څخه : اشرفیه سلطاني عالي مدرسه ، ناصریه مدرسه ، د امام ابوحامد غزالي مدرسه ، نحویه مدرسه ، سنګریه مدرسه ، کریمیه مدرسه زیاتې مشهورې دي .

د دغو مسجدونو لوی عالمان امام غزالي صاحب او مشهور محدث ابن الصلاح زیات شهرت لري .

## د دمشق اموي مسجد :

دغه مسجد ولید بن عبدالملک د خپل خلافت (۸۶ - ۹۶ هـ ق) په وخت کې د (۸۸-۹۶ هـ ق کلونو په منځ کې جوړ کړ

دغه پخوا د بت پرستانو د عبادت ځای ؤ ، د څلور و پایو و څنګ ته یې یو مربع شکله برج جوړ سوی وچې مسلمانانو د هغه څخه د اذان کار اخیست ، د دغې بنا نه یوازې د ښکلا او معماری له پلوه مسجد ښکلي کړي ؤ ، بلکه د خلافت مرکز ته یې هم د علم او هنر سترګی اړولي وې .

د دمشق مسجد تر (۴۶۱ هـ ق) کال پورې پر خپل عظمت پاته ؤ ، څو پر دمشق باندې د فاطمیانو د یرغل او اور اچولو له کبله یې ښکلا او ښائست له منځه ولاړ د اتمې هجري پیړۍ مشهور سیاح ابن بطوطه د دمشق د جامع په هکله وایي :- په دغه مسجد کې علمي مجلسونه او د مختلفو علومو د درس حلقې موجودې دي ، محدثین پر لوړو کرسیو باندې د حدیث روایت کوي ، د قرآن عظیم حافظان او قاریان له سهاره تر ماښامه په تلاوت لګیادي ، یوه له ښوونکی چې د مسجد پر پایو تکیه کړیده شاګردانو ته د قرآن د تلاوت او تدریس وظیفه مخ ته بیایي ، په دغه مسجد کې قرآن په دې نسبت شفاهي قرائت او تدریس کیږي نه چې د لیک د احترام او ساتنې په هکله یې بې ادبي او تغافل ښکاره سي ، معلم بله وظیفه هم لري هغه خپلو شاګردانو

ته شعرونه، ادبي مضامين او علمي مقالې ليکلې او زده کوي. او د تعليم طرز يې تر هغه پورې دوام کوي چې شاگرد خپله دليک د زده کړې سره پوره علاقمندي پيدا کړي او خطاطي زده کړي.

د دغه مسجد د مشهورو عالمانو او بزرگانو څخه برهان الدين فرکاح شافعي او نورالدين ابوسير بن مايع دی.

## د تيونس زيتونيه مسجد:

دغه مسجد د اغلبي دولت په وخت کې بيرته جوړ سو، او د اسلامي زړو مساجدو او مدرسو څخه گڼل کيږي، د دغه مسجد ځيني علما لکه خطيب ابو اسحاق ابراهيم ابن حسين بن علي بن عبدالرفيع ربعي او ابو علي عمر بن علي بن قداح هواري زيات شهرت لري.

ابن بطوطه په دې هکله ليکي :- د دغو پوهانو د افادو او علمي برکاتو څخه يو دا و چې هر جمعه به د لمانځه د ادا کولو وروسته دوی د دغه مسجد يوې پايې ته ډډه لگوله او د لويو فقهي مسئلو د پوښتنو په خصوص کې به يې فتواگانې صادرولې دوی به د خلکو پوښتنو مسئلو د حل کولو وروسته غونډه پرېښوده (۱).
په دغه مسجد کې پرېخوانې طرز تعليم ورکول کيدی، خو د (۱۳۷۰ هـ ق) د صفري په شلو رمه د (۱۹۵۰ م) کال د نوامبر په څوارلسمه (۱۴) د يوه فرمان په واسطه د دغه مسجد د تدريس طرز او اصول د مصر د الازهر د جامع په څير وا وښت

## د قيروان مسجد جامع:

دغه مسجد عقبة بن نافع د افريقا مشهور فاتح په کال پنځوس (۵۰ هـ ق) کې په قيروان کې جوړ کړ، د څه وخت وروسته له نظره ولويد او په (۸۶ هـ ق) (۶۹۵ م)

---

(۱) ابن بطوطه - رحله جلد اول صفحه ۷

کې بیرته آباد سو. په کال یوسل وپنځه کې د اموي خلیفه هشام بن عبدالملك (۱۰۵- ۱۲۴هـق) په امر دغه مسجد په صحن کې پراختیا راغله. د قیروان د مسجد مدرسه د افریقې په شمال کې د اغلبي حکومت په دوره کې د فاطمي دولت تر شروع پورې د اسلامي علومو پیاوړی مرکز ګڼل کیدی.

## د بغداد د منصور مسجد جامع:

دغه لوی مسجد د عباسي خلیفه ابوجعفر منصور (۱۳۷- ۱۵۹هـق) په امر د بغداد د ښار د جوړولو سره سم په کال یوسل وشپږ څلویښت (۱۴۶هـق) کې تأسیس سو. منصور دغه مسجد جامع د او سید لسود قصر چې قصرالذهب نومید تر څنګه جوړ کړ. دغه مسجد په کال (۱۹۲هـق) کې د هارون الرشید په امر بیرته اباد او پراخ سو، د دغه مسجد په مدرسه کې د خلیفه په امر او خوښه چا درس ورکولای سو.

## د قرطبې لویه مسجد جامع:

د دغه مسجد بنا په اندلس کې د اموي دولت اساس ایښوونکي عبدالرحمن په کال (۱۷۰هـق) (۷۸۶م) کې د دمشق د مسجد جامع په سبك شروع کړه، د ده وروسته نورو خلیفه ګانو او امیرانو څه نوري برخې پر زیاتې کړې چې له دغې جملې څخه د هشام په امر یوه برخه د ښځو د لمانځه ادا کولو له پاره پکښې وټاکل سوه. د دغه مسجد جامع د عظمت دوره په اندلس کې د مروان د دولت د سقوط او د هسپانیانو پلاس د قرطبې د ښار د نیولو (۶۳۲هـق) کال وروسته پای ته ورسیده.

## د قرویین مسجد جامع:

دغه لوی مسجد په مغرب اقصیٰ (مراکش) کې یوې بزرګواري او متدینې ښځې فاطمې بنت محمد فهري د مکنۍ (ام المؤمنین) د فاس په ښار کښې جوړ کړی

دی، د قیرویین د تسمیې وجه دا ده چې عربانو د قیروان د لارې د فاس ښار ته داخل سوي دي. د دغه مسجد جامع او مدرسې د اباد ولو او تجهیزولو له پاره د مسلمانانو مشرانو زیاته توجه کړې وه، چې د هغو څخه د سلطان ابوعنان (۷۴۹ - ۷۵۹ هـ ق) په امر د دغه مسجد جامع د بیا اباد ولو او کتابخانې د تجهیزولو عزم د ډیرې ستاینې وړ دی.

تر لومړۍ هجري پیړۍ پورې مسجدونه د دیني فرایضو او عباداتو د ادا کولو، وعظ او ارشاد او د مسلمانانو د دیني اړتیاوو او مسایلو د حل او فصل کولو مهم ځایونه ؤ. خو د دوهمې هجري پیړۍ په شروع سره هغه وخت چې اسلامي نړۍ پراختیا وموندله او د عربو مسلمانانو د ژوند انه په طرز کې تحول راغی نو مسلمانانو د قرآن عظیم په دغه فحوا:- ( ربنا وابعث فیهم رسولا منهم یتلوعلیهم ایاتك ویعلمهم الکتاب والحکمة ویزکیهم انك انت العزیز الحکیم ).

ترجمه:- ای لویه خدایه زمازامن داسې ښکلې وګرځوه چې د دوی له منځه څخه یو پیغمبر خوښ کړې، چې ستا ایتونه هغوی ته وښودي او د کتاب پوهنه او حکمت زده کړي) خلکو د علم او پوهې د زده کولو له پاره د مسجدونو مدرسو او جامعګانو د تأسیسولو له پاره پوره توجه وکړه، او د مسجدونو څخه یې د فرایضو او عباداتو د اداکولو علاوه د تبلیغ او دیني ارشاد او تدریس کار لخیست او یو په بل پسې یې پراختیا وموندله څو پنځمې هجري پیړۍ کې د هغو څخه لوی مدرسې او دارالعلومونه جوړ سول، او له دغه ځای څخه علمي تصدیقونه یا شهادتنامې توزیع کیدل. د مثال په توګه د مدینې منورې په نبوي مسجد کې امام مالك بن انس اصبحي (۹۵ - ۱۷۹ هـ ق) د موطي د علمي اثر لیکوال او مالکي مذهب مؤسس د فسطاط په مسجد کې د قریشو ستر عالم ابوعبدالله محمد بن ادریس شافعي (۱۵۰ - ۲۰۴ هـ ق) د کوفې او بغداد په مسجدونو کې امام ابوحنیفه نعمان بن ثابت، د بغداد په مسجد کې امام احمد بن حنبل (۱۶۴ - ۲۱۶ هـ ق) درسونه ورکول او علمي مجالس یې پرانستل.

د ښار د لويو مسجدونو مالي اړتياوې د دولتي مساعدتونو، خو د ښار د باندې شاوخوا کوچنيو مسجدونو ضرورتونه د هغو د مقتديانو په بخششونو، تحفو او صدقاتو او اعانو رفع کيدل.

د دې له پاره چې په مسجدونو او دارالعلومونو کې د امامت او تدريس چارې د خنډ سره مخامخ نه سي نو ځينو مسجدونو ته اوقاف يا احباس درلودل چې د هغو عايدات به په منظمه توګه د مسجدونو امامانو ته سپارل کيدل. (۱)

وايي چې د مصر لوی مفتي او محدث امام مالك ته په کال کې سل ديناره بخښل او له دې پرته يې د ده پوروونه هم ادا کول.

## مدرسې

په دې مؤسسو کې داسي علوم تدريس کيږي چې تخصصي بڼه ولري او فارغ التحصيلانو ته يې د اسلامي علومو په مشخصو څانګو کې عالي شهادتنامې ورکول کيږي. مدرسو د علومو په وده او پراختيا کې زيات خدمت کړی دی، دا ځکه چې قرآن کريم مسلمانان د علومو په زده کړه مکلف کړي، او پر نرو او ښځو يې علم فرض کړی دی او هغه څوك د لوړې درجې او فضيلت خاوندګڼي کوم چې علم يې تحصيل کړی وي، نا پوهي يې د ړندوالي، ګمراهي او تياري سره تشبيه کړې ده، قرآن کريم هم د تعليم سپارښت د پيغمبرانو د اعمالو ښه بولي او پر دې هکله فرمايي:

(ربنا وابعث فيهم رسولاً منهم تتلو عليهم اياتك ويعلمهم الكتاب والحكمة ويزكيهم انك انت العزيز الحكيم).

ترجمه:- ای لويه خدايه زمازمن داسي ښکلي وګرځوه چې د دوی له منځه څخه يو پيغمبر څوبن کړې چې ستا اياتونه هغوی ته و ښووي د کتاب پوهنه

---

(۱) د وقف لغظي معنی کول او خاص کول دي او پر شريعت کې خپل څه شی يا د هغې ګټه او فائده د عامو خلکو د ښيګڼو او خير رسولو له پاره خاص کول دي، څرنګه چې پر صدقه کولو سره يو شی د چا د ملکيت څخه وزي او د بل پر ملکيت کې داخليږي او هغه ثواب ور کول کيږي، نو وقف عيني شان حکم لري.

او حکمت زده کړي .

## په اسلام کې د مدرسې تکاملي سیر

د المدرسي کلمه د (د ریس) د مادې څخه اسم مکان دی. تحقیقات څرګندوي چې د غه کلمه په اصل کې عبري ده ، او د اسلام د راتلو څخه د مخه د غه کلمه معربه سوې او په عربي ګډه سوې ده . په عربي ژبه کې درس ډیرې معناګانې لري چې د هغو څخه مهمې یې دا دي .

۱- د سجستاني په (غریب القرآن) کې د (قرأ) په معنی راغلی ده لکه (ودرسوا مافیه) یعني قرأوا مافیه ، او هم د خدای تعالی عزوجل د غه کلام (ولیقولو درست) د (قرأت) په معنی دی . او (دارست) د (قارأت) په معنی د (قرأت) او قراتي علیك معادل دی د نبوي حدیث (تدارسوا القرآن) په جمله کې د غه کلمه د قرآن ولولی په معنی ده . وفکر ته یې وسپاری چې له یاده مو و نوزي .

۲- د (اِندَرَس انطمس) په معنی او (درس) د (محوسو) په معنی هم دی .
لکه چې سجستاني وایي :- (درستُ هذه الاخبارُ التي تأتینا بها درستُ) . د زوړ سوا وله منځه تللی په معنی دی .

۳- د (المَدرَس) کلمه چې د مدرسې پر ځای استعمالیږي د (درس) د مادې څخه اخستل سوې ده . او د (مدارس) کلمه یعني هغه ځای چې درس پکښې لوستل کیږي مدرس د (کتاب) او مکتب خانې په معنی هم راغلی دی . د دغو تفسیر ونو څخه په عمومي ډول دا نتیجه اخیستله کیږي چې (درس) کلمه د لوستلو ، ساتلو محوکولو د معنی پر محور چورلي او دا ډول فکري پیوند هیڅ نلري، چې د هغو سره دې د معنی هم اهنګي ولري . که څه هم ابن فارس په خپل اثر (مقاییس اللغة) کې چې د لغاتو ممتاز کتاب دی او د بیلو لغاتو په منځ کې رابطه څیړي او معناګانو ته په خپله تحلیلي طریقه تفسیر ورکوي لیکي :

د (دال ، راء ، سین) حروف واحده ریښه لري چې پرپټوالي ، کښنته والي او ورکوالي دلالت کوي ، نو ځکه د (الدَّرس) کلمه د لار ورکې په معنی هم ده

دمثال په ډول کله چې وايي (درس المنزل) يعنې د منزله ځای آثار ورك سول، او
د (درليس) كلمه هم له دغه بابه څخه ده. همدارنګه د زړې اوشو پېدلی جامې
په نامه، همداشان (درست القرآن) له يابه (ونو ر ويعنی (الدارس) هغه
څوك دی، هغه څه چې يې لوستلې دی بيايې لولی هغه شانی، لكه چې يو
لا روې، دابن فارس دغه تفسير د دی سره چې ده ډير دقت اوښه تعبير
پکښې کړيدی، خو زموږ د سوال ځواب په ښه توګه نه سي وركولای، چې
دمحو او نابودی، ويلو بيا ويلو تر منځ څه رابطه موجوده ده، او هغه
زيار چې د دغو د ومعناګانو د موندلو له پاره استل سوی دی په هر
حال بيله تكلف اوتصنع څخه نه دی موندلی سوی، دغه ډول تفسير ونه دغی
كلمې د عربې والی د ترديد له پاره يو ځل بيا را پورته كيږی او داسې څرګندېږي
چې دغه لغت دوه مدلوله او سنده لري.

اول :- د نابودی او زوړ تيا په معنی د دغی كلمې استعمالول په پخوانی عربي ژبې پورې
اړه لري. د جاهليت د دورې په ادبياتو کې په نظم او نثر دواړو کې دغه مدعا
ثابتيږي.

دوهم :- د (قرأة) په معنی همدا اوس استعماليږي په عربي ژبه کې د (درس)
د لغت د استعمال تاريخ لر څخه د اسلام د مخې زمانې ته رسيږي، ډير زوړ متن
چې په هغه کې د (دَرَس) كلمه د ويلو په معنی راغلې ده، هغه قران عظيم دی لكه
چې فرمايي :- (ماكان لبشر أن يؤتيه الله الكتاب والحكم والنبوة ثم
يقول للناس كونو عباداً لي من دون الله ولكن كونو ربانين بما كنتم تعلمون
الكتاب وبما كنتم تدرسون).

ترجمه :- هيڅ بشر ته نه ښايي چې هغه ته كتاب، حكمت او نبوت
وركړه سي او هغه وخت خلكو ته ووايي چې د خدای پر ځای زما بندګان
واوسئ، خو وايي رښتين او صالحان واوسي د اُځکه چې اسمانی كتاب تعليم در
كړه سوی دی د اُځكه چې هغه مو لوستی دی.

ډاكتر فواد حسنين د لوېړي فواد د پوهنتون د عبري، سرياني او نورو سامي

ژبو استاد د (درس) د فحص - اجتهد په معنیٰ اخلي چي هغه دا یې زیار او کوښښ ته ویل کیږي. په عبري ژبه کی (والمدراش) د (درس ځای) یا (دراسه) ته ویل کیږي چي دغه کلمه خپله د (مدرس) څخه جوړه سوي ده د یهودو په نظر دغه کلمه پر مقدس کتاب دلالت کوي، او هغه داسي کتاب دی چي د (مقدس کتاب) پر تفسیر باندي لیکل سوي دي او په سریاني ژبه هم دغه معنیٰ ورکوي، د فقه اللغی پوهان عقیده لري چي دغه کلمه د عبري څخه سریاني ته راغلي ده. د (مدراس) د کلمي د اصل څخه د اڅرګندیږي چي دغه د (مفعال) هم وزنه کلمه ده او د لسان العرب د مولف په قول د اسوم کان لپاره یو غریب وزن دی. د (قاموس) کتاب څرګند وي چي د (مدراس) کلمه هغه د (کُتاب) کلمه ده چي مکتب ځای یا ښوونځي ته ویل کیږي. په اسلامي دائرة المعارف کی دغه کلمه د عبري او یا ارامي ریښي څخه بولي، یو شمیر زیات پوهان وایي چي د (درس) کلمه عبري ده خو دا دي معنیٰ نلري چي (مدرسه) د یهودو څخه اخیستل سوي ده، دا له دي جهته چي (مدراش) یا مدراس د تعلیم یو مؤسسه نه وه، لکه چي د اسلام په لومړیو مراحلو کی تعلیماتي مرکز ونه د مدرسي په نامه موجود نوه او یهودان هم ډیر عمر لپاره په عربستان کی نه دی اوسیدلي او حضرت پیغمبر (ص) هغوی له مدینې څخه ډیر لیري ساتل او د حضرت عمر فاروق په وخت کی هم د اسیاست چلیدی چي د دوو دینو ګنجایش په عربستان کی اړ ونه لیدل کیږي.

# شهادت نامی او علمی لقبونه

**اجازه لیک:**- د ابوالحسن فارس په قول د اجازي لغوي معنیٰ په دی بول ده اجازه د جواز الماء د کلمي څخه اخیستي سوي ده چي د هغو اوبو څخه تیر یدل دی چي حیوانان یې څښي او د کښت ځمکه ځني خړوبیږي لکه چي وایي: (استجزته فأجازني) (یعني ومې غوښته چي زما حیوانانو او ځمکي ته اوبه ورکړي) همدا شان چي د علوم طالب د خپل استاد څخه اجازه وغواړي او هغه یې ورکړي.

په فيروزابادي قاموس کې په دې هکله داسې راغلي دي :- (واُجازلهٗ) دسوغ له په معنیٰ يعني هغه ته يې اجازه ورکړه ، او (اجاز) په رايې (انفذه) او (خوزه) يعني خپله رايه يې پرتنفيذ کړه په معنیٰ راغلي دي . او (استجاز) د درخواست اجازې او اذن دغوښتلو په معنی هم دي .

داجازې اصطلاحي معنیٰ :- د مجيزد خولې هغه راوتلي خبرې چې د اذن پر انشا' اوده ښخه د هغه د خبر و روايت دي چې داجازه اخيستونکي د اجمالي پوهې ور وسته د اجازه ورکونکي له خوا صاد رسوي وي ، همدا شانې دغه (اجازه) د ټولو مشايخو او طبقاتو د ذکر کولو ښخه د اساتيذو ترا خرنی مرحلې پورې هم ده .

داجازې د پيدا کيد و مفهوم او تطور :- ځيني کسان د دغسې کلمې ويل د ضمام بن ثعلبه په خولې استناد کوي چې وايي پيغمبر (ص) ته و ويل سوال چې ايا خداى تعالى ته په لما ئځه اد اکولو مامورکړې يې ؟ هغه وفرمايل هو بيا يې و ويل نو دا (سوال) خپله د پيغمبر په حضور د قرائت منزلت لري ، ضمام دغه موضوع خپل قوم ته اطلاع ورکړه (فاَجازوه) يعني دوى هغوته د دغه حديث په روايت يې اجازه ورکړه .

په اسلامي پوهنتونو او پوهنځيو کې داسې شهادت نامې چې په هغه کې د يوې علمي مهرا و نښان او تصديق وې معمول نه ؤ . نو ځکه اجازه نامه د يوه استاد شخصي صوابديد ؤ چې خپل شاګرد ته به يې ورکوله او د پوهنتون له نظره به د تصديق او اعتبار وړ نه وه .

علمي لقبونه :- اجازه د يوې علمي يا وظيفوې رشتې د لوستلو ور وسته د شهادتنامې په څير ورکول کيده ، خو د غې د يوې علمي درجې حيثيت نه درلود چې د هغه له رويه د ې د يو شاګرد فهم ، ذکا' او د علميت درجه ښرګنده سي خودې تش د يوې شخصي پانې حيثيت درلود ، چې په هغه سره د شاګرد مشغله او زيار ستايل کيدې .

امام :- د امام کلمه په عمومې توګه د لوړ و علمي القابو ښخه ؤ

چې د امام پر پوهې او حجت يې دلالت کاوه، څو د خلکو مقتدا وګرځول شو، او خلکو يې تقليد کاوه.

**امير المؤمنين**:- د غه د هغه لقب څخه پر ته دی چې اسلامي (خليفه) ته به د خلافت او حکومت په وخت کې ورکول کيدی، دا يوه کلمه وه چې لويو محدثانو او مفسرينو به په خپلو منځو کې د مشورې کولو او صوابديد وروسته يوه جامع او لوی پوه ته ورکوله.

**حافظ**:- دا يو داسې لقب و چې د حديث پر لويو پوهانو باندې به اطلاق کيدی ځينې بيا وايي چې حافظ هغه څوك و چې شل لبينت زره حديثونه به يې په ياد و.

**فقه**:- په لغوی معنی فهم ته ويل کيږي او په اصطلاح کې هغه څوك چې په شرعي علومو کې لوی لاس ولري.

**رحله**:- د غه لقب پر ستر پوهاند باندې اطلاق کيدی.

**محدث**:- هغه څوك چې ډېر په نبوي حديثو بنه پوهيدی

## د افغانستان د پوهنتون علمي القاب

د افغانستان د پوهنتون لپاره د غه علمي رتبې ټاکل شوي دي.

پوهيالی، پوهنيار، پوهنمل، پوهندوی، پوهنوال، پوهاند.

# جامعه، دار العلوم، پوهنتون

د عربي لغت (جامعه) معنی په لاتيني ژبه (يونيورستاس) او (يونيورستات) (Universtat، Universitas ...) ده چې لغوی، تاريخي او اکاد ميکه معنی لري د انګليسي ژبې په نوي قاموس کې چې د کلماتو د تاريخي ريښو د ښودلو په اساس تاليف شوی دی، د غه کلمه (جامعه) بيل بيل لوړه لري چې په دې ډول دي.

۱- لغوی متعارف مدلول چې په هغه کې جامع، کل عدد، عموم راځي.

۲- د منځنيو پيړيو د وروستي دورې په لاتيني ژبه کې د غه کلمه د حقوقي مباحثو د جماعت او شرکت په معنی استعماليږي.

۳- د دغې کلمې دريم مفهوم او معنی هغو استادانو او متعلمينو ته ويل

کیږي چې د تعلیم او تربیې په علمي لوړ وځانګو کې د تحصیل لپاره په یوه مخصوص ځای کې راټولیږي، دغه کسان د خپلو علمي او فکري رتبو سره په مخصوص القابو یو د بله سره پیژندل کیږي. د داسې ښوونځیو او پوهنځیو څخه فارغیدلو له کبله د هغو فارغ التحصیلان په مادي او معنوي لحاظو ښاد یږي. د پوهنځیانو مجموعې ته چې په هغو کې د علومو بیلې څانګې تدریس کیږي پوهنتون، دارالعلوم او دارالفنون ویل کیږي.

# اسلامي لومړني پوهنتون (مساجد)

دغه لکه د ژوندانه نور واقعیتونه په یو وار نه دي پیدا سوي بلکه یو په بل پسې یې تکاملي پړاونه وهلي او دوړ وستي تحول مرحلې ته رسیدلي، چې له هغو څخه په پنځمه پیړۍ کې اسلامي مدرسې پیدا سوې. څرنګه چې د اسلامي پوهنتونو د حیات دوره یو له بله توپیر لري، نو د هغو د فعالیت او نهضت طرز او د بریالیتوب صورتونه هم یو له بله سره بیل دي او ځانته علمي او تاریخي حیثیت لري.

## عمومي پوهنتون

دغه ډول د پوهنې ځای دیوه داسې مسجد سره شباهت لري چې خلص منفرد نه لري، زده کړه یې عنعنوي او تاریخي ریښې لري، چې اسلامي دعوت د هغه لومړنۍ ریښې جوړ وي. او له همدغې بیټې څخه یې رشد او وده موندلې ده.

## اکادمي

د اکادمۍ څخه مطلب دادی چې په معنی کې د علم زده کړه د کتابخانو، بیت الحکمه او دارالعلوم د لاري څخه په سر رسیږي. دغه ډول مرکزونه خارجي بنه لري او د یوناني مؤسسو د مقرراتو او قوانینو له مخې یې چارې مخې ته بیول کیږي او د همدغې لاري څخه د غیر اسلامي ثقافتونو او تهذیبونو سره اړیکې نیول کیږي.

اکادمي اصلاً یوه یوناني کلمه ده چې تدریس ځای ته ویل کیږي، دغه تدریس

ځای دیوه میل په فاصلې د (اتن) په شمال لویدیځ کې پروت او داتن د پخوانی قهرمان (واتل اکادمیس نومې پوهړی) اړه لري، او په پای کې پنځوس کاله د افلاطون د تدریس او تفرج ځای وګرځید. د اتن دغه پوهنځی تر نهمې عیسوی پیړی پورې دا کادمۍ په نوم بیله کومې وقفې دوام درلود ترڅو چې د جستینین د حکم له اثره له منځه ولاړ. (۱)

په افغانستان کې د (۱۳۴۵ هـ ش) کال راهیسې د پښتو ټولنې، د تاریخ ټولنې د دائرة المعارف د علمي مؤسسو د ګډون څخه د افغانستان اکادمۍ په وجود راغله او دغه علمي درجې یې درلودې:

څېړونکی، څېړنیار، څېړنوال، څېړندمل، څېړندوی، څېړنپال.

د دغې علمي او تحقیقاتي مؤسسې نوم په کال (۱۳۵۷) کې د افغانستان د علومو داکادمۍ په نامه واوښت او یو شمیر نورې علمي مؤسسې لکه طبیعي علوم تاریخي حفریات، موزیمونه او د لمرد لا براتوار په ګډون په دغې کې ور اضافه سوې. او د علمي کارکوونکو لپاره علمي رتبې د کاندید محقق څخه بیا تر سر محقق پورې ور وټاکل سوې.

له دې څخه پرته دوې نورې علمي رتبې هم سته چې د اکادمیسن د کاندید او اکادمیسن په نامه یادیږي.

دغې رتبې په دنیا کې هغو پوهانو ته ورکول کیږي چې په خپله رشته کې د ابتکار خلاقیت او اختراع مصدر ګرځیدلي وي.

---

(۱) دائرة المعارف - دریم ټوک ۹۶۹ مخ چاپ ۱۳۳۷

# دوهم فصل

## د فقې ځينې مهم اصطلاحات

**اسلام** :- عربي کلمه او متعدي مصدر دی چې د اطاعت، فرمانبرداري ېير تر اېښودلو، دیو دين د غوره کولو، منلو او داسې نورو په معنی استعمالیږي داهغه دين دی چې خدای تعالی په شپږمه میلادی پیړی کې د انسانانو د هدایت او نیکمرغۍ له پاره پر حضرت محمد (ص) د جبرائیل امین په واسطه نازل کړی او مسلمانانو ته په زړه او خوله منل سوی دی. لکه چې فرمايي:

(وما ارسلناك الا كافة للناس). ترجمه: موږ ته نه یې لیږلی مګر لیږلی یې د ټولو انسانانو لپاره. همدا شان فرمايي:

قالت الاعراب امنا قل لم تؤمنو ولكن قولوا اسلمنا ولما يدخل الا يمان في قلوبكم حجرات ۱۳ -

ترجمه: صحرا نشينانو وويل: موږ ايمان راوړی دی وهغوی ته ووايه تاسې ايمان ندی راوړی بلکه کولای سی ووایاست، تسلیم سوو او ايمان تر اوسه ستاسو په زړو کې لاره نه ده موندلې.

پیغمبر (ص) فرمايي: الاسلام هو التسليم.

ترجمه: اسلام د تسلیم په معنی دی. (۱)

**مسلمان** :- دغه کلمه اسم ذات نه بلکه صفت دی او د اسلام د پیروانو

ښغه پر تر بل چا ته نه استعماليږي. لکه چې فرمايي:

ماكان ابراهيم يهوديا ولا نصرانيا ولكن حنيفا مسلما.

ترجمه: نه ؤ ابراهیم یهودي او نه نصراني لاکن پاك او مسلمان ؤ

---

(۱) معارف و معاريف لومړی توك ۱۰۹ صفحه

فرهنك فارسي - ډاكتر محمد معين ۲۷۲ صفحه

حنیف او مسلم :- حضرت ابراهیم (ع) خپل ځان حنیف او مسلم ګڼلی دی د حنیف معنی دا ده چی نوری باطلی لاری یی پری ایښی دی او د حق لوی لاری غوره کړی ده. لکه چی فرمایی :
ماکان ابراهیم یهودیا ولا نصرانیا ولکن حنیفا مسلما وماکان من المشرکین
مسلم :- هغه چا ته ویل کیږی چی د الهی حکم تابع او فرمانبردار وی. چا چی ځان د ټولو باطلو شیانو څخه ژغورلی او بیا زړه یی حضرت احدیت او حق ته ځان سپارلی وی. لکه چی د حضرت ابراهیم په هکله فرمایی :
اذ قال له ربه اسلم قال اسلمت لرب العالمین .
قرآن :- په لغت کی مصدر د قراءت یعنی لوستل په معنی دی، او په عام عرف کی د خدای د کلام مقروٌ بالسنة عباد د معنی مجموعی لپاره استعمالیږی. قرآن د خدای تعالی لخوا پر حضرت محمد (ص) باندی نازل سوی کتاب دی قرآن په مصحفونو کی لیکل سوی او بی له شبهی په متواتر نقل د حضرت محمد (ص) څخه را نقل سوی او د اسمانی کتابونو وروستنی کتاب دی چی د حوادثو او ضرورتونو له مخی د (۲۳) کالو په موده کی نازل سوی او خدای تعالی یی له تغیره تبدیل او تحریف څخه د ساتنی وعده فرمائلی ده لکه چی فرمایی :
انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون .
ترجمه :- په تحقیق سره موږ د قرآن نازل کړی دی او موږ یی ساتونکی یو .
د نازلیدو د لحاظ د قرآن لومړی ایتونه د (اقرا باسم ربك الذی خلق) سورة دی او وروستنی ایت یی : الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم و رضیت لکم الاسلام دینا ) دی
ترجمه : یعنی نن می کامل او بشپړ کړی ستاسی دین او تمام می کړ پر تاسو باندی خپل نعمت او د دین له لحاظه تاسی ته په اسلام راضی سوم .
هغه وخت چی د اقرا سورت یعنی د قرآن لومړنی سورت نازلید، حضرت محمد په مکه کی د حرا په غار کی د خدای په عبادت بوخت وُ او تر هغه وروسته د حوادثو او ضرورتونو له مخی کرار کرار نازلیده .

حضرت محمد (ص) د قرآن د لیکلو لپاره کاتبان ټاکل چې د وحې کاتبان یې بلل
د وحې ستر کاتبان حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عثمان (رض)، حضرت علی (رض)
زبیر بن عوام (رض) او ابی ابن کعب الاخبار (رض) نومیدل.
جبرائیل د قرآن راوړونکی او حضرت پیغمبر (ص) ته یې ویل چې پلانی
آیت دی په پلانی ځای کې، په همغه ترتیب چې اوس قرآن په همغه ډول مرتب
او منظم دی کښیښودی، خود قرآن د سورتونو ترتیب لکه چې زیاتره پوهانو
ویلی دی د صحابه و (رضی الله عنهم) اجتهادی امر دی، او په قرآن کې
احکام، قصص، امر و نهی، وعده او وعید راغلی دی. ناسخ او منسوخ
آیتونه هم لري، قرآن کریم پر اوو منزلو، دیرشو سپارو او یوسل او څوا
رلسو سورتونو ویشل شوی دی د فاتحې په سورت شروع او د والناس په سورت
یې ختم شوی دی، قرآن کریم شپږ زره شپږ سوه او شپږ شپیته ایته، او پنځه
سوه او څلویښت رکوعې دی.
قرآن کریم په نظم او معانی کې معجز دی. د غه اسمانی کتاب د ټولو علومو
اصل دی، د کلام علم، د فقه او فقې د اصول علم، د نحو علم د لغت علم په دنیا کې
د زهد او تقوا علم، د اخرت اخبار، د اخلاقو مکارم ټول له قرآن کریم
څخه اخیستل شوی دی.
آیت :- د عربو په کلام کې بیلې معناګانې لري. او د علامې په معنی هم
استعمالیږي، لکه په دی ایت کې:
ان آیة ملکه ان یاتیکم التابوت.
ترجمه: د طالوت د پاچاهي علامه ده چې تاسو ته به تابوت راشي.
. د هم د دلیل په معنی دی، لکه په دی ایت کې:
وآیة لهم الارض المیتة احیینا ها.
ترجمه: یو د خدای د وجود او قدرت له دلایلو څخه مځکه ده چې ژوندی
مو کړه د نباتاتو په زرغونولو.
دریم د معجزې په معنی ده لکه چې په دی آیت کې:

فان استطعمت ان تبتغي نفقا في الارض او سلما في السما فتاتيهم به آية
یعنی که غو بنتی یې یو هنفذ په مځکه کی یا یوه ځینه اسمان
ته چې راوړی د وی ته یوه معجزه .

څلورم د عبرت په معنیٰ لکه پدی آیت کی .
ان في ذالك لاية .
ترجمه: په تحقیق سره چې په تیره قصه کی عبرت دی .
پنځم د عالی او مشید عمارت په معنیٰ لکه پدی آیت مبارک کی :
آتبنون بكل ريع آية .
ترجمه:
یعنی جوړوی په هر لوړ ځای باندی عمارت د مسافرو له پاره .
د قرآن کریم آیت څو قرآنی کلمی دی چې د بلی برخی څخه په فصل او
مخصوصه علامه امتیاز لری چې مفسرینو یې په بیلو عبارتونو تفسیر کړی
ځینی وایی آیت د قرآن کریم یوه برخه ده چې په سوره کی یې شپږ حرفونه دی
لکه : الرحمن .
ځینی وایی چې آیت د قرآن کریم یو څو حروفه دی چې له ماقبل او مابعد
څخه یې انقطاع د حضرت رسول د توقیف او سماع څخه څرگند یدلای
سی او عقل د قرآن کریم د آیتونو د تجزیې څخه معذور دی
ځینی مقطعات حروف آیت نه بولی او د آیت لږ حد شپږ حرفه گڼی .
ځینی مقطعات حروف مستقل آیت گڼی ، په سورت کی یې اقل حد یو حرف
او په تلفظ کی دری حرفه بولی .
قبله :- هغه خوا چې په لمانځه کی مخ هغی خواته وی قبله یې بولی ، مسلمانان
خپله قبله د کعبی خوا بولی ، یهود او نصارا یې بیت المقدس .
د اسلام په ابتدا کی مسلمانانو هم د بیت المقدس خواته لمونځ کاوو
خو د اسلام د پیغمبر حضرت محمد (ص) د اخوښه وه چې د کعبی خواته

چې د ابراهیم (ع) قبله وه او تر بیت المقدس یې قدامت درلود لمونځ وکړي
او په دې هکله تل دخدای تعالی امر ته منتظر ؤ .
نو خدای تعالی دهغه نیاز او دعا قبوله کړه او دا آیت نازل شو .
قد نرئ تقلب وجهك في السماء فلنولينك قبلة ترضها فول وجهك شطر المسجد
الحرام . ترجمه : په تحقیق سره وینو موږ گرځول دمخ ستا په طرف د اسمان
نو موږ به وگرځو وهرومرو هغې قبلې ته چې ته یې خوښوې نو وگرځوه
مخ یعنې خپل ټول بدن د مسجد الحرام خواته چې په کعبه ور پورې دی .
د هجرت د دوهم کال د رجب المرجب د میاشتې په پنځلسمه د دوشنبې په
ورځ حضرت محمد (ص) د بنی سلمه په مسجد کې د ماپښین دوه رکعته لمونځ
د اصحابو سره په جماعت کړی ؤ چې د بیت المقدس څخه د کعبې خواته د قبلې
د گرځولو حکم نازل سو ، د لمانځه په منځ کې یې د بیت المقدس څخه مخ وگرزا
وه او د کعبې خواته متوجه سو ، نو ځکه هغه مسجد په ذی قبلتین شهرت وموند
د مسلمانانو د ټولو مذاهبو په اتفاق په لمانځه کې و قبلې ته مخامخ دریدل شرط
دی .
<u>دعا</u> :- د مسلمانانو زړه په دعا ډاډه او تسلي کیږي او دعا د مسلمانانو
د ټولو عباد تونو ، او غوره شعایرو څخه گڼل کیږي . خدای تعالی هم
مسلمانان په استغفار او دعا کولو امر کوي لکه چې فرمایي :
الا بذکر الله تطمئن القلوب .
ترجمه : په تحقیق د مؤمنانو زړه ونه دخدای تعالی په ذکر او فکر اطمینان
مومي او بس .
څرنگه چې د بنده د ټولو مادي او معنوي احتیاجاتو رفع په خدای تعالی
اړه لري ، نو خدای تعالی د خپلو بندگانو په خواست او زاری خوشاله
کیږي او د قبلولو یې وعده ورکوي لکه چې فرمایي :
ادعوني استجب لکم .
ترجمه : زما څخه یې وغواړئ چې دریې کړم

هغه بدنی عبادتونه چې پر مسلمانانو فرض سوي دي د هغو زياته برخه د دعا مفهوم لري، د مثال په توګه لمونځ چې په هغه کې د فاتحې سورة لوستل واجب دي نيمې يې د خدای ثنا او پاته يې دعا او مطالبې دي.

په او متقي مسلمانان د عبادت د فريضې د ادا کولو وروسته زياتره ماثوري دعاګانې کوي. دا هغه دعاګانې دي چې په قرآن عظيم کې راغلې او يا د حضرت رسول الله څخه اوريدل سوي دي. د دغو يوه مشهوره دعا دا ده:

رب اغفرلی ولوالدی ولابنائی ولاخوانی ولاهل بيتی وذريتی، وللمؤمنين والمؤمنات والمسلين والمسلمات الاحياء والاموات،

اللهم ارزقنی ايمانا يباشر قلبی ويقينا صادقا حتی اعلم لا يصيبنی الا ما کتبت لی ورضينی بقضائك واعنی علی الدنيا بالعفة والقناعة وعلی الدين بالطاعة وطهر لسانی من الکذب وقلبی من النفاق وعملی من الرياء وبصری من الخيانة فانك تعلم خائنة الاعين وما تخفی الصدور.

ترجمه: ای ربه! ما وبخښه! زما مور او پلار او لادونه، ورونه، د کورني غړي، لمسيان، مؤمنان او مؤمنانې ښځې، مسلمانان او مسلمانې ښځې وبخښه!

ای لويه خدايه! زموږ داسې ايمان په نصيب کړه! چې تل مې په زړه کې وي، داسې رښتينې يقين راکړه! چې پوه سم چې هيڅ تکليف بې له ستا اجازې څخه را رسيږي ستا په قضا رضا را په برخه کړه! په دنيا کې پاکي او قناعت راکړه! د دين په احکامو اطاعت راکړه! ژبه مې له دروغو څخه پاکه کړه! زړه مې د نفاق څخه پاك وساته! عمل مې د ريا څخه پاك کړه! سترګې مې د خيانت څخه وساته! ځکه چې ته د سترګو په خيانت او هغه شي چې په سينو کې پټ دي ښه پوه يې.

حضرت محمد (ص) ته به چې کوم مشکل پيښ سو نو لمانځه او دعا ته به يې پناه وړه. د حضرت محمد (ص) لمونځ يوازې د لمانځه د شکل اداکول او وجايبو پر ځای کول نه و بلکه هغه به په لمانځه کې د خدای تعالی سره مناجاتو کې ښې غرقيدی او کله چې به د لمانځه وخت رسيدی هغه به په هوسيدی او موذن ته به يې په ډير شوق او بې صبری فرمايل:

ارحنا بها یا بلال. ترجمه: بلال له ارام می کړه. او د یو بل ځایه بری هم داسی فرمایل.

جعلت قرة عینی فی الصلاة. ترجمه: د سترګو نور زما لمونځ دی.

حضرت محمد به د مشکلاتو او سختیو په موقع کی هر کله دغه دعا کوله

اللهم رب السموات و رب العرش العظیم، ربنا و رب کل شیٔ فالق الحب والنوی، منزل التوراة والانجیل، والقرآن، اعوذ بک من شر کل دابة انت اخذ بناصیتها انت الاول، فلیس قبلک شیٔ وانت الاخر فلیس بعدک شیٔ وانت الظاهر فلیس فوقک شیٔ وانت الباطن فلیس دونک شیٔ، اقض عنی الدین، واغننی من الفقر.

ترجمه: - ای د او واسمانونو خدایه او د عظیم عرش پروردګاره زموږ او د ټولو شیانو خدایه! د دانو او مغزونو چاودیدونکی! د تورات انجیل، او قرآن نازلیدونکی! تاته پناه وړم د محرک شیٔ د شر څخه چی د هغوی هستی ستا پلاس ده.

ته اول یی او ستا مخبر هیڅ شیٔ نه ؤ، ته اخر یی او ستا وروسته شیٔ نشته ته ظاهر یی او تر تا سنبه بل شیٔ نشته، ته باطن یی او کښته تر تا بل شیٔ نشته زما پور ونږ اداکړه، ماله فقره وژغوره او بی نیازه می کړه.

<u>ملت</u>: - په پخوانیو عربو کی دغه کلمه پر هغو خلکو اطلاقیدیچی یوی قبیلی او یا نژاد نه به منسوب وو او کله به یی د دغی کلمی په عوض کی په مترادفه د اشعب کلمه هم استعمالوله. خو هغه وخت چی د جاهلیت دوره د اسلام د مبین دین په راتلو له منځه ولاړه او د خدای تعالی د وحدانیت، بشر دوستی مدنیت او بشری ژوند د ترقی پر مختګ او ښکمرغی له پاره د انسانانو په منځ کی د نساند او همراهنګی فکر وروزل سو، نو د ملت کلمی ښه تحقق وموند لکه چی خدای تعالی فرمایی:

فاتبعوا ملة ابراهیم حنیفا.

ترجمه: د ابراهیم (علیه السلام) د ملت متابعت وکړه. په قرآنکریم کی

دحضرت ابراهیم د قصې دهرې کلمې څخه داڅرګندا و ثابتیږي چې هغه جناب دالله تعالی په حضور خپل سر او مال د تسلیمۍ او انقیاد په روحیې څرنګه بخښلی ؤ او دهغه درضا ٬ او خوښۍ له پاره یې خپل زوی حضرت اسماعیل ذبح او قرباني کاوه .

ملت په حقوقي اصطلاح د انسانانو ټولنه ده چې ځان ته خاوره ، مشترک تاریخي ، ثقافتي او سیاسي سازمانونه او اساسونه ولري او دیوه قدرت او حکومت تابع وي . د کلاسیکو او پخوانیو نظریاتو له مخې چې د فرانسې د لوی انقلاب څخه نشئت کوي ملت د هغو افرادو ټولنې ته ویل کیږي چې حقوقي شخصیت ولري او د ولت یې جوړ کړی وي او د حاکمیت د حقوقو خاوند وي.

دبین المللي عمومي حقوقو له مخې ملت د انسانانو د افراد و یو ټولنه ده چې په ټاکلې خاوره کې ژوند کوي ، او د ژبې ، نژاد او مذهب د وحدت خاوندان وي او د غه علایق یې یو د بله د ومره پیاوړي سوي او مضبوط سوي وي چې مشترک تاریخ ، فرهنګ ، اقتصاد او کلتور ځنې په وجود راغلي وي د تفکیک تبعیض او تجزیه لاره پرې بنده وي .

<u>حزب</u> :- دغه یوه کلمه ده چې قرآن کریم د مسلمانانو وهغې ټولنې ته استعمال کړي ده چې دیوې عقیدې مسلک او اصول پیروان وي .

<u>امت</u> :- د امت کلمه د حزب په مفهوم هم استعمالیږي او هغې ټولنې ته وایي چې پر یو جامع داسې امر راغونډ سوي چې د ژوند هدف یې دحزب پر ټاکلي اصولو بنا وي لکه چې فرمایي :

کنتم خیر امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر وتؤمنون بالله .

ترجمه : تاسې ډیر ښه امت یاست چې د نوع بشر لپاره راوتي یاست و ښو کارونو ته دعوت کوي او له بد وکارونو څخه یې راګرځوي او پر خدای ایمان لري .

**جماعت**:- د جماعت کلمه د حزب په معنی د مسلمانانو د اجتماعي حیثیت دا عادي لـه پاره اسـتعمالیږي .

**شریعت**:- په لغت کې شرعة الماًته وايي ، یعنی د اوبو د څښلو ځای ، مګر په اصطلاح کې هغو اقوالو ، اعمالو او احکامو ته ویل کیږي ، چې حق تعالی د پیغمبرانو په خوله پر خپلو بندګانو نازل کړي دي او د دوی د ژوندانه د چارو د سمون او بقا موجب ګرځي

# حلال ، حرام او مکروه

**حلال**:- هغه دي چې په هغه کې کوم محظوریت نه وي او د خدای تعالی د امر لـه کبله هغه پر ځای کیږي .

**حرام**:- د خدای تعالی هغه امر دي چې نهي (نه کول) یې حتمي ګرځولی ده نو کـه څوک خلاف د هغه عمل وکړي د قیامت په ورځ د عذاب او عقاب وړ ګـرځي او په دنیا کې هم کله په شرعي مجازاتو محکوم کیږي .

**مکروه**:- هغه وخت چې شارع (شریعت پالونکی) یا (خدای تعالی) د یو شي په نسبت نهي او منع کوي او نهي یې حتمي نه وي هغه شي ته مـکروه ویل کیږي مکروه تر حرامو په کښته درجه کې راځي ، جرم او ګناه یې د حرامو په اندازه نه ده ، خو پر هغه باندې دوام امکان لري دیو چا د سرکښۍ او د حرامو کارونو کولو باعث وګرځي .

## په اسلام کې د حلال او حرام اصول او قوانین

۱- د شیانو اصل د هغو په حلال کیدلو اره لري .

۲- د شیانو حلال او حرام کیدل یوازې د خدای تعالی په امر اره لري .

۳- د حرام حلال کول او د حلال حرامول د شرک سره برابر دي .

۴- د خدای تعالی له خوا څخه د شیانو تحریمول د هغه د ناوانو او ناپاکیو په نسبت دي .

٥- حلال په هغه اندازه موجود دی چی انسانان و حراموته اړ نه کیږی.
٦- هرهغه شئ چی د حرامو مقدمه (سریزه) وی او انسان د حرامو په خوا هڅوی حرام دی.
٧- حرام په حیله او دسیسه نه حلال کیږی او داډول حیله حرامه ده.
٨- حسن نیت (ښه انګیرنه) حرام حلالولای نه سی.
٩- د دی له پاره چی د حرامو څخه څوک وژغورل سی، باید د مشکوکو او شبهی لرونکو کارونو د کولو څخه ځان لیری وساتی.
١٠- هغه چی حرام دی د ټولو له پاره حرام دی (عمومیت لری).
١١- کله ضرورت او اجبار حرام مباح کوی.

## خدای تعالی د غه شیان حرام کړی دی

لکه چی خدای ج په دی هکله په قرآن عظیم الشان کی داسی فرمایی:
حرمت علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل لغیرالله به والمنخنقة والموقوذة والمتردیة والنطیحة وما اکل السبع الاماذکیتم وماذبح علی النصب.
ترجمه:- حرام کړی شوی دی پر تاسو خوراک د مردار حیوان او د وینی، او غوښی د خنځیر، او د هرهغه حلال کړه سوی حیوان چی او ازکړه سوی وی بی له نامه د الله پاك د بل شئ، او د خپه کړه سوی او د کوټك او د نوړو وهلی سوی او د غوځیدلی له پورته کښتی ته، هغه حیوان چی د بل حیوان په ټکر ووژل سی، هغه حیوانان چی د بل ځیرونکی او درنده حیوان په واسطه ووژل سی، مګر هغه حیوانان چی د ضربی او یا تصادم له کبله زخمی او ټپی سی او سایی نه وی ختلی کـه په دغه وخت کی ذبح سی حلال دی.
حیوانان چی د بتانو د خوښی له پاره قربانی کیږی حرام دی.
همداشانی حضرت رسول الله (ص) د یو سوال په ځواب کی د مردار شوحیوانانو څخه ماهی او ملخ استثنا فرمایی او وایی:
قال هوالطهور ماؤه اکل میته.

ترجمه :- او به پاکونکی دی او مړه حیوانان یی حلال دی .
حرام د مجبوریت په وخت کی بیل حکم لری لکه چی الله پاک فرمایی:
فمن اضطر غیر باغ ولا عاد فلا اثم علیه ان الله غفور الرحیم .
ترجمه : هغه کسان چی چاره نلری او مجبور دی ، او د نفسی خواهشاتو پیروی نه کوی ، او د ضرورت زیات تجاوز نه کوی ، د دغو حراموشیانو خوړل د دوی له پاره حلال او گناه نه لری . بیله شکه خدای تعالی بخښونکی او مهربان دی .

## د شراب او قمار حرمت (حراموالی)

اسلام په خپلو هدایاتو کی په تدریجی ډول شراب (خمر) په دریم تپال حرام کړی دی . لکه چی الله پاک پدی هکله فرمایی :
د شراب وضرر د گټی څخه ډیر دی ، لمونځ د نشی په حال کی مه کوی .
وروسته په دغه آیت سره سخت منع سوی دی :-
یا ایها الذین آمنو ، انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون انما یرید الشیطن ان یوقع بینکم العداوة والبغضا ٔ فی الخمر والمیسر ویصدکم عن ذکر الله وعن الصلاة فهل انتم منتهون .

ترجمه : ای هغو کسانو چی پر خدای او د هغه پر اوامرو ایمان لری یقین ولری چی شراب او قمار او هغه بتان چی د هغو له پاره قربانی ورکوی ، د نخښو په واسطه گټه اخستل او بخت ازمویل بد او نجس دی . او د شیطان د کارونو څخه دی ، نو ځکه باید د هغو څخه لیری سی چی په دنیا او آخرت کی یی د شر څخه خلاص سی . په رښتیا شیطان غواړی چی د شراب او قمار په واسطه په تاسو کی دښمنی او مخالفت راولی او تاسو د خدای د ذکر او د خدای سره معنوی ارتباط او او لمانځه څخه راگرځوی .
ایا تاسو د دغه ناوړه کار څخه لاس نه اخلی .

## د ږیرې پرېښودل

افغانان د ږیرو تاریخي زمانو راهیسې د ږیرې د پرېښودلو سره عادت لري او په پخوانیو زمانو کې داسې لوی لوی او بزرګوار افغانان ډېر لږ پیدا کېږي چې ږیره یې نه وي پرې ایښې. حتی متل دی چې نارینه په ږیره او ښځه په ټیسول او زینت ښه ایسي، اسلام هم ږیره پرېښودل او نه خریل تائید کړي دي. لکه چې بخاري شریف د ابن عمر څخه روایت کړی چې حضرت رسول (ص) فرمایلي دي.

خالفوا المشرکین وفروا اللحی واخفوا الشوارب.

ترجمه: د مشرکینو مخالف عمل وکړئ، ږیرې پرېږدئ او بریتونه لنډ کړئ. په بل روایت کې داسې راغلي دي.

اي ترکها وابقائها.

د دغې کلمې تفسیر (وفروا) په حدیث کې د ږیرې توفیر یعنې نه خریل او پرېښودل دي، په دغه حدیث شریف کې راغلي دي چې د ږیرې نه خریلو فلسفه د مشرکینو سره د مخالفت له جهته دی. اسلامي عالمان وایي:

چې د ږیرې پرېښودل دا معنی نه لري چې د هغې طول او عرض ته دې هیڅ لاس ور نه وړل سي او پر هره خوا چې ځي ولاړه دې سي، بلکه پاکه ساتنه د اوږد والي او پسور برابر ول او پالل یې لازمي امر دی.

نیاتو اسلامي عالمانو د ږیرې خریل حرام ګڼلي دي او د حضرت محمد په دغه حدیث. فان من تشبه بقوم فهو منهم:

ترجمه: که چا د یو قوم پیښې وکړې هغه د هغه قوم څخه شمېرل کېږي د، تطبیق ټینګار کوي. خو او سنیو ځینو عالمانو څکه چې د ږیرې خریل په مسلمانانو کې باب او رواج ګرزېدلی، او د انجام سوي کار سره مخلمځ سوي دي د ږیرې خریل یې مباح کار ګڼلي دي. او وایي چې د حضرت پیغمبر ږیره پرېښودل او ساتل د هغه د عادې چار وڅخه دي او په شرعي لمور وکې د پیغمبر لاره باید تعقیب سي. د لوړ تنې تفسیر څخه څرګند یږي چې

د ن یري پر لیبنود لو او نه پر لیبنود لو په هکله بیلې نظر یې سته :
یو یې د حرام ید لو طرفداري کوي چې ابن سیمه او نور یې طرفداران دي.
بل یې د مکروه کید لو طرفدار دی چې قاضي عیاض په کتاب الفتح کی راوړی دی
معاصر عالمان یې مباح بولي پر لیبنود ل او نه پر لیبنود ل یې ثواب او عقاب
نه لري، خو یو شمیر متاخر ملایان د زیاتود لا یلو د راوړ ولو و ړوسته
د غه امر سنت گڼي نه واجب .

**فرض** :- د خدای تعالی امر دی، نه پرځای کول یې لویه گناه ده او څوک چې
منکر یید ل یې کفر دی .

**واجب** :- د لازمي او حتمي په معنی دی، هغه نیک عمل دی چې بیله دهغه د
شرایطو په نظر کې نیولو نه پرځای کیږي، نه کول یې گناه او څوک چې منکر یید ل
یې کفر نه دی. واجب پر تعبدي، توصلي، کفایي، شروط، مضیق، معین
و لیشل سوی دی .

**سنت** :- هغه عمل دی چې حضرت پیغمبر کړی او یایې د کولو حکم ورکړی
وی، او دوه ډوله دی، سنت مؤکد او سنت غیر مؤکد .

**مستحب** :- هغه عمل دی چې حضرت محمد(ص) کله، کله کړي وي، په کولو
یې ثواب مرتب کیږي، او په نه کولو یې گناه نسته. په یوه اصطلاح دغه دفلو
مندوب، تطوع او زواید وسنتو کې هم راځي، مستحب د غیر سنتو
په نسبت زیات ثواب لري .

**مکروه** :- د هغه شئ حراموالی یا بد راتلل دی چې په غیر متواتر یا غیر مشهور
حدیث سره ثابت سوی وي. مکروه دوه ډوله دی: تحریمي او تنزیهي ،
تحریمي مکروه حراموته ډیر نژدې دی، له دې سببه امام محمد(رح)
هغه ته حرام هم وایي .

## سود (ربا)

خدای تعالی جل علی شانه د سود بیا بد حراموالو په هکله په قرآن کریم کی
داسې فرمایلي :

يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربوا ان كنتم مؤمنين فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله وان تبتم فلكم رؤس اموالكم لا تظلمون ولا تظلمون.

ترجمه :- اى هغو كسانو چې ايمان مو راوړى دى، د خداى له عذابه ځخه وويرېږى، د رباد باقيمانده د اخيستلو څخه ځان وساتئ، كه په رښتيا د ايمان خاوندان ياست، كه د دغه كار څخه لاس نه اخلئ، نو تاسى د خداى تعالى او پيغمبر (ص) سره د جنګ اعلان وكړئ، كه د سود اخستلو څخه پښيمانى وكړئ، بيا زى تاسى خپل اصل مال بېرته واخلئ چې نه تاسو ظلم وكړئ او نه پر تاسو باندى نور ظلم وكړى.

ربا يا سود حكم حرام او ناروا بلل شوى دى چې سود خوړونكى د بل چا مال په وړيا او مفته بيله عوضه تر لاسه كوى. لكه چې حضرت محمد (ص) فرمايى:
حرمة مال الانسان كحرمة دمه.

ترجمه :- د انسان د مال احترام لكه د ده د وينى د احترام په شانى دى. په سود خوړلو پورى عادت بيول، خولك د كار او كسب څخه راګرځوى او د ټولنيز وچار ولكه د صنعت، حرفت، كرنى او تجارت د ركود او ځنډ والى موجبات راغوښتوى، او ټولنه د سختى او فلاكت په خوابيايى، سود خوړل په ټولنكى د رحم، عاطفى، مرستى ور وركولو زړينى پرى كوى د پور وركولو. احسان او مرستى زړينى شنډوى، هغه كسان چې پور يا قرض وركوى البته د بډايانو او هغه خولك چې قرض اخلى د فقيرانو او مسكينانو له جملى څخه شميرل كيږى نو كه د دوى په منځ كى دا دول تړونونه مشروع وګڼل سى نو (العياذ بالله) دا معنى لرى چې بډايان كولاى سى په خپلو پيسو هر څه چې يى زړه غواړى هغه د ول خواران او مسكينان استثمار كړى نو دغه عمل د الهى رحمت او مهربانى څخه چې خداى تعالى ارحم الراحمين دى په بېرلېرى او غند لى كار دى.

---

ربا در اسلام، تفسير ايت سوره بقره ۱۵۴- چاپ ۱۳۷۵ فرهنګ اسلامى

په حدیث شریف کې راغلي دي: چې حضرت رسول الله (ص) د سودخوړلو په هکله داسې فرمایلي دي. لعن الله اکل الربا وموکله وشاهدیه وکاتبه.
ترجمه: دخدای لعنت دي پرهغه چاوي چې سودخوري، او یايي اخلي او یاپر شاهدکیږي او یايي لیکي.

## خرافات اوهام او سحر جادو

غیب ویل، جادوګري سحرکول ناروا کاردی او دخدای تعالی پرته هیڅوك په غیبو خبرنه دی. لکه چې د نمل د سورة په (٦٥) آیت کې په دې هکله داسې راغلي دي:
قل لا یعلم من فی السموات والارض الغیب الا الله.
ترجمه: ووایه بیله خدایه څخه هیڅوك هغه چې په ځمکه او اسمانو کې دی په غیب نه دی خبر.

## قتل

په اسلام کې په ناحقه دیو مسلمان وژل کبیره ګناه ده. لکه چې الله پاك فرمایي:
ومن قتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم خالدا فیها وغضب الله علیه ولعنه واعد له عذابا عظیما.
ترجمه: - څوك چې په قصد سره یو مسلمان ووژني جزايي جهنم (دوزخ) دی، او دخدای تعالي په غضب او لعن اخته کیږي، او د رحم څخه بې محروم کیږي، او سخت عذاب د هغه له پاره تیاکل سوی دی.

## زنا

اسلام هر هغه عمل چې جنسي غریزه تحریك کړي، د نرا و ښځې په منځ کې د فتني لاره خلاصه کړي، د کورني تاداب او د اجتماعي ژوند مزی سستی کړي حرام بللي دي او د غه ناوړه عمل د مخنیوي لپاره د اسرأ په سورة (٣٢) ایت کې داسې راغلي دي.
زنا ته مه نږدې کیږی، هغه کاروچې انسان زنا ته اړباسي مه کوی پر شتیا زنا لویه ګناه او بده لاره ده.

# لواطت

لواطت لوبر او کبیره گناه ده، څرنګه چې اسلام زنا حرامه کړې ده او ټولې هغه لارې یې بندې کړې دې چې زنا ته خپني پېښېږي، همداشان یې جنسي انحراف یا لواطت (نر مفعول ګرځول) هم حرام کړې او لوبه ګناه بللې ده، په دغه عمل سره اخته کېدل نه یوازې د ښځو حقوق تلف کېږي، بلکه د نر حیثیت او وقار ته هم سخت تاوان رسیږي. خدای تعالی د لوط قوم ته چې خپلې پاکې او حلالې ښځې یې پرېښودلې او په لواطت یې ځانونه اخته کړي وو.

د دوی په هکله په قرآنکریم کې د شعراء په سورة (١٦٥-١٦٦) آیت کې داسې فرمايي:

اتاتون الذکران من العالمین وتذرون ماخلق لکم ربکم من ازواجکم بل انتم قوم عادون.

ترجمه: ایا د تمامې دنیا په خلکو کې تاسې د نر پر جنس تجاوز کوئ، او ښځې چې خدای تعالی ستاسو له پاره پیدا کړې دي، پرېښودې یې، په رښتیا چې تاسې د فطرت څخه منحرف او متجاوز قوم یاستئ.

خدای تعالی په قرآن عظیم کې د لوط قوم متجاوز، جاهل، مسرف، فاسد او محروم بللي دي. د لوط قوم یو عجیب عادت درلود چې د دوی د فطرت انحراف د شعور د رشد او فقدان، اخلاقي انحطاط، فساد او د سلیقې خرابوالی د هغه څخه څرګندېږي، هغه د میلمنو سره لواطت کول دي چې د دغه میلمانه د عذاب ملائکې وې، چې خدای تعالی د دوی ته د ښاغلسته هلکو په څېر ګرځولي او د دوی د از مولو او سند هوند لو له پاره رالېږلي وي لکه چې د هود د سورت په (٧٧ - ٨١) آیت کې داسې راغلي دي:

ولما جاءت رسلنا لوطا سیئ بهم وضاق بهم ذرعا وقال هذا یوم عصیب وجاءه قومه یهرعون الیه ومن قبل کانوا یعملون السیات قال یاقوم هؤلاء بناتی هن اطهر لکم فاتقوا الله ولا تخزون فی ضیفی الیس منکم رجل رشید قالو لقد علمت مالنا فی بناتک من حق وانک لتعلم ما نرید قال لو ان لی بکم قوة او آوی الی رکن شدید قالوا یالوط انا رسل ربک لن یصلوا الیک......

ترجمه: هغه وخت چې زما استازي لوط ته راغلل، لوط نا آرامه سو، او اوقات یې تریخ سو، ویې ویل: نن ورځ فاجعه ده، په دې حالت کې یې قوم په چټکۍ او حرص لوط ته راغي، او د ډیر وخت د مخه څخه پر فساد او ناروا کارونو اخته وو، لوط ورته وویل: ای زما قومه، دغه زما لوڼې دي او پر نکاح یې کړي، دوی ښې او پاکې دي، د خدای له پاره پرهیز وکړي د دغو میلمنو په مخ کې ما مه شرموي، مگر یو پوه سړی ستاسو په منځ کې نسته چې د دغه بد کار څخه تاسي را وگرځوي، قوم یې ورته وویل:
ته خپله ښه پوهیږې چې موږ ستا د لوڼو سره کوم کار نه لرو، او په خپله ښه پوهیږې چې موږ څه شئ غواړو، لوط ورته وویل کاشکې، ما دومره قدرت درلود لای چې تاسي مې د دغه کار څخه را گرځولی واست او یا داسي دامان او پناځای می درلود لای چې هلته پټ سوی وای، او ستاسي د فساد د شر څخه ژغورل سوی وای، د لوط میلمنو ورته وویل: ای لوطه موږ د خدای استازي یو، او دوی به پرتا او ستاسو پر میلمنو بری نه کړي پیدا.
اسلامي علما د دغه بد عمل د (حد) په حکم د نظر اختلاف لري، آیا څوک چې د دغه ناوړه عمل مرتکب وگرځي حکم یې د زنا د حکم په شانې دی، او د زنا حد بانده جاري شي؟ یا فاعل او مفعول دواړه ووژل سي؟ په دې حکم چې په کومه وسیله ووژل سي هم اختلاف سته، آیا پر تورو؟ یا پر اور یا د لوړ ځای را ایلېږي؟ دغه شدید او داسي عذاب حکم ورکول کیږي چې اسلامي ټولنه د داسي فاسد او مضر عمل څخه چې بد بختي او فلاکت راولي بیخي نجات وموي.

# څلور یاران (راشده خلفا)

## حضرت ابوبکر صدیق:

نوم یې عبدالله د پلار نوم یې ابي قحافه عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن کعب بن لوي بن غالب قرشي تمي وو چې په مکه مکرمه کې زیږېدلی وو، د ده عمر د حضرت محمد (ص) تر عمر دوه کاله او څو

میاشتې وروسته ؤ، د مور نوم یې سلمی بنت صخر بن عامر بن کعب او کنیت یې ام الخیر ؤ.

زبیر بن بکار او ابن عساکر د حضرت ابابکر صدیق په هکله وایي دي:
حضرت ابابکر صدیق د قریشو د هغو لسو تنو اشرافو څخه ؤ چې د جاهلیت او اسلام په زمانه کې په یوه هي، صداقت او فدا کارې مشهور ؤ. د ده لقب (عتیق) ؤ، ځینې مفسرین عتیق د عتاقه د کلمې څخه اخلي چې هغه ښکلې صورت او سیرت درلود، ځینې یې د خیر په کارونو کې د پیشتاز، ځینې یې د پاك نسبه او بې عیبه، ځینې یې د اور څخه د نجات موندونکي په معنی اخلي، خو ابن منده او ابن عساکر د طلحه د زوی موسی څخه روایت کوي: ما د خپل پلار طلحه څخه وپوښتل چې ابوبکر ته ولې (عتیق) وایي؟ هغه په ځواب کې راته وویل، چې د ابابکر صدیق د مور اولاد نه پاتې کېدل، هغه وخت چې ابابکر صدیق وزیږید، مور دی بیت المقدس ته بوتلي، مخ یې هغې خونې ته وګرځاوه او بیا یې خواست وکړ: اللهم هذا عتیق فهبه لي. ای لوی خدایه زما دغه زوی د مرګ څخه عتیق او وژغوره تر یې ماته وبخښه.
حضرت محمد هم زیاتره دی د عتیق په نامه یاداوه.
ابو یعلی په خپل مسند او ابن مسعود، او حاکم د حضرت عایشې څخه روایت کوي: په خدای دې زما قسم وي، یوه ورځ زه په خپل کور کې وم، رسول الله او اصحاب زما د کور په شا وخوا کې سره راټول وو، زما او د دوی په منځ کې پرده موجوده وه، هغه وخت چې زما پلار ابابکر د لیرې څخه معلوم سو او حضرت محمد (ص) سترګې بانندې ولګیدې او ویې ویل: سره ان ینظر الی عتیق من النار فلینظر الی ابو بکر.
ترجمه: هغه څوك چې غواړي یو داسې څوك وویني چې د دوزخ د اور څخه عتیق سوی وي د ابو بکر لوري ته دې وګوري.
حضرت ابو بکر د جاهلیت په زمانه کې د صدیق په لقب مشهور ؤ خو ابن اسحق د حسن بصري قدس الله سره العزیز او قتاده څخه روایت کوي چې د لیلة الاسراء) د معراج د شپې په لومړي ځل چې د حضرت محمد د معراج د

شپې په سحار لومړی ځل چې د حضرت محمد (ص) د معراج د سفر تصدیق وکړ
هغه حضرت صدیق ؤ. نو ځکه د حضرت صدیق په نامه مشهور سو، د ابابکر
په کنیت ځکه بلل کیږي چې د ده د اسلام په منلو سره ابتکار وکړ.
د عرب و مشهور شاعر حسان بن ثابت (رض) د حضرت صدیق په مناقبت کې وایي:
اذا تذکرت شجوا من اخی ثقة    فاذکر اخاك ابابکر بما فعلا
په هغه زمانه کې چې ستا زړه او افسوس در په یاد سي د رسول الله له خوا نه د خپل
ورور ابابکر صدیق حال در په یاد کړه چې څه خواري یې لیدلې دي.
خیر البریة تقاها و اعدلها    الا النبی و اوفاها بما حملا
محمد خدای تعالی خپل د بنو، متقي او عادل لوړ و ستانو څخه شمیرلی دی.
هغه چې خدای تعالی خپل نبي ته اعطاکړي یو غړي یې ابابکر ته هم ورکړي دي
والثانی التالی المحمود مشهده    و اول الناس منهم صدق الرسلا
هغه څوک چې د محمد ورو سته د دې په فضیلت قایل سو ابابکر ؤ - او د هغو خلکو
څخه لومړی کس کیږي چې د محمد تصدیق یې کړی ؤ.
ابن عساکر د شعبي (رض) څخه روایت کوي: چې خدای تعالی په درو خصلتونو
سره ابابکر صدیق تر نورو غوره گڼي:
لومړی دا چې د صدیق په نامه یې بولي چې بل یې په دغه نامه نه دی بللی.
دوهم دا چې په هجرت کې د رسول الله سره د غار ملگری ؤ.
دریم دا چې د رسول الله په امر سره یې د مسلمانانو د جماعت امامت کړی دی.
ابن ابی داؤد په خپل مشهور اثر مصاحف کې وایي: د ابی جعفر څخه روایت
دی چې حضرت ابابکر صدیق به د رسول الله سره د جبرائیل خبرې اوریدې او
لیدی به یې نه، حاکم د ابن مسیب څخه روایت کوي: چې حضرت ابوبکر صدیق
د حضرت محمد د مشاور حیثیت درلود، حضرت پیغمبر به زیاتو مسایلو کې د
هغه سره مشوره کوله، هغه وخت چې د صحابه ؤ شمیر اتر دیرشو تنو ته ورسیدی
حضرت ابابکر صدیق و حضرت پیغمبر ته په ډیر ادب عرض وکړ چې اسلام
اعلان کړي: که څه هم حضرت پیغمبر ورته وویل.

چې د اسلام شمیر یې پر کړ دی خو بیایې هم د حضرت ابوبکر صدیق په تینګار اسلام اعلان کړ. دی د قبلې لوري ته ودرید او حاضرینو یې د خدای عبادت او د رسول ورسالت ته رابلل. حضرت ابابکر صدیق د هغو اول العزمه مسلمانانو څخه دی، چې خدای تعالی او رسول یې څو، څو ځله نوم یاد کړی دی لکه چې فرمایي:

ثانی اثنین اذ هما فی الغار اذ یقول لصاحبه لا تحزن ان الله معنا فانزل الله سکینة.

ترجمه: په داسې حال کې چې د وهم تن یې په غار کې وو ویل سو، محمد (ص) چې مه غمګینه کیږه خدای زموږ مرستندوی دی.

دغه غار په جبل الثور کې وُ. شیخ فرید الدین عطار دغه حالت داسې بیا نوي:

خواجه اول که اول یار اوست ثانی اثنین اذ هما الغار اوست
چون سکینه شد زحق منزل بر او گشت مشکلهای عالم حل بر او

مسلم د ابی هریره څخه روایت کوي، یوه ورځ حضرت محمد (ص) و صحابه وُ ته مخ واړاوه او وی فرمایل: ستاسو څخه د چا روژه ده، ابابکر ورته عرض وکړ زما روژه ده، بیا حضرت رسول و فرمایل: نن ستاسو څخه څوک جنازې ته تللی دی، حضرت ابابکر صدیق ورته وویل: زه، بیا حضرت رسول و فرمایل: نن چا ستاسو څخه مسکین ته ډوډی ورکړې ده، بیا حضرت ابابکر ورته وویل ما، بیا رسول الله پوښتنه وکړه نن ستاسو څخه څوک د ناروغ پوښتنې ته تللی دی، حضرت ابابکر ورته وویل زه، بیا حضرت رسول و فرمایل: وجب لك الجنة.

دغه څلور وظیفې چې چا سرته رسولې وي هغه جنتي دی.

حضرت ابابکر صدیق د اسلام د مخه په تجارت لګیا وُ، هغه وخت چې دی مسلمان سو څلویښت زره درهمي درلودل، او دغه ټول یې رسول الله ته په نفقه ورکړه، هغه وخت چې یې د مکې شریفې څخه مدینې منورې ته

د رسول الله سره هجرت كاوه تر ټنځه زره درهمه يې زيات نه درلودل، او هغه يې ټول د اسلام په لاره کې قرباني کړل، حضرت رسول الله د ده په مال کې پوره اختيار درلود، حضرت ابابکر صديق دصحابه وُ د لويو علماؤ او مفسرينو څخه ګڼل کيږي. امام نووي عليه الرحمه په خپل تهذيب کې راوړي دي:

چې حضرت صديق فرمايلي دي. (والله لاقاتلن من فرق بين الصلاة والزكوة لو منعوني عقالاً كانوا انو ونه الى رسول الله (ص) لاقاتل هم على منعه).

ترجمه: په خداى دې مې قسم وي، چې زه له هغه چا سره مقاتله کوم چې د لمانځه او زکوة فرض په منځ کې توپير کوي او په خداى تعالى دې مې قسم وي هغو کسانو چې د رسول الله په وخت کې صدقات ورکول او که اوس دهغو څخه داوښ د زنګانه پړانداز ه مانع سي او وريې نکړي زه به دهغو سره مقاتله وکړم د ابن عمر څخه پوښتنه وسوه چې د رسول الله په وخت کې مسلمانانو ته چا فتوا ورکوله هغه وويل ابابکر او عمر (رضي الله عنهما). د حضرت ابابکر صديق څخه د اسلامي علومو په بيلو څانګو او مسايلو کې يو سل وڅلويښت مستند احاديث روايت سوي دي.

احمد او ترمذي د انس بن مالك څخه روايت کوي چې حضرت پيغمبر (ص) به کله، کله په دعا کې د دغو کسانو نومونه ياد ول: چې خداى دې وبخښي: ابابکر پر ايمان، عمر په انضباط، عثمان په حيا، علي په قضا، معاذ بن جبل په حرام او حلال، ابن کعب په قرائت، ابو عبيده په امامت، ابو ذر په زهد، ابو داؤ د په ډير بښه عبادت، زيد بن ثابت په سختي بخښونکو.

شيخان روايت کوي: هغه وخت چې حضرت عمر د بني ساعده سقيفې په ټولنې خبر سو او د خليفه د ټاکلو په مناسبت د انصارو او مهاجرينو د اختلاف وېره پيدا سوه، حضرت عمر د حضرت صديق او څو نورو صحابه وُ په ملګرتيا هغه ځای ته ورغی او د انصارو نظريات يې د خلافت د استحقاق او يا اقلاً د دوو خليفه ګانو د ټاکلو په هکله واوريدل، ډير خفه سو او غوښته يې د شدت څخه کار واخلي، خو حضرت صديق په خپلو نيکو وصاياؤ او حوصلمنيو

دي په پټې خولې کېنيستلو راضي کړ او د هغوي خواهشات يې پرمخه سينه واوريدل، وروسته حضرت عمر په غرا او زړه راکښونکي وينا او دلائلو او شواهدو د حضرت ابابکر صديق لويې او د خلافت استحقاق په ثبوت ورساو او داېي د قريشو حق وګڼې د ده خلافت يې د ملي آرائ اتحاد، او د اسلام د تقويت او پرمختيا موجب وګاڼه نو ځکه يې تر ټولو د مخه خپل لاس د بيعت په توګه د حضرت صديق خواته وغزاوه او د ده وروسته زبير بن عوام او نورو هم د بيعت لاسونه وړکړه ،

خو ځنګه چې په د غه غونډه کې حضرت علي (کرم الله وجهه) حاضر نه ؤ او د حضرت رسول په تجهيز او تکفين مصروف ؤ، نو په دا بله ورځ يې حضرت علي عمر را وغوښت او د بني ساعده د ټولنې په تصميم او حال نو يې خبر کړ، حضرت علي ورته وويل: ستا په خلافت او امامت کې څه شک او تر ديد نشته او ته د حضرت رسول لمړی يار، ټينګ دوست او ملګری او د اسلام لوی خادم يې، د دغې عهدې دی مبارك سه او موږ په ټولو ستا ملاتړ او اطاعت کوو، خو په يوبل روايت حضرت علي خپل بيعت په رسمي توګه شپږ مياشتي وروسته ور وړاندی کړ بيا حضرت عمر د حضرت صديق د پوهې، صداقت، ايمانداري د خلافت د استحقاق او د رسول الله د قربت او دوستي په هکله غرا وينا وکړه او د اسلام د تقويه او د ده د بريالیتوب له پاره يې دعا وکړه، وروسته حضرت صديق په خپله لمړنۍ خطابه کې مسلمانان داسې مخاطب کړل: د خدای ثنا او حمد دی وی ای مسلمانانو! زه تاسو خپل خليفه وټاکلم، په داسې حال کې چې زه تر تاسو هيڅ زيات او ښه نه يم، که مې ښه اعمال کول، د خدای او رسول پر لاره تلم زما سره مرسته وکړئ، که مې ښه اعمال نه کول، زما د اوامرو اطاعت مه کوئ، او تنبيه مې کړئ او که نوي د خلافت څخه مې ليري کړئ، او خپل اعتماد راڅخه واخلئ، زما سره په صدق ودرېږئ، چې دا د خدای امانت دی، او دروغ ويل خيانت دی، ستاسو پرنانوانه

زما په نزد ډیر توانمند دی چې د هغو حقوق له توانمند څخه واخلم. تاسو باید جهاد پرینږدی هغو قومونو چې جهاد پری ایښی دی الله تعالی هغه خوار کړی دی، که په هر قوم کی فواحش زیات سی الله تعالی بلاوی او مصیبتونه باندی نازلوی، اوس دلما نځه وخت دی، د رځئ چې لمونځ وکړو.

حضرت عبد الرحمٰن بن عوف وایي: هغه وخت چې حضرت ابابکر صدیق خپله خطابه پای ته ورسوله بیایي وفرمایل: چې ماد خلافت او امامت حرص هیڅ نه درلودی، او نه می خوښیدی، او نه می دخدای څخه په ښکاره او پټه د دغې وظیفې خواست کاؤ، خو د فتنې د مخنیوی له خاطره می دغه وظیفه و منله د مسلمانانو خلافت ډیره درنه وظیفه ده او دخدای د مرستې پرته زما له توانه نه ده پوره، تاسو باید د حضرت محمد (ص) د حیات د دوری حالات زما څخه ونه غواړی ځکه هغه دخدای تعالی نازولی پیغمبر ؤ، الهي مرستې معجزات او عالی اخلاق ورسره ملګری وو، د سعادت او نیکمرغی دوره وه تاسو باید په ټولو زما د اعمالو او افعالو مراقبت وکړی او دخدای په لاره کی مرسته راسره وکړی.

## دحضرت صدیق ناروغی

هغه وخت چې د ابابکر صدیق مریضی مخ پر زیاتید وسوه، نو عبد الرحمٰن بن عوف یی را وغوښت او ورته ویې ویل: چې ما له ته زیات د عمر فاروق په حال خبر کړه هغه ورته وویل: چې ته دی تر ما ښه پیژنی، د اسی پوښتنه له زما څخه کوی حضرت صدیق ورته وفرمایل: که څه هم زه دی ښه پیژنم ته هو د ده په هکله څه راته ووایه، عبد الرحمٰن بن عوف ورته عرض کړه: ای دخدای د رسول خلیفه هر څو مره چې د ده په فضائلو پوهیږی بیا هم ترهغو زیات او ښه دی. بیایی حضرت عثمان بن عفان را وغوښت او ورته ویې ویل: چې یا ذی النورین! ما ته د عمر فاروق د فضائلو په هکله څه ووایه؟ هغه ورته وویل: چې ته تر ما زیات د هغه د فضائلو په هکله پوهیږی، بیایی حضرت علی (کرم الله وجهه) را وغوښت او ورته ویې وویل: د حضرت عمر فاروق د شخصیت په هکله

څه راته وایه؟ هغه هم د نورو پرشانی ورته عرض کړه، بیا حضرت ابابکر صدیق دعا وکړه چې ای لویه خدایه! ته عمر ته د دین او دنیا چارې تردې لا ښه وښیئ، د ده باطن تر ظاهر ښه دی، زموږ په منځ کې مثل او نظیر نه لري، بیا حضرت ابابکر صدیق د سعید بن زهد او اسید بن حضیر (رض) سره مشوره وکړه، او بیا یې د مهاجرو او انصارو د لویو مشرانو څخه مشوره واخیسته او ټولو داسې ورته وویل او موافقه یې ورسره وکړه، بیا اسید بن حضیر د ده په حق کې دعا وکړه، چې خدایه عمر ته د خیر د اعمالو توفیق ورکړې، د هغو کسانو څخه چې ته راضي یې په هغوی کې یې وشمیرې د هغو کسانو څخه چې ته ناراضه یې عمر ځني وساته، داځکه چې د عمر باطن تر ظاهر ښه دی. دی د خلافت وړ دی او زموږ له منځه تر ده بل یو په دین او ملابت کې څوک قایم نشته، بیا یوه ډله د صحابهؤ د حضرت صدیق د، ناروغی و پوښتنې ته راغلل چې ولاړ پیدل، یوه حضرت صدیق ته وویل: که خدای تعالی ستا څخه د قیامت په ورځ پوښتنه وکړي چې تا حضرت عمر ولې د، خلافت له پاره ټاکلی دی ته به څه ورته ووایې؟ حضرت صدیق ورته وفرمایل: ته ما د خدای تعالی څخه ویره وی، زه به خدای تعالی ته عرض وکړم، چې ای لویه خدایه ستا د بندګانو څخه می د ډیر ښه ستا په بندګانو خلیفه ټاکلی دی، ته زما دغه وینا نورو خلکو ته ورسوه چې د لته حاضر نه دی، بیا حضرت ابابکر صدیق حضرت عثمان راوغوښت او ورته وې ویل چې ته ولیکه :-

بسم الله الرحمن الرحیم. دا هغه قول او عهد دی چې ابی بکر بن ابی قحافه یې د ژوند په دې وروستیو ورځو کې چې له دنیا بیلیږي او د اخرت په ورځ هر کافر، فاجر وینې څه چې حضرت پیغمبر فرمایل هغه رښتیا کیږي نو دی وروسته ما عمر بن خطاب پر تاسو باندې د خپل لوړې څخه پیخلافت ټاکلی دی، تاسو د ده په قول عمل وکړې، ما خدای تعالی او د هغه رسول د خپل شخصي غرض او نفسي خواهشاتو د په سر رسولو له پاره نه دی خطا ایستلی او تاسی په دې پوه سئ چې ستاسو ښه می په دې وظیفه ټاکلی دی، که

عدل وکړي زه بې په علم او خیال کې خطا و تلی نه یم، او که خدای مه کړه هر څوک چې پوهیږي هغه دې وکړي، زه په دغه حساس حال کې ستاسو د خیر او صلاح هیله لرم، او په غیب نه پوهیږم. ( وسیعلم الذین ظلموا ای منقلب ینقلبون والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ). بیا یې د فرمان کتاب مهر کړ او، حضرت عثمان ته یې وویل: چې خلکو ته یې اعلان کړه، چې خلک د عمر سره بیعت وکړي، بیا یې حضرت عمر راوغوښت وصیت او لارښوونې یې ورته وکړه او خدای تعالی ته یې د عالامس پوري کړ. د خلیفه د ټاکلو وظیفې څخه ستا، ستا د رسول او بندګانو د خوښۍ او رضا څخه پرته بله هیله نلرم، او د نه ټاکلو په صورت یې ویریدم نه چې د اسلامي امت په منځ کې فتنه او فساد منځ ته راولیسي، خدایه ها په دغه عمل کې چېل نهایي توان، طاقت او اجتهاد په کار اچولی دی، ته یې برکت او موفقیت په نصیب کړې، ځکه ستا د توفیق او مهربانۍ پرته هیڅ کار نه سي په سر رسیدلای، خدایه عمر ستا د ښتینو د وستانو او حضرت رسول د رشتینو یارانو څخه دی، د ده ته توفیق ورکړې چې د مسلمانانو دیو والی او ټینګښت په لار کې بریالیتوب و مومي او د اسلام د راشدینو خلفاؤ له ډلې څخه وګرځي، امین

واقدي او حاکم د حضرت عایشې څخه روایت کوي: چې حضرت ابوبکر صدیق د دوشنبې په ورځ د جمادی الاخر په اومه په یخو اوبو غسل وکړ چې بیا ورو سته له هغې تبې ونیوی او پنځلس ورځې یې تبې دوام وکړ او د خرمدی له پاره یې د جماعت د لمانځه دا د اخځه هم واچاوه. دی د سه شنبې په ورځ د جمادی الاخر په (۱۳ هـ) د (۶۳) کالو په عمر وفات سو، او دوه کاله او او میاشتې یې خلافت وکړ، د امام رازي په تفسیر کې راغلی دی: هغه وخت چې صحابه وُ د حضرت ابابکر صدیق جنازه واخیسته او د حضرت محمد (ص) د مقبرې لوري ته یې وړه او عرض یې وکړ: السلام علیکم یا محمد (ص) دغه ابابکر دی چې ستا دروازې ته راغلی دی تاسو د ده د بښخیدلو ځای په هکله هدایت وکړې؟ ناڅاپه د حضرت رسول د حجرې دروازه پرانستل سوه او غیبي آواز سوادخلوا الحبیب الی الحبیب. دوست دوست ته راولی. (۱)

---

(۱) علامه جلال الدین سیوطی - تاریخ خلفا - صفحه (۸۴) د لاهور چاپ ۱۳۳۹

# حضرت عمر فاروق

حضرت عمر فاروق د خطاب زوی دا بن نفیل لمسی دابن عبدالعزی ، کړوسی دابن رباح کوسی دابن عبدالله کودی ، چی هغه بیاد ابن قرط ، ابن ازاح ، ابن عدی ، ابن کعب ، ابن لوی ، ابن سعد ، ابن مالک زوی ؤ ، چی ځلویښت کاله د نبوی هجرت د مخه زیږیدلی ؤ . مور یی خنتمه بنت هشام ابن المغیره نومیده .

عربان په عمومی ډول د عدنان او یا قحطان د اولادی څخه دی ، د عدنان سلسله اسماعیل (ع) ته رسیږی ، د قحطان د اولادی څخه پر یوولسم پښت یو سړی (فهر ابن مالک) نومیده چی ډیر مقتدر او نومیالی سړی تیر سوی دی او هغه کسان چی د قریشو په لقب یادیږی هغه د دغه سړی د اولادی څخه دی .

د قریشو د قوم څخه لسو تنو زیات اعتبار او امتیاز د رلود ، چی د هغو څخه لس نومیالی قبیلی پیدا سوی دی چی هاشم ، امیه ، نوفل ، عبدالدار ، اسد ، تیم مخزوم ، عدی ، جمح ، سمع نومیدل او حضرت عمر فاروق د عدی د اولادی څخه دی ، عدی یو بل وړور درلودی ، چی (مره) نومیده چی د حضرت محمد (ص) د نیکونو څخه شمیرل کیږی ، نو ځکه د حضرت عمر د نسب سلسله په اتم پښت حضرت محمد (ص) ته رسیږی ، د قریشو قبیلی ته د خدای تعالی د کعبی مجاورت او سرپرستی سپارل سوی وه ، په دغه مناسبت یی دینی او دنیوی جاه او جلال درلود او ټولو عربو په احترام او درناوی ورته کتل .

طبرانی د غه حدیث د ابن مسعود او انس بن مالک څخه روایت کوی چی فرمایی :
اللهم اعز الاسلام بعمر ابن الخطاب او بابی جهل بن هشام .

ترجمه : ای لویه خدایه ! د اسلام دین د عمر بن خطاب او یا ابی جهل بن هشام په مسلمانیدو عزیز کړه ، د حضرت محمد (ص) دغه دعا قبوله سوه او عمر په دوه ویشت کلن سن مسلمان سو ، د ده د اسلام مشرفیدلو قصه د انس بن مالک په روایت داسی ده . یوه ورځ حضرت عمر په داسی حال کی له

کوره راووت چې توره یې تر ملا او تیغ یې په لاس کې و، د بنی زهره د قبیلې شخه چادې ولید او پوښتنه یې ځنې وکړه، چې ای عمره چیرې ځې او څه قصد لرې؟ ده ورته وویل د حضرت محمد (ص) د وژلو په نیت رهی یم، هغه ورته وویل چې د بنی هاشمو او بنی زهره شخه نه ویریږې چې محمد (ص) وژنې عمر ورته وویل داسې نه چې ته مسلمان سوی یې؟ نو اول به تا و وژنم، او بیا هغه هغه ورته وویل، دا خو پریږده چې زه به لا تر دې عجیبه اطلاع درکړم، هغه دا چې ستا خپله خور او اخښی دواړه مسلمانان سوي دي، او ستاد پلار او نیکونو دین یې پرې ایښی دی او باطل یې بللی دی، د دغه خبر په اوریدلو سره عمر سمدستي د هغوی د وژلو په نیت وخوځیدی، هغه وخت چې د دوی کور ته نږدې سو، د هغوی د کوره شخه د قرآن کریم د (طه) د سورت قرائت آواز راپورته کیږی، عمر چې د دوی کور ته ورننوت میړه او ماینه یوه کنج ته غلي سوه عمر ځنې وپوښتل چې دا څه آواز و چې ستاسو د کوره شخه راپورته کیدی دوی یې په اقرار کولو مجبور کړل. او ورته وې وویل: چې تاسو د خپله دینه اوښتې یاست او د دوی په وهلو ټکولو یې شروع وکړه، نو هغه وخت چې خبره رسوایي او شدت ته راورسیده هغوی اقرار وکړ او وې وویل: چې هو موږ د اسلام دین ته اوښتي یو، څه چې دې د لاسه کیږی مه یې دریغه وه، عمر ورته وویل: هغه چې مو لوستل ماته یې یو ځل راوسپارئ، هغوی ورته وویل: چې ته بې اودسه او ناپاکه یې، بیا حضرت عمر اودس تازه کړ او د (طه) د سورت په لوستلو مصروف سو، او د آیت ودغې برخې ته (انني انا الله لا اله الا انا فاعبدني واقم الصلاة الذکری) چې راورسید یو مخصوص حالت او جذبه ورته پیدا سوه او وې وویل چې ماته د محمد (ص) اقامت ځای او کور را وښیاست بیا عمر د حضرت رسول هستوګنځي ته ورسید چې د صفا د غره په بیخ کې یې موقعیت درلود، که ګوري د حضرت حمزه او طلحه د نږدې سترګې پر ولګیدې، هغوی وویل چې دا عمر نه دی چې زموږ لوري ته راځي، یا به د ده په حق کې د حضرت رسول الله دعا قبوله سوې وي او مسلمان سوی به وي

او یادلی په سر بایلی، په دی وخت کی حضرت محمد (ص) دکوره راووت او د عمر سره یی د غیږ ی روغبړ وکړ او وروته ویی فرمایل: نه دیر قوم نه یی چی په خپل قدرت مغرور وه سی تا ولیده چی خدای تعالی پر مغیره بن شعبه څه خواری او عذاب ونه را وستل چی هغه د اسلام څخه سرغړولی ؤ، بیا عمر د حضرت رسول الله په حضور داسی عرض وکړ:

اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله .

د حضرت عمر د مسلمانید و له کبله اسلام تقویه و موند ه ، د ه سمدستی د ، رسول الله په حضور عرض کړه چی اسلام په ښکاره اعلام سی ، او اذان په لوړ ږغ ویل سی نو په دغه وخت کی رسول الله د ده په حق کی داسی وفرمایل:

ومن اشد فی الکفر هو اشد فی الاسلام . څوک چی په کفر کی سخت وی مسلمانی یی هم دومره مضبوط وی .

څرنګه چی د مسلمانانو شمیر لږ ؤ او کفار وتر سخت فشار لاندی نیولی ؤ نو حضرت محمد (ص) په هجرت کولو مجبور سو . د هجرت په وخت کی حضرت عمر خپله توره او غشی تر ملا کړه ، تیغ او نور جنګی سامانونه یی په ځان پوری وتړل ، پر کعبی شریفی باندی یی او ځله طواف وکړ ، او د ابراهیم په مقام کی یی دوه رکعته لمونځ ادا کړ ، او بیا د قریشو و هغی تولنی ته ور وګرځید چی د دغی سیمی پر شا وخوا راټول سوی وه ، او هر یوه ته یی په ډیر کرامت او غضب وکتل او وروته ویی و ویل : که څوک غواړی چی مور پر بوره سی ماینه یی کونډه سی او په شرمو و شرمیږی زموږ د تلګ د لاری دی مانع وګرځی ، براء (رض) وایی د مهاجرینو څخه لومړی څوک چی مدینی ته راغی مصعب بن عمر ، بیا ابن ام مکتوم او دریم حضرت عمر ؤ . د ده څخه پوښتنه وشوه چی حضرت رسول الله څه سو ؟ که ګوری د حضرت ابا بکر صدیق سره یو ځای راوړسید ، حضرت عمر د حضرت رسول الله سره په ټولو غزاګانو لکه د احد سنه ٣ هـ ، د بدر غزا سنه ٢ هـ کی شمولیت درلود ، په نوموړی کال کی حضرت عمر خپله لور بی بی حفصه د حضرت رسول الله په نکاح کړه ، حضرت عمر

قاطع اوجدي مسلمانو دبدر په غزا کې چې د قریشو ځینې لویان دبند یانو په ځیر د حضرت رسول الله حضور ته راوستل شوه او د هغوی د سزا په باره کې حضرت محمد د نورو صحابه وُ څخه پوښتنه کوله، حضرت عمر فاروق عرض وکړ: په اسلام کې د قرابت او خپلښې له کبله دچا په جرم کې تخفیف نه سي راتلای، هر څوک چې د خدای او رسول د دین په مقابله کې ودریږي باید ووژل سي او د مجرم په حیث هو ږ خپل عزیزاو قوم ته هر څوک چې وي باید په خپل لاس سزا ورکړو، د مثال په توګه حضرت علي (کرم الله) عقیل، حضرت حمزه، عباس او فلاني چې زما قریب دی زه یې ووژنو، حضرت محمد (ص) د حضرت عمر قاطعیت او اسلام په ټنګ دریدل وستایه، خو بیایې وفرمایل: هغه لذت چې په عفوه او نوبه کې دی په انتقام کې نسته، او داځل به دوی د فدیه په ورکولو وبخښو او په همدغه تصمیم د خدای د خوښې دغه آیت نازل سو.

ماکان لنبي ان یکون له اسرای حی یثخن في الارض.

ترجمه: پیغمبر ته نه ښایي چې په لاس کې یې بندیان وي او په مځکه زیات قتل وکړي.

همدا شان د حدیبیه په سوله کې حضرت عمر و حضرت رسول الله ته وویل: چې آیا زموږ دښمنان مشرکان نه دي؟ حضرت محمد (ص) و فرمایل: شك نسته نو حضرت عمر په حضور عرض وکړ: نو ولې دا سې سوله ورسره وکړو چې په هغې کې زموږ کمي او کمزوري وي؟ رسول الله ورته وفرمایل: زه د خدای پیغمبر یم، او زما تصمیم او فعل د هغه په اراده دی، بیا حضرت عمر د رسول الله، څخه داسې سوال کولو معافي غوښتنه.

د دغې ګناه د عفو په غرض یې کفاره روژې ونیولې او خیراتونه یې وکړل او مریې یې ازاد کړ، تر دې وخته پورې د مسلمانانو نکاح د کافرانو سره رواوه. دغه آیت چې نازل سو: ولا تمسکوا بعضهم الکوافر.

حضرت عمر خپلې د واړې کافرانې ماینې طلاقې کړې چې یوه قریبه نومیده او بله یې ام کلثوم، بیا یې جمیله بنت ثابت ابن الی الافلج په نکاح کړه.

حضرت عمر د اسلامي احکامو فلسفې او مصلحت ته زیات اهمیت ورکاوه

مفسرين او فقهيانو ته د اجتهادي تفکر، تقوى او اسلامي حکمتونو درک ته رابلل، د سطحي او غير منطقي فتوا گانو صادرولو څخه يې را گرځول، د حضرت عمر زياتې فتوا گانې او نظريات د اسلامي احکامو سره برابر ختل، تر دې اندازې پورې چې يو شمير آيتونه د ده د فکر د طرز او هيلې سره سم نازل سوي دي حضرت رسول الله په دغه هکله فرمايي: ما قال الناس في شيئ وقال فيه عمر الاّ جاء القرآن بنحو ما يقول عمر.

يعنې د يوې مسئلې په باب چې خلک يې خبرې کوي، او حضرت عمر هم په هغه کې څه وايي قرآن هم د عمر د قول سره نازليږي، له همدغه کبله دي چې په قرآنکريم کې يو ولس موضوع گانې د حضرت عمر د فکر او هيلې سره سم نازل سوي دي.

د حضرت عمر څخه روايت دی پر درو مسايلو کې خدای تعالی زما خواست منلی دی يو دا چې ما د حضرت رسول الله په حضور عرض وکړ: که مقام ابراهيم چې د بيتي شريفې په شاوخوا کې دی، د لمانځه د ادا کولو ځای وگرځي، ښه به کار وي ور وسته دغه آيت نازل سو.

واتخذو من مقام ابراهيم مصلی.

بل دا چې د رسول الله په حضور مې عرض کړ چې کفاسقان او لړلي خلک بيله اجازې او حجاب د رسول الله کور ته داخل نه سي ښه به کار وي، همدا وو چې د حجاب آيت نازل سو. بل دا چې نشه او خمر په قطعي ډول منع سي، همدا وو چې د هغو په تحريم کې هم آيت نازل سو.

د حضرت عمر (رض) د کراماتو په هکله ابن عربي په خپل مشهور اثر د (اولياؤ کراماتونه) کې ليکي: هغه وخت چې عمر (رض) د جمعې خطبه ويله د خولې څخه يې د خطبې په منځ کې دغه بې ارتباطه وينا ووتله: (ياريته الجبل) دغه آواز چې ساريه ته ورسيد هغه غره ته د ده ولگوله او د باندې را ووت خو د ښمنانو ير غل پر وکړ او د هغه ښکر څخه يې سخته ماته وخوړه، هغه وخت چې خطبه خلاصه سوه عبد الرحمن بن عوف ورته وويل چې خلک په تردد کې دي نو چې عمر ليونی سوی دی، چې د خطبې په منځ کې بې ارتباطه ناری وهي

عمر (رض) ورته وویل : دا زما له توانه وتلې خبره وه ، په جنګ کې اسلامي لښکر دما ني په خوا وو او ما ورته وویل چې دغه له دې څخه مه راوزي ، او په دغه ناره مې لاربښوونه ورته وکړه او فتح مې په نصیب سوه .

دحضرت عمر دخلافت په دوره کې دغه سیمې فتح سوې :

قادسیه (۱۴هـ - ۶۳۵م) ، جلولا (۱۶هـ - ۶۳۷م) ، دمشق (۱۴هـ - ۶۳۵م) ، حمص (۱۴هـ - ۶۳۵م) ، یرموك (۱۵هـ - ۶۳۶م) ، بیت المقدس (۱۶هـ - ۶۳۷م) قیساریه (۱۹هـ - ۶۴۰م) ، جزیره خوزستان اذربایجان (۲۲هـ - ۶۴۳م) ، طبرستان (۲۲هـ - ۶۴۳م) ، ارمینیه فارس (۲۳هـ - ۶۴۴م) ، کرمان (۲۳هـ - ۶۴۳م) ، سیستان (۲۳هـ - ۶۴۴م) ، مکران (۲۳هـ ۶۴۴م) ، خراسان (۲۳هـ - ۶۴۴م) ، مصر (۳۰هـ ، ۶۵۱م ؟) اسکندریه (۲۲ ۶۴۲م) .

حضرت عمر دخپلو ماموړینو په مقرري او مراقبت کې ډیر غور کاوه ، که بیرې څوك مقرراوه ، هغه به یې د مهاجرینو او انصارو وشورې ته وړاندې کاوه ، دصلاحیت او تقوی دثبیتیدلو وروسته به یې د مقررې په فرمان کې داسې ورته لیکل :

الا واني لم ابعثكم امراء ولا جبارين ولكن ابعثكم ائمة الهدى يهتدى بكم فادوا على المسلمين حقوقهم ولا تضربوهم فتذلوهم ولا تحمدوهم فتفتنوهم ولا تغلقوا الابواب دونهم فيأكل قويهم ضعيفهم ولا تستاثروا عليهم فتظلموهم .

ترجمه : یوه سې ماتاسو امیران او سخت ګیر مقرر کړي نه یاست ، بلکې دهدایت امامان تاکلي یاست ، چې خلك ستاسو پیروي وکړي ، باید تاسو دخلکو حقوق ادا کړئ ، او هغوی ونه ډبوئ چې ذلیل سي او ډیره ستاینه یې هم ونه کړئ چې په مغالطه اخته سي ، څوك چې غوښې غواړي ، خپلې دروازې دهغو پرمخ مه تړئ چې غښتلي کمزوره ونه خوري . تاسو باید خپل ځان پرهغو بنه ونه ګڼئ چې په دې صورت تاسو پرهغو ظلم وکړئ .

حضرت عمر فاروق دخپلو ماموړینو د اعمالو او اجرا آتو هر کله مراقبت کاوه ، لازم مکافات او مجازات یې ورکول . لکه چې د ده او خالد تر منځ داسې

نو اکت پیښ سو : دهغې اطلاع لرغې چې حضرت عمر ته رسیدلې وه ، حضرت خالد د خپل کالینو مصارفو صورت حساب د خلافت دربار ته نه وُلیږلی ، او حضرت خالد ورته لیکلي وُ چې د حضرت ابابکر صدیقؓ د خلافت په دوره کې هم ده دخپلو مصارفو صورت حساب نه دی ورکړی . هغه وخت چې خالد و یوه شاعر ته لس زره درهمو بخشش ورکړ ، حضرت عمر زیات خفه او په غصه او دهغه د عزل او موقوفي فرمان یې صادر کړ ، او وې فرمایل : چې دخالد دغه عمل د دوو اشتباهو خالي نه دی ، که ده دغه بخشش دخپله جیبه ورکړی وي ، اسراف دی او هغه یې له کومه کړی دی ، او که د بیت المال د خزانې څخه ورکړي وي خیانت یې کړی دی ، نو خالد سمدستي د خلافت حضور ته ورسید ، او حضرت عمر ځني وپوښتل چې تا دومره پیسې له کومه پیدا کړي دي ، خالد ورته وویل د غنیمت د مال څخه یې پیدا کړي ، کومې غناتو (۶۰) زره درهمو زیاته سوه متباقي یې د بیت المال دی ، هغه وخت چې موجودې وسوه ، تر شلو زرو زیاتر سوه او پاته پیسې یې بیت المال ته ورو بخښلی بیا حضرت عمر وفرمایل : چې ما خالد د خیانت په اشتبا نه دی موقوف کړی ، بلکه په دې یې تنبیه کړ چې اسلامي فتوحات د خدای تعالی په توفیق موږ ته حاصل سوي دي ، او ته باید په هغو غره نه سې او د خلکو احترام او ستاینه ستا په مغز و کې د تکبر او غرور زړی و نه کري .

## د حضرت عمر شهادت :

حضرت عمر فاروق هغه چاته چې سن یې تر بلوغ نه وُ رسیدلی دکور څخه یې د وتلو اجازه نه ورکوله ، خو یوه ورځ مغیره بن شعبه د کوفې څخه هغه ته ولیکل چې یا امیرالمؤمنین : زه یو مریي لرم چې فیروز یا ابولولو نومیږی او زیات کار و نه یې زده دي ، په اهنگری او نجاری کې پوره مهارت لري ، دی به درولیږم چې په مریو طوچار و کې مرسته درسره وکړي ، هغه وخت چې دغه مریي د خلیفه حضور ته ورسید د باد ار څخه یې په شکایت شروع وکړ چې د میاشتی سل درهمه را څخه غواړي ، حضرت عمر ورته وویل چې ته څه کار کوې ؟ هغه ورته وویل اهنگري او نجاري ، نو خلیفه ورته وویل : چې د دغو کسبو نو عایدات خو زیات دي

دغه پیسې چې د رڅخه اخلې دومره زیاتي نه دي، مړ يې د خلیفه په دغه وینا خوابدی او په غصه سو، او د حضرت عمر د وژلو په لټه کې ولوېد، د یوې جمعې په ورځ چې حضرت عمر په لمانځه کې د مقتدیانو صفونه په خپل امامت برابرول، ابولولوه لمانځه کې د حضرت عمر شاته ځان ورساوه او حضرت عمر يې د شا له خوا څو ځایه په خنجر ووهه او دوه لس تنه اصحابیان یې ټپیان کړل، چې د هغو څخه هم شپږ تنه شهیدان سول په دغه وخت کې یوه عراقي پرده باندې څادر وغوړاوه او ویې نیوی او سمدلاسه یې ووژی، بیا صحابه و حضرت عمر کره ته ورساوه او ټپونه یې دومره کاري او شدید وو چې هر څه به ور کول کېده هغه به یې د ټپو څخه راتلل، هغه وخت چې پوه سو د مخوږ د جوړېدو نه دی نو عبدالرحمن بن عوف یې راوغوښت، چې د شپږو تنو صحابه وو، عثمان، علی، طلحه زبیر، سعد او خپل په شمول یوه غونډه جوړه کړي او په درو ورځو کې دي د خپل منځ څخه یو د خلیفه په توګه وټاکي، او صهیب ته یې هدایت ورکړ چې تر هغو دي، دي لمونځ ورکوي بیا یې مخ خپل زوی عبدالله ته واړاوه او ورته ویې ویل: هغه پیسې چې د خلکو راباندې دي حساب یې کړه، کله چې یې حساب وکړی (٦٨) زره درهمو ته ورسیدې، بیا یې وویل که ال عمر د هغو د ورکړې توان ونه لري، د بني عدي څخه دي واخستل سي او که نه د قریشو څخه دي تحصیل سي، بیا یې مخ نوړو صحابه کرامو ته واړاوه او ورته وي ویل: چې تاسو ولاړ سئ او بي بي عایشې ته ووایاست که د دي اجازه وي عمر د خپلو صاحبینو له څنګه خاوروته وسپارل سي، عبدالله چې د خپل پلار عرض بي بي ته وړاندې کړ، حضرت عایشې په ډېره خوښۍ ومانه، بیا یې د خلیفه د ټاکلو پوښتنه وکړه، او ویې وویل: چې ما تر دغو شپږ تنو لوړ مستحق څوک ونه موندل، د رسول الله (ص) په ژوندانه کې دوی وهغه ته زیات نږدې وو، او هر کله یې یاد ول، هغه وخت چې د خلافت غونډه وپرانستل سوه، عبدالرحمن بن عوف وویل چې موږ دري تنه ونوړو دري تنو ته د خلافت حق پریږدو، زبیر وویل چې دی د حضرت علي سره موافقه لري، سعد (رض) وویل چې دی خپله خوښه د عبدالرحمن په خوښۍ پوري تړي، طلحه وویل چې دی خپله خوښه په عثمان پوري تړي، بیا دغه دري تنه په خپل منځ کې سره کښېناستل، عبدالرحمن وویل چې دی د خلافت اراده

نه لري ، ستاسو د وېتنو چې هر يو بل ته رايې ورکړي ، د هغه په خلافت راضي يو ، بيا علي او عثمان په خوله سول ، او عبد الرحمن بن عوف وويل چې که ستاسو اجازه وي د غه وظيفه ما ته را پرېږدئ چې د دوو څخه يو وټاکم . په خدای دې ی قسم وي چې زه به په تاسو کې د فضيلت او خدايي ارادې له پلوه يو وټاکم ، ور ته وويل سول چې څه وايې هغه شانې عمل وکړه ، بيا عبد الرحمن مخ و حضرت علي ته واړاوه او ور ته يې وويل : ای د رسول الله د اکا زو او زومه ته دوه حقه لري يو دا چې په اسلام کې مقدم يې ، بل دا چې د رسول الله سره قرابت لري ، او زه ستا په باره کې دومره پوهېږم چې خدای پوهېږي که زه تا خليفه وټاکم عدل پر ځای کوي ؟ او که بل څوک پر تا امير وټاکم د هغه اطاعت کوې ؟ حضرت علي ور ته وويل : چې هو ، بيا دی د حضرت عثمان سره ګوښه سو ، او هغه ته يې هم دا شانې وويل . هغه وخت چې د دواړو څخه عهد او ميثاق يې واخيست بيا يې د حضرت عثمان سره بيعت وکړ وروسته حضرت علي هم خپل بيعت ورکړ .

حضرت عمر فاروق د شنبې په ورځ د محرم الحرام په غره په سنه (۲۳هـ) کې وفات سو ، د جنازې لمونځ يې صهيب ورکړ ، حضرت عبد الرحمن ، حضرت علي ، حضرت عثمان ، حضرت طلحه او حضرت سعد دی په لحد کې کښېښود او دعايې ور ته وکړه .

## حضرت عثمان ذی النورين (رض)

حضرت عثمان د عفان زوی د ابي العاص لمسی د ابن اميه کړوسی د عبد شمس کوسی د عبد مناف کودی چې هغه بيا بن قصي ، بن کلاب ، بن مره بن کعب بن لوي بن غالب قرشي اموي زوی دی . مور يې (اروی) نوميده چې د کريز لور ، د ربيع لمسی د حبيب کړوسی د بن سمن کوسی وه . د مور ، د مور نوم يې حکيمه بيضا بن عبد المطلب بن هاشم دی .

د حضرت عثمان کنيت د جاهليت په زمانه کې ابو عمر ، ابو عبد الله ، ابو ليلي دی . دی د عام فيل په شپږم کال زېږېدلی او د حضرت ابابکر صديق د دعوت له کبله په اسلام مشرف سوی دی . حضرت عثمان د اسلام راوړلو سره سم د خپل اکا حکم بن عاص

بن امیه تر سخت فشار لاندی وینول سو څو مسلمان سو، حضرت عثمان په دوا ړو هجرتونو کی هجرت کړی دی، لومړی یی حبشی ته بیا دوهم ځل یی مدینی منوری ته هجرت کړی دی. حضرت عثمان د حضرت رسول الله د نبوت د مخه د پیغمبرؐ لور رقیه په نکاح کړی وه، د بدر د غزا په شروع کی هغه مبارکه بی بی وفات سوه او د حضرت رسول الله په اجازه سره د بدر د غزا څخه پاته سو، خو د غنایمو څخه یی برخه ورکړه سوه او په اخیر کی ور سره شریك سو ځکه دی د بدر د اصحابو څخه هم گڼل کیږی. هغه وخت چی بی بی رقیه خاورو ته وسپارل سوه او د بدر د فتح خبر مدینی ته ورسید بیا نو رسول الله (ص) خپله بله لور ام کلثوم په نکاح ور کړه، ځکه یی ذی النورین هم بولی. دغه مبارکه بی بی هم د هجرت په نهم کال وفات سوه. د بی بی رقیه څخه یی عبد الله زوی زیات مشهور دی، چی د عبد الله مکنی په نامه هم یادیږی، حضرت عثمان د (سابقین اولین) د لومړینو مهاجرینو، عشره مبشره و څخه و، د قرآن عظیم د جامعانو څخه هم شمیرل کیږی، همدا شان د هغو شپږ وتنو لویو اصحابانو څخه دی چی رسول الله د خپل وفات په وخت کی د هغو څخه زیات رضائیت درلود. د حضرت ابن سعد څخه روایت دی چی رسول الله د ذات الرقاع او بنی غطفان غزا ته د تلو په وخت کی حضرت عثمان په مدینه کی خلیفه ټاکلی و. د حضرت عثمان د خولی څخه (۱۴۰) حدیثه روایت سوی دی.

د حضرت عثمان د خلافت په زمانه کی ډیر فتوحات وسول بلدری، د روم زیاتی کلاگانی، سابور، قبرس، د افریقی مهمی برخی، اندلس، اصطخر، فسا نیشاپور، طوس، سرخس، مرو، بیهق او نور فتح سول، په تکبیر ویلو کی یی خپل آواز کښته کړ، د رسول الله (ص) د مسجد غولی یی پراخ کړ، د جمعی لمړی آذان یی رواج کړ، د بیت المال څخه یی د مؤذنانو اعاشه جاری کړه، د اختر په لمونځونو کی یی خطبه پر لمانځه مقدمه کړه، د خلکو د مالونو د زکوة اخراج یی خپلو خلکو ته پریښناوه، لومړی هغه څوك و چی د خپلی مور په ژوندانه کی خلافت ته ورسید لومړی څوك و چی د لښکرو لپاره یی سپه سالار وټاکی، لومړی هغه څوك و چی په

مسجد کې یې دخپل ځان لپاره منبر یا مقصوره جوړه کړه په دې لحاظ نو چې دحضرت عمر واقعه د شهادت بیا ځني پیدا سي، حضرت عثمان ډیر ښکلی، حیاناک او نرم زړه خلیفه ؤ دومره زیاته حیا یې درلوده چې د غسل کولو په وخت کې یې خپل لښتې باندې صورت ته نه سو کتلای. دخلافت دوره یې دوولسو کلونو ته ورسیده، او هر څوک لږ او ډیر دهغه د هدایاتو، بخششونو او مهربانیو څخه مستفید سول، حضرت عثمان دخپل خلافت په را وروسته شپږو کلونو کې خپل همقومان، دوستان، خپلوان، دملت او دولت لوړو مرتبو ته ورسول او دپیسو او نورو مالونو ذخیرې چې دحضرت ابابکر صدیق او حضرت عمر فاروق دخلافت په دوره کې راټولې سوې وې او داستحقاق پرته یې چاته نه ورکولې حضرت عثمان هغه ټول پر خپلو اقرباؤ او دوستانو وویشلې چې په دغه عمل یو شمیر مسلمانان ځني ناټیجن او خوابدي سول، همدا شانې عبد الله بن ابی شرح چې د ده لخوا په مصر کې والي مقرر سوی ؤ هلته یې په ډیر مطلقیت او بې پروایي حکومت کاوه، او مصریان ډیر ځني په عذاب ؤ هغه وخت چې دهغه فشار د زغملو وړ نه ؤ یو شمیر مصریان دخلافت مرکز ته دحضرت عثمان حضور ته راغلل او دهغه څخه یې د والي د برطرفه کولو او یا تبدیلیدلو خواهش وکړ، خو حضرت عثمان د دوی دا هیله په سر و نه رسوله او دیو مکتوب په لیږلو یې اکتفا وکړه چې د مصریانو شکایت رفع سي، هغه وخت چې دغه شاکیان بیرته مصر ته ولاړل، د والي لخوا هغه سپک او وډبول سول، چې دهغو څخه یو شمیر ټپیان او ځینې مړه سول.

دغه وضع د مصر خلک نور په ښور او مخالفت راوستل او دهغو څخه (۷۰۰) تنو د مدینې په خوا مخ راونیوی، هغه وخت چې دوی مدینې ته راورسیدل په مسجد نبوي کې او د لمانځه پر وخت چې صحابه او مشران حاضر ؤ دوی دابن رباح څخه په شکایت شروع وکړه، په دې وخت کې طلحه بن عبید الله ولاړ سو او حضرت عثمان ته یې اهانت وکړ حضرت عایشې هم د مصریانو په پلوي حضرت عثمان ملتفت کاوه چې ابن ابی سرح دې تر تحقیقاتو لاندې ونیسي، بیا حضرت علی هم حضرت عثمان ته راغی او ورته یې ویل: چې د مصري مسلمانانو غوږ بایډ وسي، او د والي لاس دکار وکښل شي او

دوئړله سو کسانو په نسبت باید شرع باندې وچلول سي ، حضرت عثمان ورته وویل : چې تاسي یوڅوك پیدا کړئ چې زه یې په مصر کي والي وټاکم مسلمانانو حضرت محمد بن ابا بکر ته اشاره وکړه چې هغه دې د والي په حیث وټاکل سي ، بیا حضرت عثمان د محمد بن ابا بکر څخه وعده واخسته او حلف یې ورکړ د دغو مراسمو وروسته یې د مقررۍ مکتوب لاس لیك کړ او ور یې کړ چې له ځانه سره یې یوسي . د محمد بن ابابکر سره یو شمیر مهاجرین او انصار هم ملګري سول چې وضع د نږدې وګوري ، هغه وخت چې دوې دري شپې او ورځې د مدینې څخه لیري سول ، یو تور مخی مریي ولید چې پر اوښ سپور دئ او هغې خواته په چټکي د روی ، دوی هغه مریي را وګرځاوه او څني یې وپوښتل چې ولې داسي په چټکي د روی ، څه فعل دی ، مریي ورته وویل : چې زه د امیرالمؤمنین مریي یم چې د مصر والي ته مې لیږي . دوی ورته وویل چې والي دغه دی ، زموږ سره ملګری دی او محمد بن ابابکر نومیږي ، مریي ورته وویل : چې زه یې نه پیژنم ، هغوی دغه مریي د محمد بن ابابکر حضور ته راوست او څني یې وپوښتل چې ته د چا مریي یې ، مریي په یېر وارخطا سو او وډارید ، ځواب یې ور کړ چې د امیرالمؤمنین مریي یم او کله چې یې ټینګ کړ ، د مروان په مریتوب قایل سو ، د حاضرینو څخه یوه ویږاند چې دی د حضرت عثمان د مریانو څخه دی ، بیا محمد بن ابابکر څني پوښتنه وکړه چې ته کومي لوري ته ځې ، هغه ورته وویل چې د مصر د والي په خوا ، ورته وویل سوه چې مقصد دې څه دی ؟ ځواب یې ورکړ رسالت ، محمد بن ابابکر څني وپوښتل چې ستا سره کوم مکتوب یا لیك سته مریي ورته وویل : یا کله چې ولټول سو لیك ورسره نه ؤ ، وروسته یې د اوبو مشك څني ولیدی چې کوږکوږ یې د رلود خو تش ؤ ، هر څه چې یې پورته او کښته کړ څه نه څني را ووتل ، څو په اخیر کي یې څیري کړ ، او یو لیك څني را ووت چې داسي پکښي لیکل سوي ؤ : د عثمان له خوا و ابي سرح ته : هغه وخت چې محمد بن ابابکر د خپلو ملګرو سره تا ته ورسیږي ، ته په یوه بهانه ، هغه او ملګري یې ووژنه د محمد بن ابابکر د مقررۍ فرمان باطل اعلان کړه ، او په خپل مقام ټینګ وسه

بیا به مفصل هدایت ورکړه، محمد بن ابابکر دغه مکتوب د اوبن د محاصره مدینې منورې ته ورساوه، د حضرت طلحه، حضرت زبیر، حضرت علي، حضرت سعد او د رسول الله (ص) د نورو صحابیانو په حضور یې ولوست او ټول صحابه په متاثر سول، حضرت علي چې د احال ولید، حضرت طلحه، حضرت زبیر او حضرت سعد او عمار ته یې مخ را واړاوه چې حضرت عثمان د غې غونډې ته را وغواړي، چې مسئله تصفیه کړي، حضرت عثمان چې غونډې ته را حاضر سو حضرت علي مخ ورواړاوه او ورته ویې ویل چې دغه مړي او اوبن ستا دی، هغه ورته وویل هو، بیا یې ورته وویل چې دغه ستا لیک دی، په ځواب کی یې ورته وویل په والله که زما دی او هیڅ نه پوهیږم چې چا لیکلی دی بیا حضرت علي ورته وویل: چې دا څرنګه کیدای شي چې مړي ستاوي اوبن ستاوي مهر ستاوي او ته نه پوهیږې، بیا حضرت عثمان ورته وویل: چې په خدای دی مې قسم وي، که دغه لیک زما وي او یا مې بل چا ته د لیکلو امر کړی وي، او نه مې دغه مړي مصر ته استولی دی، خو کله چې خط وپیژندل سو هغه د مروان و بیا د صحابه ؤ غونډې د مروان د ناوړه کار و نوڅخه کرکه اظهار کړه، او یقین یې راغی چې دغه د سیسه مروان جوړه کړې ده، او حضرت عثمان باید هغه د تحقیقاتو لپاره راحاضر کړي، هغه وخت چې حضرت عثمان د مروان د تسلیمولو څخه ډه ډه وکړه کور یې تر محاصرې لاندې ونیول سو، او اوبه یې باندې قطع کړې، په دغه حالت کی حضرت عثمان د خپل کور پر بام وخوت او ویې ویل: چې په تاسو کی حضرت علي او یا سعد شته چې اوبه راوړي هغوی ورته وویل: یا بیا یې ورته وویل چې څوک شته چې حضرت علي د دغه حال څخه خبر کړي؟ حضرت علي ته چې داخبر ورسید دری مشکه اوبه یې ورولیږلې، داو بو ورلو په سر د بني هاشمو او بني امیه ؤ په منځ کی شخړه پیښه سوه یو شمیر صحابیان ټپیان سول په دی وخت کی ضد او نقیض خبرونه خپاره سول. نو بیا حضرت علي وویل چې عثمان څوک نه وژني او باید مروان د تحقیقاتو له پاره په لاس ورکړه سي، حضرت عثمان ته داملومه وه چې مروان ختمي وژل کیږي نو ځکه یې هغوی ته په تسلیمي کی تعلل کاوه، بیا حضرت علي کرم الله وجهه

خپل زامن حسن او حسین هم ظلفه کړل چې د حضرت عثمان پر کور پیره سي چې څوک
ورننه نه سي او پرغل باندې و نه کړي. په دې وخت کې محمد بن ابابکر ولیدل
چې د حضرت عثمان څخه وینې بهیږي او یو شمیر صحابیان ټپیان پر اته دي چې په دغو
ټپیانو کې مروان هم ولیدل کیږي، محمد بن طلحه ټپي سوی ؤ او د حضرت علی
د مریی قنبر سری هم په محکم پر وت ؤ، په دغه وخت کې محمد بن ابابکر په
ویره کې سو نه چې بني هاشم د دغه حال څخه خبر سي، چې بني امیه ؤ حسن او حسین
په وینو لړلي دي او د انتقام کښلو حس یې را وپارول سي او لوی فتنه په وجود راسي
نو غوږ یې وکړ چې د فتنې د کرار ولو له پاره د حضرت عثمان کور ته ننوزي او هغه په
زور معزول کړي، دې ور ننوت او حضرت عثمان یې ټینګ تر ږیرې ونیوی او
څنډی یې، حضرت عثمان ورته وویل، والله که ستا پلار ژوندی وای، ما ته به
چاداسي سپکه نه وای را اړولی، محمد بن ابابکر په دغه وینا زیات متاثر سو او
لاس یې د هغه د ږیرې څخه وکیښ او د ده له حضوره غایب سو، په دې وخت کې دوه
تنه نور پیدا سول چې د حضرت عثمان کور ته د بام له خوا وختل او دی یې په شهادت
ورساوه، او بیا یې ځانو نه پټ کړل، د حضرت عثمان مائینې د حضرت عثمان پر
وژلو ډیر شور ماشور وکړ او پر بام وختله او ناری یې کړې چې خلیفه یې په شهادت
ورساوه، بیا خلک د حضرت عثمان کور ته ننوتل او دی یې مړ وموند، د دغه خبر
چې حضرت علی، حضرت طلحه، حضرت زبیر او نورو صحابه ؤ ته ورسید زیات
متاثر او خواشیني سول، حضرت علی خپلو زامنو حسن او حسین ته ایداد ورکړ چې تاسو
څرنګه د هغه د شهادت څخه ناخبره پاته سوي یاست. محمد بن طلحه او عبیدالله بن
زبیر د هغه په شهادت زیات خواشیني ؤ او وجدی پلټنو په لټه کې ولویدل. بیا حضرت
علی د حضرت عثمان له کوره څخه د خپل کور په لوري رهي سو، په دې وخت کې یو زیات
شمیر صحابه په ده پسې سول او حضرت علی ته یې وویل: چې زموږ له خوا د خلافت
عهده قبوله کړه، او دا یې ورته جوته کړه که ته یې و نه مني، نو د مسلمانانو په منځ
کې سخته فتنه پیدا کیږي حضرت علی ورته وویل: چې دا کار ستاسي له
وظایفو څخه نه دی، بلکه د بدر په اهل پوري اړه لري، هغوی چې د بدر په اهل پسی

وګرځېدل، داسې څوک نه وو چې پاته چې د خلافت وړ وي، نو د حضرت علي
څخه يې په ټينګه وغوښتل چې د دوی هيله او تقاضا پر ځای کړه وانه چوي، او ولس
يې د بيعت په څېر وړاو ېږ دکړ. مروان او زوی يې وتښتېدل.
بيا حضرت علي د حضرت عثمان ميرمنې ته وويل چې امير المؤمنين چا وواژه؟
هغې ورته وويل: دوه تنه کور ته راننوتل چې ما نه پېژندل او د غه
ناوړه کار مجرم وګرځېدل، محمد بن ابابکر مې پکښې وپېژاند چې د دوی
د مخه لا د کوره وتلی و. بيا حضرت علي محمد بن ابابکر راوغوښت
او ورته يې وويل چې د حضرت عثمان ماينه وايي چې ته هم ورسره ملګری
وې ده ورته وويل: چې رښتيا وايي والله زه د ده کور ته ددې د تنبيهه کولو
سپکولو او غزلولو لپاره ننوتی وم او کله چې مې د حضرت عثمان عذر
وليد او د پلار د دوستی ياد ونه يې راته وکړه، ما دې
خوشي کړ، د حضرت عثمان ښځې د غه وينا تصديق کړه. او وې
ويل نه پوهېږم هغو دوو تنو ته چا زموږ کور ته د راتلو اجازه ورکړه
ابن عساکر وايي: حضرت عثمان يو مصري واژه چې حمار نوميده.
حضرت عثمان د جمعې په ورځ د ذيحجې په اتمه په (٣٥) هـ ق.
د عمر په (٨۴) کلنۍ په شهادت ورسيد.
زبير د هغه د جنازې لمونځ ادا کړ او د بقيع په هديره کې،
خاورو ته وسپارل سو.

# حضرت علي بن ابي طالب (كرم الله وجهه)

حضرت علي د ابي طالب زوی ؤ. د ابي طالب نوم عبد مناف بن عبد المطلب ؤ د عبد المطلب نوم شيبه بن هاشم ؤ. او د هاشم نوم عمرو بن عبد مناف ؤ. د عبد مناف نوم مغيره بن قصي ؤ، او د قصي نوم زيد بن كلاب بن مره بن كعب، بن لوی، بن غالب بن فهر، بن مالك، بن نضر، بن كنانه ؤ كنيت يې ابو الحسن او ابو تراب ؤ چې رسول الله په دغه نامه ياداوه.

مور يې فاطمه بنت اسد بن هاشم نومېده او فاطمه د لومړنيو هاشميانو ښځه وه چې هاشمي يې زېږولی او، فاطمې اسلام راوړی ؤ او هم يې هجرت كړی ؤ. حضرت علي د عشره مبشره ښځه ؤ او د مواخات د عقد له كبله د رسول الله وروره هم ګڼل كېدی، څرنګه چې يې د حضرت رسول الله (ص) لور سيده نساء فاطمه په نكاح وه نو د رسول الله د اكا د زوی علاوه زوم يې هم ګڼل كېدی، حضرت علي د اسلام د سابقينو ښځه ؤ. د رباني عالمانو، د مشهورو پهلوانانو، لويو پر ميزګارانو، معتبرو خطيبانو، د قرآن كريم د جامعانو لكه ابو الاسود دولي او عبد الرحمن سلمي، عبد الرحمن سلمي، عبد الرحمن بن ابي ليلى فقهيانو، قاضيانو د ولي ښځه شميرل كېدی، دی د هاشمي خلفاؤ لومړنی شخص او د سبطين (رضي الله عنه) پلار ؤ چې ځواني لا، ايمان راوړی ؤ، ابن عباس، انس، زيد بن ارقم، سلمان فارسي او ځينو نورو اصحابيانو ويلي دي چې حضرت علي لومړی اسلام راوړی دی دغه اجماعي قول ابو يعلى د حضرت علي ښځه هم روايت كړی دی، چې رسول الله (ص) د دوشنبې په ورځ په نبوت مبعوث سوی دی او هادسه شنبې په ورځ ايمان راوړی دی، هغه وخت چې حضرت علي ايمان راوړ دلس كالو ؤ، د حسن بن زيد بن حسن ښځه روايت دی چې ده په كوچينوالي كې هيڅكله د بتانو عبادت نه دی كړی، هغه وخت چې رسول الله د مكې شريفې ښځه مدينې ته هجرت كاوه ده ته يې هدايت وكړ چې زما د وتلو وروسته به په مكې

شریفې کې څو نورې ورځې اوسې چې د خلکو امانتونه او ودیې ورته وسپارې او هغه کسان چې زما د وستان ؤ و هغوی ته زما پیغامونه او نصیحتونه ورسوه ، او ورو سته په ما پسې راځه ، حضرت علي دا هدایتونه پر ځای کړل ، حضرت علي د حضرت رسول الله په ټولو غزاگانو کې لکه بدر . احد د تبوک څخه پرته گډون کړی ؤ ، د تبوک په غزا کې د رسول الله د لاربښوونې سره سم په مدینه منوره کې خلیفه و نائل سو . د ده د احد په غزا کې شپاړس ټپه خوړ ولي ؤ . د خیبر په غزا کې رسول الله (ص) د اسلام جنډه د ده په لاس ورکړې وه .

حضرت علي چهار شانه ، چاغ ، لنډ قده ، د سر د منځ وړیښتان یې رژیدلې ، لوی زیږې د ښېنو د تلو او لاسونو منځ یې سپین ، غنم رنگه چهره یې درلوده ، جابر بن عبد الله وایي : چې حضرت علي د خیبر د غزا په ورځ په خپل زور او قوت د خیبر ټینگه او ټهمیه سوې دروازه داسې د بیخه وکښه چې د دښمنانو پر سر یې د سپر په شانې گرځول ، هغه وخت چې یې پرې محکم کښېښود له بیا څلویښتو تنو هغه پر بل اړخ نه سوه اړولای . حضرت علي چې به چا د ابوتراب په نامه یاداوه ډیر به خوشحاله کیدی ، داځکه چې یوه ورځ یې د حضرت فاطمې سره په کورنیو چارو کې څه خفگان پیښ سو ، نو د کور د انگړه ووت او د مسجد دیوال ته یې د څه استراحت او آرامي له پاره ډډه لگولې وه ، څو ویده سوی هم ؤ حضرت رسول الله (ص) چې د دغې لارې څخه تیریدی کله چې یې سترگې پر ولگیدې دی یې راویښ کړ او کالي یې د خاوړو څخه ور وڅنډل او ورته ویې ویل چې ای ابوترابه د لته څخه کوی ، د پیغمبر د دغې وینا وروسته که به چادی ابوتراب باله ډیر خوښیدی . د حضرت علي څخه پنځه سوه شپږ اتیا (۵۸۶) حدیثه روایت سوي دی . د حضرت علي په فضیلت ښیگڼه کې د قرآنکریم ډیر زیات آیاتونه سته ، حضرت رسول الله د ده د فضیلت په هکله فرمایي : انا مدینة العلم وعلي بابها . یعنې زه د علم ښار یم او علي یې دروازه ده . همدا شانې حضرت رسول الله د ده په هکله فرمایي : الناس من اشجار شتی وانا وعلي من شجر واحد . یعنې خلق د بیلو ونو څخه دی او زه او علي د یوې ونې څخه .

# د حضرت علي کرم الله وجهه خلافت

د حضرت عثمان د شهادت وروسته صحابه و حضرت علي په خپل خلافت ویناکړه، خو لکه چې د ماجرا وروسته څرګنده سوه طلحه او زبیر په دې خوابدي وه چې د حضرت عثمان قاتلان تعقیب او په سزا ونه رسیدل ځکه دغه دوه لوی صحابیان مکې شریفې ته د دې له پاره وخوځیدل چې په دې هکله د حضرت عایشې څخه سلا او مشوره واخلي د وی د حضرت عایشې په ملګرتیا د مکې شریفې څخه مخ د بصرې د ښار پر خوا وښوی چې د حضرت عثمان د وینو طالبان دي، دا خبره چې د حضرت علي و حضور ته ورسیده، ده هم خپله قواد عراق خوا ته سوق کړه. چې په نتیجه کې د حضرت عایشې، طلحه، زبیر او حضرت علي تر منځ د (۳۸ه‍ ق) کال د جمادی الاول په میاشت سخت جنګ پیښ سو. دغه جنګ د اسلام په تاریخ کې د (جمل) د واقعې په نامه یادیږي، چې په هغه کې طلحه، زبیر، او د دوی دیر لس زره ملګري ووژل سوه او حضرت علي د دغه بري وروسته بیرته کوفې ته راوګرځید.

په دې واقعه چې معاویه بن ابوسفیان خبر سو، زیات متاثره سو او خپلې لښکرې یې د شام څخه د حضرت علي د ځپلو له پاره وخوځولې، حضرت علي هم د ده مقابلې ته پوره تیاری ونیولی وځود (۴۷) کال د صفری په میاشت کې د (حصین) په برخه کې دغه دواړه لښکرې سره مخامخ سوې او ډېر ورځو شدید جګړه وروسته چې د خدای مخلوق ډیر په تنګ راغلل نو قرآنونه یې پر سر و ونیول چې جنګ بس کړي او یو د بله په سوله راضي سي. څو هغه وچې د دواړو خواو د خلکو په غوښتنه او د اسلامي شریعت د احکامو په پیروي د خبرو اترو او فیصلې له پاره وکیلان ونیول سول چې د معاویه له خوا عمرو بن عاص او د حضرت علي له خوا ابوموسی اشعري وټاکل سوه، د وی په خپلو منځو کې لوړه وکړه چې یو کال وروسته

بره (اذرح) په برخه کی سره یوځای کیږی او وینی به، معاویه شام ته او حضرت علی کوفې ته بیرته وګرځید، په دغه وخت کی د حضرت علی یو شمیر ملګری چی وروسته د (خوارج) په نامه یادیدل، د ده سره مخالف سول او ورته وی ویل: چی د خدای تعالی د امر څخه پرته د بل چا امر ته غاړه نه ایږدی او متابعت یی نه کوی، خپلی لښکری یی د حروراء په سیمه کی راټولی کړی، حضرت علی حضرت عباس ورته ور ولیږه، خو هغوی په مخالفت او مقابله ور سره لګیا سول، چی په نتیجه کی یی ځینی ووژل سول او ځینی یی په مقاومت کولو سره شاراغلل او د (نهروان) په خوا یی مخ وټوی.

دا واقعه د هجرت په (۳۸) کال پیښه شوه، وروسته د دغه کال د شعبان په میاشت کی خلک د اذرح په سیمه کی سره راټول سول چی په هغو کی سعد بن ابی وقاص او ابن عمر شمولیت درلود، وایی چی په دغه وخت کی عمرو بن عاص چل وکړ او ابو موسی اشعری یی خطا استی او د حضرت علی لاس یی د خلافت څخه وکیښ، او د مقابلی خوا ملګری د ده په چل وپوهیدل، په روضة الصفا کی راغلی دی: چی د (صفین) په واقعه کی یو لک وشل زره (۱۲۰۰۰۰) تنه د معاویه او اویا زره (۷۰۰۰۰) تنه د حضرت علی له خوا ووژل سول. د جنګ د میدان څخه شو تنه د خوارجو په نامه چی عبد الرحمن بن ملجم مرادی، شبیب اشجعی برک بن عبد الله تمیمی، عمرو بن بکر تمیمی نومیدل ووتل او مکی شریفی ته راغلل او په خپل منځ کی یی دا مشوره وکړه د دی له پاره چی مسلمانان د دغه تکلیف څخه خلاص سی، عبد الرحمن ابن ملجم به حضرت علی، برک به معاویه بن ابی سفیان، محمد بن بکر به عمرو بن عاص وژنی، د وی د روژی په (۷) د خپل پلان د عملی کولو له پاره د مکی څخه را وخوځیدل، ابن ملجم کوفی ته راغی چی د روژی (۲۷) او د هجرت څلویښتم کال و. په دغه شپه حضرت علی د ماخستن د لمانځه له پاره د کوره راووت، چی ابن ملجم په توره د هغه پر سر وار وکړ او سر یی ورد وه ځایه کړ، شاوخوا خلکو ابن ملجم و نیوی، حضرت علی د جمعی تر ورځی او شنبی تر شپی ژوندی پاته سو

شو د یکشنبې په شپه وفات شو د ، نو حسن او حسین ، عبدالله بن جعفر غسل ورکړ
او حسن لمونځ ورکړ او د کوفې په دار الاماره کې يې خاورو ته وسپاره .
دحضرت علي د وژلو په ګناه د عبدالرحمن بن ملجم توول اندامونه غوڅ او
بیا وسوځول سول ، دحضرت علي د مرقد په هکله بیل روایات سته ابوبکر بن
عباس وايي : دحضرت علي نوی حضرت حسن د ده جنازه په پټه مدينې منورې
ته نقل کړه ، ابن عساکر د سعید بن عبدالعزیز څخه روایت کوي چې دحضرت
علي جنازه پر اوښ کښیښوده سو چې هرې خوا ته تلی ولاړ سي او په کوم ځای چې
ودریږي په هغه ځای کې دې خاورو ته وسپارل سي . حضرت علي (٦٣) کلن وو چې په
شهادت ورسید .
دحضرت علي د کراماتو ، بزرګیو ، تقوی ، پوهنې او نورو فضیلتونو پوهیدلو
لپاره دې د ده مشهور اثر (نهج البلاغې) ته مراجعه وسي .
دحضرت علي څخه د ده د قاتل د سزا په هکله پوښتنه وسوه ده ورته وفرمایل :
که زه ژوندی پاته سوم کار يې په ما اړه لري ، او که د هغه په ضربت له دنیا څخه ولاړم
کار يې په تاسو پورې اړه لري ، که مو ترجیح ورکړه چې قصاص يې کړئ ، ديوې ضربې
په مقابل کې چې کړی ده باید یوه ضربه يې ووهئ که عفو ورته وکړئ تقوی ته به
نژدې یاست .

# اهل سنت وجماعت

**سنت** :- مسلمانان سنت دحضرت محمد (ص) قول او عمل ته وايي ، خو په
اصطلاح کې ډیرې معناګانې لري : په جاري او دايمي توګه د او بو تو يېدلو
ديوه تیره شئ په واسطه پر بل شي باندې کر بنې او خط اچولو ، بنو او بدو
خویونو ته هم ویل کیږي .
**جماعت** :- هغه وخت چې په قرآن کريم او احادیثو کې د کومې مسئلې لپاره
حکم و نه موندل سي ، نو اجتهاد او اجماع ته ضرورت پيدا کيږي ، او رجوع
ورته کیږي . لکه چې حضرت محمد (ص) فرمايي : لا تجتمع امتي على الضلالة
ترجمه : زما امت پر ضلالت او خطا باندې اجتماع نه کوي ، حضرت امام

اعظم نعمان بن ثابت هم د اصحابو رایو ته تر قیاس ترجیح ورکوي .

# داهل سنت او جماعت لوی امامان

## امام اعظم نعمان بن ثابت (رح) :

نوموړی نعمان د پلار نوم یې ثابت او د نیکه نوم یې (زوطا) دی. دی په کال نه اویا (۷۹) هـ ق کې د عراق عرب په کوفه کې زیږیدلی او په کال یو سل و پنځوس (۱۵۰) هـ ق کې د عراق په مرکز بغداد کې وفات او خاورو ته سپارل سوی دی، یو شمیر محققین امام اعظم صاحب د افغانستان ګڼي چې نیکونو یې عراق ته مهاجرت کړی دی. امام اعظم مروجه علوم مخصوص د قرآنکریم، احادیث، تفسیر، فقه د کمال او امامت درجې ته رسولی وو، دی د خپل استاد (حماد) د وفات وروسته (۱۲۰) هـ ق د هغه د شاګردانو د غوښتنې په صوابدید د خپل استاد پر ځای کښېنوست، امام اعظم د پوهې، درایت او زراکت علاوه ډېر متقي او پرهیزګار شخصیت تېر سوی دی. د سیف المقلدین علی عناق المنکرین اثر د حضرت امام اعظم د تقوی په هکله د ده د خولې څخه داسې لیکي: یوې ښځې زه خطا استلم، یوې ښځې زما څخه فقې جوړه کړم، د یوې ښځې زهد زه زاهد کړم .

لومړی دا چې یو وخت زه د یوې لارې څخه تېریدلم چې یوې ښځې اشاره راته وکړه چې هغه شي چې پر لاره لویدلی دی راواخلم، نو ګمان مې وکړ چې دغه ښځه ګونګې ده او دغه شي ځني لویدلی دی، چې غواړي راواې خلم او دي ته یې ورکړم، هغه وخت چې مې شي راواخست او دې ته مې ورانده کړ نو ما ته یې وویل: چې تر یې لځانه سره وساته څو یې مالك یا خاوند پیدا سي .

دوهم دا چې یوې ښځې د حیض په هکله زما څخه پوښتنه وکړه څرنګه چې زه نه پوهېدم، هغې زه داسې وپوهولم چې په هغې سره بې د فقې یو مهم موضوع زده کړه، دریم دا چې د یوې لارې څخه تېریدم یوې ښځې وویل چې دغه هغه سړی دی چې د سهار لمونځ د ماښام په اودا سه کوي، زه له دې څخه چې که خدای تعالی زما څخه پوښتنه وکړي .

(لمر تقولون مالا يفعلون ) كبر مقتا عند الله ان تقولو مالا تفعلون .

نوله دی څخه ور وسته مې د غسې قصد وکړ تر څو چې مې عادت وګرځيد دامام مشهور شاګردان امام ابو يوسف ، يعقوب بن ابراهيم انصاري ، امام زفر بن هذيل ، امام محمد بن حسن شيباني د امام اعظم مشهور آثار دادي : فقه اکبر ، الوصية ، کتاب العلم والمتعلم ، رسالة ابو حنيفه به ابو مسلم البتي امام بصره ، فقه الابسط . (۱)

## امام مالك (رح) :

دی دانس زوی دمالك لمسی او د ابن عامر کړوسی دی ، چې په کال دري نوي (۹۳) هـ ق په مدينه منوره کې زيږيدلی او په کال يو سل نهه اويا (۱۷۹ هـ ق) کې هو هلته وفات سوی دی . امام مالك صاحب ديوي يمني کورني غړی دی چې نيکه يې مديني منوري ته هجرت کړی دی ، ده په قرآني علومو . حديث فقه او تفسير کې پراخ معلومات درلودل چې د مقتدا ئيت او امامت درجې ته رسيدلی ؤ . ده د مدينې په نبوي مسجد کې ډير کلونه د استادی وظيفه اجرا کړي ده . د ده د مذهب اصول لکه د امام اعظم صاحب د مذهب په شاني د قرآنکريم ، او سنتو څخه سرچينه اخلي ، او کړنو ی د مدينې منوري د خلکو عرف ، عادت ، د صحابه کرامو فتاوا و ، قياس ، مصلحت او ذرايعو ته اعتبار ورکاوه د ده مشهور اثر (موطی) نوميږي چې د احاديثو او فقې لويه مجموعه ده .

## امام شافعي (ادريس شافعي) (رح) :

د ده د نسب سلسله د حضرت پيغمبر (ص) وړ نيکه هاشم ته رسيږي ، چې د يمن د غزی په سيمه کې په کال يو سل و پنځوس (۱۵۰) هـ ق کې زيږيدلی او په کال دوه سوه څلور (۲۰۴) هـ ق کې د مصر په مرکز قاهري کې خاوروته وسپارل سو . ده خپل تحصيلات په مکې شريفې ، مديني منوري او عراق کې پای ته رسولی او د امامت ، کرامت ، پوهي او رياضت لوړي درجې ته رسيدلی دی .

---

(۱) امام اعظم ابو حنيفه افکار - داکتر عنايت الله ابلاغ صفحه ۱۲۵

امام مالك ددہ استدلال او حافظه ډیره ستایي، او په شاګردۍ یي افتخار کوي، د امام شافعي صاحب د مذهب اساسات پر قرآن، سنتو او قیاس ولاړ دي. د استحسان او مصالح مرسله د نظر سره موافق نه دي، حکمه دی وایي: چې په دې ډول تشریع کې د قوانینو او احکامو په وضع کې تشتت او پراګنده ګي پېښیږي، امام شافعي صاحب د شرعي احکامو او قوانینو په هکله وایي:
د شرع احکام باید پر هغو ټولو موضوعاتو، حوادثو او واقعاتو کوم چې د انسان سره ارتباط پیدا کوي مشتمل وي.

## امام احمد حنبل (رح):

دی په کال یو سل و شلو شپیته (۱٦٤هـ ق) کې په بغداد کې زیږیدلی او په دوه سوه څلویښت (۲٤۰هـ ق) کې د سپین ږیرتیا په عمر هغه وخت چې عباسي خلیفه دی په دې جرم و واهه چې قرآن شریف نه مخلوق نه وایي د هغې ضرب څخه وفات سو. دہ په ډیرو یي وسي او لاس تنګۍ په بصرې، مکې شریفې، مدینې منورې کوفې، یمن او شام کې خپل تحصیلات بشپړ کړل او په فقه او احادیثو کې د امامت او اجتهاد هسك مقام ته ورسید. دہ د اسلام د ډیرو مشایخو لکه مصري ذالنون، بشر خافي، سري سقطي او معروف کرخي سره لیدلي او صحبتونه یي ورسره کړي دي.
په عدل او تقوی کې یي ډیر حکایتونه سته. دده مشهور استادان امام ابو یوسف او امام شافعي صاحب ګڼل کیږي. دده د مذهب اصول د قرآن کریم حدیثو، د اصحابو پر اقوالو، قیاس، مرسله مصالحو د ذرایعو سد څخه تشئت کوي، همدا شان د ضرورت په وخت کې د نورو مذاهبو پر ټولو اصولو استناد کوي او یو هم بشپړ نه ردوي.
د حضرت امام احمد حنبل فقه تر ټولو نورو مذاهبو د ذرایعو د سد څخه ډیره استفاده کوي.

# دریم فصل

## دکندهار مشهور مسجدونه او جامعګانی

په کندهار کې د اسلام د لومړنیو پیړیو مخصوص د میرویس نیکه او احمدشاه بابا د زمانې راهیسې د علم او عرفان خواته زیاته توجه وه او د افغانانو دغو دوو مشرانو شرعي چارو، د تصوف او عرفان طریقو ته په زیات احترام کتل دوی د دولتي چارو د اجرا آتو ورو ستر علماء او مشایخ پرځان را تول ول، او خپله برېي هم د زهد او تقوی لاره غوره کړې وه چې له همدغه کبله افغانان د دې څخه پرته چې دوی خپل سیاسي او ملي مشران ګڼل، په ولایت فقیري او صاحب حالي هم ورته قایل وو. چنانچه میرویس نیکه د توري غاري (سیاشرهي) او احمدشاه د بادو یا ناسور د نارو غې اوده درلوده.

دکندهار خلك لکه د افغانستان د نورو او سیدونکو په شانې د ملایانو، طالبانو پیرانو او مشایخو سره د زړه د کومي علاقمندی لري او د وی خپل دیني او دنیوي لارښوونکي ګڼي.

هغه وخت چې لویدیځ استعمار د افغانستان څینې برخې نه مستقیم او غیر مستقیم استعمار لاندې ونیولې د وی پوهیدل لکه افغانان د خپل تاریخ، تهذیب او ثقافت څخه خرنګه چې بنیایي خبر سي نو حکومت کول پر دوی باندې څه آسان کار نه دی. نو ځکه د دغې لارې څخه یې د دوی د فکر دمغذ رولو او ذهنو د نیاره کولو له پاره په د سیسو او توطئو شروع وکړه کندهاریانو د خپلو ملي او دیني وجایبو د پرځای کولو او په جمع دلمانځه دادا کولو له پاره بیل مسجدونه او جامعګانې جوړې کړې چې مشهورې یې دادی زړه جامع مسجد، د شاه مسجد جامع، د میرهزار مسجد جامع، د مدد خان مسجد جامع، د ملا فرح الدین اخند جامع او مسجد، د کمندل خان مسجد جامع د خرقې شریفې مسجد جامع، د عیدګاه مسجد جامع، د ملا شرف الدین اخند مسجد جامع، د حاجي ګل محمد مسجد جامع، د بنکارپور بازار مسجد جامع

دافغانان پوړ مسجد جامع، د یحیی خان دکوټې مسجد جامع، دګارډیانو دکوټې مسجد جامع، په ده خواجه کې د عمرجان صاحب زاده مسجد جامع، د ملا علو اخند دکلي مسجد جامع، په نوي ښار کې د موسی خان او حاجي عطا جان مسجد جامع، د حاجي عبد الحی هوتك مسجد جامع، د حاجي اختر محمد بارکزي مسجد جامع، د خیر و اخندزاده مسجد جامع، ا[illegible] پاره او دلوړې ناحیې د شیعه ګانو مسجد جامع او داسې نور.

په دغو جامعګانو کې ملایان او طالبان هستیږي، هرڅوك د خپل مالي استعداد او دیني علایقو له مخې مرسته ورسره کوي، د نوك ځیرې او نور وخیراتونو او تبرعاتو په نامه هره ورځ د بډای او غریب له کورونو څخه د طالبانو او ملایانو د اعاشې له پاره مرستې کیږي، په دغو مسجدو نو او جامعګانو کې د ورځني دیني مسائلو او واجباتو د حل او فصل کولو او پر ځای کولو له پاره دلویو دیني کتابونو او عقایدو تدریس کیږي او د جمعې او متبرکو ورځو کې د قرآن عظیم تفسیرونه او درود تنویل کیږي لکه د طلوع افغان د جریدې د (۱۳۱۳ هـ ش) کال په شماره کې د خانګي مکتبونو تر عنوان لاندې داسې لیکلي سوي دي:

د معارف د وزارت له خوا څخه انعامونه وهغو خلکو ته مقرر دي چې خانګي مکتبونه لري، که څه هم په کندهار کې خانګي مکتبونه ډیر دي خو د غربي نیات مشهور دي:

دکاکړو برج :- حاجي غلام محمد (۴۰) تنه شاګردان، ملا کهندل (۲۱) تنه شاګردان، ملا غلام محمد (۱۲) تنه شاګردان، ملا عین الدین (۹) تنه شاګردان، ملا ګل محمد (۱۱) تنه شاګردان، ملا عبد الصمد (۱۴) تنه شاګردان، ملا عبد الوهاب (۱۰) تنه شاګردان.

د نوړ زوړ دکوټې برج :- ملا حاجي اغا (۴۵) تنه شاګردان، ملا میر اغا (۱۶) تنه شاګردان حافظ نور محمد (۸) تنه شاګردان، ملا نور محمد (۹) تنه شاګردان، ملا غلام قادر (۱۵) تنه شاګردان، ملا ولي محمد (۱۳) تنه

شاگردان، ملا عبد الغفور (۲۴) تنه شاگردان.

د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کښې د کندهار په دغو مسجدونو او جامعګانو کې د کندهار د ښار د هلکوانو علمي او دیني زده کړه کیده، کنز، قدوري، صرف نحو، تفسیر، عقاید او نورې یې لوستل، او په پارسیاتو کې یې پنج کتاب تحفة النصایح، زلیخا، سکندرنامه، بهار دانش، اخلاق محسني، ګلستان بوستان او داسې نور لوستل، چاچې زیات عالي استعداد درلود خپلو اولادونو ته به یې په کورونو کې ملایان، طالبان او خلیفګان استخدامول په کندهار کې خلك د مسلمانۍ پر پنځو بناؤ لکه کلمه، لمونځ، روژه، ذکوة، حج پوره راسخ او ډیر ټینګ دي. په تصوف کې د امام رباني المجدد الف ثاني مکتوبات او د مولینا جلال الدین بلخي مثنوي او د علي هجویري کشف المحجوب زیات لوستل کیږي او د اولیاؤ د تذکرو او مناقبو سره پوره علاقمندي لري. د کندهار په مسجد جامعګانو کې د روژې د مبارکې میاشتې د تراویح ختمونه کیږي. لکه چې په دې هکله د طلوع افغان ورځپاڼه داسې اعلام خپروي:

په لومړیو لسو شپو کې:

۱- د خرقې شریفې په مسجد جامع کې قاري عبد الصمد اخندزاده، فاتح عبد الرزاق اخندزاده.

۲- د ملا فرح الدین په مسجد جامع کې قاري الله داد، فاتح اغا محمد.

۳- د بهاؤ الدین صاحبزاده په مسجد جامع کې قاري ملا عبد القدوس فاتح ملا کمال الدین

۴- د یحیی په مسجد جامع کې قاري ملا غلام نبي، فاتح ملا نعمت الله اخند.

۵- د ملا غلام محی الدین په مسجد جامع کې قاري انوار الدین، فاتح ملا نیاز محمد.

۶- د میر هزار په مسجد جامع کې قاري ملا محمد رفیق، فاتح ملا محمد یاسین.

۷- د خدای په مسجد جامع کې قا ري ملا در محمد، فاتح ملا عبد الاحد.

۸- د ملا ولي محمد اخندزاده په مسجد جامع کې قاري ملا شاه محمد، فاتح ملا عبد الودود.

۹- د ډاکرو په مسجد جامع کې قاري ملا عبد الوهاب، فاتح ملا شیر احمد.

۱۰- د عبد الحکیم اخندزاده په مسجد جامع کی قاری ملا عبد الحلیم، فاتح ملا حفیظ الله.

په منځنیو لسو شپو کی:

۱- د احمد علی اخندزاده په مسجد جامع کی قاری ملا عبد الوهاب، فاتح ملا شیر احمد

۲- د مد دخان په مسجد جامع کی قاری ملا غلام نبی، فاتح ملا نعمت الله.

۳- په زره مسجد جامع کی قاری ملا عبد القدوس، فاتح ملا کمال الدین اخندزاده.

په اخرو لسو شپو کی:

۱- د ملا شرف الدین اخندزاده په مسجد جامع کی قاری ملا عبد الوهاب، فاتح ملا شیر احمد.

۲- د کهندل خان په مسجد جامع کی قاری ملا عبد القدوس، فاتح ملا کمال الدین

۳- د شاه په مسجد جامع کی قاری حاجی ملا اغا محمد، فاتح ملا ولی محمد.

۴- د ملا فیض محمد اخند په مسجد جامع کی قاری ملا غلام نبی، فاتح ملا نعمت الله

۵- د توپخانی دروازی په مسجد جامع کی قاری ملا محمد حلیم، فاتح ملا حفیظ الله

۶- د سردار مهردل خان په مسجد جامع کی قاری نور احمد اخندزاده، فاتح ملا عبد الصمد.

## زره جامع

دغه مسجد جامع د کندهار د اوسنی ښار په دریمه ناحیه کی د برد رانیو د کوڅی جنوبی خوا شا البرج ته نږدی د بامیزو په کوڅه کی د احمد شاه بابا د لار ښوونی له مخی په کال (۱۱۷۲ هـ ق) کی د بخارایی معماری په سبک په سر ښپنی ختی او گچو جوړه سوی ده. او خرقه مبارکه هم د لومړی ځل له پاره په دغه مسجد کی کښېښول له سوه، په (۱۱۹۶) هـ ق کی چی د خرقی مبارکی له پاره د روضی د باغ په غولی کی نوی تعمیر جوړ سو، خرقه مبارکه په شاندارو مراسمو ورته انتقال سوه، په دغه مسجد کی د کندهار مشهورو ملا یانو او خطیبانو امامت او تدریس کړی دی، چی د هغو څخه علامه ملا حبیب الله اخند (حبو اخندزاده، تولد ۱۲۱۳، وفات ۱۲۶۵) چی په پښتو، دری، عربی کی زیات تالیفات لري، لکه: مرآة حق، آفات و اقسام غوږ

رسالہ تفکر، رسالہ نماز، مزایای صبر و شکر، محبت الهی، د مؤمن او کافر تمیز، د وفیاتو تاریخ، یحق الحق، شمع بارقه، د فیصل التفرقه خلاصه د امام غزالی صاحب د کتاب لنډیز، مفتنو الحصول فی علم الاصول سمت قبله، کسان المیزان فی تقویم الاذهان، د مقامات جریری شرح په دری، روضات د تحریر اقلیدس او ساوذیسوس شرح، نقد الشقات فی تنزئیف الموضوعات د احادیثو په تخریج کی، د موسیقی رساله، تهافت تنقیح په دی کتاب کی د امام غزالی صاحب او ابن رشد د نظریاتو په هکله قضاوت، پر الغ بیک زیج حاشیه، د پوښتنو ځوابونه په عربی، امانت الملة فی توقف عن تکفیر اهل القبله، مجموعه خطب په دری، د ابن سینا د اشاراتو د نمط تاسع شرح، ابجد التاریخ، د خلفاؤ تاریخ په عربی، د پښتو او دری د اشعارو مجموعه او نور.

د زړی جامع په مسجد کی مولوی ابو الوفا افغان (تولد ۱۳۱۰، وفات ۱۳۵۴ ه ق) دیو شمیر فقی او علمی اثارو لیکوال او ملا عبد الاحد اخندزاده کاکړ لوی خطاط، د لوی کتابخانی خاوند. په پښتو او دری کی د (خاکی) په تخلص د ادبی او اجتماعی شعرونو ویونکی هم امامت او تدریس کړی دی.
دغه ملا صاحب په کال (۱۳۲۷ ه ش) په کندهار کی د (۸۲) کالو په عمر وفات او د کندهار په عمومی هدیره کی خاوره و ته وسپارل سو.

## د شاه مسجد جامع

دغه مسجد جامع د شاه بازار په خوله کی په نیم جریب ځمکه کی د زړو تنو لمونځ کونکو له پاره د احمد شاه بابا د لاربښوونی له مخی جوړه سوی، د جامع د غولی د پراخوالی له پاره د امیر حبیب الله سراج الملة والدین د خوښی سره سم شمالی خوا یی پراخه سوی او و مخ رمه سرکاری محکمه ورسره یوځای سوی او ځینی د هستوګنی کوټی و نه د راښیولو په صورت یی په محوطه کی ورګډ سوی دی. د دغه مسجد جامع زیاتره امامانو او خطیبانو هم

حیثیت درلود او د دولت له خوا اعاشه کېده. د دغه مسجد جامع لومړی ملا او خطیب محمد رسول اخندزاده سرکانی الکوزی نومېده چې د اعلیحضرت احمدشاه بابا له خوا د امامت او خطابت وظیفه ورسپارل سوې وه (۱۱۷۲ هق) دی به د پاچا په سفر او حضر کې ورسره ملګری ؤ. د ده وروسته زوی یې محمد اسلم اخندزاده او بیا محمد نصیر اخندزاده، غلام صدیق اخندزاده، او احمدجان خطیب اخندزاده ته د وظیفه سپارلې سوې وه. ملا احمدجان خطیب اخندزاده د اعلیحضرت امان الله خان او اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سلطنت په اوایلو کې د کندهار کې د معارفو او مدرسو د تاسیسولو او استادی د وظیفې په منلو سره ستر خدمتونه کړي دي. او د ده وروسته زوی یې عبدالله اخندزاده خطیب د دغه وظیفه په سر رسولې او د (۱۳۵۷) کال په انقلاب کې د اتحاد او اتفاق د راوستلو او ورورولۍ او امنیت د خرابولو د مخنیوي په لار کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په تبلیغولو کې په (۱۳۶۰ هش) کې په خپل مسجد جامع کې په شهادت ورسید.

## د میرهزار مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار د دوهمې ناحیې د الکوزو او نورزو د کوڅو په تقاطع کې په نیم جریب ځمکه کې د میرهزار الکوزي په نوم یادېږي چې هغه د تیمورشاه له خوا د بلخ او کشمیر ولایتونه هم کړي دي په بخارایي سبک جوړه سوې او دیونیم زره تنو لمونځ کونکو له پاره ځای لري، د تعمیر د محوطې ختیځې برخې یې بیا د مدخل تر لویې دروازې پورې په وړوکو حجرو او د طالبانو د هستوګنځي په ځایونو بنکلی سوی دی، لوړه پخه منار ویې د لیرې څخه بنکاره کیږي او اذان یې د دوهمې ناحیې تر زیاتو سیمو رسیږي. د دغه مسجد جامع مشهور ملا امامان او خطیبان ملا جمال الدین اخندزاده اسحق زیی، ملا بهاءالدین اخندزاده اسحق زیی، او په او س کې ستر او متبحر عالم استاد کمال الدین اخندزاده نومیږي چې د کندهار یا نور زیاتو دیني او اولسي چارې

دحل او فصل مرجع دہ . (۱)

## دمدد خان مسجد جامع

دغه مسجد جامع دکندهار د شکارپور بازار ختیځ خواته په دوهمه ناحیه کی په نیوجریب ځمکه کی په پخوکندهاری خښتو او ششکانو د سپه سالار (مدد خان) دلاور خان اسحق زی مصری زی لخوا په یوپوړ ییځ د ولس (۱۱۸۶ هق) په شاوخوا کی جوړه سوی ده، چی د زړو تنو له مونځ کولو له پاره ځای لری، مدد خان د احمدشاه بابا په ډیرو مجاهدوکی لکه ملتان، بهاولپور، نشاپور کی حضور درلود او د ښو خدمتونو له کبله یی چی افغانانو او عالم اسلام ته کړی وه د دلاور خان په لقب وویاړل سو، او خوړیی تیمورشاه وغوښتله دی د تیمورشاه د سلطنت په وخت کی په هرات کی وفات سو او جنازه یی د هلمند ولایت د نوزاد د ولسوالی په صوفیه کلی کی خاور و ته وسپارل سوه.

په کابل کی یوکوڅه او یو مسجد هم دده په نامه یادیږی . په دغه عشیره کی ډیر خدای دوسته او بزرگان ملایان تیرسوی دی چی مشهوریی دا دی:

فضیلت مآب حاجی ملا ولی اسحق زی د تیمورشاه په زمانه کی د مسجدونو متبرکو مقامونو خانقاهو د سرپرستی علاوه د ملا باشی حیثیت هم درلود دده د وفات وروسته زوی تریی خدابخش په (۱۱۸۹ هق) او وروسته یی لمسی ملا عبدالکریم او د وفات وروسته یی کړوسی ملا ابوبکر ته د خپلو تیرو اسلافو په شانی نوموړی وظیفه وسپارلی سوی وه .

ملا ابوبکر یو جید او بزرگوار ملا ؤ، د کابل د کتابفروشی په مسجد کی یی تدریس کاوه . او د هغو متبحر و او لوړ و اخلاقو خاوند ملایانو لکه حاجی ملا عبدالرزاق اندړ، پشدی قاضی ملا غلام جان د پلی ښځه وچی د امیر عبدالرحمن خان ټولی شرعی او قضایی چار و د تنظیمولو او قاضیانو د علمی رتبو او حیثیتونو تاکلو متکفل ؤ . د ملا ابوبکر مشهور

---

تاریخ احمد - منشی عبدالکریم علوی صفحه ۲۵

تالیف تقویم الدین نومیږی، د ه قرآنکریم په څلویښتو (۴۰) شپو کې حفظ کړې ؤ. ملا ابوبکر د ژبې د بندید و د ناروغۍ له کبله د کابل ښخه کندهار ته راوستل سو او څو ورځې وروسته وفات سو. ملا ابوبکر یو زوی درلود چې ملا محمد یوسف نومیده، دی دکندهار د متقی او خدای دوستو ملایانو څخه گڼل کیدی. چې د (۹۰) کالو په عمر وفات سو، د ده څخه دری زامن پاته سول چې اخندزاده محمدرسول د نادرشاه او محمد ظاهرشاه په وخت کې د سناد مجلس غړی، محمدحسن اخندزاده د اعلیحضرت امان الله خان او اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سلطنت په دوره کې دکندهار د معارفو د ترقی یو مشهور غړی ؤ او دکندهار دارالمعلمین کې تر ډیره وخته سرمعلم پاته سو، څو د پیری سپین ږیرتیا او کمزورتیا له اثره یې تقاعد وکړ. بل زوی یې محمدنبی اخندزاده نومیږی چې تخلص یې یوسفی دی، په معلمی او تجارت لگیاؤ او د (۱۳۵۸ هـ ش) راهیسې یې امریکې ته مهاجرت کړی او په نیویارک کې دیوې کندهاری کالونی د مسجد د امامت وظیفه اجرا کوی.

مولوی عبدالرب اخندزاده فیاض

د دغې کورنۍ وروستی مشهور غړی ؤ چې په کال (۱۳۲۲ هـ ش) کې دکندهار د وهمې ناحیې د اسحق زو په کوڅه کې زیږیدلی ؤ، د ده خپل لومړنی تحصیلات دکورنۍ د غړو څخه په سر رسولی دی. په عقایدو، تفاسیرو او تصوفو کې یې لوی لاس درلود. ده په خپل مسجد جامع کې د جمعې په ورځ او په کال په متبرکو او تاریخي ورځو کې د قرآن تفسیر او تبلیغ کاوه. او زیات ارادتمندان او مخلصان یې درلودل. د انوار تبلیغ اثر د ده د پیژندگلوی په هکله داسې لیکي: مولوی عبدالرب داسې خندان رویه او مینه ناک ؤ چې هرچا گمان کاوه د ده پلار یا تر ټولو نږدی دوست دی، دی د څلورو طریقو اتصوفی طریقی اجازه ؤ. دی د خپل عمر په را وروسته وختو کې دکندهار د مطبوعاتو په مدیریت کې د دینی تبلیغ او ارشاد نماینده ؤ، د طلوع افغان په ورځپانه کې یې یو شمیر دینی

تاریخي موضوعگانو په پلټنې خبري سوي دی. مولوي حاجي عبد الرب اخندزاده د (۱۳۵۷ هـ ش) کال په انقلاب کې په شهادت ورسید.

## د کهندل خان مسجد جامع

دغه مسجد جامع د سردار کهندل خان په هدایت چې د امیر دوست محمد خان ورور ؤ دده په شخصي ملکیت کې په نیم جریب ځمکه کې یو پوړیځ جوړه سوي ده. (۱)

څرنگه چې د ښار په نفوسو د که سیمه کې موقعیت لري او د شاه، کابل ښکارپور او هرات بازارونو په تقاطع چار سوق ته نژدې واقع ده، نو د ماپښین او ماخیگر او ماښام په وختونو کې پیر لمونځ کونکی لري. د دې له پاره چې غولی یې پراخ سي نو د امیر حبیب الله سراج الملة والدین د هدایت له مخې د شمالي او جنوبي برخې ځینې ورخرمه ځمکې یې د خلکو څخه په بیه واخستله سوه او په محوطه کې یې زیاتوب راغی، د اودسونو د تازه کولو او د طهارت د چارو د تنظیمولو له پاره یې د پاتاو ویاله د دغه مسجد جامع د لویدیځې او ختیځې برخې څخه را تیره سوه. د دې له پاره چې د تدریس او امامت چارې په خاطر جمعی او اطمینان اجرا سي نو د دولت له خوا د وسوه دکانونه هم په وقف ورکړل سوه چې د عاید انو څخه یې د موظفینو اړتیاوې رفع سي، په دغه مسجد کې کله کله ملا ولي محمد خجندي تدریس کاوه.

ملا ولي محمد اخند خجندي د ملا مروت زوی د کندهار د کلچابات (قلیچ آباد) او سید ونکی ؤ. چې د غه کلی د کندهار د جنوب په یو کیلومتري کې واقع دی. څرنگه چې یې د بعد مسافې له کبله د خپلو شاگردانو تدریس ته رسیدگی نه سوکولای، نو په هفته کې دوه ځله د کندهار د کهندل خان مسجد جامع ته راتلی او د خپلو شاگردانو او علاقمندانو علمی ضرورتونه یې رفع کول، ملا صاحب په عقلي او نقلي علومو کې لوی لاس درلود او مشهور آثار یې دا دي:

---

(۱) سردار کهندل خان په (۱۲۷۱ هـ ق) په کندهار کې مړ دی

۱- پر یعقوب چرخي تفسیر باندې یې په عربي حاشیه لیکلې ده چې چاپ سوې نه ده.
۲- پر صرف میر باندې یې په فارسي شرحه لیکلې ده چې چاپ سوې ده.
۳- پر مستخلص یې په عربي حاشیه لیکلې ده چې چاپ سوې ده.
۴- د نحو پر شمه باندې یې په عربي حاشیه لیکلې ده چې چاپ سوې ده.
۵- ترکیب شرح مائة عامل د نحو په پښتو لیکلې سوې ده او چاپ سوې ده.
۶- قول مختصر فی بیان الدلیل العمل اسقاط الصلاة والصوم په عربي چاپ سوی.
۷- رساله اسقاط په عربي چاپ سوی.
۸- اسقاط میت په فارسي ژبه چاپ سوی.
۹- پر محمود او ایاز باندې په فارسي شرحه چاپ سوی.
۱۰- د هدایة پر دیباچي باندې عربي شرحه چاپ سوی.
ملا صاحب د عمر په اویا یم کال په خپل کلي کلچابات کې په کال (۱۳۲۰) کې وفات او هم هلته خاوره ته وسپارل سو.
د کهندل خان مسجد جامع د موی مبارکې جامع په نامه هم یادیږي.
موی مبارك د حضرت محمد (ص) د ویښتانو څخه کېږل کیږي چې د جنوبي پښتونخوا په پښین کې ساتل کیدی، هغه وخت چې دغه سیمه انګلیسانو ونیوله، یوه صاحب حال سړي خوب ولیدی چې دغه ویښته وایي چې ما د کفر د سلطې څخه دارالاسلام ته نقل کړي.
نو هغه ؤ چې کندهار ته راوړه سو او د سردار محمد عثمان خان نایب الحکومه د هدایت له مخې د سردار کهندل خان په مسجد جامع کې ځای ورکړه سو.
د دغه ویښته د تبرك او پاکۍ په هکله ډیر روایات موجود دي او کندهاریان یې زیاته لمانځنه او احترام ورته کوي او همیشه یې زیارت کوي.

# د ملا فرح الدین اخند مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په دوهمه ناحیه د هرات بازار د اخند د دهانې
په خوله کې په نیو جریب ځمکه کې په څوخته او گچو جوړ سوی او د زرو
ستو لمونځ کوونکو لـه پاره ځای لري. دغه مسجد تر نورو مسجدونو
ځکه مشهور او زیات مراجعین لري چې ملا صاحب د خپل ژوندانه
په دوره کې په دغه مسجد کې امامت او خطابت کړی او د قرآنکریم تفسیر
او دوره یې په کښې کاوه، او په دغه مسجد کې خاوره وته وسپارل سو
ملا فرح الدین اخند په (١١٥٩ هـ) کې په کندهار کې زیږیدلی او د عمر
په (٨٢) سن د ذیقعدې د میاشتې په (١١) (١٢٤١) هـ کې په کندهار کې وفات
سوی، ملا صاحب د ننگرهار د میا فقیر الله صاحب حصارکي مرید او
زیات مکاتبه یې ورسره درلوده، ملا فرح الدین اخند په تصوف او
اخلاقو کې ډیر تالیفات لري یو مشهور منظوم اثر یې (تعداد الکبائر)
نومیږي چې څو بیته یې د نمونې په ډول دلته راوړل کیږي.

بل حلال، حلال گڼل دی — هر حرام، حرام منل دی
شفقت پر مسلمان کړه — له هر چا سره احسان کړه
په ښادی د ده ښادمن سه — هم په غم د ده غمجن سه
چې د کفر موجبات دی — په دوو کوند مهلکات دی

# د خرقې شریفې مسجد جامع

د خرقې شریفې د زیارت لـه پاره د کندهار د نژدو او لیرو سیمو څخه
هر کله ډیر خلک راځي مخصوص د جمعې په شپه د سهار څخه تر ماښامه
هلته ذکر وړ کیږي، دعا او استغفار ویل کیږي، څرنگه چې د خرقې شریفې ساحې
د زیارت کوونکو او عبادت کوونکو لـه پاره گنجایش نه درلود، نو د امیر
حبیب الله سراج الملة والدین د خوښۍ سره سم د ختیځې لوري څیتې سراینه

يې دهغې د ساحې د پراختيا په منظور راښېول سوول او د جنوبي خوا دالانونو

يې چې خلکو به د عبادت او سرپټولو کارځنې اخست پراخ کړ او خونونه ،

دالانونه يې د نوو مسجد جامع په شکل باندې جوړ کړل چې د زرونو لمونځ

کوونکو لپاره ګنجايش لري. د ملا امام ، موذن او خادمانو له پاره يې کافي

تخصيصيه ورمنظوره کړې .

د خرقې شريفې او دهغې مسجد جامع د توليت او امامت چارې لومړى ځل

د اعليحضرت احمد شاه بابا د فرمان له مخې په (۱۱۸۳ هـ ق) کې د دوه ارغستاني

الکوزو ورونو عبد الحق او مولاداد ته چې دحاجي ملا شکر زاهن او دحاجي

ملا زلال لمسيان وو ورته سپارل سوي وې ، دوی په کندهار کې په علم او

تقوی مشهور وو ، د ملا عبد الحق صاحب د وفات (۱۲۱۴ هـ ق) وروسته

اولادونه يې د ميراث او توليت په توګه دغه وظيفه تر اوسه پالـلې ده .

د خرقې شريفې او مسجد جامع د حفاظت او متوليانو د مصرف او اعاشې

له پاره دېر تخصيصات منظور سوي وه . په مستمرې توګه هغه ځمکې چې د

شاقلې پر او بو خړو بيدلې دهغو عايدات ورته وقف سوي وه ، او پاتر برخه

يې چې نقدې پيسې ، غله ، ميوې او پسه وره د متوليانو د احتياجو د رفع کولو

وروسته خيراتيدل ، لکه چې د يو فرمان له مخې څرګنديږي ، د خرقې شريفې

عوايد و دوه سوه تومنو نقدو پيسو ، دوه سوه پنځوس خروارو غلې

پروړ و ته رسيدل ، همدا شان د خرقې شريفې د متوليانو د

اړتيا و د رفع کولو له پاره د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سليمان د دوو

بابو کاروان سرايو او دوکانو عوايد هم وقف سوي وو .

د خرقې شريفې د مسجد جامع امامت او خطابت د څه وخت له پاره د ملا

محمد صديق اخندزاده د خوښې سره سم و مولوي عبد الحق صاحب

عليزي ته چې د هغه شاګرد او اخلاص مند و هم سپارلې سوي ؤ ، ملا

عبد الحق صاحب عليزي د ملا ګلستان زوی ؤ چې د مولوي احمد صاحب

الکوزي د شاګردۍ افتخار يې هم درلود ، ده د تدريس وروسته

دقضا وظیفه هم اجرا کوله، دده دقضا په مهرکي داسي ليكل سوي وه.

زند برفرق دشمن تيغ بران * عبدالحق غلام شاه مردان

دده مشهور آثار دادي: - پر قاضي سلم باندي حاشيي، په نحوکي پر مولينا جامي باندي شرحه، عبد الغفور باندي شرحه، دکشاف البخاري په نامه شرحه پر علو او قاف رساله، دقرآن کريم د (۱۴) سپارو تفسير. دده مشهور شاگردان ملا عبدالحق صاحب الكوزي مشهور په ملا اكا، دهغه ملا صاحب ملا نجم الدين اخند، د ملا صاحب پر كومړني کي لوی علما او متصوفين تير سوي دي چي دهغو څخه ملا عبدالله په عبدو مشهور، د منځني ختيځ او افغانستان لوی عالم محمد عبدالكريم حقاني د افغانستان د جمعيت العلما رئيس د عدليه وزارت معين او د حقوقو او سياسي علومو د فقه استاد، مشهور اديب او شاعر عبدالرؤف بينوا د پښتو ټولني رئيس او د اطلاعاتو او كلتور وزير او په ليبيا كي افغاني لوی سفير ؤ.

## دعيدگاه مسجد جامع

دكندهار د ښار شمالي برخي د عيدگاه دروازي د باندي چي دكندهار يانو عمومي هديره ده. او پخوا د پسرلي په موسم کي كندهاريانو هلته د ناورانو ميله استله، شيرچاي بي جوړ ولي، پهلواني او اتنونه يي كول، د اخترونو متبركو ورځو او عمومي خواستونو په اثنا كي بريي ملي او ديني مراسم پر ځای كول نو دعيدگاه د مسجد جامع جوړ ولو ضرورت چي لمونځ كونكي كله د باران او كله د گرمي او يخ د فشار څخه و ژغوري هر كله ضرورت حس كيدي، څو د امير حبيب الله سراج الملة والدين د لارښوونی سره سم د سردار محمد عثمان خان نايب الحكومه په واسطه دغه احتيار رفع سوه او د دوه جريبه ځمكي په احاطه كولو سره يي يو وړوكى مسجد جوړ كړ چي په ديني او ملي ورځو كي دعبادت ځای كارځني ولخستل سي.

او دعيدگاه نامه پرونو موال سو.

## دعثمان آباد مسجد جامع

دغه مسجد جامع د ښکارپور بازار د ساحې په منځنۍ برخه کې د مدد خان جامع ته ورخرمه په نیو جریب مځکه کې اباد ه سوی او د سراج الملة والدین په عصر کې سردار محمد عثمان نائب الحکومه هغه د سره ترمیم او تجهیز کړه. دغه مسجد جامع اوس د قرآن کریم د تفسیر او حفظ د مهمو مرکزونو څخه ګڼل کیږي .

## د دینارخیلو د کوڅې مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په دریمه ناحیه کې د دینارخیلو په کوڅه کې په ښوخته او ګچوجوړه سوی او په هغه کې دشپږ سوو لمونځ کوونکو له پاره کافي عبادت ځای سته. دغه مسجد جامع د کندهار د ښاروالۍ د ، مسجد ونو د دفتر په قید کې د شیخ عبد الحکیم قندهاري د مسجد په نامه هم یادیږي چې په متبرکو ورځو او شپو کې د تراویح لمونځونه او د قرآن ختمونه او تفسیرونه هم پکښې لوستل کیږي ، دغه مسجد جامع یو مشهور ملا او عارف شیخ عبد الحکیم قندهاري نومیږي چې یوازې د افغانستان نه بلکه د منځنۍ ختیځ لوی حنفي ، فقي ، مفسر ، متصوف او محقق عالم وُ چې په راوړوستهٔ یعنې په (۱۲۵۱ هـ ق ) کې د دمشق په ښار کې اوسیدی ، او په (۱۳۶۶ هـ ق) کې هوهلته وفات سوی دی ، شیخ صاحب د ، بډایانو او حاکمانو څخه لیرې ګرځیدی ، د فقیرانو او درویشانو سره یې سروکار وُ ، ده په خپل زحمت او زیار ژوند تیر او ، د تدریس او ارشاد وروسته یې د کالیو په تغیر د څه موند لو له پاره جوالیتوب ، ژرنده ګري ، او چوپاني هم کوله او له چا څخه یې د مالي مرستې توقع او هیله نه درلوده تحفه او بخشش یې هم نه مانه .

الاعلام قاموس تراجم په خپله (۲۸۳) صفحه کې د ده د زیږیدنې

او وفات پر هکله لیکي : - (الافغاني ۱۲۵۱ - ۱۳۲۶هـ = ۱۸۳۵ - ۱۹۰۸م).

عبدالحکیم الافغاني القندهاري: فقیه حنفي ورع، من الزهاد، سکن دمشق وتوفي بها، کان یأکل من عمله ولا یقبل من احد شیئاً وعرف الناس فضله فأقبلوا علی تلقي الفقه والحدیث عنه، له شروح وحواش تدل علی علم وتحقیق منها (کشف الحقایق رط، شرح بر الکنز) في فقه الحنیفه، جزآن، وشرح الشاطبیه، وحاشیه علی شرح البخاري، وحواش وتعلیقات علی، علی الهدایته، وعلی حاشیه ابن عابدین، وشرح المنار، وحاشیه علی تفسیر النسفي).

مشهور آثار یې دا دي: په حنفي فقه کې کشف الحقایق، الکنز، پر بخاري باندې شرح الشاطبیه، په الهدایته باندې حاشیې او تعلیقات، پر ابن عابدین شرح المنار پر النسفي تفسیر باندې حاشیې او تعلیقات او نور.[1]

مرحوم استاد خلیل الله خلیلي په عراق او سوریه کې د افغانستان پخوانی لوی سفیر او قصیده سرا شاعر د شیخ عبدالحکیم قندهاري د علمیت او عرفان په خصوص کې دغه مناقبت لیکلې دي:

بود شیخ معروف عبدالحکیم — در دمشق شام ایامی مقیم
قندهاري زاده افغان نسب — بیشتر از اهل عصر اندر حسب
بارها کردم زیارت خاک وی — بوسه ها دادم حریم پاک وی
باشد آنجا شهره در نزد عوام — شیخ افغاني نزد بل ارض شام
برده اند از تربتش چندین حلال — در جوار مرقد پاک بلال
منحصر فضلش به نزد همگنان — از حدیث خواجه کون و مکان
روزها بعد از نماز بامداد — بود و قفش صرف تدریس عباد
بعد ازین بر دي بر دوش خویش بار — بهر اندك مزد دادی تن بکار

[1] سحبات التواریخ الدمشق - اعلام، قاموس تراجم لاشهر الرجال والنساء من العرب، والمستعربین، والمستشرقین، تالیف خیرالدین الذرکلي، الجزالثالث (۱۹۸۴) المطبعه السادسه صفحه (۳۸۳)

شامگاهی والی والای شاه — نزد وی آمد بچندین احترام
بر زمین زانو زد و بربست دست — همچو محتاجان به نزد وی نشست
شیخ بر خاك از تعب افتاده بود — کفش خود را زیر سر بنهاده بود
دید والی را، ولی از جا نخاست — از پی تعظیم وی بر پا نخاست
کرد والی با کمال عجز پیش — چند همیان زر از اموال خویش
شیخ از همت به سختی رد نمود — آن همه نذری که وی آورده بود
گفت این مردار را اینجا منه — آنچه آوردی به مردم باز ده
یا بگو تا بینوایان را دهند — ره نشینان و گدایان را دهند
والی از دل شیخ را کرد احترام — سوی دولت خانه اش برداشت گام
گفت شاگردی که ای شیخ حکیم — از چه رو نگرفتی این مال عظیم
داد پاسخ فخر مؤمن همت است — دست کوته نردبانی عزت است
نزد این فرمانده گردن فراز — دست کوته کرد پایم را دراز (۱)

## د صوفي صاحب مسجد

دغه مسجد د بروبازان پر پای کې د کانو شا ته پر هغه برخه کې چې د کلا فیصل د کابل دروازه لوړی بیلیږي آباد سوی او تر شا یې خپله د صوفي صاحب د او سید لو د کور یوه دروازه ورته راجدا کیږي چې هغه به د دغی لاری څخه مسجد ته راتلی.

د صوفي صاحب نوم ملا محمد رسول اسحق زی مندیزی و چې په کال (۱۲۳۲ هـ ق) او (۱۸۱۷ م) کې زیږیدلی، او د (۱۲۸۷ هـ ق) کال دلوی اختر د میاشتی په دیارلسمه ورځ او د مارچ په شپږمه (۱۸۷۱ م) د پنځه پنځوسو (۵۵) کالو په عمر وفات سوی دی، دی مشهور نقش بندي پیر، متصوف او عالم و چې زیاتره به یې د مثنوی شریف او امام ربانی مکتوبات په درس وایه.
پر مثنوی شریف یې یو ناچاپه شرح هم لیکلی ده.

---

۱، شب های آوارگی - استاد خلیل الله خلیلی - صفحه (۲۶۶) - چاپ مکتب عثمانیه (۱۳۶۵)

صوفي صاحب متاهل ؤ، يو زوی یې صالح محمد نوميده چې په مجذوبي حالی اخته ؤ او صوفي صاحب په تلو کان کی د ملاحسن اخند اسحق زی حضور ته بيوی چی دعاوته وکړي او هغه د ده په ژوندکی وفات سوی.

دصوفي صاحب زيارت دکندهار د ښار د شمال لوېديځ خوا په عمومي هديره کی په پنځه جوپير ماجرکی جوړ سوی او له څنګه سره یې مسجد هم آباد سوی دی. دغه د ښته د بابا صاحب تر کوتل پوري تړل د صوفي صاحب د د ښتي په نامه ياديږي.

دصوفي صاحب د وفات په مناسبت په کندهار کی يو زيات شمير شاعرانو او صاحب حاله خلکو مناقبونه او مرثيي ويلي دي چی يوه نمونه يې داده .

ملا عبد الباقي اخند کاکړ د صوفي صاحب په فضيلت کی وايي:

هم صوفي صاحب د بر و تو ره شپه په ښايسته سوه
په سره دوبي او په ژمی دکـر باس یې اغوسته سوه
دکفش کن گرد او غبار یې د اناد ديد سرمه سوه
هغه څوک چی بی طالع وه د اسقاط په بحث اخته سوه

دصوفي صاحب دليدو لو او کښينستلو سره عوامو او خواصو زيات علاقمنده ښوده او د هغه مجلس یې دخير او بر کت منبع گڼله . لکه گلشن امارت چی ليکي:

امير المؤمنين شير علي خان که درسال (١٢٥٨ هـ ق) از هرات بر قندهار آمد به خدمت زبدة الواصلين عمدة المجردين ، هادي طريق مستقيم شريعت ملی رسوم ميا محمد رسول اسحق زی مشهور بين الجمهور بر صوفي رسيد استمداد از باطن او در يافت.

سيد جمال الدين افغاني (١٢٥٤ - ١٣١٤ هـ ق) دکندهار په لويو ملايانو کی د صوفي صاحب نوم را وړی دی ، او ده شاگردان یې هم د ملا خواجه محمد بارکزی او ملا محمد رحيم اسحق زی په نامه ياد کړي دی

دصوفي صاحب د وفات وروسته ملا خواجه محمد او بيا ملا نصر الدين اخند اسحق زی او ملا جمال الدين اخند او بهاء الدين اخند زاده کښينستلي ، او اوس

لوی استاد او ملی شخصیت ملا کمال الدین اخندزاده صاحب دغه موږ ته
په ډیر اهلیت او صداقت مخې ته بیایې .

## دکابل دروازې دچینو مسجد (دصوفیانو مسجد)

دغه مسجد دکابل دروازې او کاکړو د شاه برج تر منځ برخې دکاریز په
غاړه جوړ سوی چې څو حجرې او د اوداسه ځایونه او غسل خانې هم لري، دغه
مسجد د ماپښین، ماښګر او ماښام په وختونو کې ډیر لمونځ کوونکي او ذاکران
لري، او د صوفیانو په نامه مشهور دی، صوفیان په دغه مسجد کې چې نیلترو
نیلې جامې اغوستې او توري لنګوټې تړې په دغه مسجد کې ذکر کوي او د خدای
په عبادت لګیا وي . دیوې پیړۍ راپه دی خوا په دغه مسجد کې ملا عبد الباقي
کاکړ او د هغه اخلافو څخه ملا عبد الخالق کاکړ د ماښګر له خوا د قرآن
کریم تفسیر کاوه او خلک یې د بد و عاداتو د پریښولو او د خدای
تعالی د عبادت کولو او اجتماعي تقوی کولو ته رابلل .
ملا عبد الباقي اخند دکندهار د مشهورو متشرعو او متصوفو
ملا یانو څخه و چې یو اثر یې تبیین الواجبات لتخریب عادات نومیږي چې په
نظم دی او په (۱۳۴۱ هـ ق) کې حاجي ملا غلام محمد خجندي د کتابو تاجر
په لاهور کې چاپ کړی دی .
ملا عبد الباقي اخند د چهارشنبې په ورځ د دلو په (۶) په کال (۱۳۰۴ هـ ش)
کې په کندهار کې وفات سوی دی، د وفات وروسته یې زوی ملا عبد الخالق
اخند د پلار په شان ته ګه پالی ده . (وفات ۱۳۶۲ هـ ش - ۱۴۰۴ هـ ق) (۱)

## دخیرو اخندزاده مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په لومړۍ ناحیه کې هرات دروازې ته نژدې نسبتاً
په پخه ختهه او ګچ مبنکلی جوړ سوی .

---

(۱) تهذیب الواجبات لتخریب العادات - ملا عبد الباقي اخند صفحه ث

خرنګه چې دکندهار یوه علمي او عرفاني کورنۍ یې دچار و دتنظیم تولي او مراقبت کوي نو زیات مراجعین لري. په دغه مسجد جامع کې په دې ورستیو کلونو کې علي محمد اخندزاده تدریس او د قرآن عظیم تفسیر کاوه، دی په طریقت کې د مستونګ د ملا محمد صدیق اخندزاده مرید و چې هغه بیا د ملا ولي محمد اخندزاده توخي خلیفه و او د نقشبندي سلسلې پیرو، دی په (۱۳۴۴ ه ق) کې وفات سو او پرځای یې خیر محمد اخندزاده کښیناست، خیر محمد اخندزاده لوی مفسر او بزرګوار ملا و او د کندهار زیاتو خلکو عقیده ورته درلوده او په شاګردۍ او مریدۍ یې نازیدل، دی په کال (۱۳۱۷) د عقرب په دریمه وفات سو او پرځای یې فضل محمد اخندزاده دغه موروثه پاللې ده. فضل محمد اخندزاده د (۱۳۵۸ ه ش) په انقلاب کې سعودي عربستان ته مهاجرت وکړ

## د مولوي احمد صاحب مسجد جامع

دغه مسجد د خرقې شریفې شمال خوا ته خرمه واقع او په هغه کې مشهور عالم او متصوف مولوي احمد صاحب الکوزي د اسمعیل ابدالي زوی د امامت او خطابت وظیفه اجرا کړې ده، مولوي احمد صاحب د کندهار د لویو او متبحرو عالمانو او صالحانو لکه مولوي عبدالحق علیزي، علامه حبیب الله اخندزاده او ملا ګته اخند استاد او مرشد و او د احمد شاه بابا په وخت کې یې په کندهار کې کې د قاضي القضاتي وظیفه درلوده، د ملا احمد مشهور تالیفات تعلیم السلوک رساله کاشفه، رساله فارقه، وافي الطوائف الصوفیه په منطق کې د قطبي پر میرزا شرحه لیکلې ده.

## د سپین کوټي بابا مسجد جامع

دغه مسجد د کندهار په اوسنۍ دوهمه ناحیه کې د عمرانو په کوڅه کې د سپین کوټي بابا د اولیاؤ څخه په نیم جریب ځمکه کې یو پوړیز د ییر ښکلی آباد کړی او شپږ سوه تنو لمونځ کوونکو له پاره ځای لري، هغه وخت چې سپین کوټي بابا

ژوندی ؤ په دغه مسجد کی یی تدریس او ارشاد کاوه او یوه حجره یی دعبادت او خانقا له پاره تخصیص کړی وه د سپین کوټی بابا اصلی نوم سید نسیم گل آغا په ختنه قریش دی ، د کوچنیو الی ځخه د ده په سر کی یوه او بدلی سپینه کوټی موجوده وه ، چی په همدغه نسبت په سپین کوټی او بیا په بابا او ، بزرگواری مشهور سو ، ده په تصوفو او اخلاقو کی لوی لاس درلود او په (۱۲۳۳ هـ ق) کی وفات او په خپل مسجد کی خاورو ته وسپارل سو ، ښځی او کوچنیان یی زیارت ته ورځی او دروږ ونه باندی تړی .

## د ملا کته اخند مسجد

دغه مسجد د احمد شاه بابا د گنبدی شمالی سیمی ته متصل په درولسو محکمه کی نسبتاً پوخ او مجهز جوړ سوی چی دیو بیوسل تنو لمونځ کولو له پاره ځای لري . د دغه مسجد متبحر او مشهور عالم ملاکته اخند نومیده چی اصلی نوم یی غلام محی الدین او په قاورترکی ؤ . دی متقی او پرهیزگاره ملا ؤ کندهار یانو مخصوص سردار کهندل خان زیاته عقیده ورته درلوده او په مهمو سیاسی او اجتماعی مسایلو کی یی پوښتی . د ده په مناقبت کی یو شمیر شاعرانو او ادیبانو مرثیی ویلی دي چی د هغو څخه فیض الله شاعر وایي :

هیهات پیدا به نه سی یو داسی گل کته جان .
پر شریعت محکمه دغید تل کته جان
هیهات پیدا به نه سی ورته خجل ؤ ابلیس
پرده و جمع شیخان د عالمانو جلیس
ښه معرفت یی کاوه د ده په آیت او حدیث
تولسنگد له زړونو یی نرمول کته جان

## د ملا سلطان محمد اخند مسجد

دغه مسجد دکندهار د دریمې ناحیې د نور صاحبزاده په کوڅه کې په خښتو او ګچو جوړ سوی او محوطه یې د دوبې اوړې په وخت کې د لمونځ کوونکو له پاره ډیر مساعده او ښکلې ده. دغه مسجد ډیر زوړ او تاریخي دی، چې څو ځله ترمیم او تجهیز سوی دی. د دغه مسجد یو مشهور امام او باشنده ملا سلطان محمد اخند پوپلزي یې نومیده چې د علوم د تحصیل له پاره یې د منځنی اسیا او بخوالي هند ته سفرونه کړي دي او د لوی عالم په څیر یې علمي ذخیرې او عرفاني ګنجینې راټولې کړې دي، ملا صاحب په طبو، حکمت، ریاضي، فقه، احادیثو تفسیرو او تصوف کې لوی لاس درلود او دکندهار یو شمیر ملایان او طالبان یې د شاګردي افتخار لري، ملا صاحب د نیوي کالو په عمر د (١٣١٥ هـ ش) کال په شاوخوا کې په کندهار کې وفات سوی او دکندهار د شمالي سیمو په عمومي هدیره کې خاوروته وسپارل سو.

## د ملا عبد الحق اخند الکوزي مسجد

دغه مسجد دکندهار په دوهمه ناحیه کې د میر هزار مسجد جامع ته وړاندې د الکوزو په کوڅه کې جوړ سوی په بیلو وختونو کې څو ځله ترمیم او ښکلی سوی دی، غولی یې محدود او فقط د ملا عبد الحق صاحب الکوزي د یو شمیر شاګردانو او ارادتمندانو د عبادت او افاضي ګنجایش درلود.
ملا صاحب په فقه او تصوف کې لوی لاس درلود، په ځوانۍ کې د پښین د ملا روح الله صاحب د طریقت خرقه پوش ؤ چې هغه د شاه ولي الله دهلوي د طریقې پیرؤ، د ملا صاحب عبد الحق الکوزي د مشهورو خلیفه ګانو څخه یو د سپیروان ملا جانان اخند نورزي نومیده چې د زیاتو مریدانو او شاګردانو په لرلو سره یې په کندهار کې نقش بندي طریقه ډیره معتبره ساتلې وه ملا جانان اخند د عمر په (٨٥) کلن په (١٣٤٨ هـ ش) کې وفات سوی او په سپیروان کې خاورو ته سپارل سوی دی.
ملا صاحب یو مستعند لوجایداد داره پیرؤ او دکندهار په کاغانک کې یې باغونه

سرا یو نه در لودل ، د وفات وروسته یې جایداد خپلې کورنۍ ته وقف کړ او پر
ځای یې فقیر الله جان آغا دغه موږ ته جاري وساتله ، ملا صاحب د ډیر
سپین ږیرتیا په سن په خپل کورکې په (۱۳۱۴ هـ ش) وفات او په خپل مسجد کې
خاورو ته وسپارل سو او دقبر پر شنختر یې دا سې لیکلي سوي دي .

خبر رسید که آن پیر مرشد ایام نمود عزم بقا از ولایت دنیا
بصیر پیر طریقت شعار وبا تمکین بود که بگذشت به تقوی ز راحت دنیا

## د سید انو د کوڅې مسجد

دغه مسجد دکندهار په دوهمه ناحیه کې د سیدانو په کوڅه کې په ښځلور
بسوې ځمکه کې په پخو خښتو او گچو جوړ سوی او د دغې کوڅې د سیدانو دعبادت
او ریاضت ځای دی . په دغه مسجد کې یو متبحر ملا او بزرگوار شخصیت
د پښین ملا روح الله اخند هستیدئ چې د معرفت او عقیدې مرجع ؤ . ملا روح الله
صاحب د جنوبي پښتونستان د پښین د شمالي خواد خدایداد زو په کلي کې په
(۱۲۲۸ هـ) کې زیږیدلی او په قام توړ ترین دی او مروجه علوم یې لکه صرف
نحو ، عقاید ، او فارسیات د عمر تر شلم کال پورې پر خپل سیمه ملا صالح محمد
اخند لوستي او د زیاتو علومو د حاصلولو له پاره کندهار ته راغی او په دغه ښار
کې یې دکندهار د لوی ملا او بزرگوار شخصیت ملا نور محمد صاحب
څخه دفقې ، احادیثو او تفسیر کتابونه لوستي او د ملایي او امامت درجې ته
رسیدلی ؤ ، ملا روح الله صاحب یو عابد او پرهیزگار ملا ؤ د پیرانو
او ولیانو سخت معتقد ؤ ، د همدغه کبله یې په کندهار کې د میر بازار
د ملا محمد جان او ملا محمد عیسی سره چې د کڅې په اخند مشهور ؤ
د ذکر او ثنا حلقه توده ساتلې وه چې په نتیجه کې د ملا محمد عیسی اخند
د زیات توجه او ارشاد مورد وگرځید او د هغه د نقش بندی طریقې د
مریدانو په حلقې کې شامل سو ، د دغه وخت څخه د ده د علم او تقوی
آزانگه هرې لورې ته خپره سوه ، او زیات کندهاریان یې مریدان

او اخلاصمندان یې گرځیدل، ملا روح الله اخند په کندهار کې دخه وخت تېر ولو وروسته د پښین د کانګلزیو ځخه د ملا یانو او صاحب حاله کسانو یوه جرګه دده حضور ته راغله او دی یې راضي کړ چې دځان سره یې پښین ته بوزي، ملا صاحب په کانګلزیو کې پاته عمر په تدریس او ارشاد تیر کړ خو د (۸۶) کالو په عمر د جمعي په ورځ د رجب د میاشتي په (۲۷) کال (۱۳۱۴ه) کې وفات سو او د پښین د شمالي غره په لمن کې د کانګلزو په هدیره کې خاوره ته وسپارل سو، دی په هغه سیمه کې د کانګلزیو د سید، اغاصاحب، کاکاصاحب او اخندزاده صاحب په نامه مشهور دی. ملا روح الله صاحب زیات آثار لري چې مشهور یې تلویح الارواح نومیږي چې د جلالین شریف شرح ده دغه کتاب د افغانستان او دسیمي د زیاتو هیوادونو د مدرسو په تعلیمي نصاب کې داخل دی.

د ملا روح الله اخند د وفات په نسبت د کندهار او شاوخوا شاعرانو لکه علامه عبد العلي اخندزاده کاکړ، د قلات ملا ابوبکر، د مستونګ ملا رحمت الله او د کندهار ملا محمد عیسی حکیم شیخ زاده مرثیې ویلي دي چې نمونه یې داده: (۱)

د عرفان باني و د عالم رهنما چې مسمٰی و په القاب و د حضرت مسیحا

ز قرآن سلسله مختوم بر روح الله شد

نیست مانند کسی در خطه روی زمین

گلشن کشمیر ملک پښین از فیض او

هست بوبکر از غلامان در او بالیقین

نسبت از نقشبند گر طلبداری برو

سوی کانګلزی بیا شاهراه نقشبند

(۱) صوفیان، درویشان او غازیان صفحه ۹۳

دکاکړو د سیمي پښتانه نومیالیان ـ صاحبزاده حمید الله صفحه ۱۸۲

ترینان چې د افغانانو دیوې لوی ښتنې څانګه ده افغانانو یې هر کله په بزرګی او نیکو اخلاقو منی، مخصوص د ژانیانو یې د خپلو مشرانو او نژدی نسبی خپلوانو څخه ګڼي، ددوی زیاته برخه د سلیمان دغره په لمنې او ښپین، افغانستان او پښتونخوا په نورو برخوکې اوسی او زیاتره یې د زمیندارۍ، تجارت، قومي مشرۍ او ارشاد وظیفه پالي، ترینان پر دوو لویو ښاخو نو د تور ترین او سپین ترین په نامه ویشل سوي، تور ترینان په شمیر کی تر سپین ترینانو د یردی، چې زیاتره تور ترینان په ښپین او د کندهار په شاو خوا کې او سپین ترینان د ژوري په ناوه کی چې د تل او چوتیال تر منځ پرته ده اوسیږي. د ترینانو زیاته برخه د خانی او فیوډالی په سیستم اداره کیږي لکه چې وایي:

خانی ده په دوه کوره – په لودی کې پر کتی ده – په ترین کې په بتی ده .

یعنی خانی په دوو کورنیوکی ده په لودیانو کی په کتیزیو کی او په ترینانو کی په بتهین یو کی ده . فیلډ مارشال محمد ایوب خان د پاکستان پخوانی جمهور رئیس هم د ترینانو د قام څخه ؤ . د میا عبدالحکیم صاحب کاکړ لنګر هم تر اوسه د ترینانو د قام د حاجی صورت خان په مادي مرستو چلیږي .

د ترینانو د مشهورو عالمانو او عرفاو څخه یو ښل بزرګ وار د (۱۲۱۱هـ) په حدودو کی نظام الدین ترینی قندهاری ابن اسحاق پوشنجی (ښپین ښپینګی) نومیدی چې په لوی کندهار کی یې د علم او عرفان رڼا د یره خلاسه ده او خپره ساتلې وه او د میرویس نیکه او د دوی د کورنۍ د اقتدار پر دوره کی یې هسک مذهبی او علمی مقام درلود او د ایران صفوی واکوالانو د جبر د ملی محبوبیت او مذهبی رسوخ څخه هر کله په بیره کی وو .

دده یو اثر اسرار العاشقین (منازل السالکین) چې د قواعد العرفاو اداب الشعرا په نامه هم یادیږي د فرهنګی او عرفانی اصطلاحاتو قاموس او مجموعه ده . دده قواعد العرفا او ادب الشعرا اثر په سل کی اتیا د خپل عرفانی او الهی ذهن او فکر وطرز څخه لیکلی او په ځینو برخوکې یې د خواجه عبدالله انصاری د منازل السائرین، عراقی فخرالدین، تبریزی الفئ د شبستری د ګلشن

راز، دلاهيجانى دګلشن راز، دواعظ كاشفى د تفسير مواهب علیه، د ميبدى دكشف الاسرار څخه هم استفاده كړى ده .
نظام الدين ترينى كندهارى پوشنجى خپل دغه اثر په درو برخو د منازل السالكين، دعارفانو د اصطلاحاتو باطنى معنى ګانو دعاشقانو يا شاعرانو د تشبيهاتو په نامه وېشلى دى، د تعليقاتو بوه برخه هولرى چې په هغه كې دقرآن شريف د آيتونو ترجمه، قدسى حديثونه، نبوى حديثو په عربى او درى ژبه راتولونه او د لويانو اقوال، شعرونه، مصراعوى، امثال اونورى ګټورى وينا ګانې هم ځاى سوى دى .
نظام الدين ترينى، پوشنجى كندهارى دخپل دغه اثر په هكله داسى ليكى :
چون اكثر مردم نظر برظواهر الفاظ مى كنند و از بواطن آن محروم مى مانند، پس واجب و لازم بود معانى آن الفاظ را به طريق تفصيل شرح دادن و در بابى عليحده قيد كردن . لهذا بنده كمينه نظام الدين ترينى پوشنجى كندهارى ابن اسحاق پوشنجى (تغمده الله بغفرانه) به عون الله وحسن توفيقه غواصى نمود و در تشريح معانى الفاظ از كلمات طيبات عاشقانى و اشارات وعبارات اصطلاح اهل فلاح عارفان از تصنيف جمع تصوف صوفيان و در منازل و مراحل و مقامات وقفات سالكان شروع كرده تا اين دريتيم را از قعر درياى معنى به ساحل بيانى اورد تا بر مبتدى سهيل و اسان گردد .
نظام الدين ترينى دخپل كتاب دمقدمى په اخيركې دمير ويس نيكه د ملى مشرى او وړنګى څخه متونو په هكله ليكى : كه خلافت فتح روز افزون حضرت خاقان دوران كشورستان، اسكندر زمان، حافظ بلاد الله، ناصر عباد الله، المؤيد من السماء، والمظفر على الاعداء، باسط الامن والامان، ناشر العدل والاحسان، ظل الله فى الارض، معز الدنيا والدين مير ويس بهادر خان خلد الله سلطانه واوضع على العالمين برهانه . اين مختصر رشيف الالفاظ فى كشف الالفاظ مسما به اسرار العاشقين شده وبه منازل السالكين نامى گرديد .

د تریانو یو معاصر عارف او شاعر ملا یار محمد د ملا شجاع زوی د محمد اسلام لمسی نومیږی چې په (۱۳۴۹ هق) کال کې یې د کندهار په خوشاب کې ژوند کاوه، ددوی اثر د راحت العشاق په نامه په دوو ټوکو کې لیدلی شوی چې په دغو بیتونو شروع شوی دی:

دخالق په ثنا خوله لره گویا
هر بنده دی بندګی لره پیدا
نباتات کر مایعات که جمادات دی
حیوانات دی که زمین دی که سما

په همدا او سنی وخت کې د کوټې د ګلستان په سیمه کې د تریانو یو بل مشهور فرهنګی او ادبی شخصیت چې استاد شوکت ترین نومیږي په خپلو مهیجو مضامینو او خوږو اشعارو یې د کوټې د پښتو اد ب محفلونه تر او تازه ساتلی او په ډیره مینه او علاقمندی سره یې د سکام د ادبی اکادمی (لیک) میاشتنی مجلې اعزازی مرستیالی عهده منلی او د هغې مجلې د صحافت او ثقافت په سمون کې مهمه برخه اخلی د محتوا او معنی له پلوه یې د یر خوږ وره او په زړه پوری ګرزولی ده.

# د ملا عبد الغفور خروټي مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په دوهمه ناحیه د خروټو په کوڅه کې د صمد اخندزاده مسجد جامع ته ورڅرمه پروت دی او ویل کیږي چې نوموړی مسجد جامع نسبتاً له هر حیثه مجهز جوړ شوی او خپله د محقق العلماء عبد الحق خروټي پلار ملا عبد الغفور تدریس پکښې کاوه او د وفات وروسته خپله محقق العلماء تدریس او تبلیغ پکښې کاوه (تولد ۱۲۱۵ - وفات ۱۲۹۰ هـ ق).

# د ملا شرف الدین اخند مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار د دوهمې ناحیې د هرات دروازې په فصیل کې جوړ شوی، څرنګه چې د جمعې، روژې او نورو متبرکو ورځو کې به هلته ملا شرف الدین اخند (لودین) د جلالین شریف درس کاوه نو زیات مراجعین یې درلودل، ملا شرف الدین اخند د ملا نظام الدین اخند زوی و چې د نوي کالو په عمر په کال (۱۳۴۳ هـ ش) کې وفات شو. ۹۲

# د خطیب اخندزاده مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په دوهمه ناحیه کې د اخند صاحب (ملا فرح الدین اخند) په کوڅه کې په اتسمه پېړۍ کې اباد شوی. د امامت او خطابت چارې یې یوې علمي او مخورې کورنۍ ته چې د خطیبانو په نامه یادیږي سپارلې شوې دي. په دغه مسجد کې د جمعې په ورځو او روژې په میاشتو کې د قرآن کریم دوه روښانه کېږي مشهور مفسرین یې احمد جان اخندزاده الکوزی او د ده زوی عبد الله اخندزاده نومېده چې په کال (۱۳۶۰ هـ ش) کې په شهادت ورسید.

# د خدای مسجد جامع

دغه یو زوړ او تاریخي مسجد دی چې د کندهار په دوهمه ناحیې د خروټو

په کوڅه کې یو پوړ هېڅ لو مړي په دايي بيا په خپتو ، اهاكو اوګچو او وروسته په پخو خښتو او سمنټو تر ميم سوي دی دغه مسجد د ملا عبد الصمد اخندزاده د وړنيكه ملا غلام حضرت اخند صاحب خرو تي په توجه چې هم ملا ؤ او هم بډای جوړ سوي او وروسته يې زوی حافظ ملا محمد سرور په دغه مسجد کې په تدريس او تلقين مصروف ؤ چې زيات شاګردان او ارادتمندان يې وموندل د ارادتمندانو څخه يې په کندهار کې مشهور کسان صالح اخندزاده چې متعبد او بزرګوار شخصيت او د مشهور ملا ولی محمد اخند د کوړنۍ څخه ؤ او بل د بابا صاحب ملا محمد حسين اخندنوميده چې لوی ملا او د طريقت پير تير سوی دی.

د دغه مسجد د عروج دوړ په هغه کې د ملا عبد الصمد اخندزاده د تدريس او ارشاد څخه را شروع کيږی چې د کندهار د ښار او شا وخواسيمو او سيدو ښکی به په عبادت او نقش بندي طريقت زيات جم وجوش پکښې جوړ کړي ؤ . ده دغه وظيفه تر (۱۳۳۸ هـ ش) کال پوري د خلکو په جلب او جذب دومره جدی مخې تر بو تلې چې د کندهار په ښار او ښځو کې يې د ير ارادتمندان او مريدان وموندل دينی موعظې او د امامت خطبې يې دومره رسا، خوږې او بليغې وې چې هر ډول سخت زړونو يې تر رقت او نرمی لاندې راوستل او په رنګ يې ژړول .

ملا عبد الصمد اخندزاده به هغه وخت چې د وجد او جذب پر حال راغی، کله به يې ويل : يو ظاهر شاه دی چې هغه د کابل پر تخت ناست دی او بل باطن شاه دی چې هم دغه ستاسې په دينی خدمت او ارادت حاضر دی . د ملا صاحب ارشاداتو به کله کله د دولت د وړځنې پروګرامونو د تطبيق په لاره کې خنډونه ايجادول د بې ځايه تجدد او ترقي مخ به يې نيوی، کر څه هم د دولت په استثنايي مواقعو کی د ده ځينی مخلصان او مريدان تنبيهول ، خود اخندزاده صاحب په هکله به يې د صبر او حوصلې پاليسی تعقيبوله .

ملا عبد الصمد اخندزاده به هر کال په متبرکو دينی او تاريخی ورځو په خپل مسجد

کې خیرانو ښه کول او د عالم اسلام او افغانانو له پاره به یې د برکتونو او توفیقونو غوښتونه کول. کله به یې د کندهار ښار د شمالي سیمې د خپلې هدیرې او مسجد په احاطه کې لوی دیني او ملي غونډې جوړولې غونډه و ته به د کندهار او د هغه د شاوخوا سیمو خلکو علاوه د دولت یو شمیر ملي او عسکري مامورین هم ورتلل او کله به یې دیوې عسکري قطعې په حضور او رسم تعظیم هم تجلیلولې.

د ملا عبد الصمد اخند زاده د مریدانو او اخلاصمندانو یو شمیر په کال (۱۳۳۸ هش) د جدې په میاشت کې د ښځو د حقوقو د ازادی د اعلان په سر د کندهار د سینما د سوځولو او د ښځو او نجونو د ښوونځیو او موسساتو د حملې او تیری کولو او عمومي اغتشاش جوړولو په ګناه بندیان سول، او خپله ملا صاحب دیو شمیر نورو متبحرو ملګرو سره کابل ته بندي واستول سو او د سردار محمد داؤد صدر اعظم ترا ستعفی پورې د کابل په دهمزنګ کې بندي وساتل سو. ملا عبد الصمد اخندزاده په کال (۱۳۴۳ هش) کې د نوي اساسي قانون د نافذ لو له کبله چې ټول سیاسي بندیان خوشي سول د خپلو ملګرو سره د بنده راووت او کندهار ته راغی. څرنګه چې په بندګۍ یې زور ول سوی او د مقاومت توان یې د لاسه ورکړی و. نو ناروغي یې زیاتیده خو په (۱۴۰۰ هق) کې وفات او د خپلې هدیرې په مسجد کې خاورو ته وسپارل سو.

دده د وفات په مناسبت د کندهار یو شمیر شاعرانو او ادیبانو مرثیې ویلې دي چې مشهور یې دا دي:- د کندهار د پنجوایي د کلک او سلوغې د کلي ملا الله داد، د کندهار د ښار عبد الکریم شاعر، پروانه او خوږمن عبد الستار کاکړ او داسې نور. د رسوا عبد الکریم د مرثیې نمونه:

د خدای مسجد یې بولې یکښې ناست به ښایسته و

ترفاني في الله تیر عبد الصمد اخندزاده و

وایه به یې په معنی و مؤمنانو ته قرآن د پیر

حاجي بابك بلبل راته ویلی دی فرقان د پیر

داخل په کندهار کې دخرو ښو د کوڅې و.

ژوندی نه سو را پاته تبلیغات یې د مزی و
کباب یې محتاجان کړه پسی ژاړو یتیمان ډیر
حاجی بابک بلبل راته ویلی دی فرقان ډیر

د ښار په هدیره کې یې مزار دی جلوه دار ه
وښتك نه د صوفی صاحب نژدی دی نمای داره
د شریعت په باغ کې و بلبل هزار داستان ډیر
حاجی بابک بلبل راته ویلی دی فرقان ډیر

د فی سبیل الله مقام یې وکتهی په صبر
په سر نه ببریدی لکه غازیان چې وو د ببر
مړه نه دی اولیا لری خپل د نوم جاویدان ډیر
حاجی بابک بلبل راته ویلی دی فرقان ډیر

ختمونه خیراتونه به یې کول په دوولسمه
مؤمن یې خلاصاوه د ظالمانو له ستمه

راځئ چې پر مزار باندی یې وپاشو ګلان ډیر
حاجی بابک بلبل راته ویلی دی فرقان ډیر

## دقاضی غلام محمد مسجد

دغه مسجد د کندهار په دریمه ناحیه کې نسبتاً په یوی پراخې ساحې کې د قاضی غلام محمد د کور د څنګه ډیر مجهز او پوخ جوړ سوی چې د څلورسوو لمونځ کوونکو له پاره پوره ځای لری د امام، موذن او طالبانو د او سید ولو د پاره کافی حجری اود اوداسه له پاره نلی، غسل خانی او ښکلی غولی لری د فراغت په وخت کې به خپله قاضی صاحب هم په دغه مسجد کې تدریس او ارشاد کاوه.

قاضی صاحب په شرقی او اسلامی علومو کې استادکل په فقې، حدیث، تفسیر صرف و نحو کې او همدارنګه اخلاقو کې د تبحر او اجتهاد درجې ته رسیدلی

ف، امیر شیرعلی خان د قاضي په علم او تقوی زیات معتقد ؤ، کله چې به په کندهار
کې ؤ د تلک او راتلک علاقه یې ورسره ساتله، سید جمال الدین افغان په هغه
سفر کې چې کندهار ته راغلی ؤ د کندهار د لویو ملایانو د لیدلو په لړ کې یې د
قاضي صاحب هم نوم اخستی دی، او د ده په کور کې یې ورسره لیدلی ؤ، قاضي
صاحب په فقه او تصوف کې چاپ سوي او ناچاپ سوي آثار لري چې مشهور
یې (ارشاد الحق) نومیږي قاضي غلام محمد هوتک په (۱۲۳۴) په کندهار
کې وفات سوی او قبر یې د شاه ولي په غاړه حضرتجي بابا ته نژدې دی.

په راوروسته کې د قاضي صاحب د کورنۍ څخه یو بل قاضي د قاضي کوچي په
نامه تیر سوی دی، چې په علم او تقوی یې زیات شهرت درلود، دی به د
ډیري پرهیزګاری کله لوښي پښې کراره کرار پر ځمکه تلی چې میږي یې تر
پښو لاندې نه سي او د حیوانانو او مرغانو د زوروولو څخه ډیر مخالف
ؤ او خرکاران یې نه پریښودل چې خرو نه درانه بار کړي، نو ځکه هغوی به خپلو
خرو ته ویل اشه، اشه ئې چې داسي غاوړ لري لکه قاضي کوچي، دی په کال
(۱۳۰۷) په کندهار کې وفات سوی دی. (۱)

## د دریمې ناحیې د سه دکان مسجد

دغه یو نوم او تاریخي ____ مسجد دی چې د دریمې ناحیې د سه دکان د څلور
لاري د ختیځې کوڅې په خوله کې چې پای یې ته رلی دی، په څلورو ښو و ځکه کې آباد
سوی دی، مسجد او غولي یې که څه هم دومره پراخ نه دی، خو د ملایانو او طالبانو
د اوسیدولو د پاره پنځه کافي حجري او د اوسیدلو خوني لري، او دیو شمیر
خدای پرستو او مستعدو بدایانو له خوا یې ترمیم او تجهیز کیږي، د کندهار
یو شمیر مشهورو طالبانو چې ملایي ته رسیدلي دي په دغه مسجد کې درس لوستی
چې په راوروسته کې یې د دیني تبلیغ او ارشاد محافل ډیر تاوده ساتلي دي، د دغه
مسجد د مشهورو طالبانو و صاحب حال اخندانو څخه یو ملا حبیب الله اخند

(۱) مجموعه اسناد مدارك چاپ نه شده

زاده صاحب نومیده چې په ادبي او صحافتي چارو کې د نامه او مهارت خاوند و. او یو زیات شمیر پښتو، دري او عربي اشعار یې په یاد وه او د بیدل خوشحال، حافظ او مثنوي د آثارو د مشهورو مفسرینو څخه ګڼل کیدی.

ملا صاحب د لوی او مدرس عالم نور محمد اخند زاده صاحب زوی او د ملا عبد الخالق اخند زاده لمسی دی چې د کندهار د پنجوایي د ولسوالی د زنګاوات د سید انو په کلي کې د (۱۳۰٦ هـ ش) کال په شاوخوا کې زیږیدلی لومړنی تحصیلات یې د خپل عالم او بزرګوار پلار ملا نور محمد اخند او خپلو نورو مشرانو وروڼو لکه ملا عبید الله صاحب، او حاجي ملا محمد قاسم اخند څخه په سر رسولي او د مروجه علومو لکه فقې، احادیثو، عقایدو او ادبیاتو د تحصیل له پاره د هیواد په دننه او هند ته سفر کړی او پوره علمي ادبي، نحوي توښه یې حاصله کړې ده. دی په کال (۱۳۲۰ هـ ش) کې بیرته کندهار ته راغلی او د ښار د شاوخوا کلیو او مسجدونو کې یې د امامت او تدریس وظیفه په ډیره علاقمندۍ مخې ته بیوله. څرنګه چې تیاری ډودۍ او امامت خوند نه ورکاوه، نو د کتاب خرڅولو او کتاب جوړولو په چارو یې لاس پورې کړ او په دې ضمن کې یې د پښتو ژبې او فرهنګ د پراختیا له پاره یو شمیر په زړه پورې آثار چاپ کړل چې د شایقینو له خوا ترا وسه لاس په لاس ګرځي ملا حبیب الله اخند زاده شعري قریحه هم لري چې یو فرد یې زما په حافظه کې پاتې سوی دی:

دیدار و نه دی نصیب شه آصحافه ــ خه املا فا رسي دی وکړه په زړه صافه

# دیحیی خان د کوځې مسجد جامع

دغه مسجد یوسلو دیرش کاله د مخه د کندهار د دریمې ناحیې دیحیی خان په کوڅه کې دیحیی خان د زوی جنرال تاج محمد پوپلزي له خوا څخه په نیم جریب مځکه کې پوخ او ګچو بنکلي آباد سوی دی او دېنځه سوه لمونځ کوونکو له پاره د عبادت او ریاضت ورځای لري. څرنګه چې دغه مسجد د ښکار پور بازار په

بیر وبار برخی او چهلرسوټه نږدی موقعیت لری نو دماپښین د لمانځه مخصوص دجمعی په ورځوکی ډیر لمونځ کوونکی پکښی حاضریږی. دغه مسجد جامع دملا او طالبانو د او سیدلو له پاره شپږ مجهزی حجری د او بوځا د اوداسه د تازه کولو او لا مبلوځایونه لری په دغه مسجد کی دکندهار دځینو مشهورو طالبانو او ملایانو درس لوستی چی دهغوڅخه مفتی ملا غلام نبی اخند پوپلزی اودهغه زوی ملا عبیدالله صاحب زیات مشهور دی. ملا غلام نبی د ملاخان محمد پوپلزی زوی ؤ چی په متداوله علوموکه صرف، نحو، بیان، معانی حکمت، ریاضی، فقه، تفسیر، احادیثو، علم کلام، تصوف، ادب، عروض کی یی لوی لاس درلود د مولینا جلال الدین بلخی او امام ربانی مجدد الف ثانی مکتوبات یی هم تدریس کاوه. په تصوف کی د نقش بندی طریقی پیر ؤ او د طریقی استادیی د ذاکر شریف باقی جان صاحبزاده ؤ. ملاصاحب په مفتی ملا غلام نبی هم مشهور ؤ او دځم وخت له پاره یی دکندهار په ابتدائیه محکمه کی دمفتی وظیفه هم اجراکړې ده. ده د طنطاوی تفسیر په رد کی یوه رساله هم لیکلی ده چی چاپ سوی نه ده.

ده ځان ته په کندهار کی کتابخانه درلوده چی دکتابونو شمیر یی څلور زره ټوکوته رسیدی. ملاصاحب حج هم کړی ؤ او دعمر په (٦٣) کال دحوت په دوهمه ددوشنبی په ورځ په کال (۱۳۲۹هـ ش) کی وفات سو.

## دعمرجان صاحبزاده مسجد جامع

دغه مسجد جامع دکندهار دښتیخوا د ده خواجه په سیمه کی په ښه وجریب ځمکه کی په ښو ښتو او ګچو بڼکلی آباد سوی دی او د طالبانو داعاشی له پاره یی دعمر جان صاحبزاده دکور د لنګر څخه علاوه د معتقد یانو اودهغه د دروېزانو له خوا څخه هم هرکله مرسته کیږی.

عمرجان صاحبزاده دکندهار دمشهورو متصوفینو او بزرګوارانو څخه ؤ

چې په دغه مسجد کې یې د تدریس او ارشاد حلقه ډېره توده ساتلې وه.
دی په (۱۳۰۹ هـ ش) کال کې مکې معظمې ته د حج له پاره ولاړ، د جدې ښخه د مدینې منورې پر لاري د ماڅیګر د لمانځه د اداکولو په اثنا کې مو ټر و واهه او ځای پر ځای وفات سو.
د وفات و روسته یې زوی عبد الله جان صاحبزاده خلف سو ده هم د خپل پلار لنګر تود و ساته او د (۱۳۵۰ هـ ش) کال په شا وخوا کې یې د کوټې سنجاوي ته مهاجرت وکړ او په (۱۳۶۰ هـ ش) کال کې وفات سو.
د وي په قام کشاني توخي دي چې په کندهار، کلات، غزنی، او لوګر کې په صاحب زادګانو مشهور دي، زیات ارادتمندان او مخلصان لري مشهور شاعر بهایي جان صاحبزاده هم د دغې کورنۍ د غړو ښخه شمېرل کیږي.
همداشانې د دغې کورنۍ یو بل صاحب حال غړی حمد الله صاحبزاده نومېږي چې د بامیزو په کوښه کې یې مسجد او خلوتخانه ده، دی په خپل اثر (رساله درویش) کې د خپل نسب سلسله داسي بیانوي:
حمد الله بن خیر الدین بن محمد یار بن محمد امین بن خالقداد بن عبد الرحیم
چې دغه سلسله تر حضرت علي (کرم الله وجهه) رسوي، خو د روایت صحیح نږدي نږدي خپلوان او هم قومان یې ځانونه توخي کشاني ګڼي او د ولایت او کرامت له کبله په اغاګانو او سیدانو مشهور دي.
د عمرجان صاحبزاده په وفات دسیمې ډېر و ادیبانو او شاعرانو لیکنې کړي دي چې نمونه یې داده:

اوس یې بیلتون دی له جهانه ښخه ولاړی صاحب د خراسانه ښخه
پر ده افسوس اهل اسلام ژاړي اوس یې بیلتون دی خاص وعام ژاړي
پر هندوستان باندې ګذر وکړه و بیت الله ته یې سفر وکړي
حج یې پوره کړي مدینې ته ولاړه د مبارک پاکې روضې ته ولاړی
اوس یې بیلتون دی له وطنه ښخه د کندهار له انجمنه ښخه (۱)

(۱) د کندهار مشاهیر صفحه (۱۳۱۲) ، رساله درویش صفحه (۶۳) چاپ کراچي ۱۳۲۷ هـ ش

# د میر غلام علي شاه مسجد

دغه یو ښکلی او تاریخي مسجد دی، چې میر علي شاه دکني په (۱۱۶۰هـ) کې د کندهار د ښار د باندې په ورشمه احاطه کې جوړ کړی او د ده د ارشاد او تبلیغ مهم مرکز ؤ. میر غلام علي شاه یو عالم او بزرګوار پیر ؤ چې د کندهار یو شمیر صاحب حال خلکو او اشرافو زیاته عقیده ورته درلوده، تر دې اندازې پورې چې د اعلیحضرت احمد شاه بابا کور ته بې اجازې ورتلې، ځینې خلکو د ده د دغه سلوک او اخلاقو څخه احمد شاه بابا ته شکایت وکړ، هغه وخت چې دی خبر سو، د احمد شاه بابا د کور د ورتلو څخه یې ډډه وکړه، احمد شاه بابا د خپل ملازم په لاس د ده د ورتلو د طمع په انتظار کې ؤ، ملازم چې ده ته د احمد شاه بابا د لیدلو د انتظار خبر ورکړ، ده یو حلبي قطۍ ور وسپارله چې سر یې ټینګ ور تړلی ؤ، چې احمد شاه بابا ته یې ورکړي، احمد شاه بابا چې د قطۍ سر ور خلاص کړ کله ګوري په هغه کې سکروټې او پنبه ایښودل سوې دي چې یو د بله هیڅ اور نه اخلي، احمد شاه بابا د ده په کرامت پوه سو او خپله د هغه حضور ته ورغی او دعا او مغفرت یې ځني وغوښت، میر غلام علي شاه وروسته د کن ته ولاړ، او پاته عمر یې هلته تیر کړ، څو وفات سو او د وصیت سره سم یې جنازه کندهار ته راوړه سوه او دلې خاورو ته وسپارل سوه.

د میر غلام علي شاه د زیارت په محوطه کې زموږ د شیعه وروڼو د پیر و فاضلانو او شیخانو زیارتونه سته. (۱)

# د سید میر احمد موسوي خانقاه

دغه خانقاه د کندهار په نیم کیلو متري کې د اختر مطارې په کلي کې د سید میر احمد عبادت ځای ؤ، ولې چې سید میر احمد د امام موسی کاظم د زوی (د شیراز شاه چراغ) د اخلافو څخه دی چې د خپل ورور سید میر جعفر سره

---

(۱) ګلزار کندهار - مولوي شیخ محمد حسن کندهاري ص ۸۵ مطبع النعمان النجف الاشرف.

کندهار ته راغلی د عقیدت او کرامت سلسله یې توده ساتلې او ډېر اخلاصمندانې مومندلې وه، د کندهار یو شمیر ملایانو او ښو خلکو ملا شاه و اخند او نورو هم په ښه سترېتوب پېژاند، دی او ورور دواړه په کندهار کې وفات سوي او د همدغه کلي په هديره کې خاورو ته سپارل سوي دي.

سید میر احمد صاحب نارینه اولاد نه درلود، خو د سید جعفر زوی میر حسن شاه او د هغه زوی میر نجف شاه او د هغه زوی میر عبدالجواد آغا نومیده وفات (۱۳۱۰ هش) چې د جعفر په علم او ښو اخلاقو مشهور ؤ، میر عبدالجواد آغا دوه زامن د میر سید محمد علي شاه او میر سید حسین شاه په نامه درلودل، چې میر حسین شاه په افغانستان کې د ادبیاتو په فاکولته کې د پوهاندۍ درجې ته رسیدلی و او هم په کابل کې د ادبیاتو د پوهنځي رئیس و چې په (۱۳۷۰ هش) کال کې یې د ایران و مشهد ته مهاجرت کړی او اوس د مشهد په پوهنتون کې د تاریخ او ادبیاتو استاد دی. (۱)

## د حاجي اختر محمد مسجد جامع

دغه مسجد جامع د حاجي عبدالحئ هوتک مسجد جامع ته وړ څرمه سیمه کې په پنځلس (۱۵) لسوي مځکه کې په یو یو پړخ ډول په کال (۱۳۲۷ هش) کې خپله د حاجي صاحب په مالي مرسته او مراقبت جوړ سوي او په ختیځه برخه کې یې داوبو کاریز تیر سوی دی چې د اوداسه او طهارت له پاره کافي ځایونه لري، د دې سره چې دغه مسجد لږ مقتدیان لري خو د حاجي اختر محمد د ملا عبدالرحمن د زوی د ملاحضرت د لمسي د علم دوستۍ او دیانت شعاري له کبله د هغه امام، موذن او طالبانو ته کافي معاش او د تبرعاتو پیسې ورکول کیږي، حاجي اختر محمد بارکزی یو عالم او متصوف سړی ؤ او په کندهار

(۱) ګلزار کندهار - مولوي شیخ محمد حسن قندهاري صفحه (۱۲۸)
مشاهیر کندهار - صفحه (۲۸۸)

کې يې مجهزه کتابخانه درلوده چې د وفات وروسته يې (۱۳۶۴ هش) بازماندګانو په نشه بيه د لاسه ورکړه.

# دشيخ محمد طاهر د امام بارۍ مسجد

دغه مسجد په کال (۱۳۲۷ هش) کې د کندهار د لومړي ناحيې د ګوکشانو په کوڅه کې د امام بارۍ (تکيه خانې) له څنګه په نيم جريب ځمکه کې د شيخ محمد طاهر لخوا بيرته ترميم سوی او د زرو (۱۰۰۰) تنو لمونځ کونکو له پاره ځای لري. دغه مسجد له څنګه په کندهار کې د لومړي ځل له پاره د يوې لويې دوه پوړيځ مجهزې امام باره د تهداب لومړي خښته هم د دغه شيخ لخوا ايښودل سوې ده چې اوس په منظمه توګه چليږي.

دکندهار مشاهير اثر د علامه شيخ محمد طاهر د پيژندګلوۍ په هکله داسې ليکي:

شيخ محمد طاهر از دختر زادگان مرحوم شير و پدر کلانش مدتی امين نظام بود، اما خود او تحصيلاتش را در نزد علمای دری زبان قندهار اغاز و سپس به نزد مرحوم پدر راستاد محمد عبد الکريم حقانی (ګدا) که در علوم عربی شهرت و لياقت کافی داشته تلميذ نمود بعد از ان عازم ايران گرديده در مشهد افتخار شاگردی مرحوم اديب لادبای نشاپوری راکه اقای فروزانفر مرحوم ايرج ميرزا و امثال شان نيز از محضر او استفاده نموده دريافته است، در سال (۱۳۱۰ هش) به قندهار امد و با مرحوم ملا شرف الدين اخندزاده مصاحب و دوست بود، استاد خليل الله مرحوم، مرحوم پوهاند عبدالحي حبيبی و بسياری از مردان و جوانان کابل، قندهار و هرات به شاگردی او ميبازيند، در سال (۱۳۳۰ هش) به مرض اختلال دماغی مصاب و مدتی در شفاخانه علی اباد زير معالجه پوهاند داکتر علی احمد و اقای سيد سرور شاه عالی بود، گرچه کاملا صحت نه يافت ولی باز هم اکنون که در هرات ميباشد محل و مرجع استفاده اهل علم و ادب است. يکی از کارهای

او در قندهار این است که بانی و مؤسس تکیه خانهٔ عمومی (امام بارهٔ) است گرچه خود او به واسطه مریضی به انجام رسانده نتوانست ولی خشت اول آنرا بنا گذاشت، بناغلی محمد حسین طالب قندهاری که یکی از مخلصان وارادتمندان او می باشد میگوید:

حیف آن گوهر غلطان که به خاک افتاده (۱)

## د حاجی عطاجان مسجد

دغه مسجد د کندهار په نوی ښار کی د هرات دروازې د باندې پر عمومی پاخه سړک د ملکی شفاخانې مخې ته د حاجی عطاجان سوداګر له خوا په نیمه جریب ځمکه کې پوخ او ښکلی جوړ سوی او د ملا او طالبانو له پاره کافی حجرې او ظرف او فرش لري او د دوی د اعاشې او نورو ضروریاتو د رفع کولو له پاره هر کله د ده له خوا څخه مادی او معنوی مرسته ورسره کیدی، ځکه لوی طالبان او مشهور ملایان هر کله په دی مسجد وکی هستیدله.

یو د هغو لویو او متبحرو ملایانو څخه چی د حاجی عطاجان په مسجد کی هستیده او د علم او عرفان د یووېی تر زیاته وخته په کندهار کی بله ساتلی وه مولوی عبید الله صاحب نومیده.

مولوی عبید الله صاحب د خدای بخښلی ملا محمد ایوب اخند سلیمانخیل زوی دی چی په (۱۳۴۳ هق) کال د کندهار د پاشمول په کلی کی چی د پنجوایی د ولسوالی د مربوطاتو څخه دی زیږیدلی دی. ده د فقی، نحو، صرف کتابونه پر خپل عالم او وحید پلار لوستی او د حکمت د تحصیل له پاره دوه کاله په بلوچستان کی اوسیدلی او د زیاتو زده کړو له پاره د هغه وخت د هند مشهور ښار اجمیر ته ولاړه او د مولینا عبید الله افغان کندهاری څخه چی تول شاگردان مخصوص

---

(۱) مشاهیر کندهار - صفحه ۲۸۷

افغانان او مسافران ډیر پرګران وو. تفاسیر، ریاضي، ادب او د ځینو هندلو له علومو څخه ئې لوستي دي، ده تر هغه وخته د مولینا عبید الله افغان د شاګردۍ افتخار درلود، چې څو هند پر دوو برخو د هند او پاکستان په نومو نوو ویشل سو، څرنګه چې د اجمیر ښار د هند د سلطې په برخه کې راغی او هلته کراره کړار د مسلمانانو مخصوص ملا یانو او عارفانو ډیر تر قیود اتو او فشارونو لاندې راغي، او پر ده باندې په هغه ښارکې د اوسید لو معیشت تنګ سو نو د خپل استاد د مشورې او صوابدید سره سم د واړه وو شاګرد او استاد د جنوبي پښتونستان د بلوچستان د کوټې د ښال ري ناحیې ته هجرت وکړ او د مظهر العلوم په مدرسه کې يې د خپل استاد د زیات توجه او سرپرستۍ له اثره د ذکي او خوارۍ کښو نکي طالب په حیث شهرت پیدا کړ او د خپل استاد د هو ساکولو له پاره یې د هغه په اجازه کښته طالبانو ته معتبر کتابونه لوستل او د هغوی منطقي او ذهني مشکلات یې رفع کول، د مولوي عبید الله صاحب چې علمي تنده نه ماتیده او د کتاب او کتابخانو او متبحرو عالمانو سره د شناخت لیوال ؤ. په دې وخت کې یې د لاهور د ښار د ثقافتي او عرفاني اثارو د لیدلو او د هغه ښار د علماؤ سره د کتلو مینه وه. ولاړه سوه. او د خپل استاد څخه د اجازت اخستلو وروسته هغه ښار ته ولاړ، او د څو ورځو پرس او پال او د علماؤ سره د ناستې او ولاړې له کبله د سیمې د لوی ملا او مدرس شیخ الحدیث معصوم محمد پنجابي د شاګردۍ منزلت حاصل کړ. مولوي صاحب د دغه استاد کل څخه د دوو کالو له پاره احادیث، اصول، فقه او د ځینو نورو علومو کمالات او رموز ونه کسب کړل او د بریالي امتحان ورکولو په نتیجه کې د هغه استاد د صوابدید او د منصفه هیئت د فتوا له مخې د مدرّسۍ او استادۍ د بګړې ترلو او چوغې اغوستلو د مرتبې مستحق وګڼل سو او د جید و او لویو ملا یانو په لړکې په هم دغه مدرسه کې د اسلامي علومو د تدریس او تبلیغ چارې ور وسپارلې سوې. د مولوي صاحب طبیعت چې هر کله د وطن دوستي خدمت ګذارۍ او وطنوالو د ویښولو او د خپلو دیني او اجتماعي وجایبو

دملتفتولو، حق، عدالت پاللو شعایرو ته متوجه ؤ، نوکندهار ته راغی او د خپل ملگری مولوي عبدالحکیم اخندزاده اسحق زی سره یې دکندهار د ښار د ښکارپور بازار د محمد خان په مسجد جامع کې په (۱۳۲۴ هـ ش) کې د امامت او تدریس وظیفې ته دوام ورکړ. د ده حضور په کندهار کې په لږ وخت کې د مهمو سیاسي او اجتماعي مسایلو د حل او فصل کولو، تبعیضاتو او تفرقو د ورکولو عمومي مرجع وگرځید، د نوموړو روشنفکرانو مخصوص وینبو عُلمیانو د یوشمیر شخصیتونو لکه عبدالهادي توخي او داسې نورو کسانو سره د ناستې او ولاړې د رابطې د ټینگولو له اثره ځینې خلکو دده وینبو عُلمیانو د ډلې غړي گاڼه. او په اجتماعي مسایلو کې د هغه د لاس لنډولو له پاره د دولت له خوا په توطئو او دسیسو لاس پورې سو، څو هغه وُچې ملامحمد حسن اخندزاده یې دې ته وهڅاوه چې مرکز ته د یوې عریضې د وړاندې کولو، او د ده د لاس د محمد خان د مسجد جامع د امامت او خطابت څخه د کښلو او اصلي وارثانو ته د امامت د سپارلو د امر په حاصلولو سره دې او ملگري یې نا وړه عناصر وگڼل سول، یوغزني او بل هلمند ته تبعید سول. دوی په هغو سیمو کې دڅو میاشتو فشار ونو او کړاوونو تیرولو وروسته د هغو سیمو د یوشمیر معتبرو ملایانو او مشرانو په وسیلت آزاد سول او بیرته کندهار ته راغلل.

مولوي عبیدالله صاحب دکندهار د حاجي عطاجان په مسجد جامع کې دیوکال، د پنجوایي ولسوالۍ د زنگاوات په مسجد کې دیوکال، د ارغنداب د سنځري په ولسوالۍ کې د یوه کال څخه زیات بیرته د کندهار د ښار د ده خواجي څرمې ته د ملا علم اخند په کلي کې د دوولسو (۱۲) کالو د امامت او خطابت د چارو په سرسولو په هلو ځلو کې پوره بریالیتوب حاصل کړ، په رسمي او ملي توگه د زیات شهرت خاوند سو. څو د (۱۳۵۷ هـ ش) کال انقلاب وطن ته راغی، راستي او چپي خواډلو دواړو د ده د هرستو او نفوذ څخه دگټې اخستلو هیله درلوده، دې چې تر دغو جریانو لوړه معنوي او اخلاقي او وطني احساسات درلودل او په مستقیم توگه یې تر تاثیر لاندې نه راتلی. نو د ډول ډول فشارونو او اتهاماتو څخه د

لیږي کیدلو په منظور په (۱۳۵۹ هـ ش) کې يې د پښتونستان دکوټنې ښارته مهاجرت وکړ او اوس د دې سره چې ډير سپين ږيری او ضعيفه دی خو د ديني او اجتماعي خدماتو د نرسترپيدونکي زيار او کار په برکت دکوټنې د پښتون آباد نصرالله چوك ته نژدې په يوه مسجد کې په تدريس او امامت لګيادی . ملاصاحب متاهل دی . او مشهور آثار يې دادي :

پرشرح عقايد ، التصريح ، ايساغوجي ، مير ايساغوجي ، بديع الميزان هداية الحكمة ، تحرير ، القطبي ، حمدالله ، الكافية ، عبدالغفور ، اصول الشاشي باندي چاپ سوي حاشيې او تعليقات ، د نور ظلم دری او پښتو ترجمه ، رسالة في عصمت الانبياء ، رسالة في شهادة الحسين ، رسالة في رد الوهابية ( وسرق هذ الرسالة قبل الطبع المولوي عبد القدوس الاندري وطبعها باسمه ووضع اسمها شمس الوطن ) حاشيه على الهداية النافع حاشيه على سراجي ، حاشيه على المطول (۱) .

ملاصاحب ښه خطاط او نستعليق نويس دی او همدارنګه په پښتو او عربي کې شعري قريحه هم لري او د نقش بندي طريقې ماذون او خليفه دی .

## سره جامع

دغه مسجد جامع د کندهار په نوي ښار کې احمد شاه بابا ليسې ته نژدې د محمد يونس نائب الحکومه په توجه (۱۳۲۵ هـ ش) د بخارايي سبك په معمارۍ د کندهار د دوو ماهرو معمارانو استاد نعيم جان او د هغه د ورور لعل محمد تر نګرانۍ او مراقبت لاندې چې دوی دواړه د کندهار په جوړو سوو ښتو باندې د پوښښو نوجوړولو استادان دی په کال (۱۳۲۹ هـ ش) کې بشپړه سو . دوی دومره محکم او مضبوط پوښښونه کړي دي چې د نن ورځې د سيخ او کانکريټ سره سيالي کوي . په نوي ښار کې د عطاجان جامع او د عيد

(۱) د مرآة المباحثه اصول الشاشي مع حاشية احسن الحواشي في طبع المجتبائي الواقع في دهلي . تحت اداره ملا غلام محمد بستي .

کاڼ دروازې شتشك هم د دغه معمارانو د لاس نمونه ده .

## د بابړو د کوڅې مسجد جامع

دغه یو زوړ او تاریخي مسجد دی چې د کندهار په لومړي ناحیه کې د بابړانو په کوڅه کې په ښو ختو، ګچو جوړ سوی او په ډېر اوږ وسته کې په ښوخښتو تر میم سوی او د پنځه سوو لمونځ کوونکو له پاره کافي ګنجایش لري . د دغه مسجد مقتدیان زیاتره ماړه خلك دي ځکه ځیني ملایان او طالبان یې هستیدو لو ته هوسیږي.

د دغه مسجد د مشهورو مدرسو، ملایانو او عارفانو څخه یو ملا عبد القادر اوبل د هغه شاګرد ملا عبید الله صاحب نومید ل چې شلو یشت کاله د مخه یې د عربستان د مدینې منورې ښار ته مهاجرت کړی دی، موخر الذکر د پنجوایي د زنګاوات د سیدانو د کلي د لوی متبحر او بزرګوار عالم ملا نور محمد زوی چې اوس یې عمر (۹۰) کالو ته رسیږي د تدریس او ارشاد څخه لویدلی د قبا په مسجد کې په عبادت او ریاضت لګیا دی او زیات عربان او افغانان یې په شاګردی او مریدی نازیږي او د شیخ القبا القندهاری په نامه شهرت لري، ملا صاحب د فقې او تصوف څخه علاوه ادبي قریحه هم لري او د پښتو او عربي ځیني اشعار یې اوریدل سوي دي او هم یې یو اثر د (اوراد و تاثیر) په نامه خپور سوی دی . د ده یوه پښتو مرثیه چې د پلار د وفات په مناسبت یې ویلې وه ډیره مشهوره ده .

## د برکیانو مسجد

دغه یو زوړ او تاریخي مسجد دی چې د کندهار په دریمه ناحیه قلعه فصیل ته نژدې د برکیانو په کوڅه کې آباد سوی د ملایانو او طالبانو د اعاشې او اباتې له پاره وړ ځایونه لري .

په دغه مسجد کې او یا کاله د مخه د کندهار یو نامتو او بزرګوار عالم

تدریس او ریاضت کاوُچې ملا عبید الله صاحبزاده نومیده ، دی دکندهار د ذاکرشریف دهوتکو صاحبزادگانو څخه شمیر ل کیدی چې د شیخ الحدیث په نامه هم مشهور ؤ ، ده په فقې ،نحو ، منطق او تصوف کې لوی لاس درلود او د نقش بندی طریقې پیر او ماذون ؤ .

صاحبزاده صاحب د امام غزالی صاحب د (۷۲) آثار و مخصوص کیمیای سعادت احیاءالعلوم ، التعلیقه فی فروغ المذهب ، المنحول فی الاصول ، البسیط فی الفروغ المنتحل فی علم الجدل ، بدایته الهدایة ، تلبیس ابلیس ، فیصل التفرقه بین الاسلام والزندقه او نورو منسر او مدرس ؤ د چهارشنبې او دوشنبې په ورځو د سهار لخوا به یې دوه ساعته د بلخی مولینا مثنوی د امام ربانی مکتوبات هم تدریساوه ده لوی کتابخانه د الغزالی په نامه درلوده چې د امام غزالی صاحب ټول آثار او د سیمې د مفسرینو او متصوفینو قلمی او چاپی تذکری یې په کښې راغونډی کړې وې دی ډیری سپین ږیرتیا په عمر په دغه مسجد کې وفات سوی او په محوطه کې یې خاورو ته سپارلی سوی دی . د چهارشنبې په ورځو کې د ده مزارته زیات درو یشان او ارادتمندان ورځي .

همداشانې په دغه مسجد کې په کال (۱۳۱۵هش) کې یو بل نامتو او مجاهد ملا هستیدی چې د ملا عبد الحمید آب بندی په نامه یادیدی . ده هم د ملا عبید الله صاحب علمی موږته او خلافت پالی او ډیر جید او قوال ملا ؤ ده خپل تحصیلات د هند د دیوبند په مدرسه کې پای ته رسولی وه او د هندی علماؤ د آزادی غوښتلو او اسلامی جذباتو دیاوړه کولو مجاهدی یې له نژدی لیدلی وې .حکه یې په کندهار کې د سیاست او علمی ټولنو جوړولو سره پوره علاقمندی ښکاره کوله او د یو شمیر روشنفکرانو مرجع ؤ ، دی په پښتو ، دری او عربی ښه پوهیدی او شعری طبع یې پکښې درلوده ، د شعرونو پښتو دیوان یې په لاهور کې چاپ سوی دی چې اشعار یې زیاتره ، تصوفی ، عرفانی او فلسفی رنګ لری . ملا صاحب په کندهار کې په (۱۳۲۷) کال کې وفات سوی او خاورو ته سپارل سوی دی .

# د طالبانو مسجد جامع

دغه مسجد جامع لومړی ځل د کندهار د ښار په اوسنی ښلو رمه ناحیه کې هغه وخت چې په ښار کې خالصه ځمکې، د کورونو او مسجدونو جوړولو لپاره مناسب ځایونه موندل کیدل، د زمانې په مرور په یوه شپږ بسوییزه چهار دیواری کې د لمانځه دادا کولو له پاره یوه ټوټه ځمکه تخصیص سوې وه چې د طالبانو په توجه او همکارۍ د ری حجري په پنځ سوي مسالی جوړه سوې وې دغه مسجد وروسته د ښار د متدینو او مستعدو خلکو له خوا څخه په بیلو وختونو کې په اساسي او پوخ تعمیر او ښتي او اوس تر پنځه سوو لمونځ گذارانو زیات گنجایش لري. په دغه مسجد جامع کې د کندهار او شاوخوا زیاتو ملا یانو او صاحب حال خلکو امامت او تدریس کړی چې د هغو څخه یو خواجه میا عبید الله صاحب احرار نومیږي.

میا عبید الله صاحب د میا شیرعلي صاحب (پیر قلندر شاه) مقري زوی او د میا فتح محمد صاحب لمسی دی، میا فتح محمد صاحب د میا رحمد ل صاحب خلیفه ؤ چې د موسی خیلو اندړ وته منسوبیدی، ده په فقې او حدیثو کې لوی لاس درلود او په یوسل و شل کلن سن وفات سو (۱۳۰۰ هق). د ده څخه شپږ زامن د محمد امیر صاحب زاده، میا شاولی الله صاحبزاده، میا شیرعلي صاحبزاده (پیر قلندر شاه صاحب) مولینا مهرعلي صاحبزاده، میا محمد عثمان صاحب زاده په نامه پاته سوي دي. (۱)

میا عبید الله صاحب په کال (۱۲۹۲ هق) د شعبان المعظم د میاشتي په نهمه د دوشنبي په ورځ د سهار په اتو بجو د مقر د برجکې په کلي کې زیږیدلی او د اولس کلن سن څخه د کندهار د ښار د شا وخوا سیمو لکه ارغنداو او پنجوایي د لویو علماؤ او صلحاؤ مخصوص خیل اکا مولینا محمد علي صاحب (د خاکریز

(۱) د فتح محمدي رسالي د ۵۰ مخ څخه
د کندهار مشاهیر ۱۸۷ مخ

اخندزاده صاحب) څخه متداوله علوم لکه اصول، عقاید، فقه، حدیث تفسیر، صرف، نحو، بیان، بدیع، عروض، ادب او فلسفه لوستی او ځوانی په سن (۱۳۰۷ هـ ق) کی د ملایی او مدرسی هسکی درجی ته رسیدلی دی، ده وروسته د تصوف او عرفان خواته مخ وگرزاوه او د خپل روحانی او متدین پلار د ماذونی او خلافت مقام حاصل کړ.

د میاعبید الله صاحب مشهور آثار دادی:

په عقایدو کی تتمت الحواشی، په تصوف کی بیان العرفان، په عقایدو کی شریعت الاظهر شرح فقه اکبر، په عقایدو کی مجموعت الحواشی علی الخیالی، په منطقو کی تحریر فی المنطق یعنی پر میر ایساغوجی میاندی حاشیه، په مناجاتو کی گلشن اسرار، مرات الاسرار، مجموع المناجات، په تصوف کی تحفت الاخیار (انوار محمدی)، فیض قلندری، په عقایدو کی ازالت الاوهام، دعا الخیر او نور.

د ده مثنوی رنگین اثر چی اعلیحضرت حبیب الله سراج الملة والدین ولید زیاتی خوښ سو، او د حضور راتلو ته یی تشویق کړ، هغه وخت چی میاصاحب کابل ته را ورسید پاچا په ننگرهار کی ؤ. ده په چهارباغ کی د معین السلطنت عنایت الله سره ولیدل او د پاچا لخوا څخه ده ته په کال کی پنځه زره معاش مقرر سو، میاصاحب د ده په حضور کی په ډیر عجز او تمنا د هغو د منلو څخه عذر وغوښت او زیاته یی کړه چی زه د اسلام او د اسلام د پاچایو فقیر دعاگوی یم او په خپل قسمت او نصیب راضی یم.

میاعبید الله احرار د پنځه شپیته کالو په عمر په کال (۱۳۵۷ هـ ق) د جمادی الاخر په پنځمه د چهارشنبی په شپه د وباد ناروغی په سبب وفات او د کندهار د مرانو په هدیری کی خاوروته وسپارل سو.

میاعبید الله صاحب د پښتو او فارسی ژبی مشهور عرفانی او تصوفی شاعر دی، د مخلصانو او مریدانو په خولو کی یی تر اوسه د اشعار و او نصایحو نا چلی پیلگی موندلی کیږی.

دده د پښتو دیوان لومړنی شعر چې په هغه کې د وحدت او کثرت بیان دی د ،
نمونې په ډول دلته ذکر کیږي :

دکثرت په حدیقه کې ربنا
بلبلان دي په هر آن کوي ثنا

داپه داچې دکثرت په ائینه کې
ښه جلوه دی د وحدت کړه رونما

که د لی یې که هوري یې واړه ته یې
په هر لوري ستا د مخ کړي تماشا

ستا بې مخه په بل لوري نظر نه کړي
چاچې ولیدو په سترګو حسن ستا

ما سیوا یې له تا کل واړه تر شا کړه
چې تا و وایه آیت لن ترنا

حقیقت کې ناظر ته یې منظور ته یې
داکثرت دی کړ و عجب لباس پیدا

که پرده د مابین وا خلې له میانه
عاشق نه دی له معشوق څخه تنها

د ناسوت په ائینه کې سوه څرګند دا
هر عاشق ته ستا د حسن تجلا

سر و مال جان و جمال مې اواړه کړ
چې ورکش کړ ستا د حسن کهربا

د مکان زنځیري وشلاوه ازاد سو
له قفسه طوطي والوت په هوا

اوس وتا و ته نظر ستا په نظر کړي
منظور کله له ناظره دی جدا

..

چې يې عقل وصبر وخواب راڅخه يوړ
دغه نوردې چې تاويږي که ستا مخ؟
چې د اهسې دلبرۍ دلربايي کړې
دا اوس نوې گل غوړيږي که ستا مخ؟
په شغلو چې يې روښان تمام عالم کړ
نر پوهيږ ولمر راخيژي که ستامخ؟
دا يوگل يې دې ليدلی په بوستان کې
زمانه چې تل نوليږي که ستامخ؟
دا آئينه د سکندر که جام جم دی
چې احوال ترې معلوميږي که ستامخ؟
دغه گل، سنبل، نرگس سره يوځای دی
چې احرار ترې قربانيږي که ستامخ؟
د ميا عبيدالله صاحب د فارسي شعر نمونه دده (مثنوي رنگين) څخه:
گوش کن که اين رمزهای عاشقين
پر بود ز اشواق عشق مرسلين
بي دم اوکی دم عاشق هبود
صوت نی بي نامی کی صادق بود
ز آن سبب درساخت احرار حزين
مثنوي بحري ز اسرار مبين
جملگی تفسير قرآنی است اين
شمهٔ از فيض ربانی است اين
پر ز دريا بحر با پنها استاين
پوست نه بود جملگی معنی است اين
اِنّ للقران ظهراً هوش کن
پنبهٔ غفلت بيرون از گوش کن

# د موسیٰ خان مسجد جامع

دغه مسجد جامع د (۱۳۱٦ هـ ش) کال په شاوخوا کی هغه وخت چی سردار محمد داؤد د کندهار نائب الحکومه او عسکری قومندان په کندهار کی عمرانی نهضت شروع کړ د کندهار د یو تاجر محمد موسیٰ خان نوخی په مصرف تقریبًا په نیمه جریب محکه کی د هغه وخت په تعمیراتی موادو پوخ او جوړ سوه چی تر پنځه سوه زیاتو لمونځ کوونکو له پاره یی د مسجد په دننه او د باندی فرش کی د عبادت ځای درلود او له څنګ یی داو داسه د تازه کولو او غسل کولو له پاره مجهز ځایونه، څاه او نلی درلودی، په دغه مسجد کی ملا امام او طالبانو د او سیدلو او درس لوستلو له پاره کوچنی او لوی حجری جوړی سوی دی چی د سرپرست له خوا خخه یی د اعاشی او اباتی او درسی لوازمو ضروریات برابریږی د همدغو سهولتونو له مخی د کندهار د ځینو مشهورو عالمانو او ملایانو د امامت او خطابت چاری په سر په کښی رسولی دی.

په دغه مسجد جامع کی د کندهار یو لوی او متبحر عالم مولینا عبید الله صاحب تدریس کړی دی چی د ده او د ده د علمی او عرفانی کوړنی لنډه معرفی دلته وړاندی کیږی.

د ښهر کاریز مولوی صاحب (مولانا بابا):

نومړی مولینا محمد الدین د پلار نومړی مولینا خواجه محمد صاحب د نیکه نومړی علامه مولینا عبد الغفور صاحب داوی ؤ. (۱)

مولینا صاحب په کال (۱۲۸۲ هـ ق) د یکشنبی په ورځ د ربیع الاول په دو ولسمه دکندهار د ارغنداب دولسوالی د (شیراحمد فقیران) په کلی کی زیږیدلی ؤ. ورو ستنی نیکه یی شیخ علامه خواجه محمد القادری الحنفی رح نومیدی چی د سید سلمان جیلانی مرید او خلیفه ؤ، او همدمیا نور محمد صاحب داوی

---

(۱) د دغی قبیلی د خلکو شمیر لږ دی، دکاکړو د قبیلی یو ښاخ ګڼل کیږی (حیات افغانی)

(د تزنک او سید و بکی) او د صوات د میا عبد الغفور صاحب خلیفه او د علامه حبیب الله اخندزاده کاکړ د شاګردانو څخه وُ چی په (۱۳۱۲ هـ ق) کی په مزار شریف کی مړ دی. د نهر کاریز مولوی صاحب د خپل نسب شجره په (۱۸) پښت د (سیدنا الملک قیس عبد الرشید البطان د مکی معظمی په فتح کی شریک معتبر صحابی ته رسوی چی په (۴۱ هـ ق) کی د افغانستان د سلیمان د غره د کسی په سیمه کی وفات سوی دی او لیکی چی د قیس عبد الرشید څخه سیدنا حمید تابعی مشهور په غرغښت او د هغه څخه سیدنا محمود احمد تبع تابعی په (ابو عمردانی) مشهور او د هغه څخه سیدنا امام حامد ابو محمد په (الداوی) مشهور پیدا سوی دی...) (د اشجار الاخیار څخه.)

مولینا محمد الدین صاحب زیاتره علوم د خپل نیکه او پلار څخه په سر رسولی او د خپلو تحصیلاتو د پوره کولو له پاره د ارغنداب د سنځری د کلی د مولانا بهاء الدین اخندزاده علیزی، او د خوجالی د کلی مولینا جلال الدین صاحب او د هلمند ولایت دګرمسیر د ملا کبلی بلوڅ و علمی محضرونو ته رسیدلی او د لوی استاد د رتبی د حاصلولو له پاره په کال (۱۳۱۱ هـ ق) کی د هغه وخت هندقاری ته سفر کړی. او پر مولینا ظهور الحسن صاحب فاروقی القاضی بیضاوی، شرح سلم او شرح مواقف لوستی او په حدیث کی یی د مولینا شیخ عبد العلی صاحب او نورو جیدو علماؤ څخه فیض اخستی او د هغی سیمی د طریقت او تصوف د بزرګانو د لیدلو وروسته په کال (۱۳۲۱ هـ ق) کی بیرته کندهار ته راغی او د پنجوایی د ولسوالی په مرکز کی یی یوه علمی مدرسه او د طریقت د پیروانو له پاره خانقاه جوړه کړه چی د کندهار او شاوخوا سیمو ډیر و طالبانو او ارادتمندانو علمی او عرفانی استفاضه تری کول. مولینا محمد الدین صاحب په (۱۳۴۹ هـ ق) کی د سید حسن جیلانی (د کابل نقیب صاحب) او په کال (۱۳۵۷ هـ ق) کی د فاروقیه مجددیه خلافت حاصل کړ، دی د نقشبندیه قادریه، چشتیه، سهروردیه طریقو لوی عالم او بزرګوار شخصیت ګڼل کیدی مولوی صاحب که څه هم یو د رباری ملا او پیر نه وُ خو په مهمو او

تاریخی وختونو کی بر د افغانستان زیاتو پاچاهانو اولویانو د موفقیت اوخیر دعا غوښتنه لکه چی د افغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه ده تره په خپل یو فرمان کی داسی لیکلی:

ف - ملا محمد دین اخند زاده ساکن نهر کاریز

پدر مغفور ما اعلیحضرت غازی شهید سعید (نورالله مرقده) درضمن پروگرامی که برای خیر وبهبود مملکت طرح فرموده بودند موضوع طبع قرآن کریم را درخود افغانستان نیز درنظر گرفته بودند، که قرآن کریم بارعایت شروط وآداب اسلامی به اهتمام هیئت جمعیت العلماء درریاست مطبعه عمومی طبع شود، چنانچه برحسب اراده آن شهریار شهید وخیرخواه مملکت طبع قرآن کریم که درعهد مبارک شان درمطبعه عمومی کابل شروع شده قسمتی از آن طبع ومتعاقباً درعهد زمامداری ما که تماماً امال نیك آن شهریار فقید تعقیب میشود با این امرمهم نیز توجه بعمل امده واکنون به مرحمت الهی قرآن کریم منطبعه افغانستان بکلی ازطبع فارغ گردیده است چون آرزوی حضوری ما این است که رعایای عزیزم در امور دینی ودنیوی خود توجه داشته ازراه اعتصام بررشته متین کتاب الله وشریعت قویم محمدی (ص) به ترقیات مادی ومعنوی نایل ایند لذا ضمیمه فرمان هذا یك جلد قرآن کریم منطبعه افغانستان را که طبع آن از بهترین یادگارهای عصرمنور آن شهریار فقید بوده، وافتخار طباعت آن به افغانستان عاید است جهت تلاوت شما هدیه میکنم، در اثنای تلاوت این قرآن کریم البته برای خوشنودی روح پاك آن شهید مغفور که بانی طبع آن در مملکت میباشد فاتحه خوانده وجهت آرامی وترقیات وطن خویش دعا خواهید کرد تاخداوند به برکت این قرآن کریم افتخارات مزیدی نصیب افغانستان بنماید.

محمد ظاهرشاه　　نومره $\frac{۲۱۴۵}{۶۴۳۴}$

تاریخ ۱۸ عقرب ۱۳۱۵

د نخر کارین مولوي صاحب په احادیثو، عقایدو، اصولو، حکمتو، ریاضي اخلاقو، تصوفو، اورادو، مناقبو اسنادو او نورو علومو کي یو شمیر چاپي او غیر چاپي آثار لري چي مشهور یي دا دي:
عجاله نافعه (امامت کبری)، عروة وثقی (په مناقبو او اورادو کي) نقیب الاسناد (په اسنادو کي چاپ سوي دي).
په کندهار کي یي مشهور شاگردان دغه ملایان دي:
ملا شرف الدین اخندزاده صاحب چي د جلالین شریف مشهور مفسر و، سید الحاج غلام علي آغا صاحب کندهاري، د هلمند د سنگین د علاقه داري ملا عبد الحلیم، ملا محمد یعقوب فراهي، ملا محمد خانم اخند شینډنډي، ملا محمد جمعه اخند هراتي، د چنارتو حضرت عبد الحکیم جان آغا صاحب الفاروقي، د ارغستان علامه ملا الهداد، د موسی خان د مسجد جامع امام او خطیب، ملا عبد الرحمن اخند کاکړ، د حاجي عبد الحئ د مسجد جامع امام ملا عبد الله اخندزاده صاحب، د ده خواجي علامه الحاج ملا عبد الحبیب اخند، د ترو ملا صاحب الحاج ملا محمد شفیق اخندزاده، د تیري شیخ عبد الغفار اخندزاده صاحب، د ترکستان مولانا نجم الدین صاحب، د پنجوایي مولانا جلال الدین صاحب کاکړ، د زنگاوات مولانا عبد الستار صاحب بالاکرزي، علامه ملا ضیاء الدین اخند کندهاري، د بند تیمور ملا سید نبي، علامه عبد الحئ د بند تیمور، د غورک پیر ملا شرین جان اخند صاحب، د هلمند د سار وان کلا مولانا مقصود صاحب، د هرات مولانا قاري صاحب محمد اعظم، د گرمسیر مولانا محمد آغا صاحب، د هراود مولانا محمد حسن اخندزاده صاحب د دینارخیل، د ناگهان ملا محمد سابق صاحب، د زنگاوات سید عبد السلام آغا، د ناگهان ملا عبد الواحد اخند، محمد ابراهیم جان اخندزاده کاکړ، د موشان ملا غلام نبي اخندزاده هوتک، د ساروان کلا ملا حبیب الله جان اخندزاده، د هرات ملا غلام حیدر اخندزاده صاحب، د فراه ملا خان محمد اخند صاحب، د کابل

ملا داد محمد اخند صاحب، علامه ملا عطا محمد اخند صاحب کاکړ
علامه عبد الصمد اخند صاحب النعمانی القادری، البغدادی الموصلی او نور.
د نهر کاریز مولوی صاحب مولینا محمد الدین د عمر په ۸۶ کال (۱۳۶۸ هق)
کی په نهر کاریز کی وفات او هم هلته خاوره و ته وسپارل سو. ده پنځه اولاده
دوه زامن دری لوڼی درلودی چی دهغو څخه یی خلف جانفدا الحنفی النقیبی
الحاج مولینا عبید الله صاحب زیات مشهور دی. د ده د وفات په هکله د
هیواد یو شمیر ادیبانو او شاعرانو مرثیی ویلی دی چی یو نمونه یی داده:

ولی به نه ژاړو خلکو په ارمانه — ولاړی مولینا صاحب شمع د عرفانه
په نهر کاریز کی نور شپه سوه — د برکت ماڼی چپه سوه
په کندهار کی زلزله سوه — ژاړی په بیلتون د ده ملکه و اسمانه
زموږ د عصر لوی مقتدا ؤ — عالم په هر فن کی دانا ؤ
په ښه تقریر سره یکتا ؤ — هم یی فصاحت درلود ډیر خوش لسانه
لوو سیله یی په هر چا وه — هره خبره یی رښتیا وه
څه ښه موثره یی دعا وه — د ده په بزرګی قائل ټول افغانستانه
سخته محکمه په شریعت ؤ — مشغول په درس او تلاوت ؤ
فوق علیحده یی شفقت ؤ — دی دی ارمان نه کوی موږ سو یتیمانه
خدای ته یی وسانی اولاده — دا خانقاه لری آباده
دا رحمی زړونه موکړی ښاده — خواری په موږ مه وینی دا ښه خاندانه
اوصاف یی ډیر دی نه تمامیږی — نه په قلم نوشته کیږی
دخدای رحمت دی پر اوریږی — پیر ئی د عبد الحکیم ډیر مهربانه

مولینا محمد عبید الله صاحب (جانفدا، الحنفی، النقیبی):

دی په کال (۱۳۶۴ هق) د کندهار د ارغنداب د نهر کاریز په کلی کی زیږیدلی
او په پنځکلن سن د پښتو نخوا د پښین د سیمی د منزکی په کلی کی د پلار د سپارښت
سره سم د الحاج علامه سید غلام علی آقا د شاګردی په حلقه کی داخل سو
او د خپل ذهانت او فکری استعداد په برکت تر دوولس کلن سن متداوله

علوم حاصل او قرانی علوم او احادیث يې د صوبه سرحد (پېښور) د واګې د مظهر العلوم په مدرسه کې د مولینا حمد الله صاحب قادري څخه ولوستل او په (۱۳۸۸ هـ ق) کال کې د استادۍ او مدرسي د چوغې او لنګوټې استعمالولو مستحق وګرځید، خو چې کندهار ته راغی او د محمد موسیٰ خان توخي په مسجد جامع کې يې د امامت او خطابت وظیفه ورته وسپارل شوه، مولینا محمد عبید الله صاحب داوي څرنګه چې په تدریس او تبلیغ کې ډېر فصیح او شیرین زبانه ؤ نو په لږ وخت کې يې ډېر شاګردان او اخلاصمندان وموندل او ددې له پاره چې د علمي او عرفاني محضر څخه يې عامه استفاده وشي نو د کندهار ښار د مراجعو له مخې ده د کندهار په یوشمېر مسجد جامعګانو لکه د حاجي خیر محمد کشمیري، په ده خواجه کې د حاجي شاه محمد حمامي د ملا علم اخند کلي په مسجد جامع کې د امامت او تدریس چارې مخې ته بیولې دي. مولینا محمد عبید الله صاحب په (۱۳۹۰ هـ ق) کې د خپل یوشمېر زیاتو شاګردانو او مخلصانو د غوښتنې له مخې بیرته خپل مسقط الراس نهر کاریز ته راغی او د خپل متبحر او بزرګوار پلار علمي او عرفاني خلافت ته ورسید.

دی په کال (۱۳۹۰ هـ ق) کې د حرمینو شریفینو د زیارت، عراق او حجاز د علماؤ او صلحاؤ سره د لیدلو په نیت هغو سیمو ته ولاړ او د هغو د مجلسونو څخه يې ډېر برکات او فیوضات په نصیب سول، وطن ته د بیرته راګرځیدو په وخت کې يې د نهر کاریز د زاړه مسجد جامع د ترمیمولو علاوه يې د هغې له څنګه (مدرسه نورانیه ګیلانیه) او خانقاه جوړه کړه او خپل علمي او عرفاني مرکز يې وګرځاوه.

مولینا محمد عبید الله صاحب او د هغه شاګردانو او مریدانو په (۱۳۹۸ ق) کې د افغانستان په یو ولسوالیو کې د جهاد معرکه ډېره توده ساتلې او په کندهار کې يې تر او وه میاشتو مجاهد وه ورو سته خپل جهادي مرکز يې د پښتونخوا کوټې ته نقل کړ او په خپل شخصي مصرف يې بیله مادي او

مسالی مکافات ترخلاص دخدای د رضا له پاره د جهاد فریضه ترڅو روسان د وطنه وتله پیاوړی کوله، په دغه اثنا کی ده یوخوب ولید چی حضرت رسول الله (ص) ورته فرمایلی جهاد دی قبول سو اوس بل جهاد چی امر بالمعروف ونهی عن المنکر او دتدریس او تبلیغ او تالیف چاری دی مخ ته بوزه، نوده همدغی فرموړی د تعمیل په پیروی مولینا صاحب د (۱۴۰۲ څخه تر ۱۴۱۷ هق) پوری په تدریس او تالیف شروع وکړه چی مشهور آثار یی دادی: - اشجار الاخیار، الحق نمی تائید اهل الحق، الجواهر الستة، نقیب المناقب، نقیب الهدی، نقیب الشتی، نقیب السبل، نقیب المواعظ، نقیب الرسایل، نقیب السبیان، نقیب الوردة، نقیب المعین، مسلك اهل السنة، شجرالتبرکات، سندالعلوم، سند ایجازه القرآن عظیم الشان، دوه جهاده، مذاهب مختلفه، فواید مطبعیه، شجره اعظمین وظیفه امام غزالی صاحب، دعاخضری، اعانة العالم والمتعلم، شواهدالحق عجیبه فتنه، ضابطت علم المیراث، ضابطه علم البلاغه، ضابطت علم النحو ضابطت علم العقاید، ضابطت علم الفقه، ضابطت علم اصول الفقه، ضابطت علم العروض والقوافی، ضابطت العلم الطب، ضابطت الحکمت، ضابطت علم المنطق، ضابطت علم الصرف، ضابطت علم الحدیث، ضابطت اصول الحدیث، ضابطت علم التفسیر، هوسایی او روښنایی، شرح سراجی او نور.

مولینا محمد عبیدالله صاحب د هیواد د علمی او ثقافتی ستو د پیاوړی کولو په هلو ځلو کی فعاله برخه اخستی او د دغو دینی مدرسو په جوړولو بریالی سوی دی:

مدرسه نورانیه گیلانیه یی په نهرکاریز کی په کال (۱۳۹۳ هق)، دار العلوم القادریه په لاهور کی په کال (۱۴۰۲ هق)، دار العلوم محمدیه د کوټی په کچره رود کی په کال (۱۴۰۴ هق)، نقیب المدارس النورانیه یی د پښین د میرآباد په کلی کی په کال (۱۴۰۵ اق کی، دار العلوم القادریه د کوټی په شالدره کی په کال (۱۴۰۵ هق)، مدرسه نورانیه د سرخاب په کلی کی په کال (۱۴۰۸ هق)، مدرسه نقیب المدارس یی د ځنګله په کمپ کی په (۱۴۰۸ هق) پرانستلی دی. مولینا صاحب په شعر و ادب کی هم لوی لاس لری او د سیمو د یوشمیر زیا تو ادباؤ او فضلاؤ ممدوح دی، الدرویش ۲ فندی

مولینا عبد الرحیم سایل، الحاج عبد الکریم رسوا، الحاج عبد الودود شیر احمد مطرب یار، ملا محمد نذیر، ملا خدایداد، ملا احمدشا اخندزاده او داسی نور ادبا او شاعران یې د مجلس او فیض تنګان دی، مولینا صاحب همدا اوس د پښین د میرآباد په کلي کې اوسي، د مدرسي او خانقا وړیې د مراجعینو پر مخ خلاص دی.

## د مولوی ناصر صاحب مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کندهار د ښار په پنځمې ناحیې د منزل باغ په جاده کې یو پوړیځ ګنبدي مخه او مجهزه جوړه سوې چې د اودس تازه کولو او غسل کولو د ځایونو علاوه د طالبانو د او سیدلو او ملایانو د هستید لو له پاره مستریحي حجري او درسي لوازم لري، د دغه مسجد جامع جوړونکي چې مولوی سید احمد صاحب ناصر نومید او خپله یو عالم او شتمن شخصیت ګڼل کیدی د مسجد د اباتی او اعاشی ضرورتونه یې هم د خپل مالي او ځانې مصرف څخه رفع کول. په دغه مسجد جامع کې یو شمیر مدرس او بزرګوار ملا، محب الله اخند زاده صاحب د متداوله علومو تدریس کاوه چې تر پنځه سوه زیاتو طالبانو حلقه په پر راګرځیدلې وه.

ملا محب الله اخندزاده د ملا دین محمد اخندزوی او د ملا دادمحمد اخندنونزی هوتك لمسۍ دی چې داو وکالو په موده کې یې مروجه علوم پای ته ورسول او دشلو کلو په عمر یې د غزنې د ولایت د (ناوی) په ولسوالۍ کې د نانګر پر ملاصاحب د فضیلت پګړي وتړله او وروسته په خپل کلي کې چې (بدین) نومیږی د زابل ولایت د شینکي په ولسوالي مربوط دی په تدریس شروع وکړه، وروسته د خپل متبحر او جید استاد په بلنه د غزنې ولایت د (ناوی) ولسوالۍ ته ولاړ او هلته د غزګي په کلي کې چې نانګه ته ډیر نژدی دی پیش امام سو، په لږ وخت کې د هغه طالبان پر ده راتول سوه.

محب الله اخندزاده صاحب په کال (۱۳۳۸ هش) کې د کندهار ولایت د ارغنداب د

ولسوالی د (سیغ چالا) او سید ونکی حاجی محمد ابراهیم دعوت کړی د خپل استاد په اجازه له غزنی څخه کندهار ته راغی او په کندهار کې یې زیات شاګردان او اخلاص مندان وموندل او د (سیغ چالا) په اخندزاده صاحب مشهور سو.

په (۱۳۴۸ هش) کې چې مولوي سید احمد ناصر د منزل باغ په جاده کې مسجد جامع جوړ کړ اخندزاده صاحب ته یې مرکه ولیږله چې د ده د مسجد جامع د خطابت، امامت او تدریس چاری سامبالی کړي ملا صاحب د ده دعوت ومنلی د خپلو شاګردانو او مخلصانو سره د غه مسجد جامع ته راغی او په تدریس او تبلیغ لګیا سو، او څه وروسته یې په کابل دروازه کې په صدیقیه مدرسې کې چې عبدالله ذاکري جوړه کړې وه هم تدریس کاوه په دې وخت کې د ده د تدریس په حلقه کې تر سلو زیات طالبان شامل وو.

ملا محب الله اخندزاده د ثور د انقلاب په وخت کې د هغه علمي شهرت او جهادي مقاومت او عامه مقبولیت له مخې چې د کندهار په ولس کې یې درلود د ډیر فشار او کړاو سره مخامخ سو څو د (۱۳۵۷ هش) کال د میزان په میاشت مجبور سو چې د پښتونخوا د پښین ضلع ته مهاجر سي، وروسته بیا د کوټې سنار ته ولاړ او د برماهوتل په سیمه کې په تدریس او تبلیغ لګیا سو هغه وخت چې د مجاهدینو تنظیمونو د اتحاد اعلان وکړ، ملا محب الله اخندزاده صاحب پېښور ته دعوت سو او د هغوی د عالي شورې غړیتوب یې حاصل کړ.

محب الله اخندزاده صاحب پر یو شمیر د منطق، فقې، ادبیاتو پر کتابونو باندې چاپي او ناچاپه حاشیې لیکلې دي او یو مشهور اثر یې د نحو پر عبد الغفور باندې یو شرح (د مفتاح الکنوز) او بله یې د (حمادی) رسالې په نامه یادیږي.

محب الله اخندزاده صاحب د (۱۳۶۱ هش) کال د ثور د میاشتې په شلمه په خپل کور کې چې د کوټې د برماهوتل په سیمه کې و د زړه د سکتې په ناروغۍ وفات سو او د برماهوتل په لویه هدیره کې خاوروته وسپارل سو. د ده د صاحب حالي او بزرګواري په هکله په سیمه کې زیات روایتونه ستنه چې د هغو څخه یو حاجي

شیر محمد ناصر چې د صلاح او تقوئ په ګینه اراسته دی وایي:
هغه وخت چې په (۱۳۵۲هش) کې د محمد داؤد کودتا کیدله دوی ورځې د مخه ملا صاحب د ماز یګر د لمانځه وروسته وویل، چې د محمد ظاهر شاه تخت چپه کیدونکی دی انتظار يې کوئ چې هم هغسې وسوه، هم دا شانی هغه وخت چې د ثور کودتا کیدله بیا دوی ورځې مخ کې ده وویل: چې د محمد داؤد دکورنۍ اقتدار ختمیدونکی دی چې هم هغسې وسول.
اخندزاده صاحب ډیر متواضع عالم ؤ که بر چا نه پیژاند هیڅکله يې ګمان نه کاوه چې دی دی د خلکو د مره خادم او ناز بردار وی. د ده څخه دوه زامن پاته دی چې مشر يې مولوی محمد اسلم نومیږی چې په کال (۱۳۳۱هش) کې زیږیدلی ابتدائي کتابونه يې پر پلار لوستي او په (۱۳۴۹هش) کې د غزني ولایت په نور المدارس کې شامل سوی او په (۱۳۵۴هش) کې يې د هغې مدرسي څخه په اعلی درجه شهادت نامه حاصله کړه اوله هغه وروسته يې د کندهار د ښار د ملا علم اخند د کلي په مسجد جامع کې د امامت او تدریس چاری مخی ته بیولی دی.
ملا محمد اسلم اخندزاده په کال (۱۳۵۷هش) کې له خپلې کورنۍ سره د کوټې ښار ته مهاجرت کړی او د جهاد او وطن څخه د روس د سلطی او اشغال د ورکولو په مجاهدو کې يې تبلیغي او جهادی فعالیتونه پیاوړي ساتلي وو د ده جهادی نوم مولوی هارون دی چې په دغه نامه سره معرفت لري.
د زابل ولایت د سیبي یوبل مدرس عالم پیر محمد اخندزاده صاحب د ملا فیض محمد اخندزاده باکرزی نومی زوی ؤ چې په کال (۱۳۴۲هش) کې يې د کندهار د محمدیه په مدرسه کې تدریس کاوه، دی وروسته د زابل ولایت ته ولاړ او په خپل کلي (بابو) کې د ثور تر انقلابه په تدریس او جهادی مقاومت لګیاؤ. د زیاتو مجاهدو او مقاومتو وروسته د پښتونخوا د کوټې ښار ته مهاجر سو او د مسلم باغ په کمپ کې په امر بالمعروف او نهی عن المنکر مصروف سو. ملا صاحب د (۹۵) کالو په عمر په (۱۳۷۵هش) کې وفات

سو، اوس یې زوی مولوي احمد جان صاحب فیضي د خپل پلار موروثه او تفکر طرز پالي. د ده مشهور آثار په بدیع المیزان او ایساغوجي باندې حاشیه لیکلې او یو اثر یې په تصوف او عرفان کې هم دی اوس تر چاپ لاندې دی.
د دغې سیمې بل مشهور ملا الحاج امان الله نومیږي چې په متداوله علومو کې لوی لاس لري او مشهور اثر یې د (مشتاق الواعظین) په نامه د اسلامي انقلاب د حرکت د عمومي آمر مولوي نصر الله منصور په سپارښتنه په کال (۱۴۰۵هق) د جمادی الاول په دوولسمه او د (۱۳۶۳هش) کال د دلو په څلورمه د سکینت روضه القرآن والعلوم اسلامیه له خوا د پېښور په قصه خواني بازار کې په (۲۵۶) مخونو کې په مناسبه قطع چاپ سوی دی. د متن څخه یې څرګندیږي چې ملا صاحب د جید عالم او مشهور مجاهد صفت علاوه د پښتو یو فصیح الزبان او خوږ ژبی شاعر هم دی لکه چې د خپلې پېژندنې په هکله داسې وایي:

ډیر مجرم یمه و تا ته پاک سبحانه — روی سیاه یم عفو غواړم له تا نه
د ګناه پېټی می د روند دی ته رحمان یې — کرم وکړه پر ما باندې ته غفار یې
د ګناه عمل نامه کړه راکړې ماته — شرمنده او خجالت یم ډیر له تا نه
سرمایه د عمر خلاصه سوه حیران یم — خالي لاس ستا و حضور ته در روان یم
د ګناه په سبب تل تر تله ژاړم — مجاناً بلا عوضه عفو غواړم
زه عاجز امان الله ډیر ګنهګار یم — امیدوار د ذي د رحمت او دیدار یم
شینکیوال زابلي قوم هوتک یم — مهاجر د پاکستان افغانستان یم
د اسلام د لوړتیا ډیر طمع دار یم — د مذهب حنفي ډیر وفادار یم
د صوبې د پښتونخوا سکونت وال یم — موقتي د یو څو ورځو وعده دار یم
همیشه د خپل وطن آزادي غواړم — اتحاد اسلامي سترګې په لار یم

خاتمه مې خیریت کړې ذوالجلاله
د جمله مسلمانانو د شیطانه

# دکاروان مسجد

دغه مسجد دکندهار دښار دختیځې خوا دکابل دروازې دباندې په شپږ بسوې ځمکه کې پوخ داو داسه او لمانځه له پاره مجهز آباد سوی او دملا او طالبانو داوسېدلو له پاره شپږ حجرې او هستوګنځایونه لري دغه مسجد ته ځکه دکاروان مسجد وایي چې هلته درې پېړۍ پخوا دښار د اوسېدونکو دخوړاو مال التجارې دضرورتونو درفع کولو له پاره داوښانو کاروانونه تاکېدل او بېلې، بېلې هتیګانې او کاروان سرایونه یې درلودل، د (۱۳۱۴ هـ ش) کال راهیسې دیخوا چې په کندهار کې دنوو تعمیراتو جوړولو او ایجادولو نهضت شروع سو او دکندهار په پراختیا کې دکاروان سیمه هم ترعمراني نقشې لاندې راغله او دکندهار ځینو مستعدو خلکو دکورونو، مسجدونو، حمامونو، دکانونو په جوړولو لاس پورې کړ نو ځکه اوس دغه سیمه دکاروان په نامه یادیږي دکندهار دکاروان په مسجد کې ځینې مشهور ملایان او مدرسین اوسېدلي چې یو دهغو څخه حاجي ملا سیف الدین اخند د ملا قمر الدین زوی ؤ چې پنځوس کاله یې په دغه مسجد کې حدیث، عقاید، او تصوف تدریس ول، ملا صاحب دکندهار دلویدیځې خوا دسرپوزې په کلي کې زیږېدلی او په همدغه کلي کې خپل ابتدایي تحصیلات په سر رسولي او دتحصیل دپوره کولو له پاره دکندهار دد وهمې ناحیې دملا شرف الدین اخندزاده مسجد جامع ته نقل مکان کړی او دهغه څخه یې اخلاق مخصوص تفاسیر جلالین مثنوي، فقه او عقاید لوستي دي، او بیایې دکندهار دښار دنورو مشهورو ملایانو لکه دیحیی خان دکوڅې مفتي ملا غلام نبي اخند، ملا عبد الحبیب اخند څخه پوره علمي استفاده کړې او شل کاله یې په محله جات کې د حاجي یعقوب په مسجد کې او یو کال یې په مناره کې دمیانور محمد صاحب نورزي په مسجد کې او پاته عمر یې دکاروان په مسجد کې په تدریس او ریاضت تیر کړي دي.

ملا سیف الدین اخند دنقش بندي طریقې پیرؤ او دپیر مولوي صاحب (حاجي

عبد القیوم ) لاس نیوی یې کړې وُ . حاجي ملا سیف الدین اخند د دغه وخت وروسته په کندهار کې د تبلیغ او ارشاد حلقه ډېره تووده ساتلې وه په دین او مذهب کې یې د بدعتونو او بدو رواجونو فسق او فجور له منځه وړلو په لاره کې په تاریخي مجاهدو لاس پورې کړ، پر ښځو باندې د ستر او حجاب د مقرراتو د تطبیقولو ، د ساز سرود سره د مخالفت کولو په هلو ځلو کې یې د حکومت د پېروګړامونو د شنډولو په لاره کې ډېر خنډونه ایجاد کړل ، په عمومي معابرو کې پر لوڅ مخو ښځو او محصلینو ښځو پر مخونو باندې د تیزاب پاشلو او ویرولو له کبله د امنیتي پولیسو او ده د پیروانو په منځ کې په کندهار او کابل کې شدید تصادمات پېښ سول او دولت مجبور سو چې د ده د شپږو تنو مریدانو او د ده د ملګرو ملایانو لکه پیر مولوي صاحب د ګنج د بازار ملا غلام نبي اخندزاده او د ښکارپور بازار د ملا محمد صادق سره یو ځای ونیسي او د حبس په بېلو مدو د څلورو کالو څخه بیا تر اوو کالو پورې محکوم کړل . ملا صاحب د حبس د مدې د تیرولو وروسته د کندهار د څېنو ملایانو او مخورو په شفاعت خوشې سو .

ده خپل اصلاحي نظریات په یو شمیر آثارو لکه مسایل الرابعه ، سراج الاسلام کشف الاسرار ، تنویر البصائر ، تنویر المساجد او داسې نورو کې په تفصیل ذکر کړي دي . چې د لته یې نمونه راوړل کیږي :

حاجي ملا سیف الدین اخند د شرعي حجاب او اسلامي آدابو سخت معتقد وُ او په عمومي ځایونو لکه بازارونو ، پارکونو ، رستورانونو او سینماګانو کې په داسې ډول د ښځو په زینت او زیب راوتل چې جنسي غریزه تحریک کړي ناروا او حرام ګڼلې ، د کورني مشران او دولتي واکداران مجبور وي چې د ښځو د بربنډ راوتلو او شرعي احکامو او مقرراتو سره سم د بې پروایي جلوګیري وکړي . ملا سیف الدین اخند وایي : چې اسلام د پاکۍ او ښکلا سره مخالفت نه لري بلکه امر کوي چې تر وسه پورې مسلمانان ځان او کالي پاک وساتي . خو په اسلام کې د کالیو او ځان څخه غرض دوه شیان دي ، یو د ،

عورت ستر، اوبل ښکلا او ښایست دی چی خدای پاك پر انسان باندی احسان بولی، چی خپل عادی او زینتی کالی استعمال کړی، لکه چی د اعراف د سورة په (٢٦) آیت کی چی راغلی دی:

یابنی ادم قد انزلنا علیکم لباسا یواری سواتکم وریشا .

ترجمه: ای د ادم زامنو، دا سی کالی می تاسی ته رالیږلی دی چی ستاسو اندام او عورت پټوی، او ستاسی دزینت او ښکلا وسیله ده .

نو له دی څخه معلومیږی چی د کالیو داغوستلو هدف د عورت ستر او زینت دی او څوك چی په دغو دوو کی افراط کوی او تجاوز وکړی د اسلام د لاری څخه د شیطان لاری ته اوښتی دی . همدا شانی د اعراف د سورت په (٢٧) کی د انسان د ناوړو کالیو او د ښځو د بی حجابی او غیر شرعی ښکلا په هکله چی شیطانی خواسته ده او باید پرهیز څنی وسی فرمایی:

یابنی ادم لا یفتنکم الشیطان اخرج ابویکم من الجنة ینزع عنهما لبا سهما لیریهما سواتهما .

ترجمه: ای د ادم زامنو، شیطان تاسی خطا نه باسی هغه دول چی ستاسو پلار، او مور یی د جنته څخه و استل، او کالی یی د دوی د بدنو نو څخه لیری کړل چی خپل عورت د دوی ته څرګند کړی .

یو صحابی رسول الله (ص) ته راغی او ورته وویل:

چی ای د خدای رسوله زموږ ماندینی پر موږ څه حق لری؟ رسول الله (ص) ورته وفرمایل: ان تصعمها اذا ا طعمت و تکسوها اذا التسبت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر الا فی بیت .

ترجمه: خواړه ورکړه هر کله چی خوړو ته احتیاجه وی، کالی ورکړه هر کله چی کالو ته اړه ولری، پر بدن یی مه وهی، بد خبره مه ورته کوی، د هغی څخه مه لیری کیږی مګر په کور کی .

اسلام په کوڅو او بازارونو کی د ښځو لوڅ ګرځیدل، ښکلا کول حرام ګرځولی دی، او فرمایلی دی: چی باید یوه مسلمانه ښځه د اسی اخلاق، وقار، عزت او عفت

ولري چې د جاهلیت د ښځو اخلاق وځخه تو پیر ولري او فرمايي:
وقرن في بيوتكم ولا تبرجن تبرج الجاهلية الاولى.
ترجمه: ښځه باید په کورکې کښيني او د جاهلیت د زماني په شانې ځان ښکاره نه کړي. اسلام هغه موسیقي او لوبې چې فحش او فحشا تحریک کړي ناروا بللي دي، دکورني او ملي ښادیو په وخت کې ساز او سرود چې گناه تشویق نه کړي مستحب گڼل کيږي.
ملا سیف الدین اخند د (۱۳۵۷ هش) کال د انقلاب سره د مخالفت په گناه د ځینو نورو ملگرو سره و نیول سو او د کندهار په محبس کې د څو ورځو تیرولو وروسته کابل ته ولیږل سو او تر اوسه یې د ژوند او مرگ پته د چا سره نسته، ملا صاحب متاهل و او څلور زامن یې درلودل چې یو زوی یې ملا عبدالحي نومیږي چې د کاروان په مسجد کې تر اوسه د خپل پلار هوره پالي او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر لگیا دي.

## د کاکړانو مسجد

دغه مسجد چې په پخوخښتو گچو او ځینې برخې یې د ایامو په مرور د ترمیم په وخت کې په پخوخښتو جوړې سوې دي د مسجد د الان یې د شپږ سوه لمونځ کوونکو له پاره گنجایش لري او د کاکړانو ځینې متبحر ملایان او صاحبزادگان پکښې هستیدلي او تبلیغ یې پکښې کړي دي.
په دغه مسجد کې یوه پیړۍ د مخه یو ملا د ملا محمد عظیم په نامه چې د ملا رحمت الله زوی او د ملا خوشحال لمسی و هستیدی. دی د (۱۲۵۰ هش) په حدودو کې د کندهار د کاکړانو په کوڅه کې زیږیدلی و د ده پلار او نیکه گان هم د کاکړانو ملایان او شیخان تیر سوي دي. چنانچه د پښتو مشهور شاعر او ادیب صاحبزاده حمیدالله د پښین د عبدالرحمن جان آغا زوی د دغی کورني څخه دی. ملا محمد عظیم اخند مروجه علوم په کندهار کې تحصیل کړي او د نقش بندي طریقې حلقه یې د یره تو ده او فعاله

ساتلي وه او زيات شمير مخلصان او ارادتمندان يې موندلي وو. دده د مال او منال سره کومه علاقه نه ساتله ورځې او شپې به يې په لوېزې او عبادت تيرولې. دهغې علاقمندۍ او اخلاص په نسبت چې د جنوبي پښتونستان کاکړانو او سيدانو ورسره درلود، د پښين د سليمانزيو سيدانو يو وفد او مرکه کندهار ته راغلل او دۍ يې په ډير اعزاز او مراقبت له ځان سره پښين ته بوتلې او هلته يې د خپل کلي د امام او مرشد په حيث وټاکی. دده مسجد ته و رخرمه د ځان له پاره خانقاه او عبادتګاه جوړه کړې وه. دی د شپیتو (٦٠) کالو په عمر په کال (١٣١٠) کې وفات سو او هم هلته د سليمانزيو په هديره کې خاورو ته وسپارل سو. دده د کرامتو په هکله زيات روايات موجود دي وايي چې د افغان او انګليس په دوهمه جګړه کې په (١٨٧٩م) کال کې د توپ ګولی د ملا صاحب په ملا ولګيده خو هيڅ اثر يې باندې ونه کړ.

بل لوی او مدرس ملا چې په دغه مسجد کې هستيدلی ؤ ملا عبدالحبيب اخند نومیده چې د طلوع افغان اونيزه دده د وفات په مناسبت ليکي:

حضرت شيخ القرآن والحديث جامع المنقول والمعقول الحاج مولوي صاحب عبدالحبيب د حاجي صاحب ملا مولا داد اخند طبيب زوی د حاجي ملا جان محمد اخند لمسی په قوم سليمانخيل د پکتيکا ولايت د کتهواز څخه و کندهار ته ډير پخوا راغلی ؤ. محترم اخندزاده صاحب ډير زده کړه له مرحوم مولوي صاحب څخه چې د بابړ و د کوڅې د مسجد امام ؤ په سر رسولي او په ډير کم وخت کې يې مروجه علوم تحصيل کړه د حديثو او تفسير و عقايدو او فقې علومو د تخصص له پاره يې ملاوتړله او د فراغت او ملايي سندي ته لاس کړ. ملا عبدالحبيب صاحب د خپل ژوندانه په اوږدو کې د تدريساتو او اسلامي ارشاداتو او ښو اخلاقو له پلوه ډير شاګردان او عقيدتمندان درلودل د انساني افغاني اسلامي کلتور او ثقافت هسکه نمونه او کرامت ګڼل کيدی.

ملا عبدالحبيب اخند د (١٣٧٤ه‍ ش) کال د قوس په لسمه د جمعې په ورځ د (٩٠) کالو په عمر د اجل داعي ته لبيک و وايه او په ډير درناوی د کندهار د شمال

خوا په عمومي هدیره کې خاورو ته وسپارل سو (١)

د کندهار د علماؤ یو تذکره د حاجي ملا عبدالحبیب اخند د ژیاتي پېژندګلوي په هکله لیکي :- حاجي ملا عبدالحبیب اخند صاحب د مشهور طبیب او ملا مولاداد اخند صاحب زوی ؤ چې پلار یې هم د کندهار یو لوی مدرس ملا او د خلکو مرشد تېر سوی دی ، پلار ترېي د ځروخت تدریس وړ وسته د طب د علم د زده کړي مینه پیدا سوه ، د هند په حیدرآباد کې د حاذق طبیب د سند د حاصلولو وروسته بېرته کندهار ته راغی او د تدریس وروسته بې زیاتره د نارو غو ملایانو او طالبانو او د کندهار د مسکینانو په وړیا معالجې او تداوي لګیاؤ . نیکه یې ملا جان محمد اخند صاحب نومیده چې د کتهوا ژ څخه کندهار ته راغلی ؤ او د ارغنداب په بیلو کلیو کې په ملا یې او امامت لګیاؤ چې هم هلته او س د باباولي علیه الرحمه د غره په ډډه کې ښخ دی .

ملا جان محمد د ګل شیر زوی او د مراد لمسی دی چې د شورې په شرنګي بابا مشهور دی او زیارت د روږیان او عقیدتمندان لري .

د حاجي ملا عبدالحبیب اخند صاحب مشر زوی ملا عبدالحکیم جان اخند نومیدی چې د کندهار د مشهورو ملایانو او متقیانو څخه ګڼل کیدی او د استاد کل حیثیت ته رسیدلی ؤ او دیو شمیر مشهورو ملایانو او مجاهدو طالبانو استاد او د کندهار د خرقې شریفې په مدرسه کې یې د بنسټ دیر وخت له پاره تدریس کړی ؤ . دی د (١٣٥٧) کال په انقلاب کې کوټې ته مهاجر شوی او د صحت د خرابتیا له کبله یې د تدریس مشغله پریښوده او په شالدره کې په کتابفروشی اخته ؤ . ویل کیږي چې د دماغي علالت د فشار له کبله یې د غه کار ته هم دوام نه سو ور کولای نو په خپل کور کې په دائمي حال کې چې د وتلو توان او اجازه نه لري د خپل اخرني ژوند انه شپې او ورځې کې په کراو نه اخته شو د (١٣٧٥ هـ ش) کال د ثور په اخر کې وفات سو .

د حاجي ملا عبدالحکیم جان اخندزاده صاحب یو زوی ملا عبیدالله اخند نومیږي چې په کال (١٣٥٥) کې یې د دیوبنت (٢) کالو په عمر د کندهار د صدیقیه مدرسې څخه

(١) د طلوع افغان ورځپاڼه - چهارشنبې د ١٣٧٤ هـ ش کال د قوس ٢٢ = ١٩٩٥ د دسمبر ١٣

د هر وجه علومو د فراغت لنګوټه او چپنه حاصله کړه او د پلار او ښکه د خلف په شاني د امامت او خطابت وظیفې ته دوام ورکړي او ښو شمیر مهمو دیني کتابونه او موعظې یې چاپ سوي چې مشهور یې د هدیت المؤمن پښتو ترجمه او نور دي.

# عمري مسجد جامع او مدرسه

د غه مسجد جامع او مدرسه د کندهار د نوي ښار د هرات دروازې د باندې د شهیدانو د چوک جنوبي خواته ورخرمه د کندهار د سینما پرځای چې په تیرو کلونو کې (۱۳۳۸ - ۱۳۵۹ هـ ش) خوځله سوځېدلی او ویرانه سوې ده او د کندهار عامه خلکو دهنې په نسبت ښه ذهن او فکر نه درلود. د (۷۲) مترو په طول او (٦۰) مترو په عرض په دوه پوړیځ ډول چې دری ګنبدې به ولري چې هره ګنبده به یې (۳۰) متره دځمکې څخه ارتفاع ولري او لس زره تنه لمونځ کونکي به د ننه او پنځلس زره تنه لمونځ کونکي به په د باندې برخې کې ځای ولري او په دوو لویو دروازو کې به د اوداسه لپاره منظم ځایونه موجود وي، او له دروازو سره به یې دوې هسکې مناري چې (۴۰) متره جګوالی ولري او همدګلانو او چمن لپاره به جدا محکمه ولري. او دهغې په څنګ کې به دسلو تنو طالبانو د تدریس او اوسیدلو لپاره لویه اسلامي مدرسه جوړیږي. د طالبانو دمشر او سترسالار ملا محمد عمر مجاهد له خوا د (۱۳۷۴ هـ ش) کال د حوت په لسمه په خاصو مراسمو سره چې په هغې کې د کندهار د طالبانو د شورې غړو، نومیالي عالمانو، بزرګانو او د هیواد یو شمیر متدینو او متقي کسانو ګډون کړی و، د تهداب ډبره کښېښودله سوه. (۱)

د دغه مسجد جامع د جوړولو او بشپړولو په چارو کې د کندهار دینن دوستو او پرملي شعایر مینو خلکو او د ټول هیواد مسلمانانو او عالم اسلام جدي مالي تعهد کړی دی.

---

(۱) طلوع افغان - ۱۳۷۴ هـ ش کال چهارشنبې د حوت ۲۳ - ۱۴۱٦ هـ ق د شوال ۲۲ - ۱۹۹٦ د مارچ ۱۳

# دمیوند مسجد او مدرسه

دمیوند مسجد دکندهار او هرات کانکریټي سړک ته ورځرمه پر نهه بسوی مځکه کي لوموړی او او ښایلي دزماني په هرور ځینی ملحقات لکه دملا او طالبانو د اوسید لوحجری، د اوداسه د تازه کولو ځایونه او غسل خاني ځني جوړې سوی دی، څرنګه چي د کندهار ځینی بډایان او سرداران په دغه سیمه کي د سیند او کاریزونو د اوبو شادابی او پراخي ځمکي لري نو دوی د ملا مشربی او ملا نوازي په ذوق هر کله د امامت اوتدریس له پاره مشهور ملایان او خطیبان له ځانو سره اوسولي دی.

دمیوند سیمه دکندهار د تاریخي ښار په پنځوس کیلومتري کي پرته ده چي پخوا د (کشک نخود) په نامه یادیده. څرنګه چي دمیوند په تاریخي کلي او دښته کي د افغان او انګلیس په دوهمه جګړه کي (۱۸۸۰) لوی بري د افغاني لښکرو او مجاهدینو په نصیب سو، نو ځکه دهغه د ریناوی له کبله د دغي سیمي نوم په میوند وار وال شو.

او د شهیدانو پر مزاري په (۱۳۱۱ هش) کال کي دکندهار د تنظیمه رئیس محمدګل مهمند له خوا د یادګار او افتخار په ډول څلي جوړ سو.

د دی څخه پرته په میوند کي دخواجه حسن (میمندی) زیارت چي د شمس الکفاة په نامه یادیدی او دسلطان محمود غزنوی د دربار وزیر، ستر لیکوال او مؤرخ هم سته.

په تاریخي لحاظ میوند نه یوازي دکندهار بلکه د افغانستان یوه زړه او تاریخي سیمه ده چي کندوالي یي د ارغنداو د سیند دغاړې څخه بیا د اوسني میوند ترغونډیو رسیږي، یو شمیر تاریخ پوهان وایي: یونانی لوی سکندر هغه وخت چي (راهیانا)، ته راغی د ارغنداو پر غاړه یي جنګی

کلاگانی جوړې کړې   چې د میوند غونډۍ هم   له هغه جملې څخه ګڼل کیږي .(۱)

د میوند مسجد اومدرسه د نیمې پیړۍ راهیسې زیات شهرت لري ، د کندهار یو شمیر ملایانو او طالبانو په هغوکې د رس لوستی او ورکړې دی .

په دې راوروسته کې د دغه مسجد او د هغه د مدرسې مشهور ملا، مولوي عبد الغفار صاحب نومیده چې هلته یې د امامت او خطابت حلقه ډیره تو ده ساتلې وه .

مولوي صاحب عبد الغفار د ملا اختر محمد اخند زاده ناخیل تر کې زوی وچې د کندهار په (کشک نخود) کې په (۱۳۰۸هش) کال کې زیږیدلی و . دی د خپل یو اثر (السراجي في الميراث) د حاشیې په شپږم مخ کې په خپل یو شعر کې ځان داسې معرفي کوي :-

دا دستخط دی ستا حضور وته یادګار
تا دې بناد کړي په رحمت پروردګار
دامید په کړ وسترګو انتظار
ستا دعاګو ته ناخیل عبد الغفار (۲)

د ده د یو بل اثر (خلاصة الحساب) په (۲٦) مخ کې د یوې حاشیې په ترڅ کې داسې راوړه سوی دی :- (علامه الوقت ، مولینا ابو الفيض عبد الغفار الکشکنخودی ، الناخیلی الشهید فی فتنة روسیا الدهریه المتسلط علی افغانستان ، اخذ المرتدون من مطار الطیارات ، حین قدومه من الحج فی سنه ۱۳۹۸هق) .(۳)

---

(۱) کندهار ـ ۲۲۲ مخ .
(۲) سپیدې ـ دوه میاشتنۍ ادبي کلتوري مجله ۱۰۱ مخ .
(۳) حیات افغاني ـ د محمد حیات خان اثر (ترجمه) ۳۲ مخ .

ملا عبدالغفار صاحب متداوله علوم لکه فقه، حدیث، تفسیر، صرف نحو، منطق، حکمت، فلسفه، اخلاق او ادبیات دخپل پلار او نورو خپلوانو او ماماخیلو څخه چې ملا محمد شفیع او ملا محمد شریف جانان نومیدل، او ملا صاحب جانان کاکړ خپله شاعر او دکندهار دښو ونځیو د دیني مضامینو استاذ ؤ لوستي او تر هغو چې د استادی او امامت عالی درجې ته رسیدی، دکندهار په دننه او د باندی کې یې دیو شمیر جید او متبحرو علماؤ او مدرسو څخه درس لوستی د استادی علمی درجه او د دستار بندی او چونې معموله مناسک یې پرځای راوړي ؤ.

د ده سره ماد (۱۳۲۲هش) کال راهیسی د ښکارپور بازار د سید احمد گلزار د چاینکو د پتره گری په دکان کې شناخت او پیژندگلوی درلوده، دغه دکان دکندهار دیو ادبی او عرفانی محفل حیثیت درلود چې دکندهار یو شمیر شاعرانو او لیکوالو لکه محمد انور نومیالی عبدالحکیم شیدا، محمد نسیم نوری، صالح محمد صالح، عبد النبی عزیزی، عبدالرزاق پښتون، ملا محمد عمر، محمد یوسف ویران، عبدالله د سپین بولدک او ملا عبدالمنان حیرت او نورو عضویت درلود، دوی په خپلو علمی، ادبی او شعری قریحو په مشاعرو او مناظرو دائرولو دغه محفل هرکله تود ساتی، مولوی عبدالغفار هم دغه محفل ته کله کله حاضریدی په شعری او علمی مناظرو کې یې برخه اخسته. او خپله ادبی طبع او علمی استعدادی ازمایه، که څه هم دی په هغه وخت کې یو محجوب او منزوی طالب ښکاره کیدی او خپل شعری ذوق او ادبی قریحه یې زیاتره پټوله، خو په دغه محفل کې چې د طلوع افغان د جریدی یو شمیر قلمی همکارانو او منسوبینو هم شمولیت درلود، نود طلوع افغان په جریده کې یې د ده د آثارو د طبع کولو زمینه هم برابر وله، په دغه وخت کې یې شعری تخلص (زخمی)

ایښی ؤ چې په راوروستنه کې یې په بریالي واړاوه .
مولوی عبد الغفار بریالی نرکخیاله په ادبي فنونو پوه شاعر ؤ ، هغه ددی حقیقی زړه چاودی او زاره چاودی دنیا ، دمردمرازار مخلوق څخه بیزار دی ، او په خیالي دنیا کې په جنتي او معصوم خوبونو کې غرق . ددنیا دخلکو څخه پټیدل غواړي ، دحسن او عشق په رنګینو کې د اسماني دنیا د دلفریب منظرو ننوتو منځه د زړه پښو ارمانونو پوره کیدل غواړي ښاغلی محمد معصوم هوتک چې دده یو زیات شمیر شعرونه تر نظر استلي دي د ده د قریحې په هکله لیکي :- د مولوی عبد الغفار بریالي کلام ډیر پوخ او فکر یې نهایت رسا دی ، ډیر شاذ او نادر تشبیهات او استعارات راوړي ، په کلام کې د شاعر علمي تبحر او ژوره مطالعه ښېخي څرګنده ده ، ما چې ترکومې اندازې دده شعرونه لوستي دي ، دی د میرزا حنان او حمید ماشوخیل بابا د سبک او رنګینې پیرو دی او دی هم ځان د حمید د شعرونو پیرو ګڼي .
د ده دیوان د (جزئیات بریالي) په نامه دکوټې په ښار کې چاپ شوی دی
د مولوی عبد الغفار بریالي د شعر نمونه :

چې په مینه کې منصور سو بریالی — پر جهان باندې مشهور سو بریالی
چې دعشق نسب یې غوره کړ و ځان ته — د رقیب سره نزبور سو بریالی
چې لیلام د محبت راغی میدان ته — هغه د موړ باندې چوړ سو بریالی
په لقب د سمندر آتش مزاجه — تن بخته سر په تنور سو بریالی
بې تاراجه بل وصیت نه کانده ګله — که و مرګ ته د رحضور سو بریالی
کوم یو عیب یې په خوا دی باری ربه — چې د هر سړي منفور سو بریالی

په رتبه به د شفق کشری ـــــ وړوړ سی
که د ځان په وینو سور سو بریالی

د مولوي صاحب د شعر بله نمونه :

داچې ګوري د ګل مخ ته هر سبا لمر
سخته شوخ دی بې ادبه بې حیا لمر
په نظر چې ګل نظر کړي په غرمه کې
دوزخي سو د بلبلو په ښېرا لمر
په غمو کې لیونی وحشي مذهب سو
ځکه ګرځي پر اسمان باندي تنها لمر
چې د مینې اضطراب یې په سر کښېوت
لکه ژرنده سرګردان سو پر سما لمر
بیګاه وویشي په خوب معراج د وصل
سهار پوره تر ویره خوله سي په خندا لمر
عاقبت به د دجال انډیوال کېږي
کشکې نه وای همسایه د مسیحا لمر
شپه وډار وي د فلك په دړانه خوب کې
بربالی رنګه په ورځ کړي لیونتیا لمر

مولوي عبد الغفار صاحب متاهل ؤ، یو زوی یې چې مولوي عبدالوکیل نومیږي د کندهار د طالبانو د اسلامي رژیم د مشرتابه مجاهد امیر المؤمنین د دفتر منشي او د علماؤ د عالي شورې فعال غړی دی.
د سپیدې مجله د مولوي عبد الغفار صاحب په هکله لیکي:- مولوي عبد الغفار صاحب په (١٣٥٧ هش) کال کې د حج د فریضې د اداکولو وروسته هغه وخت چې د ده د سپرلي الوتکه د کندهار هوايي میدان ته راکښته سوه د خلقي رژیم د پولیسو لخوا ونیول سو او په بند کې په شهادت ورسیدی.

## محمدیه مدرسه

دغه مدرسه د چهارشنبې په ورځ د حوت پر څلورمه (۱۳۱۱ هـ ش) د کندهار د ښاروالۍ (بلدیه) له خوا د پوهنې د وزارت تر حمایې او د کابل د عربي دارالعلوم د پروګرام له مخې په کندهار کې افتتاح سوه او پنځه سوه تنو طالبانو چې د (۱۸ - ۲۰) کلونو پورې یې عمر درلود درس پکښې لوست . د دوی لباس ، ډوډۍ او متفرقه مصرفونه هم د کندهار ښاروالۍ ورکول ، یو سرمعلم او دوه تنه د عربي ژبې معلمان او یو د خط معلم درلود سرمعلم یې فضیلت مآب احمدجان اخندزاده خطیب او معلمین یې فضیلت مآبان مولوي غلام سرور او مولوي شیخ محمد ټاکلي سوي وو .

## محمدیه مدرسه

په (۱۳۳۵ هـ ش) کال کې چې په کندهار کې د نورو عرفاني او اقتصادي موسسو د پرانستلو له پاره بیا ضرورت پیدا سو نو د هغه وخت نائب الحکومه او عسکري قوماندان مرحوم عبدالغني ګردیزي د سپارښتنې سره سم د کندهار په دریمه ناحیه کې د خرقې شریفې جنوبي پلو ته د محمدیه مدرسې د تاسیسولو اقدام وسو . د دغې مدرسې اعاشه او اباته د هغه وخت د مرستون د مؤسسې (دارالمساکین) د بودجې څخه په داوطلبانه ډول د کندهار د سوداګرانو د ماهوني د محصول اضافګۍ او اعانې څخه تامینیده ، دغې مدرسې تقریباً (۱۶) پنځې درسي کوټې درلودې چې د (۱۵۰) طالبانو پشاوخواکې سهارنۍ او ماښامنۍ یعنې لیلیه درس لوست ، د محمدیه په مدرسه کې منطق ، نحو ، صرف ، معاني ، تفسیر احادیث ، اصول ، فقه او ادب تدریسیدل ، سرمدرس یې ملا محمد انور اخند او مدرسین یې مولوي حباب ، ملا دین محمد ، شیخ اخندزاده ، ملا عبدالقادر ملا عبدالحکیم اخندزاده ، ملا محمدحسن اخندزاده نومیدل ، دغه مدرسه په کال (۱۳۴۱ هـ ش) کې د مرستون د مالي بحران او د مصارفو د حسابونو د عدم

تصفیه اوکنترول له اشره لـه منځـه ولاړه .

# دطالبانو د دورې دمدرسو تکثر

اوس په افغانستان کې (۱۳۷۴ هـ ش) دمـرکـزي حکومت د نشتوالي اوپه کـنـدهار کې دطالبانو د دورې د شروع کیدلو له کبله د ښوونځیو اونورو فرهنګي مؤسسو دفعالیت په نسبت د افغانستان دلویدیځو سیمو په ټولو ولایتو نوکې د مـدرسـو تاسیسولو ته زیاته توجه شـته . چنانچه د طلوع افغان جریده دکندهار دمعارفو د رئیس مولوي عبدالشکور حقاني په حواله وايي : اوس په کندهار کې فعلاً (۳۵۰) مدرسې پرانستل سوي چې (۲۰۰۰) استادان او سل زره (۱۰۰۰۰۰) شاګردان درس په کښې وايي. (۱)

---

(۱) طلوع افغان ۳۹ ګڼه ۱۳۷۴ کال
۱۹۹۵ د دسمبر شلمه

# د اسلام راتګ کابل ته

مسلمانان افغانستان ته د درو لارو څخه راغلل:

د شمالی افغانستان د لوری څخه د راشدینو خلیفه ګانو په وخت کی د دوی د نظامی او اداری مرکز نشاپور څخه ، او د امویانو په وخت کی د مرو د ښار او د لویدیځ افغانستان د لوری څخه د سیستان د زرنج څخه راورسیدل ، جنوب ختیځ افغانستان چی په هغه کی پښتونخوا او د سند کښتنی برخه شامله وه ټاکلی مرکزیی نه درلود . د افغانستان د لښکرو عمومی قوماندان به کله د عراق په کوفه او کله به په دمشق کی اوسیده .

مسلمانانو د کابل د نیولو د پاره څو ځله مجاهدی وکړی ، د لویدیځ خوا په ۶۶۷ هـ کی اموی حاکم ربیع حارثی ، په (۶۷۱ هـ) کی د عربو حاکم عباد ، په ۶۸۱ هـ کی یزید او بوعبیده ، په (۶۹۳ هـ) عبدالعزیز د سیستان والی عبدالله د عربو حاکم د کابل شاه او رتبیل د ماتولو له پاره لښکری یرغلونه وکړل خو هر ځل به د ماتی سره مخامخ کیدل .

په (۶۹۷ هـ) کی د عراق والی او پر افغانستان د یرغل د عمومی قوماندان حجاج د افغانستان د هغی سیمی څخه چی د مسلمانانو په لاس کی وه عبیدالله د سیستان د لوری د کابلستان په نیولو مامور کړ ، دغه یرغل هم ګټه ونه رسوله او اسلامی لښکر په ډیرو تلفاتو شاته راغی خو حجاج ډیر په قهر سو خپل قوماندان یی وځپه او د دمشق د دربار څخه د اجازی اخستلو وروسته یی د بصری او کوفی د عسکرو د ټولو مهماتو او ذخیرو څخه استفاده وکړه او یوازی دوولس زره د عربو تکړه او بهادر قوماندانان یی د عبدالرحمن بن اشعث په قوماندانی په (۷۰۰ هـ) کی د کابل په نیولو مامور کړ . (۱)

په دې وخت کې په کابل کې کوشاني پاچا حکومت کاوه چې عربانو به ورته (اعرج) وایه اعرج خپله د مسلمانانو د یرغل د ماتولو له پاره مقابلې ته راووت چې د سیستان تاریخ په دې هکله داسې لیکي :- (شاه کابل حرب بنفس خویش همی کرد ، مردی بود که هیچ کس بر و برابری نه کرد ، بسیار بکشت تا بیست و اند هزار مسلمان بر دست او شهید گشت ، چون مهلب آن بدید ، حمله کرد و بر شاه کابل ، و شاه کابل اندر ان وقت باز گشته بود سوی سپاه خویش ، او را یکی نیزه زد ، بر پشت او امد و نیز بدرع اندر شد بر کابل شاه اندر نه شد ، بگشت و دیگر سو پیش روی او بدرع بیرون آمد ، مهلب نیرو کرد که باز ارد ، چندان قوت کرد که خواست که کابلشاه را از پشت بر باید تا او به قوت گردن اسپ بر اندر گرفت ، اسپ برجای ماند اخر نیزه بر کند و کابلشاه بتاختن از پیش او بشد ، و اندر وقت کس فرستاد و صلح کرد و گفت نه ! با چنین سپاه به حرب چیزی نتوان کرد . . . (۲)

دې ډېر ودریدو او د کابل ښاریان یې مجبور کړل چې د دفاع له پاره د ښار پر شا وخوا دیوالونه راوګرځوي ، رتبیلانو د دیوال د تیر کښانو څخه د ښار دفاع کوله ، مجاهدینو د ډېر زیات په برخه کې ښار ته لار د ننوتلو له پاره وموندله او په بریالیتوب سره ښار ته داخل سوه او داسې جنګ ونښت چې د دوست او دښمن لر توپیر لیدل کیدی ، په دغه نازک وخت کې عبد الرحمن د خپلو لښکرو سره کابل ته نه وای رسیدلی د مجاهدو عربو ټول لښکر به د تباهۍ د خطر سره مخامخ سوی وای ، د سخت جنګ په نتیجه کې ښار تسلیم سو او رتبیل ګرد بېرته ونښتیدی په دغه جنګ چې لیث بن قیس بن حضرت عباس شهید سوی ؤ عبد الرحمن د هغه مړی وموند او په هم هغه ځای کې خاورو ته وسپارل سوی او س یې شاه دوشمشیر بولي او له څنګه سره یې مسجد اباد سو ، عبد الرحمن د کابل د بیلو سیمو د پلټلو په نتیجه کې د حضرت عباس او جبین مړي هم پیدا کړل چې شهیدان سوي ؤ او په هم هغه ځای کې یې اوس شهدای صالحین ورته ویل کیږي ښخ سول .

---

(۱) تاریخ ابن اثیر (الکامل) ترجمه عباس خلیلی (۶۵ - ۸۸ مخ)

(۲) تاریخ سیستان ۸۸ مخ

# د کابل تاریخي او زاړه مسجدونه

## د پل خشتي مسجد

دغه مسجد د کابل د سیند په جنوبي خوا کې د خشتي پل ته نژدې تقریباً د یو جریب ځمکې په احاطه کې د لومړي هجري پیړۍ په ساختماني موادو جوړ شوی ؤ د مسجد انقلاب لومړي ځل ده بریو په توکړو او ختو او بیا په ریګو او اهکو بنا شوی ؤ، دیوالونه یې په اومو خښتو او بیا په پخو خښتو چې په هغه کې ریګ او اهک استعمال شوي وو جوړ شوي په سفیدۍ او ایراني ختې ښکلې شوي دخونو کوټو او حجرو د پوښښ او مسطح کولو له پاره یې چې زلزلې نه تأثیر پر و نه کړي د چنار، عرعر او سفیدار د ونو د لرګو څخه کار اخیستل شوی ؤ او پر دستکو باندې یې بوریا، وسک، نلان او غوزه ګل او کاه ګل لویدلی ؤ.

د دغه مسجد جوړولو پلان د تیمور شاه درانی د سلطنت په وخت کې د اسلامي معماري په طرز طرح شو او د شاه زمان د پاچاهۍ په دوره کې په (۱۲۱۳ هـ ش) کال کې کار بشپړ شو په لمړي سر کې دغه مسجد یو پوړ جوړ شوی ؤ چې درې دالانونه، او رواقونه او یو ویشت ګنبدې یې درلودې د هرې ګنبدې په منځ کې یو یو دانه لوی فانوس د کابل د حربي پوهنتون د ماشیخانې ساخت زړول شوي ؤ چې د دوو خوا د لنګرونو په واسطه پورته او کښته کیدل، د غو څراغونو په هغه وخت کې مخصوصه ځلا او عظمت درلود، او د خاورو تیل به پکښې سوځل کیده. د دغې مسجد جامع ګچکارۍ د هغې زمانې د معمارۍ د شاه کاریو په زړه پورې نمونه وه، صحن یې په عادي تخته سنګونو فرش شوی ؤ او د مسجد د مخکې مخ د اسې صندل کارې شوی ؤ چې د مرمرینو د برو سره یې سیالي کوله.

دغه مسجد د بازار و خواته یوه لویه دروازه درلوده چې د دغې دروازې پر سر یوه جګه او پراخه او ه مخې ګنبده موجوده وه چې په رواقونو سره ښکلې شوې وه. د ګنبدې لاندې په رواقونو کې به تسبیح جوړونکو ښکلې تسبیح ګانې او پوپکان جوړول

دمسجد اذان خانه د دروازې پر سر واقع وه ، چې مرحوم سائين به په ډېر
خواږه اولوړ آواز اذان پکښې کاوه چې آواز به يې ورځرمه تولو ځايو ته رسيده
دمسجد دوو طرفو ود باندې خوا کې يوليې دکانونه جوړ سوي وه چې موچيانو
چای او قند خرڅولو ، بنجارګانو او سيمسارانو به په کرايه اخستي ؤ او کرايه
يې مسجد ته وقف ګرزول سوې وه .

سراج الملة والدين امير حبيب الله به د جمعې په ورځو هر کله په دغه مسجد
جامع کې دخپلو درباريانو سره لمونځ اداکاوه او ځرنګه چې دکابل تاريخي او
زوړ مسجد ؤ نو ډېر بېروبار به پکښې ؤ او دلمانځه ځای به په اساني نه سو
پکښې پيداکيدلای .

امير حبيب الله د دغه مشکل درفع کولو له پاره امر وکړ په هر صورت چې امکان
موجود وي د دغې جامع دمسجد صحن دې پراخ کړل سي ، د دغه امر پر تعميلولو
سره د دغې مسجد جامع جنوبي پلو ته چې د مسجد د باندې ؤ او هلته خاکروبه او
ناپاک شيان راټوليده د مسجد د نه صحن وګرځول سو ، خو د دې سره بيا هم
د لمونځ کونکو له پاره کافي ځای ونه موندل سو ځو امير حبيب الله بيا امر وکړ
چې پر مسجد باندې دوهم پوړ د لرګو په سقف جوړ کړل سي ، د دوهم
پوړ معماري يې استاد ولي محمد کندهاري په سر ورسوله .

لومړی چا چې دغه مسجد جامع په قالينو فرش کړ ، مرحوم حسين افندي ترک
د کابل ګمرک مدير ؤ ، او لمړی چا چې د دغه مسجد و صحن ته او به راوستې
مرحوم حاجي غلام حيدر نقش بندي د حاجي غلام نبي زوی په بخارا کې
افغاني وکيل التجار ؤ .

پر (۱۳۴۹ هش) کال د ثور په دوهمه او د (۱۹۷۰ م) کال د اپريل په دوه ويشتمه (۲۲)*
د کابل او د هيواد د شاوخوا ملايانو او روحانيونو غونډې او مظاهرې
د اعتمادي د حکومت څخه د رايې د اعتماد اخستلو او رهنګولو او ناروا دولتي
نشراتو د غندولو او مخنيولو په هڅه د (۴۳) ورځو له پاره د دغې مسجد جامع
د صحن څخه راپاخيدلې وې .

استاد محمد ابراهیم خلیل مرحوم په دی هکله داسی لیکی :
تعمیر این مسجد در سال (۱۳۳۴ هش) شروع گردیده است، این مسجد مبارک که مبنای آن (۶۲) متر و گنبد سبزش از کرسی هژده متر ارتفاع داشته و گنجایش سه هزار نماز گذار را در یک وقت دارد، تمام ایوان و رواقهای طبقه اول ودوم و زینه های عریض و وسیع و دهلیزها و دیوارها از سنگ مرمر کار شده و روی گنبد آن از کاشی ابی رنگ تزئین گردیده و یک حصه سقف آنکه خارج گنبد است طبق نقشه علیحده برای جلوگیری از آب باران اهن پوش شد چراغ بزرگ قندیل وسط در مسجد در گنبد بلند و مرتفع آن اویزان گردید. زیرا نصب قندیل مذکور که (۱۶۰۰) کیلوگرام وزن دارد از طرف کمپنی زیمنس درجرمنی ساخته شده قندیل بزرگ و بیضوی آن حاوی (۳۰۰) گروپ برق به قوه (۵۰۰) تا (۱۵۰) ولت میباشد، تعداد اویزها بلوری بوده و شیتهای مقبول آن در زیبایی مسجد افزوده است، وضمنا وسایل نشر الصوت مسجد بسیار اساسی بوده و دارای مرکز گرمی و دستگاه تهویه میباشد سقاخانه روضوخانه مسجد جامع پل خشتی مجهز با شبکه ابرسانی وشیردهن ها و تشنابهای متعدد میباشد.

د دغه مسجد یولوی امام او خطیب میر واعظ نومیدچی اصلی نوم یی میر احمد آقا (سید احمد آقا) ؤ. د اعلیحضرت زمان شاه، محمود شاه درانی او شاشجاع د پاچاهی په وخت کی د کابل د پل خشتی په مسجد جامع کی د اسلامی تبلیغ او د مسلمانانو د وحدت جهنډا پورته کړی وه او پر چندولو دیر غل کولو او د محمود شاه درانی د پاچاهی په رنګولو کی یی فعاله برخه درلوده. میر واعظ صاحب د کابل او د کابل د ښاو خواد او سیدونکو د مقتدائیت او روحانی مشرتابه حیثیت درلود. د هغه د زیارت او ددغه مبارک ددی مریدان او پیروان لکونو تر سوی. هغه وخت چی شاه شجاع د کابل ښخه د پیښور لوری ته وخوځید میر واعظ د مختار الدوله مشیر محمد خان له خوا څخه د کابل د نائب الحکومه په حیث وټاکل شو دی د فارسی ژبی صوفی او سالک شاعر دی او په (۱۲۲۲ هق) کی په شهادت

رسید لی او د کابل د بارانی په کوڅه کی د باباولی د قبر تر څنګ خاوره و ته سپارلی سوی دی

د شعر نمونه یی:

من بسمل نگاه در چشمان کیستم — مجروح برنیش خنجر مژگان کیستم
ای سرو خوش خرام ز احوال من مپرس — عاشق بنو رخاور تابان کیستم
چون ذره در هوائی که من رقص میزنم — من سرمه جوی ریګ بیابان کیستم
ای مدعی مسیح که سرپیچ میشوی — من نو نهال گلشن احسان کیستم
خود گنده میشوی تو مکن فکر کنده ام — من سبزه دمیده ز بستان کیستم
از ذوالفقار حیدر کرار غافلی — شمشیر آبدار نمایان کیستم
تعلیم، علم و ادب از که بشنوم — شاگرد طبع لعل سخندان کیستم

جادار دانکه فخر کند بر شهان دهر
(واعظ) تو خود ببین ز غلامان کیستم

## د شاه دوشمشیری مسجد

دغه مسجد د کابل د ښار په لویدیځه برخه کی د شاه دوشمشیره د زیارت جنوب ته د کابل د سیند په شمالی برخه کی د علوګنج د باغ جنوب ختیځ ته د دوو منزلو او پیرو بار لرونکی جاده په منځ کی دوه پوړیځ جوړ سوی دی. په یوه روایت دا د کابل لومړنی مسجد جامع گڼل کیږی چی په (۸۱ هـ ق) یا (۷۰۰م) کی هغه وخت چی عبدالرحمن بن اشعث د شدید جنګو وروسته کابل ونیوی او رتبیل بن جیپال شاه گردیز ته وتښتید. عبدالرحمن د لیث په مړی بانډی چی په جنګ کی شهید سوی و پیښ سو او هغه یی په دغه او سنی ځای کی چی پخوا آتشکده وه ښخ کړ، او مسجد یی هم د هغه د مقبری جنوبی لوری ته آباد کړ، چی د شاه دوشمشیره د مسجد په نامه تراوسه یادیږی، دغه مسجد د زمانو په تیریدلو سره ډیر تعمیر او ترمیم سوی دی د بابر پاچا د نوی نصیر الدین همایون د پاچاهی په وخت کی د معماری په نوی سبک په دوو پوړو کی جوړ سو او کتاری باندی راوګرځول سوی.

دغه مسجد جامع په (۱۳۰۶ هـ ش) کال کې د اعلیحضرت امان الله مومرسوړ سلطاني دوه پوړېنځ پوخ جوړ کړاو په هر پوړ کې يې تر زيات لمونځ کوونکي ځائيږي.

# د بابر شاه د برين مسجد

د بابر شاه د باغ د عمارت پرسراو د هغه د مقبرې په کښته برخه کې د مرمر يوه لاسپه بهارې د برو ځخه يومسجد جوړ سوی دی چې د رواق پرسر په د برينه کتيبې کې يې داسې ليکل سوي دي:

اين مسجد لطيف و معبد شريف که سجده گاه قدوسيان و جلوه گاه کروبيان و بـه فرمان ادب در حريم محترم اين گذرگاه ملا اعلى نظرگاه عالم بالا يعنى روضه منوره پادشاه غفران پناه رضوان دستگاه خلد آرامگاه حضرت فردوس مکاني ظهير الدين محمد بابر شاه غازى جز آن عمارتى نتوان ساخت، بـه فرموده اين نياز مند تمام شکر سراسر ستايش سراپا نيايش درگاه الهى ابو المظفر شهاب الدين محمد صاحب قران ثانى شاه جهان پادشاه غازى بعد از فتح بلخ و بدخشان و فرار نذر محمد خان از بلخ به شبرغان و تعاقب فريقي از کار طلبان و نبرد آزادى او در آن سرزمين با آن گروه فيروزى شان و هزيمت او و ظفر سپاه ظفر دستگاه در آن ميدان محض کرم کارساز حقيقى نصيب اين نياز مند دولت خواهان اين بنده شرمنده احسان حضرت يزدان گشته آخر سال جلوس ميمنت مانوس موافق (۱۰۵۶ هـ) در عرض دو سال به چهل هزار روپيه اى انجام يافت (۱).

دغه مسجد تر (۱۳۷۰ هـ ق) کال پورې په پخواني حال پاتې او خو ورو ستر په هغه کې شکستونه او چاکونه پيدا سول او ددې له پاره چې بيخي له منځه ولاړه سي دا يواليا د پخوانيو آثارو د ساتنې د هندسانو د هيئت په واسطه ترميم سوا و د ترميم په وخت کې يې د معمارې د پخواني سبک مراعات په نظر کې په کښې وينول

(۱) د کابل تاريخي جغرافيه او کلتور ۴۰ مخ

سو، ځو ښکلا یې لطافت او ښکلا یې له منځه ولاړه نه سي.

د مسجد د ترمیم کولو په وخت کې ولیدل سوه چې دد یوالونو په منځ او منځ کې یې خټې کارسوي ښې خښتې او اهاك پکښې نسته، او د اخر گنده سوه چې د تعمیر د بری یې د ښوانیو هزاراتو د لوحو ځخه چې یوه خوایې صافه او تراشلې سوې وه برابرې سوې او بله خوایې د هزاراتو د بری وې چې کتیبې یې ځنې لوستل سوې، گلکاري او نور آثار یې پاته وو.

## دچوب فروشي مسجد

دغه مسجد په یوه جریب ځمکه کې یو پوړیځ پوخ جوړ سوی او څنګ ته یې یوه مدرسه د طالب العلمانو د روزلو او متبحرو ملایانو د اوسیدلو له پاره چې یوه مجهزه کتابخانه یې هم درلوده په کار لویدلی وه.

د کابل د علماؤ لویه ټولنه یا جمعیت العلماء هم دلته جوړیده.

دغه مسجد جامع په کال (۱۳۰۰ هـ ق) کې د امیر عبدالرحمن خان په امر بیرته ترمیم او مجهزه سوه او دوه برو، پخو خښتو، اهاکو او گچو علاوه د گنبدی او سقف دکهان له پاره یې دوه سوه منه او سپین هم مصرف سوه، د بنایانو، معمارانو، او نجارانو داجورې له پاره یې تر دوه لکه افغانۍ زیاتې مصرف سوې

دغه مسجد جامع وروسته د شاهي مسجد او مدرسې په نامه یادیده او د افغانستان یو شمیر نومیالیو عالمانو لکه ملا ابوبکر اسحق زی، ملا عبدالرزاق اندړ ملا سید غلام محمد لغمان د چهارباغ چې هلته یې هم لویه مدرسه درلوده او میر سید قاسم د لغمان د چهارباغ د سید غلام محمد زوی تولد (۱۲۶۷ هـ ش) چې د افغانستان د متبحرو عالمانو، سیاستمدارانو او وزیرانو ځخه و درس په کښې ورکړي دی.

## دشاه بوبوجانی مسجد

دغه مسجد جامع چې د کابل د اوسني نوي ښار، د داخله وزارت د ماڼې ترشا

موقعیت موندلی د امیر عبد الرحمن خان د ملکې شاه بوبوجانې د میر عتیق الله د لور د حافظ میاجي د لمسۍ د میر واعظ د کړوسۍ د شخصي جایداد په پنځه لسوې محکمې پوخ او معه پلوه مجهزه د پنځه سوو لمونځ کوونکو د گنجایش په انداز مجوړه سوی او دیرش کاله پخوایي د ملا امام او طالبانو د اعاشې او اباتې له پاره موقوفات در لودل .

شاه بوبوجان یو خدای دوسته، پرهیزگاره، عالمه، متصوفه، او شاعره ملکه وه .

هغه وخت چې امیر عبد الرحمن د گلو گیدۍ وړ و بخښلئ دی په ځواب کې دغه شعر وو وایه :

نرگس صد برگ از شهنشاهم رسید
برسر خود ماندم و بر چشم مالیدمش

امیر عبد الرحمن که څه هم شعری طبع نه درلوده خو د دی په ځواب کې یې داسې وویل :

مهد علیا، صدر کبری بی بی عفت شیم
زانکه از عزت شهنشاه خوانده است عیال محترم
الحق از مادر نزاده، دختر همزاد او
صاحب حلم و حیا و مایه جود کرم

شاه بوبوجانې د خپل شخصي جایداد او زر او گینې په خرڅولو سره زیات خیریه کارونه اجرا کړي دي چې د هغو څخه د پغمان د حلیمي پل جوړول او د شفاخانې او مسجد جوړول د ډیرې یادونې وړ دي . شاه بوبوجانه د (۱۳۰۴ هش) کال د جوزا په شلمه په کابل کې وفات سوه او په صالحینو شهداو کې خاورو ته وسپارل سوه .

## مسجد مبارك علیا

دغه مسجد د کابل د پخوانیو مسجدونو څخه گڼل گیږي چې د او رنگ زیب

عالمګیر بن شاه جهان کورګانی (۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ هـ) په زمانه کی جوړ شوی دی
د درانی تیموړ شاه اثر لیکوونکی ښاغلی عزیزالدین وکیلی لیکی:
هغه وخت چی علیمردان خان د کابل والی د کابل چهارچته جوړ وله د دغه مسجد
تعمیر یی هم پیل کړ، دغه مسجد د شور بازار د جنوبی خوا په منځ کی
بالا حصار ته نژدی واقع دی. څرنګه چی یی زیات لمونځ کوونکی درلودل
نو د تیموړ شاه د توجه مورد وګرځید او هغه یی بیرته ترمیم او تجهیز
کړی او تر (۱۳۳۹ هـ ق) کال پوری پاته سو.

د اعلیحضرت امان الله خان موږ شاه خانمی (سرور سلطان) چی د هیواد
په ځینو سیاسی او اجتماعی چارو کی فعاله برخه اخسته د دغه مسجد یی بیرته دسره
جوړ کړ او د تهداب لمړی ډبره یی په خپل لاس په کښی کښیښوده.

میرزا شیر احمد مخلص په دی هکله وایی:

بود این مسجد ز عالمګیر در سابق زمان
کو ازین دنیای دون عمراست کرده رحلت است
مسجد او منهدم ګردیده بود و بس خراب
لاجرم غمخواری مسجد به مؤمن سنت است
از پی تعمیر این فرخنده مسجد عزم کرد
کین چنین خیرات جاری در جهان خوش نعمت است
چون ز علیا حضرت این مسجد بگیتی ماند یاد
مسجد علیاش نام و جای فیض.....
سال تاریخش چو (مخلص) از خرد پرسید گفت
مسجد علیا محال بندګی و طاعت است

## د باغ علیمردان مسجد

دغه دوه پوړیځ مسجد د باغ علیمردان په منځنی برخه کی هغه وخت چی علیمردان
خان د کابل والی چهارچتی جوړ ولی، دغه مسجد یی هم بنا کړ، د دی لپاره

چې مناره یې دلیرې ښکاره سي نو د کابل تر چهار چتو او ورځ ره عمار تونو او مناره وېښه ډیره هسکه او ښکلې مناره باندې وه څه چې آذان دلیرې ځخه د نورو مسجدونو موذنانو اوري، ځو په ګډه د کابل د فضا ځخه د اذانو شرنګې او آزا نګه پورته سي. د کابل او سیدونکو به هر کله روټه د دغه مسجد په اذان ماتوله د باغ علیمردان نوره مسجد و نه د نو آباد د مسجد ، میرزا قمرالدین د مسجد د سردار محمد یونس د مسجد او نورو په نامه یادیږي .

# د دیوان بیګی د کوټې مسجد

د سنګ تراشی د بازار په اړخ کې یو مسجد د دیوان بیګي (عبدالله خان وکیل الدوله دراني) په نامه چې سنګ تراشي هم ورته ویل کیږي جوړ سوی دی .
د دغه مسجد لوی تهداب ابتنو ونکي د اورنګ زیب په وخت کې د کابل حاکم (۱۰۶۷ هـ) حیات خان ترین چې شمشیرخان هم نومیده ، دخپل حکومت په مده کې (۱۰۶۹ هـ) دغه مسجد جوړ کړ او پر هغه باندې یې دیوه د برینی کتیبي د نصبولو په واسطه د مسجد د جوړولو نیټه ولیکله .
دغه مسجد وروسته دیوان بیګي د احمدشاه بابا په عصر کې بیرته آباد کړ، او موقوفه خانقاه یې پکښې جوړه کړه .

# په شوربازار کې د ملا محمود (علیا) مسجد

دغه یو پخوانی مسجد دی چې د علیا مبارکې مسجد لوبه یې خواته دوه پوړیځه په یوه محدوده ساحه کې جوړ سوی ، شاتري بالا بهاري شبستان یعنې تاوخانه هم موجوده ده ، د بابر پاچا مخصوص د اورنګ زیب راهیسې دغه مسجد غلک پیژني ، ملا محمود د دغه مسجد امام او مدرس وُ چې بابر دخپل اثر (بابرنامې) په (۱۵۱) مخ کې هغه خپل مرشد او استاد بولي او وایي : چې ما د هغه ځخه فقه لوستې ده .
کروز پنجشنبه (۲۵) جمادی الاخر (۹۲۶) ، (۱۵۱۹ م) از ملا محمود

خواندن درس فقه را آغاز نموده (۱)

## دعاشقانو او عارفانو مسجد

دعاشقانو او عارفانو د زیارت جنوبي خواته په پوي محوطه کې دوه پوه څه مسجد دعاشقانو او عارفانو د مسجد په نامه جوړ سوی دی، وایي چې عاشقان او عارفان دوه صوفیان او عارفان وروڼه وو چې دخواجه عبدالسمیع (۲) او خواجه عبدالصمد په نامه یادیدل چې دخواجه صفاد غره په لمنه کې په عبادت او ریاضت لگیا وو. دغه مسجد چې ډیر زوړ سوی او دخرابي په خواتلی د امیر عبدالرحمن په وخت کې دملك داد کوهستاني په همت بیرته ترمیم او تجهیز سو.

## دشاه شهید (رح) مسجد

دغه مسجد د شاه شهید (رحمة الله) دمقبرې دباندې د احمدشاه بابا په عصر کې په (۱۱۸۳ هـ) کې جوړ سوی. د شاه شهید د نوم کنیه په مزارات شهر کابل (۶۹) مخ کې شاه ابواسحاق ختلاني لیکلي سوي دی. خو په خزینة الاسرار او نگارستان کشمیري کې د ده نوم (شاه اسحق) راغلی دی. په نگارستان کې داهم زیاته سوي ده چې دی دمړیني وروسته (په شاه شهیدان کابلي) مشهور سو. په خزینة الاسرار کې د ده لقب خواجه بزرگ ښودلی سوی دی او دایې هم زیاته کړې ده چې دمړیني وروسته په شهید مشهور سو. شاه شهید داوسني تاجکستان دختلان او سیدونکی و په کال (۸۲۶ هـ ق) دگوډ تیمور د زوی شاه رخ (۸۰۷ - ۸۵۰ هـ ق) په حکم په ختلان کې وواژه سو، سر یې په بلخ کې ښخ سو د سر پرېښت بې د شاه رخ په حکم وله پرو رو وړ سو او کابل ته یې راولیږه او همدلته خاوروته وسپارل سو. خزینة الاسرار شاه اسحاق ختلاني په کبرویه طریقه کې د سید علي همداني (۷۱۴ - ۷۸۷ ق) خلیفه گڼي، د اعلیحضرت امان الله تر دوري پوري شاه شهید

---

(۱) پوهاند عبدالحی حبیبي - ظهیرالدین محمد بابرشاه صفا - چاپ ۱۳۵۱ هـ ش

مسجد د ویرانۍ شکل موندلی ؤ خو د سردار نصرالله نائب السلطنه
د سرمنشي محمد عمر د لوړ د وصیت له مخې د هغې د زیو راتو او ګینو له
پیسو څخه هغه بیرته ترمیم سو .
وصیت نمود که سازندهٔ مسجد      ازو انچه ماندهٔ است از جنس زیور
د شاه شهید د زیارت او سنۍ ودانۍ د احمد شاه بابا په زمانه کې په (۱۱۸۳هق)
کال د یاقوت خان خواجه سرا له خوا جوړه سوه . د دغې ودانۍ د جوړېدو تاریخ
(یاظفر) دی چې د مقطع په وروستنۍ نیم بیت کې داسې ده :
بگفتا (یاظفر) تاریخ این شد .      د دغې ودانۍ پر تندی باندې په فارسي
ژبه یوه منظومه کتیبه د احمد شاه بابا په ستاینه کې سته چې څو بیته یې دا دي:

چو احمد شاه بر روی زمین شد * در اقلیم ظفر مسند نشین شد
به عصرش شیر و بز یکجا خورد آب * که در علم نهیبش این چنین شد
چو نور احمدی بر چهره دارد * ازان رونق ده اسلام و دین شد

## د مجنون شاه (رح) مسجد

دغه مسجد د افغانستان د خارجه وزارت د دستوري د ماڼۍ مخامخ جوړ سوی
دی د دغه مسجد په محوطه کې څو مقبرې او زیارتونه هم سته چې یوه یې
ههم دغه مجنون شاه ده . د اریانا دائرة المعارف د ده د پېژندنې په هکله لیکي:
سید فخرالدین بن سید هاشم ملقب به مجنون شاه تخلص به مجنون در
(۱۲۴۲هق) در ده افغانان متولد شد و اشعاری زیادی دارد در قادریه و
چشتیه مجاز بود ، از جمله کتب منظوم او عین العشق ، ظهور الوحدت
بوستان خیال و فقرنامه است . دیوانش به نام بوستان خیال می باشد
که در (۱۲۶۹هق) به پایان رسیده وفات او را در سال (۱۳۰۵هق) ۸ ربیع الاول
روز سه شنبه گفته اند .
مسجد و مزارش در ده افغانان به نام مجنون شاه معروف است
دغه بیتونه د ده د قبر څخه دي :

از دست ظلم و بیداد فلک داد
که یک دل نه بود از وی شاد و خرم
به مجنون شاه ابن سید هاشم
خدا بخشید فرزند مکرم
نهادش اسم نیکو ناصر الدین
به امید اشتصه لطفی به هر دم
به سن چار چون عمرش به سر شد
قضا کردش به خاک تیره همدم
رمضان بیست و یک شد از وفاتش
به تاریخ علی پیوست محکم
هزار و دوصد و هشتاد و پنج
که فارغ شد ز قید هر دو عالم
تا سر خود به در پیر مغان بنهادم
کرد از روی کرم رمز نهان امدادم
ز نهادم، دم شر و شور دگری پیدا شد
که دگرگون شد این گنبد نو آبادم
زلف دلدار قضا دست به چنگم امروز
کافر عشقم و از دین و خرد آزادم
شعله آتش و این تن بیچاره ما
آن چنان سوخت که رفته به خاک فریادم
بشور رمز خدایی ز زبان (مجنون)
که ز بحر تو من از عالم قدس افتادم
(۱)

---

(۱) دائرالمعارف ـ جلد ششم صفحه ۵۲۴۴

## دعلیا رتبه مسجد

دغه مسجد د انډ رابیو دکوټې د سرک په اړخ کې پل لرزانک ته نژدې جوړ شوی او صحن نه لري. سقف او چت یې گنبد او آهن پوش دی، او د معماری په ښه معمول طرز جوړ شوی دی. دغه مسجد د امیر حبیب الله سراج الملة والدین د مابینی علیا رتبې په هدایت او مصارفو ښکلی کړه سوی، او د لیږ شهدای صالحینو کې خاورو ته سپارل سوي ده.

## دعیدگاه مسجد جامع

پخوا به د کابل او سیدونکو د اختر لمونځونه د کابل د ختیځې خوا په سیاه سنګ کې په پراخه ورشو یې درلوده اداکول، خو وروسته د عیدگاه د مسجد اساس د حضوري چمن اړخ ته د پوستین دوزانو مقابل د باغ علیمردان شانته په شل جریبه محکمه کې کینبود ل سو تعمیر یې د مرکزي رواق علاوه اته دیرش (۳۸) نور رواقونه لري، چې دغه په دواړو خواوو، دیری پخې خښتې اهاک په پاخه او مستحکم ډول کار سوی دی، دغه مسجد په اصطلاح دوه لاینجه دی او په یوه حساب اتیا گنبدی او ځلوېښت کمانداره فیل پایې لري، چې هر رواق یې یو د بله پنځه متره فاصله لري، او ژ دوالی یې دوه سوه متره او پسور یې بیله دیوال څخه لس متره ځای نیولی دی، د منځني رواق د وو خواوو ته مناری لري، او د تعمیر مخ یې په گچ بری او ښکلو رنگارنګ نقشونو ښائسته سوی دی.

د دغه مسجد اساس په (۱۳۱۱ هـ ق) کې د استاد محمد اکبر او استاد محمد عمر په لاس اینبودل سوی او په (۱۳۱۵ هـ ق) کې بشپړ سوی او مساحت یې (۴۳۰۶۸۰) فوټو ته رسیږي. د ساحې په شا و خوا یې رواق لرونکی کتاری او په منځ کې یې دری کوچني او لوی گنبدی لرونکی دروازی او دوارو خواو ته یې یعنې شمالي او جنوبي خواته یې د وتلو او ننوتلو دروازې موجود دی، د محوطې محکمه یې شین چمن او زینتي پنجه چناران درلودل، دغه مسجد

د ښلو څخه بيا تر ديرشو زرو (۲۰۰۰ - ۳۰۰۰۰) تنو لمونځ کونکو لپاره ځای لري داختر په لمونځو کې د پاچا په امامت قيادت کيدی، امير حبيب الله سراج الملة والدين داختر په ورځو کې په دغه مسجد کې امامت کړی او د روژې په مبارکه مياشت کې يې د کابل ښار يانو ته د افطار محفلونه برابرول. د عيدګاه د مرمرينې د برې د منبر څخه اعليحضرت امان الله خان د هيواد د خپلواکۍ اعلان وکړ. په (۱۳۵۸ هـ ش) کال کې د دغه مسجد زياتره برخه د عسکرو د رسم ګذشت د ساحې جز وګرځيده، ښنه چمنونه يې له منځه ولاړل، ټول په ډبرو فرش او قيرکاری شول او اوسپنيز کټارې باندې را وګرځول شوې.

## د قاضي فيض الله دولت شاهي مسجد

دغه مسجد د قاضي په کوڅه کې د تيمور شاه د پاچاهۍ په وخت کې خپله قاضي صاحب چې د هرات د محکمې قاضي (۱۱۷۴ هـ ق) او بيا عدليه وزير و جوړ کړی دی په کابل کې د ده په نامه تر اوسه ګذر قاضي، باغ قاضي، مسجد قاضي زيات مشهور دی.

## د علي رضا خان مسجد

هغه وخت چې دی د اعليحضرت احمد شاه بابا له خوا د کابل د کلا په ترميمولو او د پاچاهۍ د دفترونو په تنظيمولو مامور شو او د شور بازار په شمالي برخه کې يې محکمه ورو بخښله، په دغه مسجد کې يې د کور له څنګه د کانونه، مسجد او حمام جوړ کړ چې کوڅه او مسجد يې تر اوسه زيات شهرت لري. دی حاجي رضا مو سوی نوميد چې د منشي باشي ميرزا ميرعبد الهادی دا کا زوی کيدی.

## د تميم انصار مسجد

دغه مسجد د تميم الانصار مقبرې له څنګه ډير ښائسته او پوخ جوړ شوی دی د کابل اوښاوخوا زياتره صالحان او صاحب حال خلک د پنجشنبو جمعو او نورو مبارکو ورځو کې هلته ورځي، د لمانځه په اداکولو، او د خدای تعالی

په ذکر کولو سره روحي خوند اخلي، د حضرت تمیم اصلي نوم محمد غه او (کنیت) يي (ابو رفاعه) د اسید زوی او هغه د عدی زوی و چي په (۴۴ هـ) کي د جهاد په نیت کابل ته راغلی و، د اسلام د تبلیغولو او مسلماني د خپرولو د مجاهدی په لاره کي هم دلته شهید سوی دی، څرنګه چي ده زیات مخلصین او ارادتمندان درلودل د هغه مرقد او مسجد ځو ځله ترمیم او ښکلی سوی دی، لکه چي د وروستي ترمیم او تجهیز په هکله مرحوم استاد محمد ابراهیم خلیل داسی وایي:

این مرقد منیف که با عرش همسر است
واین روضه شریف که با خلد همبر است

نامش تمیم و کنیه او (ابو رفاعه) است
ابن اسید واز عدی ان پاک گوهر است

در علم و فضل و رتبه والای باطنی
روشن به روزگار چو خورشید خاور است

از هجرت رسول به سال چهل و چهار
از جسم‌ش این به جهان فیض گستر است

در رفع شرک او زسران مجاهد است
در راه نشر دین زشهیدان اکبر است

تعمیر سابقش چو مرمت پذیر شد
زیرا به هر اساس خرابی مقدر است

ظاهر شه جوان جوان بخت کامگار
کز لطف کردگار عنان دار کشور است

امر اکید داد به تجدید این بنا
چون دوستدار اهل حق آن نیک اختر است

به امر او به مدت سه سال و چند ماه
اتمام شد چنانکه کنون حیرت آور است

ازبسکه محکم است اساس بنای او
گویی به بطن کوه یکی کوه دیگر است

پوش مزار او شده از سنگ رنگ رنگ
فرش حریم او همه از سنگ مرمر است

ازچشمهٔ خضر شده سیراب چشمه اش
حوض نمونه ای عجیب از حوض کوثر است

تاریخ سال ختم و رازش در رقم خلیل
اکسیر نزد دیده دل گرد این در است (۱)

## د وزیر د کوټې مسجد

دغه یو زوړ او تاریخي مسجد دی چې محترمې (خدیجې) د وزیر محمد اکبر خان غازي مور او د حاجي رحمت الله پوپلزي لور چې هغه د زمان شاه او شاه شجاع د عصر د وزیرکوا او پوهو افغانانو څخه ګڼل کیدی) او د امیر دوست محمد رسمي ملکې په خپله شخصي توجه او مذهبي احساس پاللو جوړ کړی دی.
د وزیر کوټه هم د دې د پلار په نامه یادیږي.

## د غازیانو مسجد

دغه یو زوړ او تاریخي مسجد دی چې د باغ قاضي په پای او د باغ نواب په یوه څنګ کې موقعیت لري، که څه هم دغه مسجد اوس د زوړ تیا او عدم مرمت کاري له کبله ړنګید و ته نژدې دی او ځینې ته ئې سر بالاحصار د لویدیځ څخه ختیځ ته لوی سړک جوړ شوی دی، خرنګه چې د هیواد د دفاع او ملي یووالي د راتلو ټولې فیصلې د همدغه مسجد په غولي کې شوي دي، نو بیرته آباد ول او ترمیمول یې د هر افغان د ملي او دیني وظایفو څخه ګڼل کیږي. د دغه مسجد د محوطې د زړې ونې لاندې هغه وخت چې شاه شجاع و وژل شو، او د هیواد ملي امنیت او خپلواکې په خطر کې ولویده د ټولو ملي مشرانو یوه لویه جرګه هلته جوړه شوه چې په هغې کې د ملي یووالي او

(۱) مزارات شهر کابل ـ تالیف استاد محمد ابراهیم خلیل صفحه ۸

ده بنمن د تحپلو له پاره تاریخی فیصله وسوه (۱۲۵۸ هـ ق) صفر المظفر.

# دپایمنار دحاجی صاحب مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کابل د ښار شمالی خواته د ده یحیی په کلی کی د شیخ سعد الدین انصاری له خواچی دپایمنار په حاجی صاحب مشهور دی په یوه پراخه احاطه کی د ویر ښکلی، پوخ جوړ سوی، د تدریس، عبادت او خانقا° له پاره ورا او کافی ځایونه لری.

د شیخ سعد الدین د نسب سلسله :- سعد الدین بن احمد، بن عبد الغفار بن عبد العزیز بن عبد الکریم بارکی ته رسیږی. دی مجذوب او سالک خدای دوستړی چی په تصوف او عرفان کی مشهور تالیفات لری. په خپل هر تالیف کی یی ځان ته بیل تخلص غوره کړی دی چی هغه کتاب هم په همهغه تخلص یادیږی، څرنگه چی د ده د نسب سلسله حضرت معاذ جبلی حزرته رسیږی نو زیاتره دانصاری په نامه پیژندل کیږی، هوری هوسیده ده.
دی د قادریه او چشتی طریقی هم ماذون ؤ، شیخ سعد الدین انصاری و مځنی ختیځ او عربی هیوادونو ته د سفر کولو او هغو سیمو د عالمانو او متصوفینو سره د لیدلیو او کتلو ورو وسته په (۱۱۷۱ هـ ق) کی بیرته خپل وطن ته راغی او د ده یحیی په کلی کی د خدای په عبادت او ریاضت لگیا سو.
د شیخ سعد الدین مشهور آثار دادی :- عشق جوش، اخبار خیالات، اسرار ماوی ذات، حسن فروش، مرآة الجمال، حیات جهان، معدن وحدت غیب الوجود، حقایق المعارف، عین الایمان، شور عشق، ذکر العیش د مکی معظمی په ستاینه کی، دیوان شیخ قدوس، رساله ذکر شعر و شاعری، رساله بیان نور محمدی، معودات، نسخه عقاید مختصر، عمدة الموثوق، حبل المتین، تفسیر معدن الاسرار، بیرخ، کشف المحققین، ریاض الثقات معیار الثبوت، شواهد الطبایع، درود تاتار، حرز الغیات، خواص الا تجاء، خطبه های ادینه، رساله قدسیه، رازنامه، کتاب المعدن وحدت چی

په عربي ژبه دی، د ده نور کتابونه چې د صحو په حالت کې تالیف سوي په نظم سره دي او په احادیثو مدلل سوي دي.

شیخ انصاري صاحب (۳۶) تنه اولاد درلودل چې تر (۱۳۲۳ هق) کال پورې یې اته نارینه او شپږ لوڼې ژوندي وې. د ده زیاتره زامن او سلاله د علم او فضل خاوندان دي. مرحوم ډاکټر میر نجم الدین انصاري د کابل د ادبیاتو د فاکولتې ویئس او د پوهنې د وزارت د دارالتألیف رئیس او مرحوم میر امان الدین انصاري ژورنالست او د هرات والي او داسي نور د ده کورنۍ ته منسوب دي.

شیخ سعد الدین انصاري د (۱۱۴۰ هق) کال د روژې په میاشت کې زیږېدلی او د (۸۵) کالو په عمر په (۱۲۲۵ هق) کال کې وفات سوی او په ده یحیی کې د خپل مسجد جامع تر څنګه خاورو ته سپارل سوی دی.

شیخ صاحب زیات مریدان او اخلاصمندان درلودل مسجد او مقبره یې د هغو له خوا ښه ډېره ښکلې او زړه راکښونکې جوړه سوې ده.

## د حضرت عمر فاروق مسجد جامع

دغه مسجد د پښتنوان د کارتې په اوله (ب) برخې په پنځم سړک کې دغه د لمنې جنوبي لوري ته د یوه کوچني ښلوړ لاري دا ړخ سره په کانکریټي ډول دوه پوړیځه د (۱۳۴۱) څخه تر (۱۳۵۱ هش) کال پورې بشپړ سوی او د زرو تنو لمونځ کوونکو له پاره کافي ګنجایش لري، د دغه مسجد په جوړولو کې ملاعبد الحق اخندکنده هاري مالي سهم اخستی دی. د دغه مسجد هسکه او ښنه مناره د لیرې څخه د خلکو نظر جلبوي او په لوډ سپیکر یې تر لیرې سیمو دا ذان اوازونه رسیږي که څه هم د دغه مسجد غولی لري او تول تعمیر تقریباً په ښلوړو بسو ځمکه کې لوېدلی دی، خو د اودسه او غسل له پاره ځاې او منلونه یې په هر وخت کې د طهارت کوونکو په خدمت کې حاضر دي.

## دشور بازار د حضرتانو مسجد

دغه مسجد حضرتانو د خپل عبادت او خانقاه د چلولو له پاره جوړ کړی او په راوروسته کی نور المشایخ حضرت فضل عمر مجددی د حضرت غلام قیوم صاحب زوی هغه بنه ترمیم او تجهیز کړی دی هغه وخت چی نور المشایخ د دغی کوڅی څخه د کابل د جواد کلا ته کډه سوه هلته یی هم یو لوی مسجد بنا کړ چی د امام او طالبانو مصرفونه یی د خپل لنگر د اعاشی څخه ورکول. حضرت نور المشایخ هم د دغه مسجد په یوه محوطه کی خاوره ته سپارل سوی دی لکه چی د ده زوم فضل احمد مجددی په خپله یوه مرثیه کی د ده د وفات کال داسی ښوولی.

سال تاریخ وصالش را چو جستم از ملک
بر فگنده گفت برده پیر و خیر البشر (۱۳۷۶ ه ق)

## دشاه لقا مسجد

په شور بازار پوری موښتی د روسیدانو زیارتونه دی چی د شاه لقا شاه بقا او شاه رضا په نامه یادیږی، د دغه زیارت په انګړ کی د زیارت کوونکو د عبادت او ریاضت له پاره د تیمورشاه له خوا یو مسجد جوړ سوی دی چی د شاه لقا په نامه یادیږی. دغه مسجد په لازمو وختونو کی هر کله د پاچاهانو او خیریه مؤسسو له خوا ترمیم او تجهیز سوی دی. د دغی قطعی څخه د شاه لقا د مسجد جوړولو نیټه معلومیږی:

مکن تکیه بر عمر و جاه و جلال — که دنیا بوده خاکدان قدم
ثباتی نمی باشد بر عیش جهان — بود عیش او جمله اندوه و غم
به عصر شه دین پناه شاه شجاع — که کوتاه گردید دست ستم
به کابل ز الطاف شاهنشهی — بفرمود شه شیردل خان حکم
چه جاکو که چشم ملک هم ندید — که وصفش نماید، بحد قلم

چنین خیر عالی راز لطف خدا | بیامرز اورا زفضل وکرم
بنا کرد مسجد زبهر خدا | کرفرسوده بود از عهد قدم
ندیدم به عالم چنین مسجدی | چه مسجد نمود از بیت الحرم
چو گلزار فردوس بر رنگ و بو است | چه سازم مگر وصف او بیش وکم
پی فکر تاریخ او شیر دل | قلم برگرفت وچنین زد رقم
گرفت از سرجای وافزود گفت | گرد برده از بوستان ارم

۱۲۲۴ هـ ق

## د قصاب دکوڅې د میر مسجد

دغه ښکلی او پوخ مسجد د قصاب کوڅې د میر د مزار ختیځې لوري ته جوړ سوی. د مولود پر ورځو، روژې په میاشتو، جمعې په شپو د قرآن عظیم د ختمونو، عبادتونو او خیراتونو مهم ځایونه دي.
د قصاب کوڅې د میر صاحب نوم میر عبدالسبحان شاه د میر محمد موسی زوی دی چې پر کال (۱۳۰۱ هـ ق) کې د لوګر په کلنګار کې زېږېدلی او د (۱۳۶۴ هـ ق) د رجب المرجب په (۲۲) په کابل کې وفات سوی دی. دی د قادریه طریقې لوی مرشد او پیر ؤ.

## د سید مهدی آتش نفس مسجد

دغه مسجد د کابل د شور بازار په کوڅه کې چې یو وخت سید مهدی صاحب هلته او سید جوړ سوی دی.
سید مهدی د هند د لویې وچې په زیاتو سیمو کې په عبادت او ریاضت لګیاؤ او د چشتیه طریقې د لویو لارښوونکو څخه ګڼل کېدی.
ده وروسته د کابل شور بازار ته مهاجرت کړی څو په (۹۴۷) کې وفات او د خواجه رواش دالونکو میدان ته ورڅرمه خاورو ته وسپارل سو.
یوه ښنخته چې د ده زیارت ته نژدې، موندلې سوې، داسې باندې لیکل سوې دي: در تاریخ (۹۴۷ق) جناب مغفرت مآب محمدی بن سید خواجه از دار الفنا رحلت نمود. د افغانستان مشهور مؤرخ او څېړونالست

سید قاسم رشتیا خیل خان او کورنی د سید مهدی آتش نفس د اولادی څخه گنی. لکه چې دغې حسب او نسب د رومبانو لو په هکله لیکي چې :
روحانی معروف کابل سید مهدی (علیه رحمه) (آتش نفس) که آرامگاه ایشان در عقب عمارت مؤسسه صحت عامه در وزیر اکبر خان مینه کابل موجود است وتا امروز عبادتگاه ارادتمندان میباشد وهمچنین سلسله نسب مادری ما از یک طرف به روحانی بزرگ دیگر کابل جناب میر واعظ صاحب میرسد ودر عصر سدوزایی می زیست، وخود شان و بسیاری از اولاد شان در ادوار مابعد مورد احترام و مرجع ارشاد معنوی مردم قرار داشتند از طرف دیگر به عشیره بزرگ یوسفزایی ارتباط دارد، که اجداد پدر کلان مادری ما در عصر احمد شاه بابا از پشاور باسپاه او به کابل امده ودر این شهر سکونت اختیار کردند.
در باره عشیره خانوادگی باید توضیح نمایم که این شجره از عهد پادشاهی بابر شاه که حضرت سید مهدی معاصر او بود ترتیب یافته ودر هر دوره قسمی که معمول بود برای شناسایی سادات صحیح النسب قاضی القضات عصر آنرا تصدیق و مهر میکرد، تا عهد امیر عبدالرحمن حاوی تصدیق و مهر قضاوت وقت میباشد، بعدازان در اثر لغو امتیازات ساحات ویادیگر عوامل چیزی بر آن افزوده نشده است، چون شجره مذکور علاوه از ارزش که به حیث یک میراث قمتدار فامیل برای ما دارد، نظر به اهمیت تاریخی آن که سند مهمی برای مطالعه تاریخ چندین سده کشور محسوب میگردد، نقل آنرا در سنوات اخیر توسط مرحوم استاد محمد ابراهیم خلیل شاعر خطاط و محقق معاصر گرفته می خواستم به ارشیف ملی تسلیم نمایم ولی متاسفانه در اثر حوادث سوء که وطن عزیز ما را فرا گرفته، فرصت این کار میسر نه شد، وآن نسخه نقل شده نزد مرحوم باقی ماند، که یقیناً در کتابخانه شخصی شان موجود خواهد بود ونسخه اصلی در کابل

نزدیکی از اعضای خانواده محفوظ است.
این مختصر را محض از لحاظ جنبه تاریخی آن به رشته تحریر درآورده
وگرنه برای من منسوب بودن هریک از اقوام نجیب افغانستان که
باشد عمیق افتخار را حایز است، در آخر باید اضافه کنم که
جناب استاد محمد حسن کاکړ درباره نام پدر ماهم دچار اشتباه کوچکی
شده اند، اسم مرحوم آن سید حبیب الله نبود بلکه محض سید
حبیب بوده و به همین نام شهرت دارد. (۱)

# دازبکانو مسجد

دغه مسجد د عاشقانو او عارفانو د سره دکان و رخرمی تر واقع ، پخوا د
دوازده امام د مسجد په نامه پیژندل کیدی، خو هغه وخت چی ملا فیض
الله خان پر غولی زیاتوب راوست او د نوی سره یی آباد کړ د ملا امام
خطیب او طالبانو او شاگردانو د اعاشی او اباتی له پاره یی په سراسیاب
کی املاك او ژرنده ، پرچته کی یی دکانونه او په کوهدامن کی یی انگوری باغ
اونی په وقف وکړی نو په کال (۱۲۰٦) د رجب المرجب په لسمه ملا امام
خطیب، مدرس اوشاگردانو شمیر هم ور وټاکل. د دغو مالونو
وقف نامه د مسجد د ملا امام محمد طاهر خخه تر اوسه موجوده ده.
د ملا فیض خان د قبر د سر لوحی شو بیتی چی خواب سوی نه دی اولاندی
دی دادی:

قطب دوران شیخ عصر ایشان ملا فیض خان،
رفت سوی جنت الفردوس از دنیای دون
جز خدا با مردم عالم سر و کاری نداشت
همدرین عالم، به معنی بود زینعالم برون

---

(۱) مرحوم استاد میر محمد صدیق فرهنگ - افغانستان در پنج قرن اخیر - صفحه ۲۹۷

بود روز و شب به مسجد معتکف بابا دحق
داشت اندر خویش دائم سر رمز کاف و نون
شارع رسم شریعت و ز حقیقت حق طلب
در طریقت سالک ره ، معرفت را رهنمون
رفت و اندر ماتم او اهل کابل را مدام
موج زد جای نفس بر رخ ز دل هاجوی خون
بر فراز فیض اثار آرش مریدان را مدام
هست ذوق طرف و شوق مسکنت از حد فزون
سال تاریخ وفاتش هاتفی از غیب گفت
...... دغه نیونیتی یی ثوبن ل سوی دی

# دصوفی مسجد

دغه مسجد دشیر دروازی دغره په لمنه کی دعاشقانو او عارفانو زیارت ته نژدی په ډبرو اهاکو او گچو یو بنځ دصوفی شیر محمد مفتری ته نژدی چی هغه دامیر دوست محمد خان د زوی سردار محمد اکرم پیر او مرشد و په امر جوړ سوی ، دمسجد د محراب پرسر بوه ډبرو لوحه نصب سوی ده چی داسی پر لیکل سوی :

این روضه منور پر نور با صفاست
این منزل شریف نظرگاه اولیاست
این مسجد نیست سجده گه اهل معرفت
در مزار اهل غرض را ازین در است
صوفی صاف شیر محمد ولی حق
کز ماسوا بریده و پیوسته با خداست
اوصاف او نه حد زبان بشر بود
تحت قبای حق بود وحق بر این گواست

بانی این بنا ز سر صدق و مهر و فضل
سردار محمد اکرم با وجود با عطاست
جستم ز عقل رخصت تاریخ این بنا
گفتا بکن که مرقد صوفی با صفاست (١٢٦٢)

# د خواجه صفا مسجد

د غه یو عالیشان او ښکلی عمارت دی چی د شیر دروازی د غره په منځ کی د (٢٦٠-٢٧٠) مترو او بر د والی په حدود و کی پر ځلورو پوړو ویشل سوی چی د لومړی پوړ په اخر کی د خواجه صفا ښکلی او پوخ مسجد ځای سوی دی . د خواجه صفا او خواجه وفا (خواجه روشنایی) په هکله د کابل خلك بیل روایات لری ، او تزك بابری چی ظهیر الدین محمد بابر پاچا لیکلی دی د د غه ځای د ښکلا او آب او هوا په هکله ډیری ستاینی لری.
د امیر حبیب الله سراج الملة والدین په زمانه کی چی تاریخی آثار ترمیمید ل د خواجه صفاد تعمیر د جوړولو او تجهیز کولو په هکله مشهور خطاط میرزا محمد یعقوب د ه غه تعمیر پر لوحه لیکی :
هذا بقعه موسوم به خواجه صفا نظرگاهیست با نزهت و صفا نظاره است خوش آب و هوا ، در زمان سلف چنانچه شاید در آبادی و تعمیر آن پرداخته چند حجره که از سنك و گل ساخته بودند آنهم مخالف اسلوب هندسی بوده به واسطه امتداد زمان رو بخرابی و ویرانی آورده بود از انجاکه همت شهریار عدالت ترین اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان درانی بارکزیی محمدزیی همواره مصروف آبادانی ملك و ملت افغانستان خاصه آبادی بقاع خیر بوده و میباشد در آبادی این بقعه امر فرمودند :- به موجب امر جلیل القدر اعلیحضرت همایونی بر تاریخ ٣ ماه ربیع الاول سنه (١٣٢٣ هق) آغاز بنا در (١٧) ماه شوال المکرم سنه (١٣٢٣ هق) موصوف اتمام آن شده این سطور بطریق یادگار درین سنك زینت ارتسام یافت .

دخواجه صفا میلې د نوي کال د حمل ځخړ شروع کیږي او تر جوزا پورې دوام موهي د کابل ځيني خلك خواجه صفا او خواجه وفا د هغو مجاهدينو اصحابانو ځخه ګڼي چې د کابل د فتح په وخت کې هم د لته په شهادت رسيدلي دي

## دامير عبد الرحمٰن د مقبرې مسجد

دغه مسجد د امیر عبد الرحمٰن خان په بوستان سرا کې د هغه د مقبرې له څنګه د اوسني زرنګار پارك د شمالي څنډې په يوې برخې کې د استقلال ليسي ته مخامخ د قرآن عظيم د حفظ او شاوخوا لموځ کونکو له پاره په کال (۱۳۲۳ هق) کې پوخ او آهن پوښ د هغه د زوی امير حبيب الله سراج الملة والدين د هدايت له مخې جوړ سوی، ملا امام او موذن ترې د ښار والې له خوا ځخه کافي معاش ورکول کيږي.

## دحاجي يعقوب مسجد

دغه مسجد د شيرپور د مسجد په نامه ياديږي، هغه وخت چې په (۱۳۲۵ هش) کې د نوي ښار نقشه او کورونه په کار لويده د حاجي يعقوب په خلوړلاري د نيم جريب مځکې په احاطه کې هوديو ښکلی او تاريخي مسجد ستهه کبنيبنوده سوه چې د حاجي يعقوب په زيانتي مالي مرسته او د دولت په اعانې سره د (۱۳۳۴ هش) کال په شاوخوا کې بشپړ سو او ښکلي مناره يې د ډيرې ليرې ځخه د خلکو نظر جلبوي. دغه مسجد عصري او ډير ښکلي جوړ سوی دی د امامت او خطابت چارې يې هر کله معتبرو او زبده ملايانو ته سپارلې سوې دي، او لوې فاتحې او د ترحيم مجلسونه هم پکښې جوړيږي

## دحضرت علیؓ مسجد جامع

دغه مسجد د کابل ښاروالې له خوا ځخه د خيرخانې مينې په د وهمه برخه کې په کانکريتي پوخ د اسلامي معمارۍ په سبك جوړ سوي او تر دوو زرو

تنو لمونځ کوونکو له پاره ګنجایش لري د مسجد بناد (۱۳۴۲ هـ ش) کال څخه شروع او (۱۳۵۱ هـ ش) کال پوري بشپړ سوی دی.

# د عمرجان صاحب زاده مسجد

دغه مسجد د عمرجان صاحبزاده کندهاري دیو مخلص او مرید حاجي ملا عبد الحق سلیمانخیل کندهاري تاجر له خوا په (۱۳۴۱ هـ ش) کی د اسلامي معماري په سبک په نیمه جریب محکمه کی پرپوخ او اساسي ډول جوړ سوی ځو حاجي ملا عبد الحق اخندزاده ژوندی ؤ لو یو ملا یانو او طالبانو تر د مستوګني او تدریس ورځای ګڼل کیدی، هر ډول مادي او معنوي مرستي ورسره کوله او مجهزه علمي او دیني کتابخانې درلوده.

# د آریانا مینې مسجد جامع

دغه مسجد جامع د کابل ښار والي د پنځه ویشت کلن پلان له مخي چي په کابل کی به د پنځوا ینو څلورسوه شپیته مسجد ونو د ترمیم علاوه پنځه سوه نور مسجد ونه او جامعګانې جوړیږي د (۱۳۵۷ هـ ش) کال په دریمه ربع کی شروع او تر (۱۳۵۹ هـ ش) کال پوري بشپړ سو دغه مسجد جامع پنځلویښت مربع متره مځکی کانکریتي جوړ سوی او د اوه سوو لمونځ کوونکو له پاره پوره ځای لري.

# د قاضي شهاب مسجد

دغه په چندو لوی سبکلي او تاریخي مسجدی چي زمونږ د شیعه ورونو د لوی مرشد قاضي شهاب په نامه جوړ سوی او له څنګه یي لویه امام باره هم تاسیس سوی ده. خپله چند ول د کابل د جنوبي سیمی یولویه ناحیه ده چي د ختیځ لوري په باغ قاضي، لویدیځ لوري د ابن سینا په شفاخانی او جنوب لوري په شیر دروازي پوري مونښتي ده.

## د درخت شنګ مسجد

دغه مسجد د څوارده معصوم په نامه یادیږي چي د ښار د دروازې جنوبي پلوته د کاسه برج لاندې جوړ سوی او د دوولس امامانو او فاطمیانو مخصوصو عقیدو ورته لري او په سختو ورځو کي یې شنګوي.

## د دهمزنګ د کلالي مسجد

د ده مزنګ (بریکوټ) سیمه چي پخوا د کلالي صنعت لګ ونځي ښځه د ګلي کاسو، سرپوښونو، تشنابونو او داسي نورو شیانو جوړولو اهمیت درلود د کلالي په نامه مشهوره وه. د کلالي د مسجد ونو نومونه چي زیات یې اوس او ځیني یا خه جوړ سوي دي دادي:- د کلالي مسجد، د سید میرجان مسجد د دهمزنګ د عبدالشکور مسجد، د محمد غوث نائب سالار مسجد د دهمزنګ د ګداموونو مسجد، د دهمزنګ د نوآباد مسجد او نور.

## د خواجه اسحق مسجد

دغه مسجد د خواجه اسحاق مقبري څنګ ته په ده افغانانو کي جوړ سوی دی. د دغي سیمي نور مسجدونه د رنګه مسجد، د حاجي شاه بیګ مسجد او نورو په نامه یادیږي. د ده افغانانو د میرانو په مسجد کي ملا علي محمد (د ده افغانانو خلیفه) د ملا فقیر محمد اخندزوی د لوګر د کلنګار د خواجګانو ځخه تبلیغ او تدریس کاوه او په (۱۳۴۱ هـ ق) کي د (۷۲) کالو په عمر هم د لته وفات سو.

## د باغبان باشي مسجد

دغه مسجد د ملک اصغر په شلور لاري کي د امیر حبیب الله سراج الملة والدین د باغبان باشي په نامه په دروبسو ځکه کي دوه پوړیځ پوخ او مجهز جوړ سوی ځرنګه چي په یوه لوی شلور لاري کي واقع دی نو د ماپښین، ماځیګر او ماښام

پهٔ وختونو کې زيات لموځ گذاران لري.

## د مکروريانو مسجد

دغه مسجد د ريو مکروريان د سړک مدخل په خوله کې د کابل ښاروالي له خوا داوقافو د وزارت په مصارفو د (۱۳۵٦) کال څخه شروع او په درو کالونو کې يې کار پای ته رسيدلی دی. دغه مسجد د اسلامي او عصري معماري په فن په کانکريتي دول دیر ښکلی او مجهز جوړ شوی. شنه گنبده او لوړ مناره يې د ليرې څخه نظر جلبوي. دغه مسجد لويه ساحه لري او د امام او طالبانو د مادي او معنوي ضرورت د رفع کولو لپاره هر کله د دولت او نورو خيرو مؤسسو له خوا څخه مرسته ورسره کيږي او د سيمې د فاتحې مجلسونه پکښې کيږي. د کابل د ښار د اباديدو په نسبت چې ناحيې تر (۳) پورې رسيدلی دی په لسمه ناحيه کې يې د پوستين دوزان، سمنت خانه، قلعه زمانخان، شاه شهيد، کارته نو سياه سنگ، د شيخ محمد يانو تپه، بيني حصار، شهداى صالحين، قلعچه چمن حضوري، مکروريان، اکبرخان مينه، سيد نور محمدشاه مينه.
په يوولسمه ناحيه کې دخيرخانې لومړی، دوهمه، دريمه مينه، همداشانې دجمال مينې، شيرشاه مينې، خوشحال خان مينې لومړی، دوهمه، دريمه برخه او دريمه کارته شامل دی. ډير ښکلي، مجهز او عصري مسجدونه او جامعگانې جوړې شوي دي چې مشهور يې دا دي:- د شيرشاه دوهمې برخې مسجد، د خوشحال مينې د لومړي دوهمې، دريمې برخې پاخه مسجدونه او کانکريتي ښکلي جامعگانې، د وزيراباد، تايمنې د پروژو پاخه مسجدونه، د جمهوري ارگ مسجد، د پايان چوک مسجد، حاجي عزت الله مسجد، د باباى خودى مسجد، د شهرارا په برخې برک کې د ناظر ظفر مسجد، د شش درک مسجد، د کلوله پشتي مسجد، د قول اب چکانو مسجد د گذر د لومړي برخې مسجد، د ساد وگانو د کوڅې مسجدونه، د شور بازار د صندوق جوړولو مسجد، د مرده شويانو د کوڅې مسجد، د باغ نواب مسجد د خيابان لوى او کوچنى مسجد، د ميرزا جان محمد مسجد، د يکه توت مسجد، د بي بي مهرو مسجد، د ده کپک مسجد، د اوه وغرڅولو د منډى مسجد، د بيني حصار مسجد او نور.

# شلورم فصل

# د تصوف او عرفان

## ځينې مهمې طريقې او اصطلاحات

ترهغه ځايه چې د مطالعې او تتبع څخه څرګنديږي ټول علوم او فنون ځان ته مخصوص الفاظ او اصطلاحات لري چې د تدريس او تبليغ په موقع کې د هغو څخه استفاده کيږي او د اېوه مخصوصه طريقه ده چې د هغې په تعقيب سره سالکان او پيران ژر د مقصود منزل ته رسيږي. په تصوف او عرفان کې هم ځينې داسې اصطلاحات شته او موجود دي چې مبتديان او ذوقمندان يې په معنى او تفسير څرنګه چې بنايي ژر نه سي رسيدلاى. له بله پلوه د صوفيانو هم دا عمومي سليقه او رشه ده چې د خپل سلوک سر او اسرار ژر په چا نه شريکوي او په اصطلاح خپلو هغو سالکانو او پرهيزګارانو ته يې بيانوي چې الله تعالى په خپل فضل او کرم د هغو په زړونو کې د غه امانت په وديعت ايښى وي او د نامحرمو له پاره د هغو ليدلو او پوهيدو ولو مجاز نشته، خو بيا هم ابوالقاسم قشيري وفات (۴۶۵ هق) او اسمعيل عبدالله بن محمد انصاري وفات (۴۸۱ هق) په طبقات صوفيه، محي الدين ابن عربي وفات (۶۳۸ هق) په التراجم او قاضي عبدالنبي په دستور العلما کې او ډاکتر سيد جعفر سجادي په خپل فرهنګ کې د لاندينو عرفاني کلماتو او تصوفي اصطلاحاتو په هکله داسې بيان کوي:

## تصوف

د صوفي او تصوف د کلمې په هکله ډير تفسيرونه شته. د اسلام لوى صوفي حضرت ابو منصور عبدالقادر بغدادي چې په (۱۰۳۷ م) (۴۳۹ هـ) کې وفات سوى دى د صوفي او تصوف يو زر تعريفونه کړي دي چې هغه ټول په رياضت تقوى او خداى پيژندنې اړه لري.

يو زيات شمير اسلامي عالمان پر دې متفق دي چې تصوف يو عربي

کلمه ده چې د صوف یا وړې په معنیٰ ده، چې صوفیانو به د ورع او تقوی څرګندولو له پاره وړهین، خو پاشنه کالي اغوستل، ځینې بیا د غه کلمه د (صفوة المال) په معنیٰ او ځینې یې د صفه (سایوان) په معنی هم اخلي چې دا یوه دکانچه وه چې سایوان به یې درلود او حضرت رسول الله (ص) به په نبوي مسجد کې د لمانځه کولو وروسته د غې صفې ته راتللی او یو شمیر صحابه و ته به یې چې په اصحاب صفه مشهور وو اسلامي ارشاد او تبلیغ کاوه.

د اصحاب صفه وُ زیاته برخې نه کور وه او نه ودونه درلودل، دوی به شپه او ورځ پر دغه صفه را تول او د اسلام په خدمت کې به حاضر وو.

همدا شانې (صوفه) د لیرې لوید لی شئ په معنیٰ هم استعمالیږي چې څوک یې نه غواړي لکه مال او منال. ابوریحان البیروني د صوفي کلمه د (سوفیا) د کلمې څخه مشتقه ګڼي چې د پوهنې معنی ورکوي.

د هجویري صاحب وفات (۴۹۰ هـ ق) په کشف المحجوب کې د غه کلمه د صف صفا او صفوي په معنی اخستې سوې چې در ښا معنیٰ ورکوي. (۱)

طاوس فقرا سراج طوسي لیکي: - علم شریعت جامع دو سخن یعني روایت و درایت است که هر دو متعلق بر اعمال ظاهري و باطني است یعني هنگامیکه علم در قلب باشد به باطن تعلق دارد، ولی اگر بر زبان اید ظاهر شود به شریعت هریک ازین اعمال و باطني فقه و دانشي دارد انچه به اندام ظاهري مربوط است فقه و انچه بر باطن تعلق گیرد علم باطني و تصوف نامند. (۲)

## طریقه

د سالک (پیرو) یوه لاره ده چې مرید د خپلو خاصو طریقو او اصولو له رویه

---

(۱) ارزش میراث صوفیه - د اکتر عبد الحسین زرکوب صفحه ۴۹۲

(۲) تاریخ فلسفه اسلامي - هانري کوربن - ترجمه. عنوان تصوف صفحه ۲۶۵

فلسفه عرفان داکتر یحیی سیبشتري - عنوان مقام احسان و اوقان صفحه ۱۰۷

فضایل بلخ - ابوبکر عبدالله بن عمر بن محمد بن داؤد واعظ بلخي صفحه ۹۳

معنوي او روحي کمالاتو ته رسوي که موږ د تصوف تاريخ سلو پېړيو ته ورسوو هلته زموږ د هيواد ډېر زيات شمير متصوفين لکه حسن بصري چې زيات عمري په سيستان کې تير سوی دی، فضيل بن عياض تميمي خراسانی تولد (۱۰۵ هق)، ابراهيم بن ادهم بن منصور کنيت يې ابو اسحاق بلخي (د بلخ د اميرزادګانو څخه ؤ چې په ۱۶۶ هـ ق کې مړ دی او د روم په سوځتون کې ښخ دی)، عبدالله بن مبارك مروزي، شقيق بن ابراهيم بلخي احمد بن خضرويه بلخي کنيت يې ابوحامد وفات (۲۳۰ هـ) او نور ليدل کيږي چې په خپلو جسمي او روحي کمالاتو او بزرګواريو يې د تصوف او خدای پيژندنې ډېوه روښانه او ځلانده ساتلې وه.

تصوف بيلې طريقې او اصولونه لري چې زموږ په وطن کې د غه څلور طريقې زياتې مشهورې دی.

## نقشبنديه طريقه

شيخ بهاءالدين محمد بخاري د سيد محمد زوی په شاه نقشبند مشهور په (۷۱۸ هـ) کې په بخارا کې زيږيدلی او په (۷۹۱ هـ) کې د بخارا په يوه ميلي مسافه کې وفات سوی دی، ده د خپل پلار په څير د عيال رزق او روزي د کيمخا اوبدلو او نقش بندۍ په کسب برابر وله، نو ځکه په شاه نقشبند مشهور دی، د ده په طريقه کې د شريعت د احکامو پيروي يعنې د مسلمانۍ پنځو بناؤ ته زياته پاملرنه کيږي، رياضت او انزوا نه خوښوي د کار کولو سره د خدای ياد ول ضروري ګڼي، د سفينت الاولياء په (۳۱) مخ کې راغلي دي:- د خواجه څخه پوښتنه وسوه چې آيا ستاسو طريقه په جهر، خلوت، جلوت او سماع بنا ده؟ ده په ځواب کې ورته وويل:- چې يا، نو بيايې وپوښتي چې نو څرنګه ده، ده ورته وويل چې په ظاهره د خلکو او په باطن کې د حق تعالی سره.

خواجه نقشبند صاحب شعري او تصوفي طبع هم درلوده د مثال په ډول وايي:

سرتاسر افاق به هیچم بخرند * یارب چه متاعم که خریدارم نیست

دنقش بندی طریقی سلسله:

حضرت محمد(ص)، ابوبکر صدیق، سلمان فارسی، قاسم بن محمد، امام جعفر صادق، بایزید بسطامی، ابوالحسن خرقانی، ابو علی فارمدی، یوسف همدانی عبدالخالق غجدوانی، خواجه محمد عارف ریوگری، خواجه محمود ابوالخیر فغنوی، خواجه عزیزان علی رامیتنی، خواجه محمد بابا سماسی، خواجه امیر کلال، خواجه بهاءالدین نقش بند. (۱)

دنقش بندی طریقی ته په افغانستان او سند کې د امام ربانی المجدد ثانی خلیفه گانو او حضرت شاه فقیرالله حصارکې ننگرهاري زيات خدمت کړی دی. اوس په افغانستان کې د نقش بندی طریقی خلافت د نورالمشایخ دکورنی غړو مخصوص حضرت محمد ابراهیم مجددی او محمد امین مجددی ته سپارل سوی دی.

## حضرت صاحب صبغت الله مجددی

حضرت صاحب صبغت الله مجددی د محمد معصوم مجددی (میاجان آغا) زوی او هغه د فضل محمد مجددی (شاه آغا) شمس المشایخ او هغه د غلام قیوم مجددی زوی دی چی په کال (۱۳۰۴ هـ ش) دکابل د شور بازار په کوڅه کی زیږیدلی دی، نیکه یې حضرت فضل محمد چی شمس المشایخ یې لقب ؤ دوه عینی وروڼه درلودل چی یو یې حضرت فضل عمر (شیرآغا) او پادشاهی لقب یې نورالمشایخ ؤ، بل یې حضرت محمد صادق مجددی په مصر او سعودی عرب کی د افغانستان پخوانی لوی سفیر ؤ. دوی دری وارو د حضرت خواجه غلام قیوم زامن ؤ. دهغو خدمتونو او جانفشانیو په سبب چی دوی د افغانستان په شاهی دربارونو او د افغانستان د خپلواکی او جهاد په معرکی او نورو سیاسی امورو کی کړی وه د اعلیحضرت امان الله له خوا ځنی حضرت فضل

(۱) رساله قدسیه صفحه ۴۶، مرصاد العباد. نجم الدین رازی صفحه ۲۶۶

محمد مجددی ترد شمس المشایخ او حضرت فضل عمر مجددی ترد نور المشایخ لقبونه ورکړه شول او د ریم وړوړي چې حضرت محمد صادق نومیږه فامیلي لقب (اقای گل) په نامه یادیدی.

د دوی حرکتونه د اعلیحضرت امان الله خان د خلع کولو، خادم دین رسول الله د پادشاه کولو او بیا د اعلیحضرت محمد نادر شاه د پادشاهی سره د موافقې کولو په موردکې د چاد نظره پټ نه دی، دسردار محمد هاشم په لومړي کابینه کې حضرت فضل عمر مجددی د عدلیه وزارت عهده درلوده.

حضرت صبغت الله مجددی په کوچنوالی د خپل فامیل د غړو څخه روزنه او ښوونه موندلی او په شپږ کلن عمر د کابل د ښار په لومړنیو ښوونځی کې شامل سوی. او هغه وخت چې پلار یې (ماما غلام فاروق عثمان په کندهار او هرات کې نائب الحکومگي درلوده) نقل مکان کاوه دی هم ورسره ؤ او د کندهار د احمدشاه بابا په لیسه او هرات کې یې خپل لومړنې تحصیلات پېسر رسولی او د لومړنیو تحصیلاتو د بشپړولو وروسته د کابل د حبیبیې په لیسه کې شامل سو، په همدغه لیسه کې ؤ چې ده پر مذهبی او عقیده وي مسایلو باندې خطابې ورکولې او په لسمه ټولګی کې یې د خولۍ او لنګوټې د استعمالولو په ښیګنه کې یې یو کنفرانس ورکړ چې په هغه کې یې د حبیبیې د لیسې د شاګردانو او همصنفانو فکرونه د مکتب او د ریشي او یونیفارم څخه واړول او د دغه هکله یې د مکتب د ادارې او د سپلین مخالفت او منفي مبارزه شروع کړه، حضرت صبغت الله مجددی څرنګه چې په ریاضي او اجتماعي علومو کې پوره مهارت درلود، نو د مکتب د خارجي معلمانو له خوا څخه هغه ته د حبیبیې د ستوري لقب ورکړه سو.

ده تر دولسمې ټولګی پورې مسلسل لوست ته د ناروغی ور پېښیدلو په نسبت دوام ورنه کړ شو تر دروکالو تعطیل وروسته د هغی لیسې څخه د اعلی اول نمرګی درجې په حاصلولو سره د بکلوریا شهادتنامه په لاس راوړه او په امریکا کې یې د طب په څانګه د تحصیل کولو چانس ور برابر سو. ده چې د اسلامي علومو

دتحصیل سره علاقه مندي درلوده، نو دغه بورس د اخستلو څخه یې
صرف نظر وکړ او په خصوصي توګه د مصر په الازهر کې یې د اسلامي علومو
لکه د اسلام و مالي سیاست، قضایي سیاست، حقوقي سیاست او عدلي
طب کې د تعلیم حاصلولو له پاره ملا وتړله، ده د تحصیل په وخت کې د مصر د
(جیزه) د محلي په مسجد کې امامت هم کاوه، د تحصیل وروسته د مصر
د بیداره خلکو او اخوان المسلمینو ځني وغوښته چې په مصر کې د ارشاد
او تبلیغ له پاره پاتې سي، او یا اقلاً په واشنګتن کې د اسلامي مرکز د ریاست
عهده ومني، خو ده په خپل وطن کې د اسلامي تبلیغ او ارشاد وظیفه خوښه
کړه او په (۱۳۳۲ هـ ش) کې د خپل فامیل سره کابل ته راغی، څرنګه چې تعامل او خارجي
تعلیم یافته ګانو به د صدر اعظم او پاچا سره لیدل، حضرت صبغت الله
مجددي هم د سردار محمد داؤد صدر اعظم سره ولیدل، او دهغه له خوا
د عدلي وزیر په حیث په کابینه کې د شمولیت غوښتنه ځني وسوه، ده چې د معلمي
او ارشاد د وظیفي سره علاقه درلوده نو د دینیاتو او عقاید و د معلمي په حیث
یې د حبیبیه ښوونځي او دار المعلمینو کې او د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي
کې خپلي وظیفي ته دوام ورکړ، د متریالیزم او کمونیزم د فلسفي په ردولو کې
په کنفرانسونو او مجلسونو کې فعاله برخه اخسته او د دولت یې مجبوراوه چې
د اسلامي او اخواني تعلیماتو په خپرولو سره د دوی د عقاید و څخه جلو
ګیري وکړي، او د شوروي روسیې او دهغې د اقمارو سره د روابطو په
ضعیفولو کې په رسمي توګه اطمینان ورکړي، او د پان اسلامیزم خواته د دې
توجه وکړي او د یوه اسلامي عالم په توګه یې په اسیایي، اروپایي، افریقایي
او امریکایي هیوادونو کې د بین المللی اسلامي عالم په څېر یې ازانګې
خپري سوي او د (۱۳۳۸ هـ ش) کال راهیسې یې د سیونسیالیزم او اسلامیزم
د طرفدارانو په مباحثو کې په فعاله توګه ونډه اخسته چې د دغو مناقشو
په نسبت د دولت په سیاسي او دپلوماسي مناسباتو کې هم خنډونه پېښ سول
او عکس العمل ښکاره کولو ته اړ سو. چې د دغه عکس العمل په نتیجه کې

د (۱۳۳۸ هـ ش) کال په حوت کې بندي سو.

حضرت صبغت الله مجددي د سردار محمد داؤد د استعفی وروسته په کال (۱۳۴۳ هـ ش) د میزان په نهمه د بنده څخه خوشې سو، او څرنګه چې د هیواد سیاسي وضع ناارامه وه، نو ډېر وخت له پاره یې عربي متحده جمهوریت ته سفر وکړ، وروسته بیا وطن ته راغی او د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د کمیټې په عضویت وټاکل سو، حضرت صاحب د کابل د پل خشتي د مسجد په مظاهرو او د اسلامي ځوانانو د غونډو په کنفرانسو کې فعاله برخه اخستله، او غرا بیانیې یې ورکولې، او د پارلمان د غړو د توجه د جلبولو له پاره یې په ښکاره او پټه فعالیت کاوه حضرت صبغت الله مجددي په هیواد کې د اسلامي نهضتونو د پیاوړي کولو له پاره په (۱۳۵۰ هـ ش) کې جمعیت العلمای محمدی او د سیلو د څنګه یې یوه اسلامي کتابخانه تاسیس کړه، او د اسلام د تبلیغ او مسلمانانو د حال څخه د خبرولو له پاره یې لویو اسلامي هیوادونو ته سفرونه وکړه، د سردار محمد داؤد د جمهوریت په راتلو سره دی په سعودي عربستان کې د اسلامي مرکزونو د تاسیس کولو په کار لګیا سو او څلور کاله په کوپن هاګن کې پاته سو او د اسلامي ذبیحې په راګرځولو بریالی سو.

پر افغانستان باندې د روسانو د یرغل د ماتولو په هلو ځلو او د جهاد د فتوې په صادرولو او په (۱۹۸۱ م) کې اسلام آباد په (۱۹۸۲ م) کې فلورانس د اسلامي هیوادونو په کنفرانس کې د ګډون کولو د ملي نجات د جبهې په تاسیسولو د ملي جبهې د ریاست په کولو ډېر بریالیتوبونه په لاس راوړي دي.

دی د ډاکټر نجیب الله څخه د اقتدار د واګې د اخستلو او اسلامي جهادي دولت په جوړولو کې د افغانستان د لومړني موقتي جمهور رئیس په ټاکل کیدو او د همږغږۍ د شورې د ریاست (حزب اسلامي، نجات ملي، وحدت اسلامي جنبش اسلامي) په قبولیدو کې ستر او تاریخي مقام لري.

# قادریه طریقه

د دغې طریقې موسس شیخ محی الدین عبد القادر گیلانی د سید ابی صالح موسی زوی دی چې په (۴۷۱ هـ) کې په گیلان کې زیږېدلی، او (۵۶۱ هـ) کې په بغداد کې وفات سوی دی. دارا شکوه د شاجهان مغولی پاچا زوی چې دده د طریقې مرید او مخلص ؤ، په خپل اثر سکینت الاولیا کې دده د طریقې په هکله لیکي:

بنای سلسله متبرکه قادریه بر طریق (صحو) است وکثرت وکثرت فتوح و عدم تفرس، وصحو عبارتست از حصول مراد وصحبت حال). دده د طریقې پیروان په عراق، مراکش، اندلس، افغانستان، پاکستان، هند منځنی اسیا کې بیخي زیات دي. د قادریه طریقې مریدان په ریاضت، خلوت او د مشایخو د قبرونو د زیارت په هکله مخصوص اداب، سلوک او مراسم لري شیخ چې په اصطلاح پیران پیر، غوث الاعظم دستگیر، لوی پیر او داسې نور نومونو یادیږي، دی حنفی مذهبه ؤ، خو په شافعي، حنبلي مذهبو يې هم فتوا ورکوله. مشهور تالیفات يې دادي:- الفتح الربانی والفیض الرحمانی فتوح الغیب، ملفوظات، غنیة الطالبین، مکتوبات، حزب نشاء الخیرات، الوهاب الرحمانیه والفتوحات الرحمانیه، جلاء الخاطر، سر الاسرار رد الرافضه، تفسیر القرآن دوه ټوکه. شیخ شعري طبع هم درلوده:

گر بیایی به سر تربت ویرانه ما
بینی از خون جگر آب زده خانه ما

شکر الله که نمردیم و رسیدیم به دوست
افرین باد برین همت پروانه ما

با احد در لحد تنگ بگوئیم ای دوست
اشنائیم به تو غیر تو بیگانه ما

محی از شمع تجلی نگاهش می سوخت
دوست می گفت زهی همت پروانه ما

شریف التواریخ په خپل (۱۳۴) مخ کی دده د طریقت سلسله داسی بیانوي:
حضرت محمد (ص)، حضرت امام علي، خواجه حسن بصري، حبیب عجمي
داؤد طایي، معروف کرخي، سري سقطي، شیخ جنید بغدادی، ابوبکر شبلي
عبدالواحد تمیمي، ابوالفرج طرطوسی، ابوالحسن هکاري، ابوسعید مخزمي
غوث الاعظم عبدالقادر جیلاني.

دافغانستان د هرات څخه په هندکی د قادریه طریقی رواجیدل د سید صفي الدین
صوفي گیلاني (۵۴۸ - ۶۵۰ هـ) په واسطه سوی دی. خو سید ابوعبدالله محمد
غوث گیلاني چی د شیخ عبدالقادر گیلاني اتم خلیفه گڼل کیږي د دغی طریقی ته
په هندکی زیات مریدان پیدا کړل.

په کندهار کی د قادریه طریقه د بغداد د پیر سید حسن نقیب صاحب د کورنی د
غړو په واسطه زیاته مروجه سوې ده. او اوسنی خلف یې پیر سید احمد گیلاني
گڼل کیږي.

# پیر سید احمد گیلاني

دی د سید حسن گیلاني بغدادی (نقیب صاحب) زوی په کال (۱۳۱۱ هـ ش) کی په
کابل کی زیږیدلی او خپل لومړنی تحصیلات یې د ابوحنیفه په مدرسې کی
پای ته رسولی او په کال (۱۳۴۳ هـ ش) کی د کابل د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی
څخه فارغ التحصیل سوی دی. ده غوښتل چی د زیات تحصیل له پاره د مصر
الازهر په مدرسه کی شامل سی، خو د خپل مشر ورور (شیر آغا) د وفات
له کبله یې د غه عزم ترسره نه سو او د خپلې کورنی د موروثی د پاللو په سلسله
کی د پیری او بزرگی سلسله ئې اوس پاللې ده. دی د غزني، کلات، کندهار، گردیز،
ننگرهار په غلجي قبایلو مخصوص کوچیانو او پووندو کی ډیر مریدان
او اخلاص مندان، او په اصطلاح د کوچیانو لوی پیر او دستگیر گڼل
کیږي. ده ته خدای تعالی ډیر جایداد او غنا په برخه کړي او لنگر
یې ښه چلیږي. افغانی دربارونو هم هر کله د عزت او حرمت په سترگه

ورته کتلي، خوینبي او دوستي یې ورسره کړي، د همدغه کبله د لوی ملي او سیاسي نفوذ خاوند سوی دی.

پیر سید احمد گیلاني (افندی آغا) د خلق دیموکراتیك گوند د کودتا څخه وروسته پاکستان ته مهاجر سوی او د جهاد د داعي د پرمخ بیولو او ملي اسلامي حکومت د جوړولو له پاره چې اصل یې د ټولو وطنوالو په خوښې بنا وي د ملي اسلامي محاذ د تنظیم په جوړولو بریالی سوی دی.

د کورنۍ د نسب سلسله:

حضرت محمد، بنته فاطمه الزهرا، ابن امام حسن، ابن سید حسن، ابن سید عبدالله، ابن سید موسی لجون، ابن سید عبدالله، ابن سید موسی، ابن سید داؤد، ابن سید محمد، ابن سید یحیی الزاهد، ابن سید عبدالله الحبلی، ابن ابی صالح موسی جنگی دوست، ابن سید الغوث الاعظم عبدالقادر گیلاني، ابن سید عبدالعزیز گیلاني، ابن سید محمد الهتاك گیلاني، ابن سید شمس الدین گیلاني، ابن سید شرف الدین گیلاني ابن سید زین الدین، ابن سید ولي الدین، ابن سید نورالدین، ابن سید حسام الدین، ابن سید محمد درویش ابن سید زین الدین، ابن سید مصطفی، ابن سید سلمان، ابن سید علي نقیب الاشرف، ابن سید حسن گیلاني نقیب صاحب، ابن پیر سید احمد گیلاني

# خلیفه غلام فاروق قادري

خلیفه صاحب د خپل مشهور اثر (مولود شریف) د مقدمې په لومړۍ مخ کې د خپل ځان د معرفي په هکله لیکي: (زه احقر العباد غلام فاروق د ملا شیر محمد زوی په قوم تاجك حنفي مذهب یم.) د ده د مناجاتو لومړی ټوك (۱۹۲) متوسطو مخونو، دوهم ټوك یې د (فاروقي مناجاتو مع نعت رسول الله (ص)) په نامه (۸۶) مخونو ته، دریم ټوك یې د (حق او باطل) په نامه (۶۶۳) مخونو ته رسیږي.

ده په دغه اثر کې د کندهار د عمومي او سیدو نکو ناوړه خویونه، د شریعته

او اخلاقو لېرې کا روونه تبعیضات او فرقه پرستي غندلي او دهغو د اصلاح په هکله یې لارې چارې ورښودلې دي .

خلیفه صاحب غلام فاروق د خپل اثر په خاتمه کې داسې لیکي :

داکتاب بیان دحق او دباطل دی * سرتر پایه په ځواب کې دسایل دی

دکتاب خاصیت دادی چې یې وایي * هر سړی به وایي دغه ما ته وایي

نه لرم غرض په هیچا پوری نور * دسایل جواب مې وکړ زما ورور

چې یو زر دری سوه شپږ شپیته سنه وه * پنځه ولیشتم د محرم روځ یې جمعه وه

فرق دحق او باطل کتاب سو تم * رب دی کړي قبول په خپل فضل وکرم

خلیفه صاحب دکندهار دکابل په بازارکې دبوټ جوړولو لارې دعیال رزق او روزي برابروله دبوټونو ماهر استادان او شاګردان یې هم د طریقت او اخلاقو پیروان وو . دی به دپنجشنبې په شپه او دجمعې په ورځ کې دخپل کور په خانقاه کې دخدای تعالی په ذکر او فکر لګیاؤ .

خلیفه صاحب دناوړه دودونو او اخلاقو په هکله داسې وایي :

په صحرا کې دا قاعده وایم وتاته

تولـه کلی زکوة ورکوي مـلاته

خان یې اخلي دخپل کلی څخـه عـام

وملاتـه یې ورکوي دی پـه خپل نـام

ملا نه لري هیڅ وخت دخان اختیار

چې خان وایي دی کوي هغه رفـتـار

خو دکلي خان ئې نـر هغـه پـوری

دمسجد امام لموځ نه کړي کښتر ګوري

که یې ورنه کړي نه پریږدي دکلي خان

که غني دی که مسکین دی که ناتوان

دغه خلک عیال داره مسکینان دي

دوی په خپله نفقه پورې حیران دي

# د سهروردي طريقه

د دغه طريقه د شيخ بهاء الدين سهروردي د شيخ محمد عمروزوي څخه چې په (۵۳۸ هـ) کې د زنجان په سهرورد کې زيږيدلی او په (۶۲۲ هـ) کې په بغداد کې وفات سوی را شروع کيږي. د ده نوم د حضرت عبد القادر جيلاني په صوابديد په شهاب الدين عمر اوښتی دی. دی د منبع الاسرار، مطلع الانوار، عالم رباني، استاد الشيوخ په نامه هم ياديږي.

د دغې طريقې په تاسيس کې بيل روايتونه ستر، ځيني د سهروردي طريقې تاسيس شيخ ابونجيب عبد القادر سهروردي (۵۶۳ هـ وفات) او ځيني يې شيخ الشيوخ شهاب الدين، ابوحفص عمر ته منسوبوي. خو د اخرګنده ده چې د شيخ شهاب الدين خليفه ګانو په هند او منځني اسيا کې د دغې طريقې د روا جولو له پاره زيات خدمت کړی دی، ځکه د ده نوم تر نورو زيات اختل کيږي، د دغې طريقې مرشدان سني مذهب دي او د خپل طريقت سلسله داسې بيانوي :- حضرت محمد (ص)، حضرت علي (رض)، حضرت امام حسن، حسن بصري، حبيب عجمي، داود طايي، معروف کرخي، سري سقطي، جنيد بغدادي ممشاد دينوري، شيخ اسود احمد دينوري، شيخ ابوعبدالله، شيخ وجهه الدين سهروردي، شيخ ضياء الدين ابوالنجيب سهروردي، شيخ شهاب الدين ابوحفص عمر سهروردي. په تصوف او عرفان کې زيات اثار لري چې مشهور يې دا دي :- عوارف، اعلام الهدا، رشف النصايح.

د (الله هو) کلمې (ورد) په دوی کې زيات مروج دی، ډير را وروسته په دې طريقه کې ډير انشعابونه سوي دي، او د اصلي اصولو څخه يې انحراف کړی دی، ځيني يې و سماع ته ډير مايل سوي او مخدره موادو ته يې مخ نيولی دی مشهور يې دا دي :

ملاميته :- يې شريعت چې طريقت ته يې زيات مخ کړی دی.

جلاليه :- چې نور چلتار تر سر تري.

قلندریه:- د سماع په وخت کې نل او شپیلاق وهي.
مخدومیه:- د سید جلال الدین مخدوم څخه را شروع کیږي چې د اولیاؤ دلیدلو له پاره یې ډیر سفرونه کول.
نوری څانګې یې د میران شاهي، اسماعیل شاهي، شاهي دولا، سهاګیه، رسول شاهي او نورو په نامه یادیږي. (۱)

## د خواجه معین الدین حسن سکجزی چشتي طریقه

خواجه معین الدین حسن سکجزی چشتي د غیاث الدین حسن زوی په (۵۳۷هـ) کې د افغاني سیستان په سکجز نومې کلي کې زیږیدلی او په (۶۳۲هـ) کې د هند په اجمیر کې خاورو ته سپارل سوی دی او چشتي یې ځکه بولي چې د ده د طریقت او ارادت سلسله په او و پښت حضرت ابو اسحاق شامي چشتي چې د شیخ علو دینوري مرید دی رسیږي، چشت د هرات د ولایت یوه ولسوالي ده چې ډیر متصوفین او بزرګواران پکښې پیدا سوي دي. د فرشتي تاریخ، اخبار الاخیار، تاریخ مشایخ چشت د ده د نسب سلسله په څوارلسم پښت حضرت علي (رض) ته رسوي. حضرت خواجه د افغانستان د لویدیځو سیمو د مدرسو د لیدلو وروسته په (۱٦) کلنۍ سن سمرقند او بخارا ته ولاړ او هلته یې د دین علم پوره زده کړ، او د هغه ځای څخه د بیرته راګرځیدو په وخت کې یې په نیشاپور کې د خواجه عثمان هاروني سره ولیدل او د هغه په مریدانو کې شامل سو، حضرت خواجه معین الدین د قطب الدین ایبک په زمانه کې اجمیر ته ولاړ او په هغه ښار کې یې د پاچا نماینده له خوا ئو د هر کلي وسو. ده په دهلي کې په وعظ او ارشاد شروع وکړه او زیات مریدان او اخلاصمندان یې پیدا کړل. د طریقه

(۱) شرح التعرف لمذهب التصوف - نور المریدین وفضیحت المدعیین خواجه امام ابو ابراهیم اسماعیل بن محمد مستملي بخاری - ربع چهارم یا مقدمه محمد روشن صفحه (۱۷۰۰) عنوان قولهم في المرید والمراد.

چشتیه لیکوال ډاکتر غلام علی اریالیکي ( در اجمیر بسیاری ازهندوان ببرکت انفاس آن پیر طریقت به دین اسلام مشرف شدند، و انانیکه ایمان نیاوردند محبت خواجه را بدل جای دادند و پیوسته فتوح بی حد وعد به حضرت او میفرستادند وچنانیکه مرحوم مولوی غلام سرور میگوید چراغ اسلام در هندوستان بطفیل این خاندان عالیشان چشتیه روشن گشت.)

د حضرت خواجه د مشهورو خلیفه گانو څخه شیخ احمد کابلي په (۵۹۶ هـ) په بنارس، حضرت شیخ احمد غازي په (۶۰۳ هـ) په فتوح، حضرت احمد خان دراني په (۵۹۰ هـ) کې په اجمیر کې شهیدان سوي او نور هم ډیر مشهور دي. د چشتیه په نزد سماع معتبره او د مسلك جزء ده.

سکینت الاولیا وایي چي حضرت خواجه د غوث الاعظم دستگیر حضور ته هم رسیدلی او د هغه په حجره کې ورسره اوسیدلی دی. د ځینو تذکرو له رویه د چشتي طریقي سلسله حضرت شیخ ابراهیم ادهم بلخي ته رسیږي، چي هغه خپله طریقه د حضرت خضر څخه اخستې ده. د چشتي سلسلې د غه اولیا او مشایخ مشهور دي:- خواجه قطب الدین بختیار کاکی، شیخ فرید الدین گنج شکر، شیخ نظام الدین اولیا، امیر خسرو بلخي، شیخ سلیم چشتي.

مشهور آثار یې دا دي:- دلیل العارفین (چي د ده خلیفه قطب الدین بختیار کاکي راټول کړي، انیس الارواح د خپل مرید خواجه عثمان هاروني، ملفوظات د ذکر، ریاضت او چله کشي رساله، کلمات معین الدین، سجزي، گنج اسرار دیوان شعر. د شیخ د شعر نمونه دا ده:

ربود جان و دلم را جمال نام خدا

نواخت تشنه لبان را زلال نام خدا

ای صبا گر پرسدت گز ما چه گوید معین

این ددی را ازمیان برداری بگو گوید (۱)

---

(۱) طریق الحقایق - معصوم علی - چاپ سنگی ۱۳۱۸

# خانقاه

دمشایخو، درویشانو، صوفیانو، تکیه، رباط او بناټو ته وایي چې جمع یې خوانق او خانقاهات او په پښتو کې (خانقاهوې) راځي دغه یوه معربه کلمه ده چې د (خانه) او (گاه) څخه جوړه شوې ده لکه منزلگاه، مجلس گاه او په فارسي کې د (ن) په سکون هم استعمالیږي.

سعدي (رح) په خپل اثر (گلستان) کې په دې هکله وایي:

سعدي حدیث مستي و فریاد عاشقي * دیگر مکن که عیب بود خانقاه را

محمد کرد علي د خانقاه د کلمې او د هغې د تاریخ په هکله لیکي: - خانقاه یوه فارسي کلمه ده چې اصل یې (خونگاه) دی یعنې هغه ځای چې پاچا یا سلطان دوډۍ پکښې خوري، نن خانقاه د هغو کنجونو زاویو ته ویل کیږي چې په هغه کې صوفي په عبادت لګیا وي، خانقاه تر شپږمې هجري پیړۍ پورې وجود نه درلود، په مصر کې هغه چاچې لومړې خانقاه جوړه کړه سلطان صلاح الدین یوسف و هغه د خانقاه پر جوړولو علاوه ټاکلې رزق (خواړه) د حق د لارې سالکینو ته هم مقرر کړ. د (سیوطي) په قول مقریزي وایي: - خوانق د اسلامي عالم د مؤسساتو څخه دي چې په څلورمه هجري پیړۍ کې پیدا شوې ده وایي لومړی ځل هغه چا چې خانقاه د عبادت له پاره جوړه کړه، هغه زید بن صوحان بن صبره نومیده، کله چې هغه ځینې د بصرې خلک ولیدل چې بیله تجارتي، زراعتي او داسې نورو وعوایدو ځان د خدای تعالی عبادت ته ارام کړی و او د فکر او خیال په ارامۍ یې عبادت کاوه نو هغه چې د دوی لوړه بې نیازي او فارغ البالي او د دنیا سره بې پروايي ولیده، نو یو کور یې د دوی د اوسیدلو، کالیو او نورو ما یحتاجو د رفع کولو له پاره ورو با خښه هم داشان روایت دی چې په اسلام کې لومړنی خانقاه یو کوینج و چې په بیت المقدس کې د عبادت له پاره ټاکل شوی و. (۱)

دعرفاني تعبیراتو او اصطلاحاتو او لغاتو فرهنګ لیکي: د خانقاه شباهت په

(۱) لغت نامه دهخدا - صفحه ۱۶۱

مدینه منوره کی دحضرت رسول الله (ص) دهغی صفی سره کیدلای سی، چی دصحابهٔ وفقیرانو او بیوزلانو په هغه کی اوسیدل اوعاشه کیدل او هرڅوك چی به مدینی شریفی ته راتلی که پیسی او ځای به یی نه درلود دغی صفی ته به یی دلمر راختو څخه ځان را رساوه.

دحضرت طلحه څخه داسی روایت دی :- مکان الرجل اذا قد المدینته وکان له بها عریف ینزل علی عریفه فان لم یکن له بها عریف نزل الصفة وکنت فی من نز الصفه. (۱)

مصباح الهدایه ومفتاح الکفایه عزالدین په خپله (۱۵۳) صفحه کی خانقاه ته دورتلو په اړه بوکی داسی لیکی :- بدانکه اهل خانقاه وطایفه میباشند مسافران ومقیمان. اما رسم صوفیان در سفر آن است که چون به خانقاهی قصد نزول دارند، جهد کنند تا پیش از عصر به منزل رسند، واگر در راه به عذری متخلف شوند، ووقت عصر در اید، آن شب به مسجد یا گوشه دیگر نزول کنند، وروز دیگر به وقت ارتفاع افتاب قصد خانقاه کنند وچون در خانقاه روند، اول دو رکعت نماز بگذارند سپس سلام کنند، وبه معانقت ومصافحت باحاضران مبادرت نمایند، وسنت ان است که از جهت مقیمان به حق القدوم عراضه ای از طعام یا غیران در میان ارند وبه کلام مسابقت ننمایند، وسخن تا نه پرسند نه گویند، ومسافران خانقاه به قصد مهمی که دارند، از زیارت احیاء واموات بیرون نروند تلقینات باطن از تغیرات عوارض سفر به قرار خود باز اید، وجمع گردد ومستعد لقاء مشایخ واخوان شدند، چه استیفاء حفظ غیر از صحبت به نور جمعیت باطن میسر گردد، از بهر انکه نور کلام وسمع بر قدر نور انیت دل نتواند بود، وچون از خانقاه به قصدیکه دارند بیرون خواهند رفت بی اجازت مقدم اهل خانقاه بر خروج اقدام ننمایند، وهمچنین در همه

(۱) فرهنگ لغات واصطلاحات وتعبیرات عرفانی - داکتر سجادی
صفحه ۳۹۳

چین به موافقت رای و استصواب و اجازت او شروع کنند، وچون سه روز بگذرد اگر نیت اقامت دارند ودر اقامت ایشان بحال بطالت بود، خدمتی که بدان قیام نمایند، طلب دارند، و اگر اوقات شان مشغول عبادت بود (فکفی بالعبادة شغلا) و اما مقیمان خانقاه باید که مقدم مسافران را بترحیب و اعزاز تلقی نمایند، وبتودد و طلاقت وجه بدیشان تقرب کنند، وخادم باید که سبك طعام پیش آورد، وبا ایشان تازه روی و خوش سخن بود، و اگر مسافری به خانقاه رسد که به مراسم صوفیه مترسم نه بود، و به نظر حقارت وعدم مبالات در او ننگرند، و او را از خانقاه اخراج نه کنند و باز نزنند، چه بسیار از اولیاء وصلحاء که از رسوم این جماعت خالی باشند، پس اگر ایشان را به مکروهی ایذاء رسانند، ممکن که باطن ایشان از ان مشوش و متالم شوند، و اثر ضرر آن به دین و دنیا موذی لاحق شود، و بهترین اخلاق رفق و مدار است با مردم ودرشت خوبی قولا وقول نتیجه نفس خبیث است. اگر کسی با خانقاه رسد ومعلوم میشود که صلاحیت مقام ندارد او را به وجه لطف وحسن کلام بعد از تقدیم طعام باز گردانند. (۱)

## د دوست محمد حاجی کندهاری خانقاه

دی د ملا علی اخند یوسفزی زوی د اسماعیل خان د پیری د بنود د امان د موسی زی دکلی او سیدونکی وچی دکندهار د مشهورو مشایخو او عرفاؤ څخه گڼل کیدی چی د نقش بندی مجددی طریقی مرشد او خلیفه ؤ. دکندهار څخه پرته په ټول افغانستان مخصوص منځنی اسیا، بخارا، سمرقند تاشکند، مرو اونورو ښارونوکی یی په سوو اخلاصمندان او مریدان

(۱) مصباح الهدایة و مفتاح الکفایة ـ عزالدین، محمود قاشانی صفحه ۱۵۳-۱۵۶ ارزش میراث صوفیه ـ داکتر عبدالحسین زرکوب ـ صفحه ۶۸ ـ چاپ ۱۳۶۹ انتشارات کبیر.

درلودل. خانقاهوې یې په موسیٰ زیي غوښډان او بخارا کې تراوسه دوست محمد حاجي خپل زیاتره عمر په تیره بیا دوې په میاشتو کې د زابل د کلات په غوښډان او غورمرغه کې تیراوه، د اسماعیل په بیره او غازي خان ډیره یې د ژمي د تیرولو له پاره زنی تاتو بي ؤ. کلرچي به کندهار ته راتلې دکندهار د ښار او ډنډ دولسوالي په بیلوکلیو کې به د مریدانو او اخلاصمندانو د فیض او برکت مرجع ګڼل کیده. د دوست محمد حاجي قندهاري فارسي مکتوبات زیات مشهور دي. فارسي مکتوبات یې د حضرت حاجي دوست محمد قندهاري قدس سره موسیٰ زی شریف په نامه حافظ محمد یوسف خان او ورونو د ملتان په صدیقیه کې چاپ کړې دي د دغو مکتوباتو شمیر او ډیر شوته رسیږي چې د خپلو مریدانو او خلیفه ګانو په نامه یې لیکلي دي:

مکتوب اول به نام خلیفه محمد جانان اخندزاده ساکن مرغه، مکتوب دوم به نام ملا امان الله صاحب خلیفه هراتی، مکتوب سوم ایضاً به نام خلیفه ملا امان الله صاحب موصوف الصدر، مکتوب چهارم ایضاً به نام خلیفه ملا امان الله صاحب هراتی، مکتوب پنجم به حضرت پیر دستگیر خود حضرت شاه احمد سعید صاحب مجددی دهلوی ثم المدنی قدس الله سره، مکتوب ششم به نام ملا محمد جانان صاحب ساکن مرغه مکتوب هفتم ایضا به ملا جانان صاحب موصوف الصدر، مکتوب هشتم به نام خلیفه ملا امان الله صاحب هراتی، مکتوب نهم به حضرت پیر و مرشد خویش قدس سره، مکتوب دهم به نام خلیفه مولوی محمد عادل صاحب قوم کاکړ ساکن ژوب، مکتوب یازدهم به نام خلیفه مولوی محمد عادل صاحب موصوف الصدر، مکتوب دوازدهم به خلیفه ملا هیبت اخندزاده هرپیال کسیغری، مکتوب سیزدهم به مولوی محمد عادل صاحب کاکړ ساکن ژوب، مکتوب چهاردهم به ملا هیبت اخندزاده هرپیال کسیغری، مکتوب پانزدهم به ملا راز محمد اخندزاده صاحب کندهاری، مکتوب شانزدهم به نام مولوی شیر محمد کلاچوی که مجاز حضرت بودند

مکتوب هفدهم به نام ملا قطب الدین اخند، مکتوب هژدهم به نام خلیفه امان الله صاحب هراتی، مکتوب نوزدهم به نام ملا میر واعظ صاحب اخندزاده، مکتوب بیستم ایضا به نام ملا میر واعظ صاحب موصوف الصدر، مکتوب بیست ویکم به جانب پیر دستگیر خود حضرت شاه احمد سعید صاحب مجددی دهلوی ثم المدنی (رح)، مکتوب بیست و دوم به نام ملا میر واعظ صاحب، مکتوب بیست و سوم به نام ملا حیدر شاه صاحب پوونده، مکتوب بیست وچهارم به نام ملا عطا محمد اخندزاده صاحب مکتوب بیست و پنجم ایضا به نام ملا عطا محمد صاحب موصوف الصدر مکتوب بیست و ششم به نام خان ملا خان صاحب، مکتوب بیست و هفتم به نام خلیفه جلیل القدر ملا امان الله صاحب هراتی، مکتوب بیست وهشتم به سیادت پناه قاضی حیدر شاه صاحب، مکتوب بیست ونهم به نام قاضی حیدر شاه صاحب موصوف الصدر، مکتوب سی ام به نام مولوی عبیدالله صاحب .

د مثال په ډول د لته د حاجی دوست محمد قندهاری د دیرلسم مکتوب متن را انتقال کیږی چی د ډوب د اوسیدونکی مولوی محمد عادل کاکړ په نامه یی لیکلی دی :-

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بعد از حمد وصلوة اخوی ارشدی اعزی محمد عادل اخندزاده سلم الله تعالی من جمیع آفات، از فقیر حقیر لاشی دوست محمد حاجی کان الله عوضا عن کل شئ بعد از سلام مسنون که سنت سید الانام است مشهور گردیده که طریقت دوجزء است، یکی جذب و دیگری سلوک، چون جذبه بمدد پیران کبار اجمالا بر سالک وارد میشود به غیر عمل که اختیار وعمل سالک را در حصول جذبه دخلی نیست الا ماشاءالله که موقوف به محض عنایت است پس در تحصیل جزء ثانی که عبارت از سلوک است البته عمل وکوشش را در آن دخل است .

سالک را جهد و همت درکار است که آنچه معذور است در آن سعی نمایند

برای تکمیل این هر دو جزء سلوک که بزرگان مقرر فرموده آنصاحب راجزء اول به عنایت حق تعالی حاصل است در جزء ثانی سعی بلیغ داشته وعمل به عزهمت فرمایند، نه به فتوی که بنای طریقه حضرات نقشبندیه برعزهمت است و به انکسار تمام وعبودیت وعبدیت اوقات شریفه معمور دارند، وبنده را در دعا یاد فرمایند، که حق سبحانه وتعالی این بی عمل را ایمان سلامت دارند، واز این طرف خاطر شریف خود را جمع دارند که تاحین تحریر خیریت است. زیاده والسلام مالاکلام.

سنه (۱۲۶۶ه) وحالات این سمت ازچون وچرا علما مولوی صاحب به تفصیل بیان خواهد فرمود (نقل از صفحه ۳۲ مکتوبات فارسی حضرت حاجی دوست محمد قندهاری قدس سره، موسیٰ زیی شریف مطبع صدیقیه بیرون بوهړ گیټ ملتان شهر).

مولوی محمد عادل صاحب کاکړ چې د پښتو، فارسی، عربی ژبې پیاوړی عرفانی پالونکی شاعر دی په خپل قلمی عرفانی دیوان تحفة الاسلام کی دخپل پیر او مرشد حاجی دوست محمد قندهاری په مناقبت کی داسی وایي:

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله یقول للملائکه: من وجدتم فی قلبه مثقال ذرة من خیر فاخرجوه من النار.

وملکه ته رب فرمان کړی دی فرمان په دغه شان کړی
چې په ذره کی یی ایمان وی دیوزری په شان وی
دی بیرون کړی له دی نار خلاص یی کړی داور لغار
بل حدیث هم په دا شان دی مالیدلی دا عنوان دی
چې شفاعت کړی رسولان هم ملائیك هم صالحان
او د دوی تمام شی کار رب په رحم کړی اظهار
د بیر عالم چې بدکرداروی بد یی خوی بد یی رفتار وی
رب به خلاص کړی دی له اوره خدای به سی د دوی غمخوره
محمد عادل یم گناهکار یم وتاته امیدوار

گوندی عفوه می گناه کړی — ما د عفوې په پناه کړي
که زما مرشد خو بد عادت دی — خو مرشد می نیک خصلت دی
زما مرشد دوست محمد دی — نیک خصلت دده بی حد دی
د مجدد پر کار محکم ؤ — د پیر محکم پر دغه کار سم ؤ

د مولوی محمد عادل صاحب د تحفة الاسلام د قلمی دیوان د اخري پاڼی نقل. دغه خطی نسخه د محترم رحمة الله صحاف په کتابخانه کی ساتلی سوی ده د حضرت حاجی دوست محمد قندهاری قدس سره، موسی زئی شریف د فارسی مکتوبات د اخرنی پاڼی ۱۱۲ مخ ځخه د تاریخ وصال شیخ المشایخ حضرت حاجی دوست محمد صاحب قدس الله سره تر عنوان لاندی داسی لیکل کیږی.

ای دریغا صوفی شیخ زمان — پیشوای سالکان و عارفان
مرشد کامل مکمل ذو الورع — قطب عالم بود افراد جهان
بایزید و هم جنید وقت بود — کی سزد گر وصف او سازم چنان
از طفیل بو سعید احمد سعید — عالمی پر نور شد از فیض آن
فیض او چون فیض شاه نقشبند — نقشبندی کرد قلب عارفان
حاجی حضرت محمد دوست بود — نام او چون شمس روشن در جهان
چون ز دنیا دار فانی رخت بست — آمده در گریه جمله انس و جان
۱۲۸۴
آفتابی معرفت تاریخ او — هاتفی از غیب گفته ناگهان

احمدا تو کی رسی در وصف او
فیض بی پایان ز روحش پاک خوان

دده د مناقبو بل اثر معز الدین د عبد الکریم زوی تالیف کړی دی. د کراچی د سروش مجلې د (۱۹۷۷م) د دسامبر د میاشتی په (۳۸) مخ، او نومیالی افغانان دده په هکله لیکی:- حاجی دوست محمد قندهاری د هندی مسلمانانو ستر پیشوا او زبردست عالم او متصوف ؤ چی د شاه احمد سعید دهلوی ابن شاه ابو سعید دهلوی سره یې د نږدی

علایق او روحانی رابطه درلوده د نقشبندی طریقی پیروؤ او په کال (۱۲۸۴ هـ ق) کی وفات سوی دی.

په کندهار کی د حاجی دوست محمد د زیات نه او سیدلو او نه پاته کیدلو یوه وجه هم دا وه چی حاجی صاحب د کندهاریانو قومی رسوماتو او ملی عنعناتو پالولو ته لږ متوجه کیدی او د یو داسی عرفانی او اجتماعی چارو په تبلیغولو او تشهیرولو لگیا ؤ چی اثرات به یې هرکله د هغه ایالت د اوسیدونکو د ژوندانه په طرز نامطلوبه اغیزه کوله او په تضاد کی به ور سره واقع کیدله. د همدغه کبله به د یو شمیر بانفوذ لروبنکو قومی خانانو، محلی ملایانو او روحانیونو تر تنقید لاندی نیول کیدل، مخصوص هغه وخت چی ده د کندهار د سنځمنو د مریدولو او حلقی ته رابللو په چارو لاس پوری کړ.

لکه چی دوست محمد حاجی یو لیښنولیک خپلی یوی سنځمنی مریدی ته په دی عبارت لیکلی دی:

پس له حمد له صلوة لـــه جانبه د دی حقیر د دی سلام وی بی بی صاحبی ته. له آفاتو د دنیا د آخرت دی حق تعالی تا ته سلامتگی او نجات درکړی.

پس له سلامه چی طریقه د اهل اسلام ده معلومه دی وی و تا ته چی دلی ما ته خیریت دی له هری وجهی، ستاسی خیر هم له هری وجهی له خدایه غواړو او کاغذ د حال احوال خیریت په خپل لاس د ملا محمد سعید صاحب چی دی استولی ؤ، په بنه وخت په نیک ساعت یی راوړ ساوه، په لوستلو د هغه کاغذ چی بیان ستاسی د خیر او صحت و نیکبنی زمانه ډیر خوشحاله سو، خدای تعالی دی... د خیر و تاسو ته درکړی چی په دا حال او... د هغه وخت دی زه خبر کړم...)

# خلوت

د نفس سره د مخالفت کولو، ریاضت کښلو، لږ خوړلو، لږ ویدید لو، لږ خبرې کولو، روژې نیولو، لمونځونو کولو، د پردو او نورو شخه د گوښه کیدلو، اوځان تل په دوامداره صورت د خدای ذکرته سپارلو او نورو خاطراتو هیرولو یوه مجموعه ده لکه چې حافظ وایي:

خلوت گزیده را به تماشا چه حاجتست * چون کوی دوست هست بصحرا چه حاجتست

## څلویښتې (چله نشینی)

دغه دسیر او سلوك د خاوندانو د دودونو او رسومانو شخه دی چې یو مرید څلویښت ورځې او شپې د خاصو ادابو په پامل لسو او رعایت کولو سره په یوه مخصوصه کوټه کې د خدای په عبادت او ریاضت لگیاسی د چله نشینی ځینې مهم شرطونه دادي:

۱- مرید به دخپل شیخ څخه اجازه اخستې وی.

۲- په هره هفته یا لسو ورځو کې به شیخ دخپل مرید او یا سالك د لیدلو له پاره ورځي چې په هغه سره دخپل مرید زړه خوښ کړي او د هغه د مجاهدت او یا ریاضت توان پیاوړی سی.

۳- د مناسب وخت او زمانې ټاکل لکه: د چله نشینۍ له پاره مسلعد وخت، آب وهوا او زمانه، دخلکو د بیر او بار او ازدهام څخه د خلوتځای لیرې والی.

۴- چله کش باید تل په اوداسه وی، او کله چې وغواړي لمونځ وکړي، باید له سره اودس نوی کړي، او دوه رکعته د شکرانې لمونځ وکړي.

۵- په دغو څلویښتو ورځو کې باید روژاتی وی.

۶- د پیرلښ خواړه وخوري او د پیري لښ خبري وکړي .
۷- په شپږ کې د دوو ساعتو زیات خوب ونه کړي .
۸- رحماني ملکي ، شیطاني او نفساني خاطري بايد یوله بله وپیژني
۹- بوازې په رحماني خاطر ولګیاسي او نوري هسته وغورځوي او که د
مشکله سره مخامخ سي دخپل شیخ او مرشد څخه مرسته وغواړي .
۱۰- د لا اله الا الله په ذکر تل لګیا وي . (۱)

# حال

دعارفانو په اصطلاح هغه چي د خدای تعالی په موهبت دطریقت دسالك مرید او یا صوفي په زړه کې دسالك دتعمد پرته ځای نیسي او د الهي جذبې په برکت د ادنا مقام څخه اعلی مقام ته رسیږي او بیا د نفس د صفاتو په څرګندیدلو سره بیرته زائیلیږي هغه ته حال وایي او هغه وخت چي حال دائمي وګرزي او د سالك ملکه او ملګری سي بیا مقام ورته ویل کیږي

# حق

دصوفیانو په اصطلاح حق د الله تعالی د ذات څخه عبارت دی ، حقایق دحقیقت جمع ده او دصوفیانو په اصطلاح د اسماء حقایق دخدای تعالی د نومونو څخه عبارت دی .
دخدای تعالی ذکر په اسماؤ کیږي او هغه دری ډوله دی :
د ذات نومونه :- الله ، الرب ، الملك ، القدوس ، السلام ، المؤمن ، المهیمن ، العزیز ، الجبار ، المتکبر ، العلیم ، العظیم ، الظاهر ، الباطن ، الاول ، الاخر ، الکبیر ، الجلیل ، المجید ، الحق ، المبین ، الواجد ، الماجد ، الصمد ، المتعال .
دصفات نومونه :- الحي ، الشکور ، القهار ، القاهر ، المقتدر ، القوي

---

(۱) عزالدین نسفي - کامل انسان - صفحه ۱۰۴

القادر، الکریم .

دافعالو اسماء :- المبدء، المعید، الوکیل، الباعث، المجیب، الواسع الحسیب، المنیب، الحافظ، المعز، المذل، الحکیم، العدل، اللطیف، المحی المحیت، الموالی، التواب، المنتقم .

مولینا جلال الدین بلخی پدې هکله وایي :

اسم هر چیزی تو از دانا شنو — رمز سر علم الاسماء شنو

اسم هر چیزی بر ما ظاهرش — اسم هر چیزی بر خالق سرش

نزد موسیٰ نام چوبش در عصا — نزد خالق بود نامش اژدها

بد عمر را نام اینجا بت پرست — لیک مؤمن بود نامش در است

# حلقه

صوفیان په خاصو حالاتو کې دخپل رسم له مخې دحلقې په دول رقصیږي او په خپل شاوخوا راڅرخي، او کړه په حلقه کې څوک غوږ ار سی غرامت او تاوان پر ایږدي .

# وَجد

دلمې عبارت هیڅ نه موندل کیږي چې د هغه په واسطه دې د وجد تعریف وسي . ځکه وجد د خدای تعالی دهغو سر ونو څخه یو سر دی چې مومنانو ته یې څرګنده وي ، ځینې صوفیان په دې هکله وایي :

دا یو داسې موهبت دی چې بیله جهد او تکلفه پر زړه راځي او د روښانه څړې پرشان يې پیرته ژر له نظره وزي .

د بخاری کلاباذی په شرح تعریف کې داسې راغلي دي : - وجد آن است که بر دل رسد ، و دل از و اگاهی یابد ، از بیم یا غم یا دیدن چیزی از احوال آن جهان کمبر سر او گشاده شود ، یا حالی که میان او و خدا گشاده گردد .

وگاه از بیم عذاب است وگاه از درد فراق وگاه از سوزش وجب ، واغلب

وجد از خوف یا از فراق باشه وچون این نوع وجد در سر بنده ظاهر
شود غلبه گیرد، ظاهرش مضطرب گردد و بانگ وناله پدید اید و
بانگ وناله او را تواجد خوانند.

## تجرد او تاهل

د اخلاقو او اجتماعی روابطو له رویه تجرد یوازی، یعنی بی ماینی، بی جفته ژوند کولو او تاهل ماینی او کورنی ژوند درلودلو ته وایی، د عارفانو او درویشانو په اصطلاح د دنیا د تعلقاتو او بندیزونو څخه ځان ساتلو او فارغید لو ته وایی:

مجرد باش چون عیسی مریم
تبرا کن چو ابراهیم ادهم

وایی چی یوه درویش ته چا وویل ولی ښځه او ماینه نه کوی؟ هغه په ځواب کی ورته وویل: ښځه نرانو ته ښایی، زه لا د مردی او میرانی تر مرتبی نه یم رسیدلی، نو ښځه څنگه وکړم.

بل درویش ته وویل سول چی ته ولی ښځه نه کوی؟ هغه په ځواب کی ورته وویل: زه د نفس طلاق ته تر نکاح او واده کولو زیات احتیاج لرم، هغه وخت چی نفس ته طلاق ورکړم، دا به روا وی چی بیا ښځه وغواړم.

لوی صوفی بشر حارث ته وویل سوه چی ستا په هکله خلک ویری خبری کوی، ده ورته وویل څه خبری کوی؟ ورته وویل سول چی وایی ستا د نکاح سنت پری ایښی دی؟ ده ورته وویل: چی ورته و وایه: زه تر اوسه په فرضو مشغوله یم او سنت ته رارسیدلی نه یم.

## ابلیس

دغه کلمه د شیطان د کلمی سره یوځای او کله بیا ځان ته استعمالیږی او د خدای د دربار څخه د تربټلی او شړلی معنی لری. لکه چی خدای تعالی فرمایی:

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْا اِلَّا اِبْلِیْسَ اَبٰی وَاسْتَکْبَرَ وَکَانَ مِنَ الْکَافِرِیْنَ.

ترجمه :- هغه وخت چې موږ ملائکو ته وویل چې ادم ته سجده وکړئ دوی ټولو سجده وکړه مګر ابلیس منع راوړه، او لوئي يې وکړه او دی د کافرانو څخه ؤ، دخدای تعالی دامر څخه دنافرمانی او سرکښی له جهته دخدای د دربار څخه مغضوب او منفور وګرزول سو.

ابلیس دجنیاتو یا پیریانو د ذاته ؤ چې له اوره پیدا سوی دی چې ډیر عابد او زاهد ؤ او هیله يې درلوده چې خدای تعالی به دی پر ځمکې باندې خپل خلیفه وګرزوی، خو ادم ته د سجدی نه کولو په نافرمانی دی مردود وګرزیدی.

دابلیس کلمه هم د بینوا او نا امیده معنی ورکوی، ځکه دی دخدای د بخښنی او عفو څخه نا امید دی. او دا کلمه د (ابلاس) دکلمې څخه اخستی سوی ده عارفان او صوفیان دوی معناګانی ځنی اخلي: لکه عزالدین نسفي چې وایي:

د دوهم جنت څخه دری تنه راووتل: ادم، حوا، شیطان، د دریم جنت څخه شپږ تنه راووتل: ادم، حوا، شیطان، ابلیس، طاوس، مار. حوا جسم دی شیطان طبیعت دی، ابلیس وهم، طاوس شهوت او مار غضب دی، نو دده پرتاویل دغه ټول مادی او روحانی قوتونه دادم تر فرمان لاندی راغلل او ځینو يې د فرمانبرداری څخه ځانونه واستل لکه چې وایي:

| | |
|---|---|
| زابلیس لعین بی شهادت | شود پیدا هزاران خرق عادت |
| گه از دیوارت آیدگاه از بام | گهی در دل نشیند گه در اندام |

## شیطان

شیطان دجنیاتو یا پیریانو څخه دی او اصلی نوم يې عزازیل دی چې د اوره پیدا سوی دی، شیطان د بشر او انسانانو دښمن دی او غواړي چې مسلمانان د اسلامي احکامو د پرځای کولو څخه په د سیسو او توطئو راوګرزوی پر نفس، ضمیر او زړه کی منفي تاثیرات او وسوسی اچوی لکه چې فرمایي:

انما یرید الشیطن ان یوقع بینکم العداوة والبغضا .

ترجمه :- په تحقیق سره شیطان ستاسو په منځ کی دښمنی او عداوت اچوی

د شیطان کلمه د شاط ، یشط ، شطا څخه اخستل سوی ده چی د اسماف او ر

معنی ورکوی ، ځینی اسلامی قاموسونو د غه کلمه د شطن . شطه نا په معنی اخلی

چی تیره والی څنی مطلب دی ، په قرآن عظیم کی (۸۸) ځله د شیطان کلمه

استعمال سوی ده .

# پیشوا

د معرفت اهل باید دری وصفه ولری : جذبه ، سلوک ، عروج هر څوک

چی دادری وصفه ولری پیشوا (مخکښ) او شیخ دی ، څوک چی دادری وصفه

ونه لری ، او یا د غو د روڅخه یو ونه لری ، پیشوایی او شیخی نو ر سره نه بنایی .

# تقدیر

په تصوف او عرفان کی اختیار پریښولو او ترک ته وایی ، عارف په دی پوهیږی

څه چی خدای تعالی غواړی او مقدره کړی یی وی هغه پیښیږی د خلق له پاره د

تقدیر بدایت او شروع نشته تقدیر د خدای تعالی له خوا هدایت دی څوک

چی تدبیر پریږدی ، په تقدیر راضی وی ، څوک چی مقدور وینی خپل ځان

بی اختیاره وګڼی . [۱]

# ازل او ابد

ازل له ابتدا نشته او ابد له انتها . ازل د خدای تعالی د نومونو څخه

یو نوم دی ، او ازلیت یی د صفاتو څخه دی .

# معجزه ، کرامت ، استدراج

د نبی خرق عادت ته معجزه ، د ولی خرق عادت ته کرامت ، او د کافر خرق

(۱) منازل السائرین .

عادت ته استدراج ویل کیږي.

## اسم اعظم

د خدای تعالی لوی نامه ته اسم اعظم وایي، داچې د خدای تعالی کوم یو نوم ته اسم اعظم وایي د مفسرینو تر منځ اختلاف سته، ځینې د خدای تعالی ټولو نومونو ته اسم اعظم وایي.

## الحاد

د حق د دین څخه وتل، د خدای تعالی د دین څخه عدول هغه خلك چې د شریعت د حدودو څخه وزي هغه ته ملحدین وایي، د صوفیانو په منځ کې هم کله د شریعت د حدودو څخه وتل رواج لري، چې د هغو څخه ځینو ته ملاحده یا ملحدیان ویل کیږي کله سالك د اباحت د بیابان څخه تیر سي او شریعت بیرته په لس راوړي او تقوی خپله پیشه وګرځوي، نو په دې حال کې مغرور او متکبر کیږي او هیڅوك د ځان په شان عالم او بزرګوار نه ګڼي تا وغواړي چې ټول خلك يې مریدان او ستاینه ویان وګرځي، تر دې اندازې چې د پیغمبرۍ دعوا وکړي.

## پیر مغان

د عارفانو په اصطلاح روحاني کامل رهبر ته وایي، لکه چې دا سي وایي:

ګر پیر مغان مرشد باشد چه تفاوت
در هیچ سری نیست که سري ز خدا نیست

## تفکر

د عارفانو په اصطلاح په خدای کې فکر او ري وهل د خدای په آثارو او موجوداتو کې دو بیدل ثواب لري لکه چې فرمایي: الذین یتفکرون في خلق السموات والارض.

ترجمه: ـ هغه خوک چی فکر کوی د اسمانونو او مځکو په مخلوقاتو کی

## تقوی

په عملی حکمت کی د عبادت او پرهیزگاری په واسطه د نارواو د عقوبت څخه ځان ساتنی ته وایی ، یعنی داچی د حق بیګانه خپل ساتندوی وګڼی او ټول کمالات او فضایل خدای تعالی ته وسپاری نو خدای تعالی د داسی کسانو ملګری دی . لکه چی فرمایی :

ان الله مع الذین اتقوا و الذین هم محسنون .

## توبه

د ګناه څخه پښیمانی ته وایی، لکه چی فرمایی :

من لم یتب فاولئك هم الظالمون .

ترجمه : هغه څوك چی توبه نه کوی په ظالمانو کی شمیرل کیږی

## حضور

حضور د غیب په مقابل کی یوه کلمه ده ، د عارفانو په اصطلاح د خلق یا خلکو څخه غیبت او بیلیدل د خدای تعالی حضور ته رسیدل دی . حضور د وحدت مقام ته هم وایی .

## خطوه

هغه د پښو قدمونه یا ګامونه دی چی سالك یی په طریقت کی اخلی باید هغه متوجه وی چی د شیطان پیروی ونکړی ، لکه چی فرمایی :

ولا تتبعوا خطوات الشیطان انه لکم عدو مبین .

ترجمه :ـ او مه کوی پیروی د قدمو د شیطان بی شکه دی تاسی لره دښمن دی ښکاره .

خطوه انبیاؤ ، وسواسه اولیاؤ او فکرت عوامو ته پیښیږی .

# خلیفه

یعنی ځای نشین، دعارفانو په اصطلاح خلافت هغه مقام دی چې سالك دطریقت دلاری د وهلو، دخدای تعالی او بنده په منځ کی د باطن د تصفیی کولو نفسانی خاطراتو د نفی کولو، بشری صفاتو د خلع کولو د اخلاقو د تزکیه کولو، دلاری څخه بنده دخلافت مقام ته رسیږی. لکه چې فرمایي:
انی جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً.
ترجمه:- بی شکه زه گرزونکی یم په ځمکه کی دیو خلیفه.

# لیونی (دیوانه)

هغه چاته ویل کیږی چې عقل یې کار نکوی او شعور و نه لری، بنه او بد ځنی ونه کړی. دعرفان په ادب کی هغه چاته وایې چې په سلوك او طریقت کی د حیرانی او لیونتوب حالت ته رسیدلی وی. مولینا جلال الدین بلخی (رح) وایي:
وقت آن شد که به زنجیر تو دیوانه شویم
بند را برگسلیم از همه بیگانه شویم

# ذکر

هغه څوك چې خدای یاد وی ذاکر او څه چې وایي ذکر یې بولی. دخدای په ذکر د انسان زړه ډاډه من کیږی. لکه چې خدای تعالی په دی هکله فرمایي:
الا بذکرالله تطمئن القلوب.

# رضا

دخدای تعالی قضا او قدر ته غاړه ایښودل وایي او څه چې ور پیښیږی په هغه راضی وی، د رضا مقام د توکل د مقام څخه وروسته دی لکه چې په دی هکله داسی وایي:

دلا همواره تسلیم و رضا باش — به هر حالیکه باشی با خدا باش
خدا را دان، خدا را خوان به هر کار — بدان تو یاور انرا به ار تو یار
چو حق بخشد کلاه سربلندی — تو دل بر دیگری بهر چه بندی

## رمز

د اشارې او ایما په واسطه د معنی او مقصد پوهیدل، هغې کلمې ته وايي چې څوك د يوه ډول شباهت او تناسب يا بيله تناسبه د هغه په ليرې معنی پوه سي يا په اصطلاح هغې باطنی معنی ته وايي چې په ظاهری معنی کې پيچلې سوې وي او په دې ډول معنی د اهل حق پرته څوك پوهيدلای نه سي لکه د قرآنکريم ځينې مقطعات.

## صفا

د ګناهونو څخه پاکی ته وايي يعنې د ګناهونو د زنګونو څخه د طبع پاکيدل او له بدو څخه ليرې کيدل، صفا د انسان د صفتونو څخه دی چې پر اصلي او فرعي ويشل کيږي: اصلي:- د اغيارو څخه د زړه رانولول، او فرعي د غدارې دنيا څخه ګوښه کيدلو ته وايي.

## عارف

هغه څوك دی چې خدای تعالی هغه د ذات، اسماؤ، صفاتو د شهود مرتبې ته رسولی وي، او دغه مقام د حال او مکاشفې د لارې ورته څرګند سوی وي نه د علم او معرفت د لارې. لکه خوشحال خان خټك چې وايي:

د عارف په برخه علم لدنی دی — په الست يې روزی سوی بې تحصيله
که کامل دی په جهان هغه کسان دي — چې فارغ دی د دنيا له قال و قيله

## عاشق

د عارفانو په اصطلاح په شور او وجد سره د (حق) پلټونکي ته وايي چې د

حقیقي معبود په ته څوك نه غواړي لكه چې حافظ وايي:

عاشق زار مرا باكفر وايمان چه كار

مفلس عور سراپا وصل ويا هجران چه كار

# فنا

نیستي او محو كیدلو ته وايي او په عرفاني اصطلاح د بنده فنا په حق كي، چې د بنده بشري خواص د حق په ربوبیت كي محو سي، په فنا سره بد صفتو نه لیري كیږي او بنده د بقا بنو او پاكو صفتو نو خاوند گرزي.

مولانا جلال الدین بلخي وایي:-

هیچ كس را تا نه گردد او فنا * نیست ره در بارگاه كبریا

چیست معراج فلك این نیستی * عاشقان را مذهب و دین نیستی

# فیض

د الهام په صورت چې په زړه كي د كسب په واسطه حاصلیږي هغه ته فیض وايي همدا شانی د فاعل هغه بې عوضه او بې غرضه فعل چې په خپلو نیكو بندگانو جاري وي هغه ته فیض ویل كیږي او د فیض یوازنی مبدا حق تعالى دی.

# قوالي

د صوفیانو په مجلس كي خواندن او ساز كولو او موسیقي غږولو ته ویل كیږي ځیني صوفیان عقیده لري چې په قوالي او ریاضت د نابودي دنیا سپكوالي او كر غیړنوالي څرگندیږي او روحي، وجداني آرامي حاصلیږي.

# كامل

هغه څوك چې په عملي سیر او سلوك كي یو داسي مقام ته رسیدلی وي چې د خداى تعالى په ته نور ټول تعلقات او اړیكي یې شلولي وي حقیقي كامل

هغه دي چي په عملي او نظري حکمت کی د کمال درجي ته رسيدلی وی.
وايي چي کاملان دري طبقي دي:-
کاملان چي عالی طبقه ده، سالکان چي متوسطه طبقه ده، مقيمان چي کښته طبقه ده.

## نفس

مجرد جوهر دی چي په خپل ذات کی مادی ته احتياج نه دی، خو په فعل کی مادی ته محتاج دی، د عرفانی مفهوم په هکله يي ويل کيږی، د نفس حقيقت د علم په واسطه نه ځرگنديږی، او په وجدان نه پيژندل کيږی، د نفس حقيقت د مطلق وجود څخه عبارت دی چي د نقايصو په واسطه پټ سوی دی، لکه چي مطلق وجود په جزيي ډول په علم نه پيژندل کيږی، د نفس حقيقت هم په کلی ډول نه پيژندل کيږی، که سالك خپل نفس وپيژنی بيا ورته د نفس تعريف ډير مشکل دی، په انسان کی د بدو صفاتو او خرابو اخلاقو معدن نفس او د ښو صفاتو او حسنه اخلاقو معدن روح دی نفس د روح زندان او دنيا د نفس زندان ده.

## وفا

د عارفانو په نظر هغه اعمال دی چي بنده د خدای تعالی سره د هغو په ځای کولو ته ژمنه کړي دي، هم د اشانی د الهی اوامرو او ازلی عناياتو پيژندنی ته هم وايي:

در روز الست بلی گفتی * امروز به بستر لا خفتی

## هاتف

د حق آواز او غوښتنه چي د سالك په زړه کی پيدا سي او هغه ته د سلوك توان او توفيق ورکړي، لکه شيخ فريد الدين عطار چي وايي:

خطاب هاتف دولت رسید دوش بما | که هست عرصهٔ بی دولتی سرای فنا
ولی چو نفس جفاپیشه سد دولت شد | طریق دولت دل بسته شد به سد جفا

## اوه میړونه (هفت مردان خدا)

قطب، غوث، امام، اوتاد، ابدال، نجباء، نقباء

## ولی

سرپرست، دوست او مرستیال ته وایي لکه چې فرمایي:
الله ولیّ الذین آمنو. (بقرة)
ترجمه:- الله دوست دی د هغو کسانو چې مومنان دي.
همدا بشانې ولی د (ولی) د ریښې څخه دی چې د وهري نژدې ته وايي چې فاصله نه ایجابوي، او هغه څوک دی چې په ورسپارلو سوو وظیفو کې تر هغه بل مستحق نه وي. (۱)
قیصري د خپل اثر (مقدمه درخصوص) په (۴۵) مخ کې لیکي:- د نبوت باطن، ولایت دی، او شمول یې تر نبوت زیات دی ځکه چې په نبوت او ولایت دواړو کې شاملیږي او انبیاء څخه اولیاء دي، او اولیا پر څو ډوله دي:- اقطاب، افراد، اوتاد، بدلاء، نجباء، نقباء. د دوي څخه دری سوه تنه د حل او عقد مشران دي چې اخیار، او نور څلویښت تنه دي چې (ابدال) او اوه تنه دي چې (ابرار) او څلور تنه دي چې (اوتاد) او دری تنه دي چې (نقیب) او یو تن دی چې (قطب) یا (غوث) ورته ویل کیږي او د وی یو د بله سره نه پیژني.
په شرح تعریف کې راغلي دي: ولی د دغو ټولو اوصافو سره معصوم نه دی، او که ګناه څخه پیښه سي په توبه د سنې جبیره کیږي.

---

(۱) فرهنګ علوم کلام - احمد خاتمی ۲۲۷ صفحه

## دنیا

د اخرت په مقابل کې استعمالیږي، عارفان وایي: که په هغې نږه وتړل سي گمراهي او هلاکت ځني پیدا کیږي، حضرت رسول (ص) فرمایي: الدنیا ملعونة ملعون مافیها الا ذکر الله عالما او متعلما.

ترجمه: - دنیا لعنتي ده او څه چي پکښې دي هغه ملعون دي بېله خدای د ذکره د خدای تعالی ذکر د خدای تعالی په اسماء او صفاتو کیږي.

## پیر

مراد، مرشد، شیخ، دلیل، پیشوا امام، هغه چي خپله لارښوونکی وي رهنما او مرشد ته احتیاج ونلري، دستگیر، قطب د مرید په مقابل کې د طریقت پیرته وایي. لکه په دې بیت کې:

پیري که هفت فلك زیبدش مرید

میري که میر هشت چنان شایدش غلام

پیران لنگر لري، د پیر او سید دروېزیان او د دعا محتاجان هغه چي لغړیان او د خدای ببغي وي، ترڅو چي بې مراد او مطلب حاصلیږي د پیر په لنگر کې وړیا ابانه او اعاشه ورکول کیږي ځیني پیران کله دومره اجتماعي او سیاسي نفوذ پیدا کوي چي ولسي هشران د دوی لنگرونو او دربارونو ته رجوع کوي، دا ځکه چي د دوی د خوښې او دعا پرته په کوم کار لاس نه سي پوري کولای، چنانچه په دې هکله د شاه حسین هوتك او میا عبد الحکیم صاحب ماجرا زیاته مشهوره ده.

## پیغمبر

پیغامبر، رسول، نبي، د خدای رالیږل سوی.

## پیر خرابات

یو توصیفی ترکیب دی چی په ظاهره هغه پیر مرد او میره ته ویل کیږي چی په میکده یا شرابتون کی شراب خرڅوي، خو د تصوف په اصطلاح کی د کامل او مکمل مرشد په معنی دی، چی مرید د فقیر او فنا خواته هڅوي چی د ټولو شیانو افعال او وصفات د خدای په عشق کی د سر بښندنی په توګه محو کړي او سالك فنافی الله وګرځوي. د دغه خرابات معنی د ټولو بشري صفاتو خرابیدل، د جسمانی او روحی وجود فنا کیدل، لکه چی حافظ وایي: ـ

بنده پیر خراباتم که لطفش دائم است
ورنه لطف شیخ و زاهد گاه هست وگاه نیست

## کوی خرابات

د فنا او بی هوښی مقام ته وایي لکه شاه نعمت الله ولی چی وایي:

درکوی خرابات کسي را که نیاز است.
هشیاری و مستیش همه عین نماز است

## کمال

د صوفیانو په اصطلاح د مادی او دهغو د صفاتو څخه صفا او پاکیدل کمال بولی.

## کشف

پرده پورته کول، لوڅول په عرفانی اصطلاح د پټو او خفا لوڅول دی چی د پردو او حجابونو د لوڅیدلو له پاره بیلی مرتبی ستر.

# کفر

دعرفان پراد بیانو کی دتفرقی دعالم تاریکیو ته کفر وایی، همداشانی دوحدت پټیدل پر کثرت کی هم کفر دی، ځینی بیا وایی حقیقی کفر دعبد فناده، کافران هغه دی چی د اسماؤ، صفاتو او افعالو د مرتبی څخه نه وی تیر سوی لکه چی وایی:-

معشوق به سامان شد تا باد چنین باد
کفرش همه ایمان شد تا باد چنین باد

# خواجه

خواجه یا خوجه فارسی لقب دی چی د ښاغلی، بادار او اغا په معنی هم استعمالیږی، په لبنان او ځینو عربی هیوادونو کی دغه لقب د مسترا و یا موسیو په نامه هم مروج دی. د تاریخی څیړنو څخه څرگندیږی چی دغه لقب په هند کی رواج موندلی، او هغو هندیانو ته ویل کیږی چی د اسلام په دین مشرف سوی دی. دوی پر زیاتو مذهبونو لکه نزاری شمسه، سنی، شیعه او نورو ویشل سوی دی. (١١۴٣م).

د پنجاب خواجه گان د آقاخان امامت او مشرتابه نه منی او د بمبئ د خواجه گانو د عقایدو پیروان دی. دوی د خپل طریقت او مذهب سلسله سید صدرالدین ته رسوی چی په پنځلسمی میلادی پیړی کی د خراسان څخه پنجاب ته تللی او مقبره یی تر اوسه په (اترمقده) کی چی د بهاولپور د ایالت په گرگیج کی ده څرگند مقام لری دوی خپل نذرونه، قادریه او چشتی پیرانو او اولسیاؤ ته ورکوی. (١)

همداشانی د خواجه، خوجه په نامه په ځینو اسلامی پخوانیو سلطنتی دربارونو کی یو شمیر ښاهسته او ښکلی مریان موجود وو، چی خصی (شنډ) سوی وو دی سببه چی د وی د سلطنتی کورنی د ښځونو سره واده و نه کړلای سی.

---

(١) دائره المعارف اسلامیه جلد ٩ صفحه ٢٨- ٣٠

زموږ د هیواد افغانستان په ځینو سیمو کې او هم د منځنی اسیا په ځینو برخو کې خواجه د سید په معنی پیژندل کیږی ، په ځینو قاموسونو کې د وزیر په معنی هم استعمالیږی او ترکی کلمه یی بولی .

## سید

عربی کلمه ده چی د پیشوا ، بادار ، سردار ، دقوم د مشر په معنی استعمالیږی دغه کلمه د حضرت محمد (ص) دکورنی پر غړو هم اطلاقیږی ، لکه چی سید المرسلین (حضرت محمد (ص) ته ویل کیږی ) ، سید القوم (دقوم مشر ته) ، سید الانام (د مخلوقاتو مشر او اشرف ته چی حضرت محمد سید البشر (د انسانانو مشر ته چی حضرت محمد دی) ، سید الانبیاء (د نبیانو مشر ته چی حضرت محمد دی) ویل کیږی . همداشانی دغه کلمه د پوه ، فاضل ، حکیم او حلیم له پاره هم استعمالیږی .

په افغانی ټولنه کی د دی سره چی د سید زیات احترام کیږی خو څرنګه چی یی په افغانستان کی شمیر نسبتاً زیات دی نو دا ډیره ضروری نه بریښی چی حیثیت یی د نورو روحانی فرقو څخه په ښکاره توپیر ولری خو هغه وخت چی یو سید د مذهبی شخصیت په څیر څرګند سی ، بیا یی ولس پر نورو په فوقیت او امتیاز قائلیږی .

## میر

د سیدانو یا ساداتو لقب دی چی د سید مترادف دی او په عمومی توګه د نوموړو یا اسماؤ پر سر کی راځی لکه میر احمد ، میر وحید ، میر محمود او داسی نور . همداشانی دغه کلمه د امیر مخففه ده ، چی د پاچا او سلطان په هکله راځی د دغی کلمی د خاصیتونو څخه یو دا ده چی د اضافه کسری په قطع هم ویل کیږی لکه میر آب (د اوبو ویشلو مشر) ، میرشب (د شپی مشر چی د شپی نوموړی کوی) او داسی نور .

# امیر المؤمنین

په لومړي سر کې هغه څوک چې په دې نامه یاد سو، حضرت عمر بن خطابؓ ؤ، او دا لقب خاص د خلافت له پاره ؤ، ځکه د مخه له هغه سعد بن ابي وقاص په دې سبب چې د قادسیې د عسکرو امارت يې چې په هغه کې د مسلمانانو زیاته برخه پکښې شامله وه په لاس کې درلوده او دغه امارت د دې لقب تقاضا کوله نو په دغو موړي لقب یاد یدی.

د دغه لقب د اختصاص سبب لومړي حضرت عمر او بیا نورو خلیفه ګانو ته رسیدلی. هغه وخت چې دوی حضرت ابابکر صدیق ته بیعت ورکړ نو هغه جناب ته يې د خلیفه رسول الله خطاب کاوه، او کله چې دا ابابکر صدیقؓ څخه وروسته بیا حضرت عمر ته بیعت کاوه او هغه يې هم د خلیفه رسول الله په لقب یاد کړ، څرنګه چې د اضافت زیاتوالی او د لقب اوږد والی په تیره بیا چې همیشه د زیاتوب په حال کې ؤ او په ژبه کې د درونډ والي موجب ګرزید نو هغه د مکرراتو څخه صرف نظر وکړ او یوازې (خلیفه) يې غوره کړ او هم څرنګه چې وویل سو د لومړي ځل له پاره حضرت عمرؓ دغه لقب ځان ته غوره کړ، د هغه سبب دا ؤ هغه وخت چې ده جناب ته يې د خلیفه رسول الله په نامه خطاب کاوه ده وفرمایل دا داسې یو کار دی چې اوږد والی پیدا کوي، هر وخت چې یو خلیفه بو په بل پسې راسي نو بايد چې تاسې هغه ته (خلیفه، خلیفه، خلیفه) او هم داسې تر پایه وو وایاست څرنګه چې تاسې مؤمنین یاست او زه هم ستاسو آمر یم نو د هغه وروسته يې د امیر المومنین لقب ځان ته غوره کړ وروسته د نورو خلیفه ګانو له پاره هم دغه لقب استعمال سو. دا لقب تر هغه وخته پورې چې د خلافت دوره ضعیفه کیده او اسلامي هیوادونه په یو او بل نامه سره ویشل کیده عام ؤ او په اخر کې یوازې آل عثمان ته پاته سو. د لومړي عمومي جنګ وروسته چې یو زیات شمیر اسلامي هیوادونه پیدا او ازاد سول دغه لقب د زوال په خواغ ونیوی.

# ملا

یوه عربي کلمه ده چې د (ملئو) څخه اخستله شوې او پر پښتو کې د (ډک) یعنې د علم څخه ډک معنی ورکوي. ځینې لغت پوهان د ملاء کلمه د عربي د (مولاء یا (مولی) کلمې څخه مشتقه ګڼي چې د استاد، معلم او ښوونکي معنی لري. په ترکي ژبه کې هم د ملا کلمه استعمالیږي او داسې ګمان کیږي چې د دواړو اصل به د (مولی) یا (مولانا) د کلمې څخه اخستل شوې وي.

ابن بطوطه د ملا د کلمې د تفسیر په هکله لیکي:

وکان معنا فی المرکب حاج من اهل الهند سیمی یحضر ویدعی مولانا لانه یحفظ القرآن ویحسن الکتاب.

ځینې بیا ملا د دین د عالم په معنی اخلي چې دیني علوم لکه فقه، اصول حدیث، ادب او نور یې زده وي. خو په عامه اصطلاح ملا هغه دی چې لوست کولای سي او لیک نه، یعنې هر زایې په مقابل کې وجود لري چې لیکلای او لوستلای سي.

د دیر، سوات، باجوړ، اتمانخیلو او ځینو نورو قبایلي ملایانو د اهمیت او حیثیت په هکله ویل کیږي:- دا هغه مذهبي خلک دي چې هغوی مذهب خپله پیشه او د ژوند تیرولو وسیله ګرځولې ده، په دې ډله کې تبلیغي طبقې هم شاملیږي چې په بیلو بیلو نومونو یادیږي.

د کلي ملا:- هغه څوک دی چې ساده ژوند تیروي.

پیش امام:- هغه څوک چې په خاص مسجد او جماعت پورې اړه ولري.

د کراماتو خاوند او بزرګ:- هغه څوک چې زیات مریدان او اخلاصمندان ولري. د دوی اهمیت د دوی د کار په څرنګوالي اړه لري، د دې ډلې ځینې زیات بریالي کسان د عام ولس د لیکوا او صفونو څخه راوتلي وي، د مثال په توګه د سوات لوی اخند ګوجر ؤ او مست ملا (سرتور فقیر) دیو بونیر وال ملک زوی ؤ. د دیر، سوات او باجوړ قومونه د لومړي ډول مذهبي

خلکو زیات احترام کوي د دوی د زیارتونو کسانو سره شجرې دي چې مشرانو ته یې د خلکو د نذر په توګه ورکړې دي. د دوی د خپل مذهبي مقام په برکت چې څومره کید لای سي د خپلو ګاونډیانو څخه توپیر لري، خو په نورو حالاتو کې د علاقې د خلکو څخه لږ توپیر لري.

دوهم ډول خلک یعنې د تبلیغ، وعظ او نصیحت والا خلک په دې علاقو کې په زیات شمیر موجود دي، په دوی کې بیا په خاص ډول د کلي په ملایانو او قاضي خیلو کې یو شمیر صحیح مذهبي او د ښه ژوند خاوندان سته خو زیاتره یې مذهبي ملنګان دي چې د خلکو د وهم پرستۍ څخه استفاده کوي او د هغوی په خیراتونو چاغیږي.

طالبان او چړیان زیاتره ځوانان دي چې د مذهبي پیشې د مختارولو فکر لري. دوی د دې علاقو په زیارتونو کې راټولیږي او په ظاهره د مذهبي تعلیم د حاصلولو له پاره په یو یا بل مذهب پورې ځان تړي. د دوی شمیر په کلیو کې د ملایي له پاره د خالي ځایونو یا مربوطو نورو مذهبي چارو تناسب ډیر زیات دي، او دوی مجبور دي چې د ژوند تیرولو له پاره نورې چارې هم ولټوي.

د مذهبي مقام له برکته دوی د عامو خلکو څخه مادي مرستې اخلي او خلک د خپل ژوند د سمون او بریالیتوب له پاره د دوی څخه دعا او مراد اخلي دوی نوی تهذیب او مدنیت غندي، د دنیا او اخرت په بد انګیرنو کې یې شمیري. (۱)

په دې راوروسته پیړیو کې ځینو داخلي او خارجي سیاست پوهانو د خپلو ناوړه هیلو د په سر رسولو په لاره کې د دوی د معنوي اقتدار او ملي نفوذ څخه په

---

(۱) *Report on the tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman khel and Samranzia.*

*by:*

*Captain A.H Mecmahon* — *1901-4 April*

خپله گټه کار اخستی او په پوره او بل نامه یې استعمالول هغو ملایې موسسو او انجمنو ته چې دولتی مالی مرسته نه رسیدی د دولت له خوا څخه په ضمنی توګه اجازه ورکول کیده چې د خپلو مالی او تبلیغی اړتیاؤ د رفع کولو له پاره په لاس زمو وختو کی د معتقدیانو او مستعد و خلکو څخه نقدی او جنسی مرستی په لاس راوړی او د داسی چار و د تنظیمولو له پاره دوی په خپلو منځو کی تشکیلات او تولنی درلودی چې د ملا جرنیل تر قوماندی لاندی به یې اجرا آت کول او کله کله به یې د شریعت د برپا یه کولو په نامه د مکافاتو او مجازاتو وظیفه د حکومت څخه هم اخسته او حکومتونه به یې چلینجول .

په افغانیت کی چې مذهب مهم عنصر جوړوی ، نو د مذهب علمبرداران چې ملایان او طالبان دی د دوی د اجتماعی او قومی نظام په پرتله کولو سره زیات اهمیت لری او د انبیاؤ وارثان ګڼل کیږی ، دوی وایی که ملایان او طالبان نه وای په حرام او حلال ، دموړ ، پلار ، خوړو رو په حقوقو او امتیازونو به موږ چا خبر ولای ؟ . ملا د (۲۴) ساعتو په موده کی دنوی دنیا ته راغلی کوچنی په سنی غوږ کی اذان کوی ، تشرح پر وایی او کله د تبرک له پاره مذهبی نوم پر ایږدی ، دوی د سنتیو ، نکاح او نورو بنادیو په مراسمو کی دخیر او دعا لاس پورته کوی . د مسجد او جماعت مراقبت او امامت کوی ، د ناجوړ پر زکندن یاسین وایی مړی ته غسل او لمونځ ورکوی ، قبر ته یې سپاری ، د ګناهونو د مغفرت او عفو غوښتنه کوی .

دځینو ملایانو مذهبی نفوذ او اجتماعی حیثیت نه کله ، کله بدایان او دولتی واکداران هم متوجه کیږی او هغوی د خپلو سیاسی چارو د پرمخ بیولو له پاره د دوی د مذهبی او اجتماعی نفوذ څخه کار اخلی .

تقریباً دوی پیړی د مخه په افغانی دربارونو کی به ملا د ملا باشی په نامه یادیده چې د ملایانو او پاچا تر منځ یې مذهبی او ملی علایق ساتل ، د پاچا امام یا پیش نماز په لمانځه کی امامت کاوه ، امام باریکاب په سفرونو کی د پاچا

ملګري ؤ. ملایانو ته چې نقده او تقاعدي معاشونه ورکول کیده دهغو تیول اسناد او نقلونه په شیخ الاسلام ساتل، دپاچا د جماعت امام به د جمعې په ورځو او اخترونو کې لمونځ ورکاوه، دپاچا د جماعت دوهم امام به له پورتنیو ورځو پرته په نورو عادي ورځو کې امامت کاوه، خطیب ملا به په اخترونو کې له ښار څخه دباندې په عیدګاه کې د امامت وظیفه اجرا کوله.

د افغاني ټولنې په عادي او ورځنی اجتماعي چارو کې (بیله مهمو ملي او سیاسي موافقو) ملایان او طالبان که به چا تحریک نه کړل حسب معمول به یې په ولسي معاملو کې برخه نه اخسته او کله به یې د برخې اخستلو او زابللو احساس پیدا سو دوی به د ملي او مذهبي شعایرو او عامه وطنوالو دخوښې او مراجعې له مخې دهغو ټولو طبقو او اقشارو د ملي مبارزو په سر کې درېدل چې جهاد ته به یې را دانګلي وو. او د ولس او ملي مجاهدینو د شرعي قیادت او امامت افتخار به یې حاصلاوه، ترڅو چې به د هیواد د امنیت، استقلال او خاورې د تمامیت ساتلو وظیفه څرنګه چې ښایي نه وه په سر رسولې خپلې دغې وظیفې ته به یې په ډیره ایمانداری، میړانې او فداکاری دوام ورکاوه او کله چې به یې دغه مهمه او خطیره دینه وظیفه د خدای او د خدای د مخلوق د خوښې سره سم انجام کړه، سیاسي اداره به یې بیرته ولس ته سپارله او دوی به خپلو ښوونیو وظیفو ته ستنیدل، داځکه چې دوی په سیاسي اولس لوچارو لګیا کیدل د خپل مقام او اجتماعي حیثیت اهانت او سپکاوی ګاڼه، او که به د دوی څخه چا احیانًا د سیاسي اقتدار او هوا او هوس د غریزې د تامینولو له پاره په مبارزه لاس پورې کاوه پیغور به ورکول کیدی او دعنعوي سیاسي او اقتصادي نفوذ د خاوندانو په واسطه متهمیدل او په ټول، ټول نوطئو او دسیسو به له منځه وړل کیدل. چنانچه په دې را وروستي پیړیو کې د هیواد د خپلواکۍ، دخاورې د تمامیت او ملي خود ارادیت ملي مبارزین لکه ملا میر واعظ، ملا دین محمد مشک عالم، ملا عبد الغفور لنګري، او نور ولیدل سول چې څرنګه د پردو د

گوند اگیانو او د سیاسي چوکې د خاوندانو له خوا څخه له منځه یوړل سول.
د (۱۳۵۷ هـ ش) کال په ملي معرکو کې چې د وي د هیواد د نجات او د روس د یرغل پرشا تمبولو او ماتولو له پاره د فی سبیل الله جهاد په عزم د ملي مجاهدی میدان ته راودانګل او د افغانستان وفا شعار ملت هم په میړانه او هر ډول ځاني او مالي قربانیو د هغوی په حمایه ته رشاو درید، او په نتیجه کې هیواد د خارجي یرغل او داخلي ظلم او فساد څخه نجات وموند، د اخلي یا د حکومت د واک سپارلو په هکله په دې نسبت هغه پخواني عنعنه او د تفکر طرز و نه پالل چې ملي مفیدیت او اجتماعي ګټه یې زیاته نه وه منصوره، او یو شمیر غیر مستحق او هفت خوره عناصر و ته د هیواد د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي چارو واک سپارل په دې صورت چې دوی د وطنوالو د فکري او اجتماعي وروسته پاته کیدلو له نقیصې څخه د ځان په نفع سوء استفاده وکړي او ملي شتمنې حیف او میل کړي یو نه بخښیدونکې ګناه تلقي کیده. نو ځکه و نا اهلو او تجربه سوو عناصر و ته د سیاسي اقتدار سپارلو پر سر د ملي مجاهدینو او تیار خورانو ترمنځ اختلافو نه پیښ سول، او د دغو اختلافو د تازه کولو او پیاوړې کولو له پاره د وطن خارجي دښمنانو او داخلي غنیمت خوښونکو ته د مستقیمې او غیر مستقیمې ناوړې مداخلې زمینې برابرې سوې څو اوس یې د وطن هر څه د ویرانۍ او نورو خاورو سره برابر کړي او د حل لارې چارې بې ترلې دي. یو شمیر متفکرین زموږ د هیواد د سیاسي لانجې د حل او فصل کولو له پاره او س داطرح وړاندې کوي چې باید موږ د دین او دنیا د چارو په منځ کې په یو ډول توپیر قایل سو سیاست او مذهب سره بیل کړو د سیکولرزم د مفکورې طرفداري وکړو، ځینې بیا دغه طرح په شدت ردوي او وایي چې په اسلام کې امامت او امارت نه دي سره بیل سوي او یو ښیر او جهان شمول دین دی چې د بشري چارو د تنظیم او نیکمرغې ټولې چارې په لاس کې لري او هغو کسانو ته د مسلمانانو د امامت او امارت چارې سپارې چې تر نورو په دیني علومو کې ملا او د تقوی او مجاهدی ښیګڼې ولري.

# د پروفیسور برهان الدین لنډه پیژندنه

ده د محمد یوسف تاجك زوی دی چی په (۱۳۱۹ هـ ش) کی د بدخشان ولایت په فیض آباد کی زیږیدلی دی. ربانی په (۱۳۲۶ هـ ش) کال کی د فیض آباد په منځنی ښوونځی کی داخل سو د فراغت د سند د حاصلولو وروسته په (۱۳۳۵ هـ ش) کی د دینی علومو د زده کړی په سابقی سره کابل ته ولاړ او د ابوحنیفه د مدرسی په نهم صنف کی چی په هغه وخت کی د شرعی دار العلوم په نامه یادیده شامل سو. دی په (۱۳۳۸ هـ ش) کی د دغی مدرسی د دولسم صنف څخه په لومړی درجه فارغ التحصیل سو او په (۱۳۳۹ هـ ش) کال کی د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځی کی شامل سو او په کال (۱۳۴۴ هـ ش) کی د څلور کالو تعلیمی دوری وروسته یی په عالی الاعلی درجه د دغه پوهنځی څخه لیسانس په لاس راوړ او د شرعیاتو په پوهنځی کی د استاد د مرستیال او استاد په حیث په وظیفه وټاکل سو.

استاد برهان الدین (ربانی) په (۱۳۴۵ هـ ش) کال کی د لوړو تحصیلاتو له پاره مصر ته ولاړ او د الازهر د پوهنتون څخه یی په فلسفه او کلام کی ماستري په لاس راوړه، ده د دکتورا له پاره د الازهر په پوهنتون کی نوم ثبت کړ او د دکتورا د رسالی نوم یی (د عبد الرحمن جامی د ژوند او علمی او فلسفی اړخونه) وو. استاد وطن ته په راړسیدلو سره د شرعیاتو په پوهنځی کی د فلسفی په تدریس لګیاؤ، او د ادبیاتو په پوهنځی کی یی تدریس ته دوام ورکاوه. استاد برهان الدین (ربانی) د کابل پوهنتون د څیړنو او ریسرچ په ډیپارتمنټ کی غړیتوب درلود، او په دغه موده کی یی ځینی رسالی ولیکلی چی د (تیوری سیاسی اسلام) او (تشریح عقاید معتزلی) په نامه یادیږی استاد په کال (۱۳۴۹ هـ ش) کی د دریو میاشتو له پاره د علمی پلټنو په خاطر د انقري پوهنتون ته سفر وکړ چی په دغه موده کی یی ترکی ژبه هم زده کړه.

د استاد د لیکوالی دوره د (۱۳۳۶ هـ ش) څخه د مخه شروع کیږی، د بدخشان

د ورځپاڼې شخه راواخله تر اصلاح ، انیس ، پیام حق ، لمر ، الفلاح عرفان ، ادب ، ژوندون ، شرعیاتو تر مجلو او ګڼېځ تر جریدي او راډیو پورې لیکنې رسیدلې وې ، استاد په (۱۳۴۹ هـ ش) کال کې د شرعیاتو د مجلې مسئول مدیر وټاکل شو .

او د پوهاند غلام محمد نیازي تر لارښوونې لاندې یې د اسلامي تحریک د پیاوړي کولو په لار کې زیاتې مجاهدې کړې دي او د دغو مجاهداتو قدرداني له کبله په کال (۱۳۵۱ هـ ش) کې د پوهاند غلام محمد نیازي په پیشنهاد او د اسلامي شورې د تائید له مخې د جمعیت اسلامي امیر وټاکل شو . استاد برهان الدین رباني د سردار محمد داود د کودتا (۱۳۵۳ هـ ش) وروسته چې د ده د نیولو امر هم صادر سو پیښور ته مهاجرت وکړ ، د خلقي انقلاب وروسته یې د هیواد څخه د روسانو په استلو او اسلامي حکومت د تاسیسولو په هلو ځلو کې فعاله ونډه واخسته او د (۱۹۹۲ م) د اپریل د (۲۴) د تنظیمونو ترمنځ د پیښور د معاهدې (۱۵/۲/۱۴۱۳ هـ ق) د موافقې د لومړي مادې له مخې د حضرت صبغت الله د دوو میاشتو د انتقالي ریاست جمهوري د اشغالولو وروسته د څلورو میاشتو له پاره ده ته د افغانستان د اسلامي موقت دولت د ریاست او د رهبري شورې مشرتوب وروسپارل سو ، تر دغه وخته پورې چې دا کتاب لیکل کیږي په کابل کې د افغانستان د اسلامي حکومت د رئیس په حیث بیله هغه چې د هیواد د جنوب لویدیځ ، شمالي او ختیځې سیمې یې تر لاس لاندې وي ، یوازې په کابل کې په نامه نهاد دول د جمهوري ریاست پر چوکۍ پاته سوی او د تنظیمي جنګونو د دوام له کبله ټول فرهنګي او اقتصادي موسسات له منځه تللي او د اوسیدونکو زیاته برخه یې مړه ، زخمي یا مهاجر سوي دي او څه چې پاته دي په لوږه ، نارو غتیا او فلاکت شپې او ورځې تیروي .

د استاد برهان الدین ربانی مشهور آثار دا دی:
په عربي ژبه د اسلام سیاسي تیوري، په عربي ژبه د معتزله عقایدو تشریح، در سایه های قرآن مجید (ترجمه)، نشانهای راه اسلام و کمونزم، فاجعه (۲٦) سرطان و سیمای زعامت داودخان، داودخان در گذشته ننگین، حاضر جنایت بار، مستقل هولناك، چه نوع مبارزه پیغام شهید، اصول بحث و تحقیق از نظر اسلام، اصول تربیت اسلام تربیت یافتگان مکتب اسلام، اموختني ها در مسیر انقلابي.
استاد په دري، پښتو، اردو، عربي، انګلیسي او ترکي ژبو پوهیږي او متاهل دی لوڼې او زامن لري

# انجنیر ګلبدین حکمتیار

نیمه پیړۍ د مخه د انجنیر ګلبدین حکمتیار پلار عبد القادر د خپلې کورنۍ د نور وغړو سره د غزني ولایت د سر روضې د سیمې څخه د کندز د امام صاحب ولسوالۍ ته راکډه سوی او خپله انجنیر صاحب حکمتیار په کال (۱۳۲۷ هـ ش) کې په همدغې ولسوالۍ کې زیږیدلی دی.
حکمتیار صاحب په کال (۱۳۳۴ هـ ش) کې د امام صاحب په لومړنۍ ښوونځي کې شامل او په (۱۳۴۰ هـ ش) کې ځنې فارغ سوی او په همدغه کال کې د کابل د ماهتاب کلا په حربي ښوونځي کې داخل سوی او تر اتمې ټولګي پورې یې درس لوستی او څرنګه چې یې د اجتماعي مسایلو او سیاسي جریانانو په هکله ځان ته د تفکر طرز درلود او عسکري نظم او نسق یې د ژوند انداز و ضع سره سر نه سو خوړلای، نو ځکه یې هغه ښوونځی پریښود او بیرته کندز ته راغی او د کندز د شیرخان په لیسه کې یې تر (۱۳۴۴ هـ ش) کال پورې خپلو تحصیلاتو ته دوام ورکړ او په (۱۳۴۲) کال کې یې د هغې لیسې څخه د بکلوریا شهادتنامې په حاصلولو سره د انجنیرۍ په فاکولته کې شامل سو.
په (۱۳۴۸ هـ ش) کال کې چې د رخصتۍ په دول د امام صاحب ولسوالۍ ته راغی ده

د هغې ولسوالی په مسجد جامع کې یوه انقلابي او د اجتماعي او سیاسي اصطلا حاتو د که بیانیه ایراد کړه چې سمد ستي و نیول سو او تر یوې میاشتې پورې نظر بند غورځنډی پاته سو.

په کال (۱۳۴۹ هـ ش) کې چې د اسلامي نهضت د جوانان مسلمان د ځانګړي مشر پوهاند عبد الرحیم نیازی وفات سو د دغې برخې د چارو د ښه تنظیم له پاره یوه اجرائیه شورئ وټاکله سوه چې د نوموړې شورې فعال غړیتوب هم پیا حکمتیار صاحب ته پاته سو، دغې شورئ د خیاباني مظاهرو، غونډو او کنفرانسونو د تند و بیر ولو او د پوهنتون په ساحه کې د اسلامي نهضت د انقلابي افکارو په خپرولو سره فعاله برخه درلوده، حکمتیار صاحب پرې سربیره چې د جوانان مسلمان د اجرائیه شورئ غړي و، د کابل د پوهنتون د محصلینو د اتحادیه د موسسانو د شورئ غړیتوب هم درلود په (۱۳۴۹ هـ ش) کال چې د خلقیانو او اسلامي تحریک یا اخوانیانو تر منځ مخامخ مقابله او لاس وګریوان جنګ شروع سو حکمتیار صاحب د خپلو یو ولسو ملګرو سره سخت و ډبول سو او ټپي سو، د همدغو فعالیتونو او جانفشانیو په بدل کې په (۱۳۵۱ هـ ش) کال کې د محصلینو د اتحادیه د اجرائیه شورئ په غړیتوب وټاکل سو او د پوهنتون په انتخاباتو کې د خپلو مخالفینو په مقابله کې په استقامت او متانت ودرید.

حکمتیار صاحب د (۱۳۵۱ هـ ش) کال د مظاهرې په اثنا کې د شعلیانو سره په یوه برخورد کې د سید ال سخندان د وژلو په اتهام یو نیم کال بندي سو، د سردار محمد داؤد په جمهوریت (۱۳۵۳ هـ ش) کال کې حکمتیار صاحب تر سخت فشار لاندې و نیول سو او پېښور ته په مهاجرت مجبور سو. ده په همدغه کال د خپلو یو شمیر ملګرو سره و پتېیله چې بیرته افغانستان ته راسي او د سردار محمد داؤد د رژیم په ړنګولو کې فعاله برخه واخلي. په دغه پلان کې حکمتیار د پکتیا او احمد شاه مسعود او ملګرو یې د پنجشیر ولسوالی ځینې سیمې و نیولې، خو د دوی د غه پلان د عسکري نظم او نسق او جنګي کافي

وسایلو د نه درلودلو له کبله شنډه او ناکامه سوه او یو پر بل د پړې اچولو په نسبت په ده کې انشعابونه په وجود راغله حکمتیار صاحب د (۱۳۵۷هش) خلقي انقلاب د ناکامولو او رسواکولو په لاره کې د افغاني مجاهدینو په میړانه او سربښندنې ځینو ګاونډیو مسلمان هیوادو نو او غربي هیوادونو په مرسته د خپل هیواد څخه شوروي یرغل پرشا وواهه او په (۱۳۶۷هش) کال کې شوروي مجبور سوې بیله قید او شرطه د افغانستان څخه ووزي او د (۱۹۹۳م) کال د اپریل په (۲۴) د تنظیمونو ترمنځ د پېښور د معاهدې د متن د پنځمې مادې له مخې به د صدارت مقام د افغانستان اسلامي حزب یعنې حکمتیار صاحب ته سپارل کیږي همدا شانې د جلا ل آباد د فیصلې له مخې هم د صدارت مقام د اسلامي حزب ته ورکړل سوې ؤ خو حکمتیار په خپل وکالت استاد فرید د کابل د صدارت چوکۍ ته واستاوه اودی د نامه پرته بل څه موجود نه ؤ ، د دغو وقایعو په نسبت د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمنځ شدید جنګونه پیښ سول او د کابل ښار د خاوره او ایره سره برابر سو د اوسیدونکو زیاته برخه یې هره یا هپیان او یا مهاجر سول.

سږ کال (۱۳۷۵هش) د جوزا د میاشتې په پای کې د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمنځ د قاضي حسین احمد په وساطت بیا ائتلاف راغی او فیصله وسوه چې د صدارت او د فاع وزارت چوکۍ به حکمتیار صاحب ته ترهغو چې د انتخاباتو د لارې ائتلافي حکومت جوړیږي سپارل کیږي وکتل سي په کوم اطمینان او تشریفاتو حکمتیار صاحب کابل ته را داخلید لای سي.

حکمتیار صاحب د خپلې مجاهدې په لومړنیو پړاوونو کې قاطع، صریح او سخت انقلابي مجاهد شخصیت درلود، او د جهاد معرکو ته یې په بې امانه او زیاتي میړانې ور ودانګل او د هیڅ ابرقدرتونو او داخلي دول دول لانجو څخه یې سترګه نه کول، د افغاني احساساتو په نسبت بې مذهبي احساسات پسیاوړي ؤ، خو اوس حوادثو او د زماني دندو او سړو

او واقعیتونو داوړ وښود له چې باید د دلخواه چناق ګتلو څخه صرف نظر وسي او د انعطاف پذیري او مهربانی له مخې دهیواد د امن او صلح راوستلو په مجاهدو کې څرنګه چې ښایي برخه واخلي او لکه چې لیدل کیږي همدا سي ده دېخوانیو او اوسنیو سیاسی موقفو او طرز العملونو ترمنځ یې د ځمکې او اسمان توپیر ستر.

دانجنیر ګلبدین حکمتیار مشهور آثار دادي:

جنګ از دید ګاه قرآن، معلم یاد فکري سنګر قوماندان، حقیقت نفاق از دید ګاه قرآن، اسلامي امت جوړ کړي، تقدیم شعور بر ماده، د اسلام سیر برهوته د رسیدو لاړ، همغه د اسلام تاریخي لاره ابراهیم در ازمون خدا، درسی از عاشوراي حسین تقلید قرآن، ویژګیهای صف اسلامی، تجلی ایمان در قول و عمل، عروج ونزول بنی اسرائیل د انقلاب دري مهمې قضیې او زموږ دریځ، جهان بیني توحیدي، مسئول قوماندان ته خطاب، خندق داران آتش، دا د کابل غم ولې، فکر آخرت حل سیاسی، تقاضاي ایمان و پاسداری از آن، سید احمد شهید بریلوي، موالات او نور.

## ملا محمد عمر مجاهد (امیر المومنین)

ملا محمد عمر مجاهد د افغانستان د کندهار د پنجوائي د ولسوالی د سنګسار د کلي د هغو مجاهدینو له جملې څخه شمیرل کیږي چې خپلې مجاهدې ته یې د افغانستان څخه د روسانو تر وتلو پورې دوام ورکړي و. وروسته چې جهادي تنظیمو نو په کال (۱۳۷۱ هـ ش) د ثور پر اتمه د هیواد سیاسي اقتدار په لاس راوړ او د دوو کالو په ظرف کې یې عمومي امنیت او اسلامي شریعت نه سو برقرارولای نو ده یوځل بیا د خپلو محدودو ملګرو سره په وطن کې د مسلمانانو وږو نو د وینې تویېدلو د بندولو ظلم او نا روا، فسق او فجور د له منځه وړلو په هیله په کال (۱۳۷۳ هـ ش) د میزان په میاشت کې د مجاهدی او مقابلې میدان ته

راودانګل او په خپلو جمیله مساعیو او فداکاریو یې د هیواد د لویدیځ او جنوب ښارونه او حساسې ستراتیژیکې نقطې تر خپلې سلطې لاندې راوستې، د عمومي خلع سلاح راوستلو ننګ او ناموس ساتلو په مکافاتو کې د (۱۳۷۵هش) کال د جوزا په میاشتې کې په هغې غونډه کې چې د افغانستان د یو شمیر زیاتو علماؤ، صلحاؤ او مجاهدینو په ګډون په کندهار کې د پنځو ورځو له پاره دوام درلود د دغې غونډې د اختتامیه او قطع نامې د صادرولو په نتیجه کې ده ته د امیرالمؤمنین او د طالبانو د اسلامي نهضت د قیادت افتخاري لقب ورکړ سو.

ملا محمد عمر مجاهد امیرالمؤمنین او ملګري یې وایي: تر څو په افغانستان کې عمومي امنیت او خلع سلاح په وجود نه وي راغلې، د تنظیمونو په زور او خدعې حکومت ظلم او ناروا ته خاتمه نه وي ورکړه سوې، د ټولو هغو تبعیضونو او امتیازاتو لکه قومي، ژبنی، منطقوي، اشرافي او بیوروکراتیک پرېبل د لوېي کولو او امتیازونو غوښتلو ریښې چې د دغو په واسطه سره د مسلمانانو او افغانانو په منځ کې د وروګلوي او مساوات مزې ضعیفه کیږي نه وي ایستل سوي، او دیو مسلمان او رښتیني افغان په نامه د ټولو حقوق او صلاحیتونه د اسلامي شریعت او قرآني محتوا له مخې نه وي خوندي سوي، دوی به د خپلې مجاهدې او تلاښ څخه لاس نه اخلي.

ملا محمد عمر اخند مجاهد امیرالمومنین په ختنه هوتک او په سن (۳۴) کلن ځلمی نري سړي معلومیږي چې چپه سترګه یې په جهاد کې په شهادت رسیدلې ده، دی متاهل دی خو اقتدار او سیاسي قیادت یې د طالبي د ژوندانه په سوبې او سلیقې کې تر اوسه دویلو ورنو پیرنه دی راوستی.

# میا (میان)

دغه یوه هندي کلمه ده چې څانته د تعظیم او احترام له پاره استعمالیږي. په ترکي ژبه کې یې (آقا) په فارسي ژبه کې یې (خواجه) په عربي ژبه کې یې شیخ) په توراني ژبه کې یې (ایشان) په کشمیري ژبه کې یې (جو) معادل دی. د مثال په توګه: احمد جو، محمود جو، ستار جو یعنی احمد آقا، محمود آقا، ستار آقا. په هندي لغت کې د لوی په معنی چې مقابل یې کوچنی دی هم راځي میان :- د هرشي منځ، وسط او مابین ته هم ویل کیږي لکه فارسي کې، میان مجلس، میان شهر. دا بیت یې ښه مصداق دی.

میان عالم وجاهل تفاوت این قدر است
که این کشیده عنان باشد آن گسسته مهار

افغاني یا پښتني میاګان د هغو پخوانیو بزرګانو او مذهبي مشرانو اولادونه دي چې په ټولو قبیلو کې یې احترام لازم ګڼل شوی دی. د تو بزرګانو اولادونو ته (میا، میان) نوم ویل کیږي. د مثال په توګه د سوات اخند په دې طبقه کې نه راځي، د هغه اولاد ته میان ګلان محض د احترام له پاره ویل کیږي هغوی په اصلي معنی صرف اخند زادګان دي که چیرې د اکوړي خیل روحاني موقف یا ریکارډ وساتي، نو امکان لري چې د راتلونکي وخت د اولادونو څخه یې میاګان جوړ سي. قریشیان هم د میاګانو څخه ګڼل کیږي.

میاګان په عمومي ډول سپینې جامې چې د صلح او پاکۍ سمبول دی اغوندي نرم او کرار، کرار، وغیږي او موقر پرلاري ځي، څرنګه چې د کسبګرو او خوارې کښنو له جملې څخه نه شمیرل کیږي، نو ډیر ځله غوښن، پاک او له جسمي پلوه مروچ کسان څرګندیږي، دوی د افغانانو مخصوص قبایلي مناسباتو کې بې طرف او خیرخوا موقف اختیاروي غیر مسلح ګرزي او د صلح او سلم طرفداران وي.

په هغو سیمو کې چې ملایان لږ وي دوی ځیني دیني او مذهبي مراسم

لکه په (۲۴) ساعتونو کې د نوي زيږيدلي وړوکي په سنې غوږ کې اذان کول د معمولي او مهمو ناروغيو د تداوي له پاره تعويزونه ورکول د نکاح دخطبې ويل، او په قومي روغې جوړې کې ګډون کول او دعا کول او داسې نور اجرا کوي. خو په قبايلي نظام دود او دستور کې د سياسي مشرتابه او قيادت حق نه ورکول کيږي او ډېر استثنايي جهات به ولري که ور ورسيږي. مياڼه دي پوه وي چې دي د کسبګر ډلې له يوه غړي څخه لوړ اجتماعي موقف لري او په ځينو قبايلي سيمو کې چې دود او دستور کمزوري سوي وي او خلک لږ د ميا او سيد ته پير کولای سي، دوې د قبايلي خانانو ترمراتبو او قبايلي اصالتونو سره که ځان لوړ ونه ګڼي خو مساوي او برابر يي حتمي ورسره ګڼي او کله، کله په غير مري توګه ځانونه د سيدانو او اصيل زادګانو په رديف کې هم راولي او که څوک يې د پاچا، آغا په نامه ونه بولي خوابي بدېږي د افغانانو ځينې قبايل و مياګانو ته سخته عقيده لري او د دوي دازار او بد دعا څخه ځانونه ساتي لکه چې دغلجيو د پاچاهي زوال د ميا عبدالحکيم کاکړ او مومند د رياد نسب زوال او د موسی دنسب عروج د مياګانو د ښيرا له جهته ګڼي.

**ميان**:- د هميان د مخفف په معنی هم استعمال کيږي چې هغه يوه کڅوړه او يا هميان ده چې سره زر پکښې ساتل کيږي.

## شيخ

په اصطلاح کې هغه چاته ويل کيږي چې د پوخ عمر خاوند وي، پوهاند، د قوم او کورمشر، د امت مشر، د شيخانو مشر، د خانقاهو او مساجدو مشرته هم شيخ ويل کيږي. د فقې په اصطلاح کې هغه چا ته شيخ ويل کيږي چې د حديثو په رواياتو کې استناد باندي کيږي، په تصوف کې هغه چاته شيخ ويل کيږي چې په شريعت او طريقت کې کاملي درجې ته رسيدلی وي، په عرفاني عالم کې داعقيده موجوده ده چې شيخيت په حقيقت کې د الله تعالی په اراده د حضرت محمد(ص)

د روحانیت له حضوره تائید سوی دی او د نیابت مقام لري.
په تصوف کی د شیخ (پیر، مرشد) معنوی مقام د پیغمبرانو تر مقام لاندی و هر د ولو مقام ته رسیدلای سی.

## میرا

دغه کلمه د میر، الف ښځه جوړه سوی ده چی د هرهغه شی له پاره چی په هرڅه مربینی محکوم سوی وی راځی.

## مولوی

دغه کلمه د مولا سره نسبت لري چی د خدای په معنی استعمالیږی د نسبتی (ی) په مونښلولو سره هغه الف چی رابع وی په (واو) بدلیږی، ځکه د الردی جمعه چی مقصور الف د دری حرفی او څلور حرفی کلمی په پای کی د نسبت په وخت کی په (واو) بدلیږی د کرم او مکارم مرتبی ته رسیږی، لکه مولوی صاحب کیږی، همداشانی دغه یولقب دی چی لویو پوهانو ته ورکول کیږی، د هندیانو په اصطلاح لوی او متبحر عالم ته هم ویل کیږی.
مولوی، مولویه: — د مولوی طریقی درویشانو ته چی لوی د کراستی خولی یی پر سروی هم ویل کیږی، دغه د تصوف یوه طریقه ده چی د بلخ د مشهور عارف صوفی او شاعر جلال الدین محمد بلخی مشهور په رومی ته منسوبه ده، او دی هم په خپله په دغه لقب یادیږی.

## اخوند (اخند)

دغه کلمه شاید د آغا او خوندګار د کلمی مخففه وی چی د خاوند او صاحب په معنی استعمالیږی، همداشانی اخوند، ملا، عالم او پوهاند ته هم ویل کیږی مخصوص هغه ملا او طالب چی د کوچنیانو د ښوونی او روزنی د چارو سره یی سر و کار وی.
په دری ژبه کی د (اخندبازی) اصطلاح شرعی حیلی ته لاس اچونه وایی لکه چی په دی بیت کی راغلی دی:

اخوند نه باشد، درد و غم گفتن
کسی را که بیمار نیست بالقاء بیمار کردند

اخوند په افغانی ټولنه کی د احترام و ړ مقام لري، ځینی و ختونه دوی ته پیرزادگان هم و یل کیږي، دوی د هغو بزرگانو اولاده وه چې دیوی قبیلې په سطح یې شهرت حاصل کړی، نو ځکه په قبایلی سیمو کی د خال او بنار اخند زادگان، د دیر د مایار اخند زادگان، د جندول د بمبولی اخند زادگان، د سوات د ادینزو اخند زادگان او د اسې نور زیات مشهور دی همداشان د ملا مشك عالم اولادی ته هم اخند زادگان و یل کیږي، ځکه ملا مشك عالم اند ړ خپله اخند زاده ؤ، که د اسې نه وای، نو هغو ته به محض صاحبزادگان و یل کیده . (۱)

## صاحبزاده

دغه کلمه افغانان د هغه چا له پاره استعمالوي چې سید، میر او خواجه نژاده نه وی خو د پلار او نیکه څخه د افغانانو په منځ کی په صاحب حالی مبنه سر یتوب، ذکر او خدای دوستی شهرت ولري .
صاحبزادگان په افغانانو کی د احترام و ړ معنوي مقام لري، دوی د هغو ملایانو اولادونه دی چې په علم او بزرگی کی یې شهرت موندلی وی چې په دغه لړ کی په کندهار کی د نور صاحبزاده، د ماڼکي ملا، د هډی ملا، د کربوغی ملا او د اسې نور په صاحبزادگانو مشهور دی، د دی مذهبي طبقې له پاره ضروري نه ده، چې دوی دی د کار و بار په لړ کی په مذهبي چارو بنڼه لي وي. د دوی لن شمیر په ټولنیځو چارو او معاملو کی اړ یکی ساتی د هغو پیشه او کار و بار د خلکو په نظر کی د هغوی

---

(۱) د میکمهن او رمزی د راپور څخه .

مذهبی مقام دېر لږ تر تاثیر لاندې راولي.

# استخاره

په لغت کې نیکي او خیر غوښتنې ته وایي، او استخاره یو مسنون کار دی چې حضرت پیغمبر (صلی الله وسلم) په واسطه مسلمانانو ته لارښووونه کوي. هغه وخت چې یو مسلمان دیوې چارې د کولو او یا نه کولو په هکله متردده او دوه زړه وي چې وې یې کړم یایې و نه کړم نو استخارې ته اړ وزي، هغه د شپې تر ویدېدلو دمخه دوه رکعته نفلي لمونځ کوي او د استخارې دعا وایي او بیا ویدېږي، ډېر یقین دی چې په دې وسیله د استخاره کونکي له پاره د خیر او لارښوونې دروازه خلاصېږي او تردد یې رفع کېږي.

# استغفار

د زړه د خیرې د لیرې کولو، لویه آله ده. حضرت پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:

زه د ورځې سل، سل ځله استغفار وایم.

# فقیر

د صوفیانو په اصطلاح د غیر څخه بې نیازه او بې توقع او د دنیا د مال او متاع څخه بیگانه چاته وایي، خو په فقه شریفه کې فقیر هغه چاته ویل کېږي چې د هغه سره د دنیا د مال او متاع څخه هیڅ شي ورسره نه وي او د فقیر جمع فقراده د اسلامي قانون له مخې فرضي صدقه یوازې فقیرانو او مسکینانو ته ورکول کېږي. البته نفلي صدقې او خیراتونه پر

غیر مسلمانانو هم روادی لکه چې فرمایي:
تصدقوا علی أهل الادیان کلها.
د مسکین جمع په مساکین کیږی اوهغه چا ته ویل کیږی چې دهغه سره د ضروري حاجتونو د رفع کولو څه شي موجود نه وی او یا داچې دهغه سره د نصاب لږ شي وي، یعنی هغه څوک چې دومره مال ونه لري چې زکوة پر فرض سي او ده ته د فرضي صدقې اخستل روادی. هغه څوک چې د نصاب خاوند نه وي خو صحتمند، قوی او د کار او ګټې وس ولري او دبوي ورځې دګذارې مصرف ورسره وي که څه هم زکوة ورکول ورته جایز دی، خو ده او ورته روا نه ده چې ګرځي او دخلکو څخه فقرا و سوال کوي.
ابي هریره (رض) دحضرت رسول الله څخه داسې روایت کوي:
قال والذی نفسي بیده لان یاخذ احدکم حیله فیحتطب علی ظهر خیرله من ان یاتیي رجلاً فیساله اعطاه اومنعه (١)
مختصر صحیح البخاري، حدیث ۷۴۸ - صفحه ۱۷۳
ترجمه:- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:
زما دی قسم وي په هغه ذات وی چې زما نفس دهغه په قبضه کې دی چې یو ستاسو څخه خپله رسۍ راواخلي او په خپله شاباندې لرګی راوړي (خرڅ یې کړي) دا ددې له پاره خیر دی چې راسی دیو چا څخه سوال وکړي او هغه یې ورکړي او یا یې ورنه کړي. (١)

(١) په اسلام کې دانسان حقوق - ډاکټر علی عبدالوافی - ترجمه صفحه ۲۴

# ماخذونه

| شماره | د کتاب نوم | مولف |
| --- | --- | --- |
| ۱ | جستجو در تصوف اسلامی | عبدالحسین زرکوب ۱۳۵۷هش |
| ۲ | سلك السلوك | ضیاء الدین نخشی |
| ۳ | رساله مراقبه | سید محمد گیسودراز حیدرآباد دکن ۱۳٦۰هق |
| ۴ | خزینة الاصفیا | مولوی غلام سرور کانپور ۱۹۰۲م |
| ۵ | تذکره علمای هند | رحمان علی لکنهو ۱۹۱۴م |
| ٦ | تاریخ فرشته | ملا محمد قاسم هندوشاه کانپور ۱۳۰۱هـ |
| ۷ | سماع در تصوف | داکتر اسماعیل حاکمی ۱۳۵۹هش |
| ۸ | شجره طیبه قادریه محمودیه | |
| ۹ | تبصرة الاصطلاحات الصوفیه | سید اکبر حسینی ۱۳٦۵هش |
| ۱۰ | تاریخ تصوف در اسلام | داکتر غنی ۱۳۴۰هش |
| ۱۱ | چگونگی گسترش اسلام | توماس ارنولد (ترجمه) ۱۳۵۷هش |
| ۱۲ | اسلام و حقوق بشر | زین العابدین قربانی |
| ۱۳ | اللمع | علی بن سراج طوسی ۳۷۸هق |
| ۱۴ | رساله قشیریه | ابوالقاسم قشیری متوفی ۴٦۵هق |
| ۱۵ | طبقات صوفیه | عبدالرحمن سلمی |
| ۱٦ | منازل السائرین | ابواسماعیل عبدالله بن محمد انصاری متوفی ۴۸۱هـ |
| ۱۷ | اصطلاحات | محی الدین عربی متوفی ٦۳۸هـ |
| ۱۸ | اصطلاحات | فخرالدین عراقی متوفی ٦۸۸هق |
| ۱۹ | اصطلاحات | شیخ محمود شبستری |

| شماره | د کتاب نوم | مولف |
|---|---|---|
| ۲۰ | اصطلاحات | شاه نعمت الله ولی متوفی ۸۲۴ه‌ق |
| ۲۱ | الحلال والحرام فی الاسلام | دوکتور الشیخ یوسف القرضاوی (ترجمه) ۱۳۷۴ه‌ش |
| ۲۲ | الایمان والحیات | داکتر یوسف قرضاوی (ترجمه) ۱۳۷۳ه‌ش |
| ۲۳ | البدایه والنهایة | ابوالفدا الحافظ ابن کثیر الدمشقی ۴۷۴ه‌ق |
| ۲۴ | محمد (ص) در تورات و انجیل (ترجمه). | |
| ۲۵ | المیزان فی تفسیر القرآن | طباطبای |
| ۲۶ | الوفا فی اخبار المصطفی | ابن جوزی عبدالرحمن |
| ۲۷ | فتح الباری بشرح صحیح البخاری | ابن حجر عشقلانی |
| ۲۸ | الشفا بتعریف حقوق المصطفی | قاضی عیاض |
| ۲۹ | خاتم پیامبران | محمد ابوزهره (ترجمه) |
| ۳۰ | الاحکام السلطانیه للماوردی. | |
| ۳۱ | فتوح البلدان | |
| ۳۲ | الفاروق | شبلی نعمانی |
| ۳۳ | مزارات کابل | استاد محمد ابراهیم خلیل |
| ۳۴ | History of Muslim Education | Dr: Ahmad Shalli |
| ۳۵ | رحله جلد اول | ابن بطوطه |
| ۳۶ | د کابل تاریخی جغرافیا او کلتور | |
| ۳۷ | ظهیرالدین محمد بابر شاه | پوهاند عبدالحی حبیبی ۱۳۵۱ه‌ش |
| ۳۸ | دائرة المعارف (افغانستان) جلد ششم | |
| ۳۹ | د طلوع افغان ورځپاڼه | ۱۳۳۸ه‌ش |

| شماره | د کتاب نوم | مولف |
|---|---|---|
| ۴۰ | English Persian Collegiate dictionary | By: Abbas Aryanpor |
| ۴۱ | Oxford Advanced Learner's dictionary | |
| ۴۲ | گلزار قندهار | مولوی شیخ محمد حسن قندهاری نجف چاپ |
| ۴۳ | تاریخ سیاسی اسلام | داکتر حسن ابراهیم حسن ۱۳۵۶ هـ ش |
| ۴۴ | تاریخ فلسفه درجهان اسلام | حنا الفاخوری خلیل الجر ۱۳۷۳ هـ ش |
| ۴۵ | دین وجامعه | داکتر حمید عنایت |
| ۴۶ | الاسلام واصول الحکم | علی عبد الرازق |
| ۴۷ | ادوار فقه | محمود شهابی ۱۳۴۰ ش |
| ۴۸ | بحثی درباره مرجعیت و روحانیت | سید محمد حسین ۱۳۴۱ |
| ۴۹ | اسلام وصلح جهانی | سید هادی خسروشاهی (ترجمه) ۱۳۷۲ هـ ش |
| ۵۰ | معنی عشق نزد مولینا | داکتر عبد الغفور روان فرهادی ۱۳۷۲ ش |
| ۵۱ | لوایح | نور الدین عبد الرحمن جامی ۱۳۷۳ |
| ۵۲ | اندیشه های عرفانی پیر هرات | علی اصغر بشیر ۱۳۷۴ هـ ش |
| ۵۳ | اندیشه سیاسی غزالی | حاتم قادری ۱۳۷۰ هـ ش |
| ۵۴ | جهاد | حسین نوری ۱۳۶۸ هـ ش |
| ۵۵ | عبادت دراسلام | داکتر یوسف قرضاوی (ترجمه) ۱۳۶۲ ش |
| ۵۶ | ستاره های فضیلت | ابو القاسم |
| ۵۷ | تفسیر المیزان | روح الدین الاسلامی |
| ۵۸ | تاریخ تمدن اسلام وعرب | جرجی زیدان |

| شماره | دکتاب نوم | مولف |
|---|---|---|
| ۵۹ | غزالی نامه | استاد علامه جلال الدین همایی |
| ۶۰ | تاریخ فتوحات مسلمانان در اروپا | شکیب ارسلان (ترجمه) |
| ۶۱ | المورد | قاموس منیر البعلبکی |
| ۶۲ | التحبیر فی علم التعبیر | فخر الدین محمد بن عمر رازی ۱۳۵۴ هش |
| ۶۳ | جنبش اسلامی درکرانه غربی ونوار غزه | داکتر زیاد ابو عمر |
| ۵۴ | پنجاه مقاله | پوهاند عبد الحی حبیبی |
| ۵۵ | یاقوت السیر | محقق العلما عبد الحق خروتی |
| ۵۶ | کانون های علوم وثقافت اسلامی در افغانستان | محمد یوسف ارزق ۱۳۷۰ هش |
| ۵۷ | دافغانستان نومیالی | استاد عبد الرؤوف بینوا |
| ۵۸ | حیات افغانی | محمد حیات خان |
| ۵۹ | سخنان پیر هرات | خواجه عبدالله انصاری |
| ۶۰ | دافغانستان تاریخی پیښی | پوهاند عبد الحی حبیبی |
| ۶۱ | د قرآن عظیم تفسیر | د مولینا محمود الحسن |
| ۶۲ | روضت الصفا | محمد خاوندشاه هروی |
| ۶۳ | مثنوی شریف | مولانا جلال الدین بلخی |
| ۶۴ | مکتوبات شریف | امام ربانی المجدد الف ثانی |
| ۶۵ | لغت نامه | علی اکبر |
| ۶۶ | شرح التعرف | خواجه امام ابو ابراهیم |
| ۶۷ | رساله قدسیه | نجم الدین رازی |

خط د سید سراج الدین افغان ۱۳۷۵/۱/۲۳ هش مطابق ۱۹۹۷/۱/۱۲ م

پہ کندھار کی دطالبانو مسجد






Morocco. Fes.

تونس: تونس، مسجد بزرگ تونس





فلسطين: قدس، قبةالصخره

Palestine: Qods, Qobbat-ol-Sakhra

دکندهار دهرات دروازې دطالبانو شهیدانو څلی



عربستان سعودی: مکه، مسجدالحرام





دخرقې شريفې جامع مسجد



دکندهار دلوی ښار مسجد



based on geo-political analysis of Afghanistan and Afghan's, which is the utmost need of the time, both for Afghans and Afghanistan, in the present critical juncture of history and Mohammed Wali Zalmai, was armed and bestowed with the required caliber.

DATED.
01-04-1997.

AZIZULLAH
NATIONAL LAW CHAMBERS,
FATEH MOHAMMAD ROAD,
QUETTA.

like as "KHALWAT, "KHALIFA", "KIRMAT", "ZIKAR", "FAIZ" and others. An interesting aspect of this chapter astonishes reader, when all of sudden, certain names with brief details and biographic statements of certain personalities come across, like as Professor Burhanuddin, Engineer Gulbadeen Hikmat Yar and Mulla Mohammed Umer Mujahid, leads one, to ask a question, as to how and why these names have been inducted over here without any reference to the context. Yet the said phenomena, rests with great curiosity and concern of the concerned quarters, hence to the great extent, accomplishes the main task and motive of the book.

The reader of the book, when finishes its study, faces simultaneously a sign of interogation, as to what would be the main motive behind a writing of this book. Mohammed Wali Zalmai is not stranger to the topic of religion, Sufis and their way of thinking. We feel him so conversent with the main topic of the book as a master writer in his work, DA KANDAHAR MASHAIR, however, I would sarcastically pin point, that the writer has been effected and culminated by the atmosphere, presently prevailing over Afghanistan politically and culturally.

A book under discussion and appreciation is another auddition, in an assets already given and devoted to Pashto literature by Mr. Mohammed Wali Zulmai, but I would have cherished my wish about Zulmai Sahib, if he would have been able to create and add a work

main Mosques, rather the total back ground of a single Mosque's type and style of construction and the Learned respective Imams and their dynasties, have also been written in details, which almost shows glance of social and cultural history of the famous city of Kandahar. In the instant chapter, a description of at about 38 main Mosques of Kabul \city have also been made in the same style and way, like as Mosques of Kandahar. It seems that the writer has given his main thrust mainly to the Mosques of Kandahar and thereafter to keep at par the Mosque of Kabul city, the description of 38 Mosques, have made, though Kabul was city of 2 million people and Kandahar a city, hardly consisting on 7 Municipal Wards. The aspect, being observed by the writer, during description of Mosques and his discourses by quoting quotations and citings, certain authorities both in Arabic, Persian and Pashto languages, specially the verses (lines), make the writing and description, so interesting, where a reader does not feel boring. Another aspect though with special reference to the instant chapter, is the brief biographic statement of certain learned and pious families and their stalwarts, which also gives a good taste to the reader.

The last and latter chapter of the book, brings to the light, the mystic life of Islam and its four Schools of thought, with its details and the roots of the said schools of sufism have so far been, pointed out in Afghan Society and the main figures associated to the mentioned four branches of mysticism. In this chapter phrases, terms and words commonly used and known to mystic life, have also been elucidated,

it`s effects on these areas. The same description followed by the philosophy of prayers in Islam and its performance and offering in Mosque.

The story of constructions of Mosques in Islam, has been narrated and ends on brief description and narration of historic and famous Mosques of Islamic world. The writer over here is absent minded about the famous Mosques of Iran, Turkey, Hind-Pak sub-continent and central Asia, which are also part and parcel of Islamic world. The digression of Islamic Educational schools, commonly known as Madrasas, has been annexed to the main theme of the Chapter and concerned phrases like as "Jamia", Dar-ul-Aloom and a Pashto phrase pohan-toon have been described with its importance as well.

The second chapter make us acquainted with certain terms and phrases of Islamic Fiqha, like as "Quran", "Umat", Shariat", "Farz", "Sunt", "Katat", "Zina" and others suffixed by narration of four caliphs, four imams.

The main thrtust of writer's pen has been made over the Mosques of historical city of Kandahar, brought in third chapter of the book. At about forty one Mosques of Kandahar city, have been introduced in this chapter, which Mosques are of famous nature. It is quite mentionable that it is not merely the brief description of certain

Mohammed Wali Zalmai. A patriot nationalist Zalmai Sahib. An arch Afghan, and Kandahari Zalmai Sahib.

The book presently in my hand, has been named as "A SHORT HISTORY OF HISTORICAL MOSQUES OF KABUL AND KANDAHAR", basically deals with quasi topic of history and culture. The book bears a preface in Arabic, commonly known amongst Afghans as Taqriz, by Mohammed Abdul Rehman Al-Kandahri, foreword in Pashto elaborating culture and civilization, and the main book consisting on four main chapters. The book has in its start a list of topics, contents, and at its bottom the bibliography has been completed. The calligraphy of the book, has been effected and made by one Syed Sirrajuddin Afghan, whose calligraphic style though new for me, is till familiar and common, as it sounds and smells as the famous style of calligraphy of our city's famous calligraphist Mr. Raz Mohammed Raz.

The theme of the book pertains to history and culture though wrapped by religious costumes, discloses the back ground and origin of Islam in Afghan soil. It pleads towards history of famous Mosques of Islamic world and Afghanistan itself. The book, since has been divided in to four chapters, hence I would like to view the said chapters through pilot glance:-

The first chapter originates from inception of Islam in Afghanistan, mainly to the people of Kandahar and Kohi Suleman and

by Mr. Zalmai as an official in bureaucracy and ascending from the place of Director to the place of secretary General, almost in Information Department, Gives him again a style of writing, not so acquainted and familiar to common man. The intellectual Zalmai further intensifies his peculiar standard of writing. While reading his works one finds a patriot, nationalist in the form of Mohammad Wali Zalmai, so much so, a Kandhrian one. Another salient feature of Mr. Zalmai's style of writing is that it does not bother about the decisions made at Kabul in 1948 or at galiat, in N.W.F.P. during latter eighties, (1990) about the style and dictation of Pashto language, generally known as modern Pashto "imla". The dialect and accent of Kandahari dialect has so far been used through out the book, which though characterizes the style of Zalmai as an individualistic, yet the individuality seems to sway over universality.

As an author, Mr. Zalmai has succeeded to prove himself as an historian of first rate in Afghanistan, which fact is evident in "MUJAHID AFGHAN", "KANDAHAR". "ZAMOOZ GHAZIAN". "DA KANDAHAR MASHAIR" and " DA AFGHANISTAN AU ROOSIA DA SIASI RAWABATU LANDA TARIKHCHA". The periphery around history revolves, around Sociology, Culture, Political Science and Literature in the glorious orchard of writings of Mr. Mohammed Wali Zalmai. The works done by the writer, coupled with public career, lead thereby and ideas cherished in the mind of the said writer, make his place in history and society, that is, A writer

basically an historian and then others. The whole of the writings made by him and books contributed to the literary and historical heritage of Modern Afghanistan, record the basic facts, and figures of Modern history of Afghanistan, hence constitute the infra-structure, of culture and geography.

It would not be out of place, to mention here, that Mr. Zalmai belongs to the pioneer group of Pashto writers of Modern Afghanistan, which consists on late Abdul Hayee Habibi, Qayyamuddin Khadim, Gul Bacha Ulfat, Abdul Rauf Be-Nawa, Noor Mohammad Tarakai, Respected Siddiqullah Rushteen, Abdul Shakoor Rashed, Ibrahim Attai, and others. The very common trait in the style of writing of all the fore mentioned writers, is that Arabian-persio and Turkish words and phrases are commonly used by them, in their respective writings, and their works are wrapped in purely eastern costumes, as the social and academic brought-up of these writers. lies in traditional Islamic-Afghan Institutions and the social and political relations of their country, towards other eastern countries, like Turkey, Iran and many Arabian countries. To sum up Arabio-persian effects are very prominent and salient over the writings of these writers, hence on Zalmai's as well.

A reader of Mr. Zalmai's books, finds that Mr. Zalmai, generally, due to the characteristic of style, depicted above, seems very difficult as far as his language is concerned. The public career adopted

# FOREWORD

I have since been requested by great writer of Pashto language Mr. Mohammad Wali Zalmai, to write some paras in the form of foreword to his newly written book, 'A SHORT HISTORY OF HISTORICAL MOSQUES OF KABUL AND KANDAHAR' I do make my effort to honour his request. Actually I have not been a writer of formal type, despite the fact, keeping in view both my literary and political career, I had been in an habit of writing in Pashto, Urdu and English, as such there had been an occasion when I reduced my comments as a foreword to the book of Mr. Jaffar Khan Achakzai, in earlier eighties and afterwards, this book at the anvil of my comments.

Mohammad Wali Zalmai needs no introduction. Zalmai Sahib is a prominent writer and personality of Afghanistan, having a very lengthy sketch of public career after him. The writer, who is under description, is an author of at about dozen Pashto Books, namely "PASHTANI HASSI", "DA PASHTANI TARIKH MUFRADAT" , "MUJAHID AFGHAN", "IJTIMAI SISTAMOONA (VOL. I AND VOL II", "DA KANDAHAR MASHAIR", "KANDAHAR", "ZAMOOZ GHAZIAN", "DA KABUL TARIKHI GEOGRAFIA AU KALTOOR", "DA KABUL NOMIALAI ORAZ PANI AU JARIDAY", "DA AFHANISTAN AU ROOSIA DA SIASI RAWABATU LANDA TARIKHCHA" and others. If the numerated books are perused, we shall very soon know, that Mr. Zalmai is

**NAME OF THE BOOK :**

# HISTORICAL MOSQUES OF KANDAHAR AND KABUL

**BY**

MOHAMMED WALI ZALMAI

**Supperviser :** Engr. Abdul Latif Amiri

**Publisher :** Mowlana Sheer Muhammed Omerzai

**Press :** Sahaf Printing House

**Scribe :** Said Sirajuddin Afghan

**Copies :** 1000

**Date :** 1997, Quetta PushtoonKhowa

PROPERTY OF ACKU 7270

PROPERTY OF ARIC

۳۸۴

پنجشنبه ۱۸ میزان ۱۳۷۶

# HISTORICAL MOSQUES OF KANDAHAR AND KABUL

BY

MOHAMMED WALI ZALMAI

1997- QUETTA PUSHTOONKHOWA